300

د عذاب قبر دري سوه

خوفناک واقعات

مؤلف

مولانا ارسلان بن اختر میمن

مترجم

مولانا حضرت علی حنفی

ابن حاجی هادی غفر الله

زیر اهتمام

کفایت الله ارمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازیه پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

دَ عذابِ قبر دري سوه

خوفناك واقعات

پښتو

مؤلف

مولانا ارسلان بن اختر میمن

مترجم

مولانا حضرت علی حنفی ابن حاجی هادی غفر له الباری

ناشر

مکتبه اعزازیه محله جنگی پیښور ښار

موبائل نمبر : 03449995990
03449201113

دَ کتاب نوم .... دَ عذابِ قبر درې سوه واقعات

مؤلف .... مولانا ارسلان بن اختر میمن

مترجم .... مولانا حضرت علی حنفی

زیرِ اهتمام .... کفایت الله ارمانی



ناشر

مکتبه اعزازیه

محله جنګی پیښور ښار

موبائل نمبر : 03449995990

03449201113

مضمون	صفحه
باب نمبر ۱ : عذابِ قبر دَ قرآن په رڼا کښې	۱
په عذابِ قبر باندې دوه آیت	۲
په عذابِ قبر کښې شك کول کفر دې	۳
﴿ دَ عذاب قبر اقسام ﴾	۵
﴿ دَ جُمعې په ورځ دَ عذاب کیفیت ﴾	۵
دویم باب ۲ ﴿ عذابِ قبر دَ احادیثو په رڼا کښې ﴾	۵
﴿ دَ عذابِ قبر نه دَ حفاظت دپاره دُعاءِ نبوی ﷺ ﴾	٦
﴿ کهٔ چرې تاسو دَ عذابِ قبر شدت معلوم شی ﴾	٦
﴿ ځناور هم دَ قبر آواز اوری ﴾	۷
﴿ دَ قبر پُر اسرار آواز ﴾	۸
﴿ قبر دَ دوزخ کنده ده ﴾	۸
﴿ دَ قبر زورنه ﴾	۸
﴿ دَ رسول الله ﷺ دَ عذاب نه پناه غوښتل ﴾	۹
﴿ قبر به نافرمان سړې ځنګه دباوِوی ﴾	۹

﴿په چغلی کولو او د متیازو نه په ځان نهٔ ساتلو عذابِ قبر﴾	۱۰
﴿کهٔ چرې تاسو ته عذابِ قبر معلوم شی نو خندا به پریږدئ !!﴾	۱۱
بې نمازی او عذابِ قبر	۱۱
په قبر کښې اژدها	۱۲
دَ قبر ګرمی	۱۲
یو ځناور دَ قبر عذاب واوریدو	۱۳
په قبر کښې په کار راتلونکي نفع بخش اعمال	۱۳
په قبر کښې دَ عذاب په وجه سره د مړی چغې وستل، او دَ اوسپنې په ګرزونو سره دَ هغه وهل	۱۵
دَ کافر په قبر کښې یو کم سل اژدهاګانې	۱٦
ایمان دَ کوم څیز نوم دې	۱۷
رسول الله ﷺ او دَ عذابِ قبر مشاهده	۱۷
دَ امت ګنهګاران رسول الله ﷺ په خوب کښې اوليدل	۱۸
په کانړی سره دَ سر چخړی کولو سزا	۱۸
په پلاس (انبور) سره د خلې دَ څیرې کولو سزا	۱۹
په تنور کښې سوزیدونکی سړی او ښځې	۱۹
دَ کانړو خوراک د چا دپاره	۲۰

دَ اور عذاب دَ چا دپاره	۲۰
اوږد قد والا سړې	۲۰
نیم سر خوبصورته او نیم بدصورته	۲۱
حضور ﷺ په قبر کښې دَ نجات ورکوونکو نیکو مشاهده اوفرمائیله	۲۳
دَ مور او پلار په خدمت کولو سره عذاب ختم شو	۲۳
دَ اودس په برکت سره عذاب روستو شو	۲۴
دَ ذکر الله په برکت سره دَ شیطان نه حفاظت	۲۴
دَ مونځ په برکت سره عذاب روستو شو	۲۴
دَ روژې په برکت سره ! دَ تندې نه نجات	۲۴
دَ غسلِ جنابت برکت	۲۵
په حج او عمرې سره دَ تیرې دَ عذاب نه نجات	۲۵
دَ غریبانانو په مدد کولو سره نفرت لرې شو	۲۵
دَ صدقې په برکت سره دَ اور نه نجات	۲٦
دَ تبلیغ په برکت سره دَ روح وتلو دَ عذاب نه نجات	۲٦
دَ الله تعالىٰ دَ خوف او ویرې په برکت سره نیکۍ زیاتې شوې	۲٦
دَ اولاد په مرګ باندې صبر کول پکار راغلو	۲٦

د الله تعالیٰ نه د خوف او ویرې په وجه سره د دوزخ نه نجات ملاؤ شو	٢٧
په الله تعالیٰ ښۀ ګمان او په پُل صراط نجات	٢٧
د درود شریف په برکت سره د پل صراط د دهشت او خوف نه نجات	٢٨
د کلمې شریف په برکت سره په جنت کښې داخله	٢٨
د چغلخورئ په وجه سره د شونډو د کټ کولو سزا	٢٨
د ژبې نه رازوړند کړې شوې	٢٨
د عذاب قبر راوی، د څو صحابهٔ کرامو نومونه	٢٩
باب : ٣ ﴿د اسلافو د عذاب قبر نه ویریدل او ژړا کول﴾	٣٠
﴿د جنازې په وخت خندا والا منافق دې﴾	٣١
﴿د قبر د حضرت عمر بن العزیز سره خبرې اترې کول﴾	٣٢
﴿د مړو تمنا﴾	٣٣
﴿یوه عبرتناکه واقعه﴾	٣٤
﴿د قبر نه آواز راغې﴾	٣٥
﴿په قبر کښې مړی ته په یو تسبیح او په یو رکعت پریخودو باندې حسرت﴾	٣٥
﴿د مړی د ټولو نه لوی خواهش﴾	٣٥

﴿اې ابن آدم! ته به تنها مړ کیږې او تنها به په قبر کښې داخلیږې﴾	٣٦
﴿اې ابن آدم! ته به تنها مړ کیږې او تنها به په قبر کښې داخلیږې﴾	٣٦
﴿په قبر باندې لیکلې شوې شعرونه﴾	٣٦
باب ٤ ﴿د ګنهګار بنده د مرګ منظر﴾	٣٧
﴿د مؤمن او د کافر د روح وتلو تفصیل﴾	٣٩
﴿په قبر کښې سوال او جواب﴾	٤١
﴿په قبر کښې د مړی نه دویم سوال﴾	٤٤
﴿د مړی نه دریم سوال﴾	٤٥
﴿د ګنهګار دپاره د اور د کفن اعلان﴾	٤٦
﴿په قبر کښې د نافرمان بنده جوابونه﴾	٤٦
﴿د اوسپنې په څټکې وهل﴾	٤٨
﴿د نیک بنده نه سوالونه او جوابونه﴾	٤٨
﴿د نیک بنده قبر به اویا لاسه کهولاوولې شی﴾	٥٠
﴿مړې د دفن کولو والا آواز اورې﴾	٥١
﴿زمونږ رب زمونږ نه ناراض دې﴾	٥٢
﴿په کومه خبره باندې خندا کوئ﴾	٥٣

﴿دَ الله تعالیٰ دپاره دَ قبر تیاری اوکړیٔ﴾	۵۴
﴿دَ چا طرف ته چه ورتلل دی دَ هغې دپاره تیاری اوکړیٔ﴾	۵۷
﴿په حرام مال سره خپل قبر دَ عذاب نه مهٔ ډکویٔ﴾	۵۸
باب نمبر ۵ : ﴿په ګنهګار بندګانو باندې دَ عذابِ قبر پنځوس واقعات﴾	٦٠
﴿دَ اولنی قبر کنستل﴾	٦٠
﴿دَ دویم قبر کنیستل﴾	٦١
﴿دَ دریم قبر کنیستل﴾	٦١
﴿دَ څلورم قبر کنیستل﴾	٦٢
﴿دَ پنځم قبر کنیستل﴾	٦٢
﴿دَ یو نوجوان ګنهګار توبه﴾	٦٣
﴿دَ میخونو نه ډك مړې﴾	٦۴
﴿دَ یو بل کفن چور واقعه﴾	٦۴
﴿دَ کفن چور انکشافات﴾	٦۵
﴿دَ اور زنځیرونه﴾	٦۵
﴿تور مړې﴾	٦٦
﴿ما قبر کهولاؤ کړو نو هغه باغ جوړ شوې وو﴾	٦٦
﴿دَ قبر کنیستونکی انکشاف ! قبر ګرم وو﴾	٦٧

﴿په خپو کښې دَ اوسپنې زنځیر ، او په نامه کښې میخ﴾	٦٩
﴿دَ مړې کوپړیٔ دَ ویلې کړې شوې سیکې نه ډکه کړې شوې وه﴾	٦٩
﴿دَ اور پیسې﴾	٧١
﴿په ګردن کښې دَ اور امیل﴾	٧۴
﴿دَ کفن چور توبه ، دَ رسول الله ﷺ په لاس مبارك﴾	٧۵
﴿دَ خپو په ویښتو سره تړل﴾	٨٢
﴿دَ اور صندوق﴾	٨٢
﴿دَ اور دَ کوړو عذاب﴾	٨٣
﴿دَ اتیا کالو بوډیٔ ښځې په لاش باندې دوه ګزه اوږده اژدها﴾	٨۴
﴿په قبر کښې دَ سترګو لیدلو مناظر﴾	٨۵
﴿اولنی قبر﴾	٨٦
﴿دویم قبر﴾	٨٦
﴿دریم قبر﴾	٨٧
﴿څلورم قبر﴾	٨٨
﴿دَ بې دین او بد مذهب انجام﴾	٩٠
﴿دَ مارانو نه ډك دیرش (٣٠) قبرونه﴾	٩٠
﴿دَ مړې دَ پوزې نه توره وینه بهیدله﴾	٩١

﴿دَ اور دَ شُعلو نه ډك قبر﴾	٩٢
﴿مړی لره مار په خُلهٔ باندې چيچلو﴾	٩٣
﴿دَ عذابِ قبر منکر ته دَ الله تعالیٰ تنبيه﴾	٩٣
﴿دَ اوسپنې پلك دَ مړی په سر باندې﴾	٩٤
﴿په غابنونو سره لاس کټ کول﴾	٩٥
﴿په قبر کښې دَ فرشتو هيبتناك شکل﴾	٩٥
﴿په قبر کښې خوفناکه دهماکه﴾	٩٧
﴿دَ تور رنګ والا سړې﴾	٩٧
﴿مړې دوه ټکرې شو﴾	٩٨
﴿په قبر کښې دَ مړې په شان خوفناك ځناور﴾	٩٩
﴿دَ مارانو او دَ لړمانانو نه ډك قبر﴾	١٠٢
﴿دَ قبر نه دَ خر آواز﴾	١٠٢
﴿دَ قبر نه دَ اور شُعله﴾	١٠٣
﴿دَ عذاب قبر په ليدو سره يو خوفناکه چغه﴾	١٠٤
﴿کلمې ته کنځلو کولو والا باندې په قبر کښې لړمانان﴾	١٠٤
﴿اې دُنيا دارو! په قبر کښې اې، سی اولګوئ﴾	١٠٥
ط	١٠٥
﴿په قبر کښې دَ عذاب په ګرمئ سره دَ لاس سوزيدل﴾	١٠٦
﴿دَ دُنيا حالات دَ ګناهونو په وجه سره راځی﴾	١٠٩

باب ٦ ﴿په مال کښې خيانت او عذاب قبر﴾	١١١
دَ خلقو دَ مال خوړلو باندې عذابِ قبر :	١١١
﴿په مال خوړلو باندې خوفناك وعيد﴾	١١٢
﴿دَيو ليشت زمکه په قبضه کولو باندې په کروړونو منه عذاب﴾	١١٢
﴿دَ قرض په وجه سره په شهيد باندې عذابِ قبر﴾	١١٣
﴿دَ وعده خلافئ نه ځان اوساتئ﴾	١١٣
﴿دَ دريو پيسو وبال﴾	١١٤
﴿دَ عبادت سره سره دَ حقوق العباد په اهتمام نهٔ کولو باندې عذاب قبر﴾	١١٥
﴿دَ کعبې شريف په مال کښې دَ خيانت انجام﴾	١١٧
﴿دَ لسو دينارو په وجه سره عذابِ قبر﴾	١١٧
﴿دَ تکليف په وجه سره خپلې ګوتې په خُلهٔ کښې چيچل﴾	١١٩
﴿دَ رسول الله ﷺ دَ دُعا برکت﴾	١١٩
باب ٧ : ﴿دَ دنيا په محبت باندې عذابِ قبر﴾	١٢١

هیبت ناك شكل او صورت :	۱۲۱
﴿ دَ دنیا دارو سره په محبت كولو باندې عذاب قبر ﴾	۱۲۲
﴿ دَ دنیا محبت دَ مرگ په وخت كښې پرې كفر اوكړو ﴾	۱۲۳
دَ كلمې نه محروم وكيل	۱۲۴
دَ گناهونو په كثرت باندې دَ مرگ په وخت كنځل	۱۲۴
دَ مرگ په وخت كښې دَ گانو اوريدلو شوق	۱۲۵
په سَلو مريضانو كښې صرف دريو ته كلمه نصيب شوه	۱۲۵
په قبر كښې تور مار	۱۲۶
درې خوفناك قبرونه	۱۲۶
دَ چينجو نه ډك جسم	۱۲۷
دَ دنيا محبت هر څيز خوفناك اوگرځولو	۱۲۸
باب نمبر ۸ : ﴿ تى وى او عذابِ قبر ﴾	۱۳۰
كورته په تى وى راوړلو باندې عذاب قبر	۱۳۰
دَ قبر نه دَ اور شُعله	۱۳۱
تى وى كتل ، او دَ هغې دَ فيشن اختيارولو والا ښځې انجام	۱۳۲
دَ ناخُن پالش لگولو والا ښځې خوفناك حشر	۱۳۵

په تى وى ، فِلمونو او محفلونو كښې ناخن پالش لگولو والا ښځو حشر	۱۳۵
دَ مرگ نه روستو بيا دوباره ژوندى كيدل	۱۳۶
په تى وى راوړلو باندې عذابِ قبر	۱۳۷
دَ قبرستان خوفناك آواز	۱۳۸
بد نصيب دَ وادهٔ ځلمې	۱۳۹
باب نمبر ۹ : ﴿ دَ گيرې په خرئيلو باندې عذابِ قبر ﴾	۱۴۲
دَ گيرې په خرئيلو باندې په قبر كښې تور لړمانان	۱۴۲
په غسل خانه كښې تور لړم	۱۴۳
خوفناكه كنده	۱۴۳
دَ گيرې كټ كولو والا حجام (نائى) باندې عذاب قبر	۱۴۴
دَ گيرې دَ كټ كولو سره سمدستى مرگ	۱۴۵
دَ آخرت مار ډير زيات خطرناك دې	۱۴۵
دَ جهنم يو لړم دَ قچر برابر دې	۱۴۶
باب نمبر ۱۰ : ﴿ دَ بے پردگئ په وجه سره عذابِ قبر ﴾	۱۴۷
دَ بې پردگئ هولناكه سزا	۱۴۷
په بې پردگئ باندې خوفناك ځناور	۱۴۷

دَ اور په قینچئ سره نې ژبه کټ کولې شوه	۱۴۹
په برېنډ سر گرځیدو باندې وینښتهٔ غائب شو	۱۵۰
باب نمبر ۱۱ : ﴿ دَ مور او پلار په نافرمانئ باندې عذاب قبر ﴾	۱۵۲
دَ مور په نافرمانئ سره خر جوړ شو	۱۵۲
دَ مور په بې ادبئ باندې قبر دَ پناه ورکولو نه انکار اوکړو	۱۵۳
دَ مور سره دَ خبرو په بندولو باندې دَ مرگ وحشت	۱۵۴
مور ته په تکلیف رسولو باندې عذابِ قبر	۱۵۵
باب نمبر ۱۲ : ﴿ دَ رشوت په اخستلو باندے عذابِ قبر ﴾	۱۵۸
دَ رشوت اخستلو په وجه سره دَ قبر زورنه	۱۵۹
دَ صاحبِ مزار توجه	۱۶۱
اوس زړهٔ مطمئن دې	۱۶۴
باب نمبر ۱۳ : ﴿ سود خوری او عذابِ قبر ﴾	۱۶۵
دَ سود خور په کفن کښې مار	۱۶۷
دَ قبر نه دَ اور شُعلے او لوگی	۱۶۷
سود خور او یو خطرناك لړم	۱۶۹
په سود خورئ باندې دَ قبر نه دَ هائې هائې آواز	۱۷۰

دَ عذاب قبر وجه	۱۷۲
باب نمبر ١٤ : ﴿ شراب او عذاب قبر ﴾	۱۷۴
دَ شرابی دردناك انجام	۱۷۴
دَ شرابی عبادت مردود دے	۱۷۴
شراب دَ تمامو گناهونو مور ده	۱۷۵
دَ شرابی ځلوېښت ورځو پورې مونځ نامنظور	۱۷۵
شراب نوشی دَ بد انجامئ سبب	۱۷۶
دَ شرابی دَ ایمان او دَ کفر پیمانه	۱۷۷
دَ شرابی دَ قبر نه دَ خر آواز	۱۷۷
دَ شرابو دَ نحوست په وجه سره دَ مرگ په وخت کښې دَ کلمهٔ شهادت نه انکار	۱۷۸
په قبر کښې دَ شرابی مخ دَ قبلې نه اړولې شي	۱۷۸
باب نمبر ١٥ : ﴿ دَ کچو (گیټو) په پټولو باندې عذابِ قبر ﴾	۱۸۰
څوك چه گیټئ پټوی هغوی ته !!!!	۱۸۱
په لمن زوړندولو باندې عذاب قبر	۱۸۳
باب نمبر ١٦ : ﴿ زنا او عذاب قبر ﴾	۱۸۵

دَ زنا کار شرمګاه او دَ اوسپنې سلائی	۱۸٦
دَ یو امیر زادې واقعه	۱۸۷
باب نمبر ۱۷ : ﴿ دین پورې په خندا کولو باندې عذاب قبر ﴾	۱۹٦
دین پورې خندا کول : یو سنګین جرم	۱۹٦
قبلې طرف ته په لاړو توکلو سره مخ داغ دار شو	۱۹۷
په بې اودسۍ کښې دَ مونځ کولو سزا	۱۹۸
مونځ ، روژې پورې په خندا کولو باندې عذابِ قبر	۱۹۹
بغیر دَ اودس نه دَ مونځ کولو خوفناك انجام	۲۰۰
غسلِ جنابت نه کولو باندې عذاب قبر	۲۰۰
دَ اذان په بې حرمتۍ باندې دَ الله تعالیٰ نیول	۲۰۱
خوفناك آواز	۲۰۳
دَ یو نصرانی دَ کلمۀ شهادت پرې مذاق او خندا کولو باندې عبرتناك انجام	۲۰۴
قرآن مجید ته دَ کلام الله وئیلو په ځائ مخلوق وئیلو باندې انجام	۲۰۵

باب نمبر ۱۸ ﴿ په ناپ ، تول کښې کمی کول ، په امانت خیانت کول ، مسلمانانو ته دهوکه ورکول ، او په سامان کښې د عیب په پټولو باندې دَ عذابِ قبر خوفناك ربښتونی واقعات ﴾	۲۰٦
په ناپ تول کښې دَ کمی په وجه سره دَ فصل تباهی	۲۰۸
په امانت کښې خیانت	۲۰۹
باب نمبر ۱۹ : ﴿ مسلمان ته دَ دهوکې ورکولو عذاب ﴾	۲۱۲
دَ دهوکه باز په پُشت به دَ قیامت په ورځ جهنډا وی	۲۱۳
باب نمبر ۲۰ : ﴿ دَ سامان دَ کرځولو په وخت کښې دَ هغې دَ عیب پټولو انجام ﴾	۲۱۵
په ذخیره اندوزۍ والا باندې لعنت	۲۱۷
دَ قیمت زیاتول هم خیانت دې	۲۱۷
په قبر کښې خوفناك تور مار	۲۱۸
دَ ملاوټ سره متعلق څو مسائل	۲۱۹
دَ ذخیره اندوز انجام	۲۲۰
په اوړو کښې دَ ملاوټ کوونکی انجام	۲۲۰
په قومی مال کښې خیانت کوونکو ته عذاب قبر	۲۲۱

دَ قبر عذاب لره زمونږ دَ خلقو ليدل	۲۲۲
عيسىٰ عليه السلام او يو قبر	۲۲۲
كاروبار او دَ سودا خرڅولو كښې دهوكه وركول دَ عذابِ قبر سبب دې	۲۲۳
دَ زمكے روزانه آواز	۲۲۴
دَ لسو دينارو په وجه سره عذاب	۲۲۵
دَ تكليف په وجه سره خپلې ګوتې په خُلهٔ كښې چيچل	۲۲۶
دَ رسول الله ﷺ دَ دُعا بركت	۲۲۷
بغير دَ اجازت نه دَ وړوكى ډكى په استعمال سره عذابِ قبر	۲۲۷
په غله كښې په خيانت باندې عذابِ قبر	۲۲۸
په ناپ تول كښې كمى كولو باندے عذابِ قبر	۲۲۹
باب نمبر ۲۱ ﴿دَ ملاوټ او خيانت په وجه سره دَ مرګ په وخت كښې دَ كفر كوونكو رښتونى واقعات﴾	۲۳۰
په پيو كښې دَ اوبو دَ ملاوټ انجام	۲۳۱
د ملاوټ په وجه سره دَ كلمې توفيق ملاؤ نهٔ شو	۲۳۱
د مرګ په وخت كښې ورته كلمه نصيب نهٔ شوه	۲۳۲
د ملاوټ كوونكى صدا ! دَ اور غر	۲۳۳

په ناپ تول كښې دَ كمى كولو والا دپاره د اور وادى	۲۳۴
څوك چه په ناپ تول كښې كمى كوى په هغوى باندې د مرګ په وخت كښې افسوس ناك حال	۲۳۴
په ميدان حشر كښې دَ خولې عذاب	۲۳۵
دَ يو دانې په كمۍ باندې ئې دَ جهنم وادى واخسته	۲۳۵
په ناپ تول كښې كمى ! دَ څلويت كالو عبادت د عذاب نه بچ نهٔ كړو	۲۳۶
دَ زرګونو كاله عبادت سره دَ ډيرو حرامو نه بچ كيدل دى	۲۳۷
﴿دَ مرګ نه روستو دَ نيك كار خواهش﴾	۲۳۷
﴿په پيو كښې دَ ملاوټ كولو په وجه سره خاروې مړ شو﴾	۲۳۸
دَ مړ كيدونكى كس آواز چه په ما باندې شراب او څكى	۲۳۸
دَ ملاوټ په وجه سره دَ اور شُعلې	۲۳۹
﴿دَ ښهٔ خاتمې علامت﴾	۲۵۰
دَ خولې راتلل دَ ښهٔ خاتمې علامت دې	۲۴۱
دَ جُمعې په ورځ مرګ دَ ښهٔ خاتمې نشانى ده	۲۴۲
دَ قريب المرګ په خوا كښې دَ نيكۍ خبرے كوئ	۲۴۲

باب نمبر ٢٢ ﴿دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې عذابِ قبر﴾	٢٤٤
دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې دَ فرشتو وهل	٢٤٤
﴿دَ مړی چغه﴾	٢٤٥
﴿بدبو دار مړی﴾	٢٤٦
﴿دَ مړی دَ گردن نه تاؤ شوې مار﴾	٢٤٧
باب نمبر ٢٣ ﴿په تکبر کولو باندې عذاب﴾	٢٤٨
﴿دَ تولو نه زیات متکبر څوك؟﴾	٢٤٨
﴿تکبر کولو والا په زمکه کښې ننویستې شو﴾	٢٤٩
دَ الله دَ رحمت نه محرومی	٢٤٩
﴿دَ تکبر وینا خوبصورته لره بدصورت کړو﴾	٢٥٠
باب نمبر ٢٤ ﴿فیشن پرستی او عذابِ قبر﴾	٢٥٢
په یو قبر کښې پنځوس ماران	٢٥٢
په ناجائز مقاصدو سره زینت و زینت کولو والا ته عذابِ قبر	٢٥٣
خوفناك ښناور پرې مسلط شوې وو	٢٥٣
﴿درسِ عبرت﴾	٢٥٤

باب نمبر ٢٥ ﴿صحابهٔ کرامو ته په رد بد وئیلو باندې عذابِ قبر﴾	٢٥٦
مار ئې دَ مړی نه تاؤ شوې وو	٢٥٧
دَ قبر نه دَ سپو په شان آواز راتلل	٢٥٧
دَ مرگ په وخت کښې دَ اور، اور آواز	٢٥٨
دَ حضرت ابوبکر او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما دَ دشمن خیټه اوپړسیده	٢٥٨
باب نمبر ٢٦ ﴿په نا انصافئ باندې خوفناك عذابِ قبر﴾	٢٦١
دَ الله تعالیٰ دَ قانون خلاف فیصله کول	٢٦١
﴿دَ دوو بیبیانو په درمیان کښې عدل نهٔ کولو والا﴾	٢٦١
دَ عادل حکمران حال	٢٦٢
په ورځ دَ قیامت دَ تولو نه مخکښې دَ ججانو نه حساب	٢٦٢
دَ چا دَ دنیا دپاره خپل آخرت او عاقبت مهٔ خرابوئ	٢٦٣
غلط فیصلې کولو والا قاضی	٢٦٤
دَ غیر منصف حاکم انجام	٢٦٤
دَ قبلې نه ئې مخ واوړیدو! ولې؟	٢٦٥
الله والا به دَ لوی منصب نه تختیدل	٢٦٥
دَ نا انصافئ سزا! په کور کښې بدبو	٢٦٦

باب نمبر ٢٧	٢٦٨
﴿ د ناپاکۍ نه په ځان نۀ بچ کولو باندې عذاب قبر ﴾	
په متیازو کښې د احتیاط نۀ کولو په وجه سره عذاب قبر	٢٦٨
د متیازو د څاڅکو نه ځان نۀ بچ کول او چُغل خوري	٢٦٩
څلور قسمه جهنمیان	٢٧١
د اور تابوت	٢٧١
یو وخت داسې وو چه په کوم ځائ به متیازې اولګیدې نو هغه ځائ به په قینچو کټ کولې شو	٢٧٢
د جنابت په حالت کښې اوسیدل د عذاب قبر سبب دې	٢٧٣
ناپاکه اوسیدل د بې سکونۍ ذریعه ده	٢٧٣
په غاړه کښې د اور زنځیر	٢٧٤
د انګریز په شان په ولاړه متیازو کوونکو دپاره تنبیه	٢٧٤
د عذاب قبر نه د نجات د وجې حصول	٢٧٥
د یو بصری قبر کنستونکی واقعه	٢٧٦
د غسل جنابت نۀ کولو انجام	٢٧٧
د حضرت سعد رضی الله عنه شان او د هغوی د قبر تنګیدل	٢٧٧
باب نمبر ٢٨	٢٨٠
په حقوق العباد کښې په کوتاهی کولو باندې عذاب قبر	

د الله تعالیٰ اویا نافرمانئ او د بنده یو روپئ اخستل برابر دی	٢٨٠
د اووۀ زمکو وزن په اوږه باندې	٢٨٠
د بل چا په مال باندې قبضه کول ظلم دې	٢٨١
یوه عبرتناکه واقعه	٢٨٢
د یو ستن په نۀ واپس کولو باندې عذاب قبر	٢٨٢
باب نمبر ٢٩	٢٨٣
﴿ په درود نۀ لوستلو باندې عذاب قبر ﴾	
د درود شریف په نۀ لوستلو باندې د رسول الله ﷺ خیرې	٢٨٣
د درود نۀ وئیلو نحوست (سپیرۀ والې)	٢٨٤
تور مار	٢٨٥
په درودِ پاک کښې د بخل کوونکي واقعه	٢٨٥
په درود نۀ لوستلو باندې د حضور ﷺ ناراضګی	٢٨٦
د درود په نۀ لوستلو سره ژبه ګونګئ شوه	٢٨٨
په درود نۀ لیکلو باندې د ذلت مرګ	٢٨٨
باب نمبر ٣٠	٢٩٠
﴿ د مظلوم په مدد نۀ کولو باندې خوفناك عذاب قبر ﴾	
نهۀ (٩) بدبخته خلق او د هغوی پیروکار	٢٩٠
د مظلوم په مدد نه کولو باندې د عذاب سَل کوړې	٢٩٤

باب نمبر ۳۱	۲۹۵
﴿ دَ مسلمان بنده قتل ، او عذابِ قبر ﴾	
﴿ دَ مړي په جسم کښې دَ اوسپنې ميښونه ﴾	۲۹۵
په ناحقه باندې دَ مسلمان بنده قتلول دَ عذابِ قبر سبب دي	۲۹۶
په ظلم کولو باندې دَ مرګ په وخت کښې سترګې بهر ته راوتل	۲۹۷
دَ مړي خوفناکه چغه	۲۹۸
باب نمبر ۳۲	۲۹۹
﴿ دَ خاوند په نافرمانئ باندې عذابِ قبر ﴾	
دَ خپل خاوند ناشکري کول	۲۹۹
دَ ښځې جان فراموشي	۲۹۹
دَ خاوند په ناراضګئ کښې دَ الله تعالیٰ ناراضګي	۳۰۰
دَ ژبان درازې ښځې سزا	۳۰۱
په ژبان دراز ښځه باندې دَ الله تعالیٰ لعنت	۳۰۱
دَ اويا کالو عبادت ورله په مخ اوويشتلې شو	۳۰۲
دَ اويا کالو عبادت ورله په مخ اوويشتلې شو	۳۰۲
دَ اويا کالو عبادت ورله په مخ اوويشتلې شو	۳۰۳

باب نمبر ۳۳	۳۰۴
﴿ په حرامه ګټه باندې عذابِ قبر ﴾	
په حرامه ګټه باندې عبادت نهٔ قبليږي	۳۰۴
دَ رشوت په اخستو باندې دَ قبر کيناستل	۳۰۴
څوك چه حرام خوری په هغوی دَ فرشتو لعنت	۳۰۵
دَ حرامو نه ځان بچ کول فرض دی	۳۰۵
دَ حرام مال دَ نحوست په وجه سره اعمال ضائع کيدل	۳۰۶
بد نصيب انسان	۳۰۷
دَ حرام خور دُعا بهٔ قبليږي	۳۰۸
دَ فرشتې اعلان	۳۰۸
حرام خور کهٔ دَ وينو په اوښکو سره اوژاړی نو هم ئې دُعا نهٔ قبليږي	۳۰۹
په حرام مال سره حج نهٔ کيږي	۳۱۰
په حرام لباس سره مونځ نهٔ کيږي	۳۱۰
دَ غلام مال چه څوك اخلي هغه هم غل دې	۳۱۱
دَ حرام مال صدقه قبول نهٔ ده	۳۱۱
ناپاکې کپړې په مِتيازو مهٔ وينځئ	۳۱۱
ژبه په قينچو سره کټ شوه ولې ؟	۳۱۲
څوك چه حرام مال ګټي دَ هغه غوښه به کټ کړ...	[illegible]

دَ حرام مال نقصانونه	٣١٠
باب نمبر ٣٤	٣١٥
﴿په وعده خلافئ باندې عذاب قبر﴾	
وعده خلافي كولو والا بې دينه دي	٣١٥
دَ كفن چور وعده خلافي	٣١٦
څۀ چه اووائي دَ هغې دَ نۀ كولو انجام	٣١٧
دَ شپږو څيزونو په ضمانت سره دَ جنت ضمانت	٣١٧
پنځه عادتونه او پنځۀ مصيبتونه	٣١٨
باب نمبر ٣٥	٣١٩
﴿دَ مونځ په نۀ كولو باندې عذاب قبر﴾	
صحابۀ كرامو په دَ مونځ پريښودو والا كافر ګڼړلو	٣٢٠
دَ مونځ كوونكى په تندى باندې درې كرخې	٣٢١
دَ مونځ نۀ كولو په وجه سره دَ دوزخ فيصله	٣٢١
دَ سر درنيدو انجام	٣٢١
دَ مونځ نۀ كولو په وجه سره په قبر كښې عذاب	٣٢٢
دَ مونځ په پريښودلو باندې قبر دَ اور نه ډك شو	٣٢٢
دَ مونځ په پريښودونكى باندې ګنجې مار مسلط	٣٢٣
مونځ پريښودو والا به داسې مار چيچي چه دهغه نه د اوبښ دَ ګردن برابر وي	٣٢٤

مونځ پريښودونكى دَ لړمانانو نه په ډكه وادئ كښې	٣٢٤
خبرو كولو والا مار	٣٢٥
دَ مونځ پريښودونكى په غاړه كښې دَ اور زنځير	٣٢٥
مونځ لره دَ سپك ګڼړلو سزا	٣٢٦
دَ مونځ پريښودلو سزا	٣٢٧
مونځ كول او دَ الله تعالىٰ خبرې كول	٣٢٩
باب نمبر ٣٦	٣٣٠
﴿دَ روژو په نۀ نيولو باندې عذاب قبر﴾	
﴿دَ قبر خوفناك منظر﴾	٣٣٢
دَ نهو لاكو كالو عذاب	٣٣٣
باب نمبر ٣٧	٣٣٥
﴿دَ زكوة په نۀ وركولو باندې عذاب قبر﴾	
زكوة نۀ وركول ګويا چه اور ډكول دى	٣٣٥
دَ الله تعالىٰ لعنت او دوزخ	٣٣٥
په زكوة كښې دَ خيانت كولو عذاب	٣٣٦
دَ زكوة په نۀ وركولو باندې عذاب قبر	٣٣٧
يو عجيبه حكايت	٣٣٨
څوك چه زكوة نۀ وركوى هغه يهودى دي	٣٤٠
دَ زكوة په نۀ وركولو باندې اژدها مسلط كيدل	٣٤١

باب نمبر ۳۸ ﴿ دَ قرآن مجید په هیره وَلو او مذاق کولو باندې عذاب قبر﴾	۳۴۲
دَ قرآن مجید په بې حرمتئ باندې خطرناکه چرمخکئ مسلط	۳۴۳
قرآن مجید ته په مخلوق ونیلو باندې عذاب	۳۴۵



باب نمبر ۱:

﴿ عذابِ قبر دَ قرآن په رڼا کښې ﴾

په قرآن مجید کښې دَ الله رب العزت ارشاد دې :

"وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَعْمٰى" (پاره : ۱٦ ع ۱٦)

او کوم یو کس چه زما دَ نصیحت نه اعراض کوی نو هغه ته به داسې زندګی نصیب کیږی چه هغه به تنګه وی او مونږ به هغه له دَ قیامت په ورځ ړوند راپورته کوو ."

په دې آیتِ کریمه کښې چه دَ ضنکا کومه کلمه راغلې ده نو ددې نه حضراتِ مفسرینو عذابِ قبر مراد کړې دې .

دَ حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه مروی دی حضور ﷺ اوفرمائیل : چه دَ مؤمن بنده قبر یو شین باغ وی ، دَ هغه قبر اویا لاسه فراخه کیږی او هغه دَ څورلسمې شپې دَ سپوږمئ په شان روښانه وی .بیائې دا آیتِ کریمه تلاوت اوفرمائیلو :

"فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا" (طه : ۱۲۴)

"نو بیشکه دَ هغه دپاره تنګه زندګی ده ."

تاسو ته علم دې چه دا دَ چا په حق کښې نازل شوې دې ؟ صحابهٔ کرامو اوفرمائیل الله او دَ هغه رسول بهتر پو هیږی ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا دَ کافر دَ عذاب متعلق دې ، په هغه باندې به په

قبر کښې يو کم سَل اژدهاګانې مقرر کولې شي ، او دَ هرې اژدها به اووهٔ سرونه وي ، چه ددهٔ وجود به چيچي ، خوري به ئې ، او دَ قيامت ورځې پورې به دهٔ ته ګرم پوکې ورکوی ."

دَ حضرت ابوسعيد خدری او دَ حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما روايت دې چه هغوی دَ الله جل شانه ددې ارشاد په باره کښې "فان له معيشة ضنکا" (دَ هغه دپاره به تنګه زندګی وی) فرمائی چه ددې نه عذابِ قبر مراد دې ."

﴿ په عذابِ قبر باندې دويم آيت ﴾

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه خلقو به دَ عذابِ قبر په باره کښې شك کولو تردې پورې چه دا سورة نازل شو :

" اَلْهٰکُمُ التَّکَاثُرُ حَتّٰی زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ثُمَّ کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ (التکاثر : ١ تا ٤)

" په دنياوی ساز وسامان باندې فخر کول تاسو لره دَ آخرت نه غافله کوی ، تردې پورې چه تاسو قبرستان ته اورسئ . هرګز داسې نهٔ ده زرده چه تاسو ته به معلومه شي . هرګز داسې نهٔ ده زرده چه تاسو ته به معلومه شي ."

په اولنی "تعلمون" کښې عذابِ قبر طرف ته اشاره ده او په دويم "تعلمون" کښې عذابِ آخرت طرف ته اشاره ده . په يو روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو آيا تاسو ته معلومه ده چه دا آيتونه دَ چا متعلق نازل شوې دی ؟

"فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْکًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰی"

پس دَ هغه دپاره دَ تنګئ زندګی ده ، او دَ قيامت په ورځ به مونږ هغه ړوند راپورته کوو ."

صحابهٔ کرامو عرض اوکړو : الله او دَ هغه رسول ﷺ ته ښهٔ علم دې ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

کافر ته چه کوم عذاب په قبر کښې ورکولې شي ، دا دَ هغې په باره کښې نازل شوې دې . زما دې قسم وی په هغه ذات چه دَ هغه په قبضه کښې زما ساه ده ، په کافر باندې به په قبر کښې يو کم سل اژدهاګانې مقرر کولې شي . تاسو ته پته ده چه هغه اژدهاګانې به څنګه وی ؟ يو اژدها به دَ يو کم سلو اژدهاګانو په ځائ وی ، دَ هر يو مار به نههٔ سرونه وی ، دې کافر لره به ترقيامته پورې چيچي او خوری به ئې . او دَ قبر نه به موقف پورې ړوند بوتللې شي .

﴿ په عذابِ قبر کښې شك کول کفر دې ﴾

عذابِ قبر حق دې او دا ډيره نازکه مسئله ده نن خو خلق په خپلو سترګو سره دَ ليدو واقعاتو نه هم اثر نهٔ اخلي ، عذابِ قبر خو نهٔ چا ليدلې دې ، او نهٔ چه څوك مړ شوې دی او قبر ته رسيدلې دی ، هغوی څهٔ خبر ورکړې دې چه ما څهٔ تيريږی ؟ څنګه تيريږی ، په دې وجه سره هر مسلمان بنده لره پکار دی چه هغه دَ رسول الله ﷺ په دې فرمان چه " عذاب القبر حَق " دَ زړهٔ نه ايمان راوړی . په نهٔ منلو کښې زمونږ هم خپل نقصان دې ، او هم دا ايمان بالغيب دې .

علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله فرمائی چه دَ عذابِ قبر ذکر په قرآن او سنت کښی په ډير مقاماتو کښی راغلی دي. په دې وجه سره دا حق دې او دوه فرشتې (نکرين) چه هغه به په قبر کښی د مړی نه سوال کوی هغه هم برحق دی، او په دې باندې ايمان راوړل فرض دی.

حضرت عبد اللهؒ فرمائی دَ قبر عذاب حق دې دې وجې نه ددې نه صرف هغه کس انکار کولې شی چه هغه خپله هم گمراه وی او نورو لره هم گمراه کوی.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه ما د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه دَ عذابِ قبر په باره کښی تپوس اوکړو: هغویؒ اوفرمائيل چه د عذاب قبر تمام احاديث صحيح دی. او په دې باندې زمونږ ايمان دې. ځکه چه د رسول الله ﷺ ارشادات دی، کۀ چرې مونږ دې لره رَد کړو يعنی اوسې نۀ منو نو د انکارِ سنت په وجه سره به دَ فرمانِ خداوندی هم منکر او ځولې شو، ځکه چه مونږ ته دَ رسول الله ﷺ دَ اتباع حکم دې. پس مړی ته په قبر کښی عذاب ورکولې شی او دا حق دی."

خلاصه دا شوه چه عذابِ قبر حق دې کۀ چرې خلقو ته ددې مشاهده اوکړې شوه نو دَ خلقو به خوراك، څښاك، امن چين تمام ختم شی، مگر دا ليدلې شوې دی چه سړې ددې قسم مشاهده کولو باوجود هم خُدا فراموش اوسی او هيڅ قسم اثرنۀ اخلی." (خلاصه

راهِ نجات)

﴿دَ عذاب قبر اقسام﴾

ابن قيم فرمائيلې دی:

دَ عذابِ قبر دوه قسمونه دی: يو قسم دائمی دې چه دا دَ کفارو او بعضِ معصيت کووونکو والو دپاره دې. او بل قسم غير دائمی، يعنی ختميدونکې دې، دا به کم گناه کولو والا ته ورکولې شی، او دا به دَ هغوی دَ جرم مطابق وی، او بيا به ختم شی، ددې قسم عذاب نه صدقه او دُعا وغيره هم دَ نجات سبب جوړيږی.

﴿دَ جُمعې په ورځ دَ عذاب کيفيت﴾

امام شافعی رحمه الله فرمائی:

مړو ته دَ جُمعې په ورځ عذاب نۀ وی ځکه چه دا دَ جمعې دَ ورځې دَ شرافت صدقه ده، ليکن دا خبره دَ کفارو دپاره نۀ ده بلکې صرف دَ گنهگار مسلمان دپاره ده.

دويم باب ٢

﴿عذابِ قبر دَ احاديثو په رنړا کښی﴾

حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمائی چه يوه يهودی ښځه ماته راغله او هغې دا دُعا اوکړه چه الله تعالىٰ دې تا دَ قبر دَعذاب نه اوساتی." کله چه رسول الله ﷺ کور ته تشريف راوړو نو هغې ترينه دَ عذابِ قبر په باره کښی پوښتنه اوکړه نو حضور ﷺ

ارشاد اوفرمائیلو :

" نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ "

" آو عذابِ قبر حق دې "

حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه ددې نه بعد به کله هم رسول الله ﷺ مونځ کولو نو دَ قبر دَ عذاب نه به ئې پناه غوښتله . " (بخاری شریف ١/ ١٨٣)

﴿ دَ عذابِ قبر نه دَ حفاظت دپاره دُعاءِ نبوی ﷺ ﴾

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به دا دُعا فرمائیله : " اللهم انی اعوذبك من عذاب القبر ومن عذاب النار ومن فتنة المحیا والممات ومن فتنة المسیح الدجال " (بخاری) " اې الله ! زهٔ دَ عذابِ قبر نه پناه غواړم او دَ جهنم دَ عذاب نه او دَ زندګئ او دَ مرګ دَ فتنې نه او دَ دجال دَ فتنې نه هم پناه غواړم . "

﴿ کهٔ چرې تاسو دَ عذابِ قبر شدت معلوم شی ﴾

یو ځل جناب رسول الله ﷺ په سورلئ باندې تشریف اوړلو ، په لاره کښې دَ هغوی تیریدل په څو قبرونو باندې اوشو ، نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو :

" ان هذه الامة تُبتلیٰ فی قبورها فلولا ان لا تدافنوا لدعوت الله ان یسمعکم من عذاب القبر الذی اسمع منه (مسلم ٢ / ٣٨٦)

" دا خلق په عذابِ قبر کښې مبتلا دی ، پس کهٔ چرې دا ویره

نهٔ وې چه تاسو به دَ مړو دفن کول پریږدئ نو ما به دَ الله تعالیٰ نه ضرور سوال کړې وو چه هغه تاسو ته هم هغه شان دَ عذابِ قبر آواز واوروی لکه څنګه چه زهٔ اورم . "

بیا رسول الله ﷺ صحابهٔ کرامو ته متوجه شو او هغوی ته ئې دَ عذابِ قبر ، عذابِ جهنم او دَ دجال دَ فتنې نه دَ پناه غوښتلو تلقین اوکړو . "

﴿ څناور هم دَ قبر آواز اوری ﴾

دَ احادیثو او آثارو نه معلومیږی چه دَ قبر حالات او دَ عذابِ قبر وغیره آوازونه اګر چه دَ انسان او جناتو نه پوشیده دی ، لیکن نور څناور دا آوازونه اوری ، او دَ هغې په حالاتو باندې خبریږی .

چنانچه په بخاری او مسلم کښې دی چه کله دَ منافق او کافر نه قبر کښې سوال کولې شی او صحیح جواب نهٔ ورکوی نو فرشتې هغه لره دَ اوسپنې په پلك سره دومره په زوره وهی چه هغه بې اختیاره چغې اوباسی . او دَ هغه دا چغې دَ انسان او دَ پیری نه علاوه نور څناور کوم چه ورته قریب وی ، ټول اوری .

ارشاد نبوی ﷺ دې :

" ان اهل القبور یعذبون فی قبورهم عذابًا تسمعه البهائم " (بخاری ٢ / ٩٣٢)

" بیشکه قبر والو ته په قبرونو کښې عذاب ورکولې شی چه دَ هغې آواز څناور اوری "

﴿ دَ قبر پُر اسرار آواز ﴾

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه مونږ یو ځل دَ جناب رسول الله ﷺ په معیت کښې په یو جنازه کښې شریك شو ، کله چه مونږ قبرستان ته اورسیدو ، رسول الله ﷺ دَ یو قبر په خوا کښې تشریف فرما شو . او ارشاد ئې اوفرمائیلو :

" چه په قبر باندې یوه ورځ هم داسې نۀ تیریږی چه په هغې کښې هغه په نهایت فصیح آواز سره دا اعلان نۀ کوی چه اې دَ آدم ځویه ! تۀ ما هیره وې ، زۀ دَ تنهایئ کوریم ، دَ اجنبیت کوریم ، زۀ دَ وحشت او خوف کوریم ، دَ چینجو کوریم ، زۀ نهایت دَ تنګئ کوریم ، مګر دَ هغه کس دپاره چه په هغه باندې الله جل شانه ما وسیع کړی

﴿ قبر دَ دوزخ کنده ده ﴾

ددې نه بعد بیا حضور ﷺ اوفرمائیل : چه قبر یا دَ جنت دَ باغونو نه یو باغ دې یا دَ جهنم دَ کندو نه یوه کنده ده . " دَ قبر هیره ونکو ! مونږ ټول به یو ځل قبرستان ته ځو .

﴿ دَ قبر زورنه ﴾

دَ حضرت سیدنا ابوالحاج ثمالی رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : چه کله قبر ته مړې ورکوز کړې شی ، نو قبر هغه ته خطاب کوی :

" اې بنده تاله دې هلاکت وی . تا زۀ دَ څۀ دپاره هیر کړې وُم ؟

آیا تا ته دومره هم پته نۀ وه چه زۀ دَ فتنو کوریم . دَ تیرو کوریم . بیا تۀ ولې زما دپاسه په تکبر سره ګرځیدلې . "

کۀ چرې هغه مړې نیك بنده وی نو بیا یو غیبی آواز قبر ته کیږی :

" اې قبر ! کۀ چرې دې دَ هغه خلقو نه وی چه دَ نیکئ حکم ئې کولو او دَ بدئ نه به ئې منع کوله نو بیا به (ستا سلوك څۀ وی ؟)

قبر به وائی کۀ دا خبره وی نو زۀ ددۀ دپاره ګزاره جوړیږم . چنانچه بیا به ددې بنده وجود نور سره بدل شی او ددۀ روح الله رب العزت طرف ته پرواز کوی . " [مسند ابی یعلیٰ ٦٨٣٥]

﴿ دَ رسول الله ﷺ دَ عذاب نه پناه غوښتل ﴾

دَ حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به ضرور دَ عذابِ قبر نه پناه غوښتله او په دې الفاظو سره به نې دُعا فرمائیله :

" اللهم انی اعوذبك من عذابن القبر " [بخاری شریف]

" یا الله ! زۀ په تا سره دَ عذابِ قبر نه پناه غواړم . "

﴿ قبر به نافرمان سړې څنګه دباوَوی ﴾

بیهقی ، ابن منده ، دیلمی او ابن نجار دَ حضرت سعید بن المسیبؒ نه روایت کړې دې چه حضرت سیده عائشه رضی الله عنها په بارګاهِ نبوی کښې عرض اوکړو : یا رسول الله ﷺ ! دَ کله نه چه تاسو دَ نکیر منکیر آواز او دَ قبر دَ دباؤ تذکره کړې ده نو زۀ په هیڅ څیز کښې لذت نۀ مومم . رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

"اې عائشه ! دَ منکر نکیر آواز دَ مؤمن په غوږ کښې داسې دې لکه دَ اثمد رانجهٔ په سترګه کښې . دَ قبر دباؤ (زور ورکول) دَ هغه دپاره داسې دی لکه څنګه چه مور دَ خپل هغه بچی په سر زور کوی دَ کوم چه په سر درد وی . لیکن هغه خلق کوم چه نافرمان دی دَ هغوی دپاره سراسر هلاکت دې ، قبر به هغوی لره داسې چخړی کوی لکه څنکه چه انډې (اګۍ) لره کانړې چخړی کوی ."

﴿په چغلی کولو او دَ مِتیازو نه په ځان نهٔ ساتلو عذابِ قبر﴾

دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه دَ رسول الله ﷺ په یو دوو قبرونو باندې تیریدل اوشو . رسول الله ﷺ اوفرمائیل دې دواړو ته عذاب کیږی ، او دوی ته په څهٔ ډیر مشکل کار باندې عذاب نهٔ شی ورکولې ، بلکې په داسې معمولی غوندې کارونو باندې چه دَ هغې نه بچ کیدې شو . بیا رسول الله ﷺ ددې دواړو کسانو دَ ګناهونو تفصیل بیان اوفرمائیلو :

"په دې دواړو کښې به یو کس په متیازو کولو کښې پرده نهٔ کوله او په یو روایت کښې دی چه دَ متیازو نه به ئې ځان نهٔ ساتلو ، او دې دویم کس به چُغلی کوله ."

بیا رسول الله ﷺ یوه شنه (تازه) څانګه راوغوښته ، هغه ئې په مینځ دوه حصې کړه یو ئې په یو قبر او بله ئې په بل قبر خخه کړه . صحابهٔ کرامو عرض اوکړو اې دَ الله رسوله ! تاسو داسې ولې اوکړل ؟

ارشاد ئې اوفرمائیلو : اومید دې چه ددې دواړو په عذاب کښې ددې څانګو تر دَ اوچیدو پورې تخفیف (سپکوالې) اوکړې شی ."

﴿کهٔ چرې تاسو ته عذابِ قبر معلوم شی نو خندا به پریږدئ !!﴾

حضور ﷺ فرمائی ...... والله لو تعلمون ما اعلم ...... کهٔ چرې تاسو ته دَ هغه څیز علم اوشی دَ کوم چه ما ته علم دې . کهٔ چرې زهٔ محمد (ﷺ) دَ قبر او دَ حشر نقشه تاسو ته اوښایم نو ...... لضحکتم قلیلًا ولبکیتم کثیرًا ...... نو تاسو به خندا کمه کوئ او ژاړئ به ډیر . دا دَ حضور ﷺ الفاظ دی :

"ولا تلذذتم بالنسآء علی الفرشات" ... نوجوانو ! کهٔ چرې دَ قیامت منظر تاسو ته محمد (ﷺ) بیان کړی نو تاسو به دَ خپلو بیبیانو سره مینه او محبت پریږدئ او تاسو به مړی هم په قبرونو کښې نهٔ دفن کوئ . او په چغو سورو به ځنګل طرف ته اوځئ .

الله تعالیٰ دې مونږ ته فکرِ آخرت نصیب اوفرمائی . آمین

﴿بې نمازی او عذابِ قبر﴾

په حدیث مبارک کښې راځی چه یوه فرښته به په قبر کښې متعین کړې شی . کهٔ چا دَ ماسپخین مونځ قضاء کړې وی ، نو هغه فرښته به دهٔ لره په ګرز سره وهی ، تردې پورې چه دَ مازیګر وخت شی ، کهٔ دَ مازیګر مونځ ئې قضاء کړې وی نو تر دَ ماښامه پورې . کهٔ چرې

دَ ماسخوتن مونځ ئې قضاء کړې وی نو تر دَ صبا پورې او کهٔ دَ صبا مونځ ئې قضاء کړې وی نو تر دَ ماسپخین پورې به دهٔ لره په ګرز سره وهی . او کله چه ئې فرشته وهی نو دا مُرده به تر اویا لاسو پورې په زمکه کښې ننوځی . بیا به راوځی او فرشته به ئې بیا وهی ، دغه شان به ئې مسلسل وهی ، په دغه وخت کښې به چغې وهی مګر څوك به هم ددهٔ آواز اوریدلو والا نهٔ وی . خور به ورسره نهٔ وی ، مور به ورسره نهٔ وی ، تا سره به هیڅوك خپل خپلوان نهٔ وی ، چه هغه ته ئې خپل غم واوروې ، چاته چه دَ زړهٔ درد بیان کړې . هلته کښې خو به فرشته وی ، هغې ته چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه څهٔ حکم کولې شی دَ هغې مطابق به چلیږی .

﴿ په قبر کښې اژدها ﴾

په بعضِ خلقو به په قبر کښې یوه اژدها مقرر کولې شی ، هغه اژدها به دهٔ لره مسلسل چیچی . په دنیا کښې چه چالره دَ شاتو مچۍ اوچیچی نو دَ هغه څهٔ حال وی ؟ او په قبر کښې به ئې دا اژدها تر قیامته پورې چیچی . "

﴿ دَ قبر ګرمی ﴾

کهٔ چرې قبر دَ جهنم کنده جوړه کړې شوه نو دَ هغې دَ ګرمۍ به څهٔ حال وی ؟ نن خو ښځې دَ کټوۍ دَ پخولو دپاره نغری ته لږ شان کینی نو وائی زمونږ نه به زیات څوك په ګرمۍ کښې نهٔ وی ناست . آیا دَ قبر دَ ګرمۍ سره به څهٔ کوئ ؟ آیا دَ قبر دَ ګرمۍ دپاره مو څهٔ

بندوبست کړې دې ؟ ابن ابی الدنیا دَ حضرت علی رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل :

" زما دې قسم وی په هغه ذاتِ پاك باندې چه دَ هغه په قبضه کښې زما ساه ده ، زما په نزد باندې زر ګزارونه دَ توری بهتر دی په بستره باندې دَ مرګ دَ راتلو نه . "

﴿ یو ځناور دَ قبر عذاب واوریدو ﴾

حضرت حکم بن برخان چه دا یو اهلِ علم وعمل شخص وو بیان کوی چه خلقو دَ اشبیلیه په بلند قبرستان کښې یو مُرده (مړې) دفن کړو او بیا دَ دفن کولو نه بعد دَ قبر سره خوا کښې دا خلق کیناستل او خبرې اترې ئې کولې .

دوی سره یو ځناور (څاروې) خوا کښې څریدو ، چه په دې کښې دې ځناور منډې کړې او قبر ته نزدې راغې او داسې غوږ ئې کیخودو لکه چه څهٔ اوری . او بیا په منډه منډه اوتښتیدو ، بیا قبر ته نزدې راغې او غوږ ئې اوریدو ته اونیولو لکه چه څهٔ اوری ، غرض داچه څو څو ځله هغه ځناور داسې اوکړل . ابو الحکم رحمه الله فرمائی چه په دغه وخت کښې ماته دَ جناب رسول الله ﷺ دا قول رایاد شو چه په قبر کښې عذاب کیږی چه هغې لره ځناور اوری . "

﴿ په قبر کښې په کار راتلونکی نفع بخش اعمال ﴾

کوم اعمال او امور چه دَ قبر په زمانه کښې نفع رسوی هغه په دوه قسمه باندې دی : یو خو هغه اعمالِ صالحه دی چه دَ هغې ثواب

دَ مرګ نه روستو هم جاري وی . دَ رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دې :

" اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلثة الا من صدقة جارية او علم ينتفع به او ولد صالح يدعو له " (مسلم ۲ / ۴۱)

کله چه انسان مړ شی نو دَ هغه دَ اعمالو سلسله بند شی لیکن دَ درېو څیزونو ثواب روستو هم جاری وی .

۱ .... صدقه جاریه ۲ ...... نفع بخش عِلم

۳ ...... نیك اولاد چه دَ خپل مور او پلار دپاره دَ خیر دُعا کوی . " په دې حدیث مبارك کښی صدقه جاریه مثلًا دَ مساجدو او مدارسو تعمیر او علم نافع چه په دې کښی علمی تصنیفات او دَ شاګردانو په ذریعې سره دَ علمی فیضان تمام صورتونه داخل دی . او صالح اولاد دَ مسلسل ثواب سبب قرار ګرځولې شوې دې چه دا یو اهم بشارت دې ، هر مسلمان لره پکار دی چه هغه نیك اعمال اختیار کړی ، ددې دپاره چه ترقیامته پورې ددهٔ دپاره دَ ثواب جاری کیدو انتظام اوکړې شی ، دغه شان په یو بل روایت کښی جناب رسولِ کریم ﷺ فرمائی :

" من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها من غير ان ينقص من اجورهم شيئ " (مسلم شريف ۱/ ۳۲۷)

" کوم یو کس چه یوه ښهٔ طریقه ایجاد کړه نو دهٔ ته به دَ هغې بدله ملاویږی او کوم خلق چه په دې دینی طریقه باندې عمل اختیاره وی نو دَ هغوی برابر ثواب به هم دهٔ ته ملاویږی ، او دَ هغوی دَ اجرونو

نه به څهٔ نهٔ شی کمولې . "

په دې بناء باندې رسول الله ﷺ دَ امت هر یو فرد ته تلقین فرمائیلې دې چه هغه دې دَ خیر دَ لارو کهولاوه ولا او دَ شر دَ لارو بندوونکې جوړ شی .

﴿ په قبر کښی دَ عذاب په وجه سره دَ مړی چغې ویستل ، او دَ اوسپنې په ګرزونو سره دَ هغه وهل ﴾

دَ حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه یو روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : " چه کله کافر جواب ورکړی : هائې هائې ماته پته نشته دې ! نو دَ آسمان نه یو آواز کوونکې آواز کوی چه دهٔ دروغ اووئیلې : دهٔ ته لاندې اور خور کړئ او دَ اور بستره وارته واغوندوئ ، او ددهٔ دپاره دَ دوزخ یوه دروازه پرانیزئ . چنانچه دَ دوزخ یوه دروازه به ورته پرانیستلې شی چه په هغې سره به دهٔ ته دَ جهنم تپش او تَو او ګرمې هواګانې راځی او په هغه به قبر تنګ کړې شی ، تردې پورې چه پوختئ به ئې یوبل کښی ننوځی .

بیا به په دهٔ یو عذاب ورکوونکې مقرر کړې شی چه دهٔ به عذاب ورکوی ، چه هغه به ړوند او کوڼ وی . دَ هغه سره به دَ اوسپنې ګرز وی ، دَ هغه ګرز حقیقت دادې کهٔ چرې په هغې سره غر اووهلې شی نو هغه غر به خاوره اوګرځی . بیا ارشاد فرمائی چه کله هغه ګرز یو ځل ورله راخلاص کړی نو دَ هغې آواز دَ انسان او جنات نه سوا هر یو ځناور اوری ، په یو ځل وهلو سره به هغه خاورې شی او

بیا به ورته روح واپس کولې شی ." (احمد وابوداود)

دَ بخاری او دَ مسلم په یو روایت کښې دی چه ددې ګرز دَ وهلو په وجه سره هغه دومره په زوره سره آواز کوی چه دَ انسان او دَ پیرې ن سوا نزدې تمام څیزونه ئې اوری .

دَ کافر په قبر کښې یو کم سَل اژدهاګانې

دَ حضرت ابوسعید خدریؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه : په کافر باندې به په قبر کښې یو کم سَل اژدهاګانې مقرر کولې شی چه هغه به دۀ لره مسلسل چیچی ، تردې پورې چه قیامت قائم شی ، کۀ چرې دَ هغې نه یو اژدها پو کې اووهی نو په زمکه به کله هم شین بوټی رازرغون نۀ شی ."

دلته کښې دا خبره دَ غور قابله ده چه انسانانو او پیریانو ته د مړی دَ عذاب آواز ولې نۀ شی اورولې ؟ نو ددې جواب دادې چه انسانانو او دَ پیریانو دَ عالَمِ برزخ سره واسطه ده . کۀ چرې دوی ته عذابِ قبر اوښودلې شی ، یا ورته دَ مړو چغې او سورې واورولې شی نو ایمان به راوړی او نیك اعمال به کوی . حالانکه الله تعالیٰ ته دلته کښې ایمان بالغیب معتبر دې چه صرف دَ خپل پیغمبر ﷺ خبره واوری او په هغې باندې دَ زړۀ نه ایمان راوړی خواه کۀ هغه ئې په پو هه کښې راشی یا نۀ . بهرحال دَ رسول الله ﷺ خبره به صحیح منی او هم دې ته ایمان وئیلې شوې دی . دَ الله تعالیٰ ارشاد دې :

"بیشکه کوم خلق چه دَ خپل رب نه ویریږی نو دَ هغوی

دپاره مغفرت دې او لوی اجر دې ."

ایمان دَ کوم څیز نوم دې

کۀ چرې دَ دوزخ او جنت او برزخ حالات په سترګو سره اولیدلې شی نو ایمان بالغیب به باقی پاتې نۀ شی ، دا خو به ټول خلق منی او مؤمنان به شی . مګر الله تعالیٰ ته دا معتبر نۀ دی چه څوك په خپلو سترګو سره هر څۀ اووینی او بیا ایمان راوړی . هم دا وجه ده چه دَ مرګ په وخت کله چه انسان ته دَ برزخ حالت ظاهر شی ، په دغه وخت کښې ایمان راوړل معتبر نۀ دی ځکه چه په دغه وخت کښې دَ عذاب فرښتې په نظر راځی .

"فلم یك ینفعهم ایمانهم لما رأو بأسنا " (مؤمن)

پس دَ هغوی دپاره ایمان راوړل نفع بخش نۀ شول ، کله چه هغوی زمونږ عذاب اولیدو ."

کله چه قیامت قائم شی او بیا جنت دوزخ په خپلو سترګو سره اووینی نو تمام خلق به ایمان راوړی او دَ رسولانو دَ خبرو تصدیق به کوی ، مګر په دغه وخت کښې به ایمان او تصدیق معتبر نۀ وی .

انسانانو ته چه دَ قبر عذاب نۀ شی ښودلې او نۀ ورته دَ هغې آوازونه اورولې شی ددې یو مصلحت دا هم دې چه انسانان به دا برداشت نۀ شی کړې شی . کۀ چرې عذابِ قبر په سترګو سره اووینی یائې په غوږونو سره واوری نو بیهوشه به شی ."

رسول الله ﷺ او دَ عذابِ قبر مشاهده

دَ حضرت ابو سعید خدریؓ په روایت کښې دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو :

" دَ نافرمان بنده لاش چه کله خلق پورته کړي او اوړي نو هغه وائی هائې زما بربادی ما کوم خوا اوړئ ؟ ددهٔ دآواز دَ انسان نه علاوه هر یو څیز اوری ، او کهٔ چرې انسان ئې واوری نو بیهوشه به شی ، البته الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ ته دَ برزخ څیزونه نهٔ صرف دا چه ورته ئې ښودلې دی بلکې لیدلې ئې هم دی ، ځکه چه په رسول الله ﷺ کښې دَ برداشت ظرف موجود وو .

﴿ دَ امت ګنهګاران رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدل ﴾

دَ حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه بیان دې چه نبی کریم ﷺ به دَ خپلو صحابهٔ کرامو نه تپوس کولو ، آیا په تاسو کښې چا خوب لیدلې دې ؟ یوه ورځ دَ سحر رسولِ کریم ﷺ خله بیان کول شروع اوفرمائیل : نن دَ شپې ماته دوه کسان راغلل او زهٔ ئې بیت المقدس طرف ته بوتلم .

﴿ په کانړی سره دَ سر چخړی کولو سزا ﴾

★ ...... مونږ په یو کس باندې تیر شو چه هغه سملولې شوې وو او یو بل کس دَ هغه سر په کانړی چخړی کولو . کله چه به ئې په سر اووهلو نو دَ هغه سر به چوری چوی شو او کانړی به اورغړیدهٔ ، بیا به

هغه کس دَ کانړی دَ راخستو دپاره لاړو ، په دې کښې به ددهٔ دا سر دوباره صحیح سالم شوې وو هغه به بیا راغې او په کانړی به ئې ورله سر اووهلو ، دغه شان به ئې مسلسل وهلو . ما خپل ملګری ته اووئیل : سبحان الله دا دواړه څوك دی ؟ ماته ملګری اووئیل : اوس نور مخکښې ځه .

﴿ په پلاس (انبور) سره دَ خُلې دَ څیرې کولو سزا ﴾

★ ...... مونږ مخکښې لاړو ، نو اومولیدل چه یو کس سملولې شوې دې او یو کس سره دَ اوسپنې انبور دې چه په هغې سره ددهٔ دا دواړه وحکی ترده دَ غوږونو پورې څیرې کوی . یو طرف ته چه دَ هغه خُلهٔ څیرې کړی او هغه دَ بل طرف دَ څیرې کولو دپاره راځی نو هغه اولنی وحکې بیان تیك شوې وی . ما اووئیل : سبحان الله دا څوك دی ؟ " ماته اووئیلې شو مخکښې ځه .

﴿ په تنور کښې سوزیدونکی سړی او ښځې ﴾

★ ...... چنانچه مونږ مخکښې لاړو نو یو تنور ملاؤ شو ، چه په هغې کښې ډیر زیات شور او غوبل وو ، په تنور کښې مو اوکتل نو په هغې کښې بربنډ نر او ښځې وو . دَ لاندې به ورته دَ اور لمبه راپورته شوه چه په هغې سره به دوی چغې سورې سازې کړې . او هلته کښې دومره بدبو (سخا بین) وو چه دَ برداشت قابل نهٔ وو . ماتپوس اوکړو دا څوك دی ؟ ماته حکم اوکړې شو چه مخکښې ځه .

﴿ د کانړو خوراك د چا دپاره ﴾

★ ...... مونږ په يو نهر باندې تير شو چه د هغې اوبۀ د وينې په شان سرې وې . په هغې کښې يو کس لامبو وهله او يو بل کس د نهر په غاړه باندې ولاړ وو او ډير کانړي ورسره وو ، هغه لامبو وهلو والا چه به کله د نهر غاړې له راغې نو خپله خُله به ئې کهولاؤ کړه او په غاړه ولاړ کس به يو کانړې د هغه په خُلۀ کښې د نمرئ په طور واچولو . داسې به بار بار کيدله ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی؟ جواب ملاؤ شو چه مخکښ ئه .

﴿ د اور عذاب د چا دپاره ﴾

★ ..... مونږ مخکښې لاړو نو په يو انتهائی زيات بدصورته انسان باندې تير شو . د هغه سره اور وو او هغه به هغه اور تيزه وو او د هغې نه گير چاپيره به ئې چکر لگولو ما تپوس اوکړو چه دا څوك دی ؟ جواب ملاؤ شو چه مخکښې ئه .

﴿ اوږد قد والا سړې ﴾

★ ..... مونږ مخکښې لاړو نو په يو شين تازه باغ باندې تير شو او د باغ په مينځ کښې دومره اوږد سړې وو چه ما د هغه سر نۀ شو ليدې . ددې اوږد قد والا سړی نه گير چاپيره ډير زيات ماشومان وو ، ما هغه ماشومان کله هم نۀ وو ليدي . ما تپوس اوکړو دا څوك دی؟ جواب ملاؤ شو مخکښې ځئ .

﴿ نيم سر خوبصورته او نيم بدصورته ﴾

★ ..... بيا مونږه يو وسيع او خوبصورته باغ ته اورسيدو چه ما داسې باغ کله هم نۀ وو ليدلې . زۀ د خپل ملگری په حکم سره هغې کښې داخل شوم په هغې کښې يو داسې ښاريه وه چه د سرو او سپينو زرو د خختو نه جوړ شوې وو ، مونږ د هغې دروازې ته راغلو هغه دروازه مونږ ته کهولاؤ کړې شوه او مونږ په هغه ښاريه کښې داخل شو . دننه چه کله داخل شو نو زمونږ مخې ته څو سړی راغلل چه د هغوی نيم بدن انتهائی خوبصورته او نيم بدصورته وو . زما ملگری هغې کسانو ته اووئيل چه په دې مخامخ نهر کښې اولامبئ . هغوی ورغلل او په هغه نهر کښې ئې اولامبل ، هغه نهر ډير زيات وسيع وو او د هغې اوبۀ د پيو نه زياتې سپينې وې . کله چه هغوی د هغه نهر نه راواپس شول نو د هغوی بدصورتی ختمه شوه او پوره جسم ئې انتهائی خوبصورته او حسين شو .

زما ملگری ماته اووئيل چه دا جنتِ عدن دې او هم دا ستا ټکانه (کور) دې . ما نظر پورته کړو نو يو سپين محل په نظر راغې ملگری اووئيل چه دا هم ستا ځائ دې ما ورته اووئيل الله تعالیٰ دې ناسو ته برکت درکړی ما خو لږ دې خپل محل ته پريږدئ هغوی اووئيل اوس لا نۀ ، مگر تۀ به ضرور دې محل ته داخليږې . ما چه تراوسه پورې کوم د حيرانتيا مناظر ليدلې وو ، نو ما د هغې په باره کښې د خپل ملگری نه د حقيقتِ حال تپوس اوکړو نو هغه ماته

اوښودل :.

★ .... اولنۍ کس چه دَ هغه سر په کاڼړی چخړی کولې شو ، دا هغه کس وو چه هغه دَ قرآن مجید تعلیم حاصل کړې وو او بیا ئې هیر کړې وو او فرض مونځ به ئې ترک کولو او اودهٔ به شو ، دا معامله به دَ هغه سره ترقیامته پورې کیږی .

★ .... او دویم کس چه دَ هغه وحکی شلولې شو دا هغه سړې دې چه هغه سحر دَ کوره اوځی او دروغ وائی دا معامله به دهٔ سره تر قیامته پورې کیږی .

★ .... او دریم هغه سړی او ښځې چه بربنډ په تنور کښی سوزولې شو هغه زناکار ښځې او سړی وو .

★ .... او هغه څلورم کس چه په نهر کښی ئې لامبو وهله او کله چه به غاړې له راغلو او کاڼړې به ئې ورله خُلهٔ کښی واچولو دا هغه کس وو چه سود به ئې خوړو .

★ .... او هغه پنځم کس چه اور به ئې بلولو ، هغه دَ جهنم داروغه وو .

★ .... او هغه شپږم اوږد قد والا کس چه په باغ کښی په نظر راغلې وو هغه ابراهیم علیه السلام وو او دَ هغه نه ګیر چاپیره هغه بچی وو چه هغوی په فطرت باندې وفات شوې وو .

★ .... او هغه اووم قسم خلق چه دَ هغوی نیم جسم خو صورته وو او نیم بدصورته دا هغه خلق وو چه هغوی به دَ نیکئ

سره بدی هم کوله (یعنی کله به ئې نیکی کوله او کله بدی) مګر بیا هغوی له رحمت په خپله ګیره واخستو او دَ بدئ داغونه ترینه ختم شول .

حضور پاک ﷺ فرمائی چه بیا راسره دواړو ملګرو تعارف اوکړو چه زهٔ جبرائیل یم او دا میکائیل . (بخاری ، بیهقی)

علماء فرمائی چه دا حدیث دَ عذابِ برزخ په ثبوت کښی نص صریح دې . ځکه چه دَ انبیاء علیهم السلام خوبونه رښتیا وی او دَ واقعې مطابق وی . په حدیث کښی چه کوم دا الفاظ ذکر شول چه دا معامله به ورسره ترقیامته پورې کیږی نو ددې نه ظاهره ده چه دا دَ برزخ واقعات دی .

﴿ حضور ﷺ په قبر کښ دَ نجات ورکوونکو نیکو مشاهده اوفرمائیله ﴾

دا خوب هم په عجائباتِ قدرت باندې مشتمل دې ، دَ هر نمبر والا کس دپاره څهٔ نیکی دَ نجات ذریعه جوړه شوه .

دَ حضرت عبد الرحمٰن بن ثمرهؓ نه روایت دې چه یو ځل جناب رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو نن شپه ما عجیب او غریب واقعات اولیدل . (چه دَ هغې تفصیل ئې داسې بیان کړې دې .)

﴿ دَ مور او پلار په خدمت کولو سره عذاب ختم شو ﴾

۱ .... رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو کس

اولیدو چه هغه ته ملك الموت دَ روح قبض کولو دپاره راغې ، هغه کس به دَ خپل مور او پلار سره ښهٔ سلوك کولو او هغه خدمت ئې په کار راغې ، او ملك الموت ئې دَ هغه نه واپس کړو .

﴿ دَ اودس په برکت سره عذاب روستو شو ﴾

۲ ـــــ ددې نه روستو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه دَ قبر په عذاب کښې مبتلاء وو چه دَ هغه وضوء (اودس) راغلو او هغه ورته دَ عذاب نه نجات ورکړو .

﴿ دَ ذکر الله په برکت سره دَ شیطان نه حفاظت ﴾

۳ ـــــ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه لره شیطان گیر کړې وو چه په دې کښې دَ الله تعالیٰ ذکر وړاندې راغې او هغه ته ئې دَ شیاطینو دَ گیراؤ نه نجات ورکړو .

﴿ دَ مونځ په برکت سره عذاب روستو شو ﴾

۴ ـــــ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه دَ عذاب فرشتو په خپله گیره کښې اخستې وو لیکن دَ هغه مونځ کول پکار راغلو او مونځ ورته دَ عذاب نه نجات ورکړو .

﴿ دَ روژې په برکت سره ! دَ تندې نه نجات ﴾

۵ ـــــ بیا جناب رسولِ کریم ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل

امت یو کس اولیدو چه دَ هغه دَ تندې په وجه سره ژبه بهر ته راوتلې وه او کوم حوض ته چه به هم تلو نو ناکام به واپس کیدلو . په دې کښې دَ هغه روژه په کار راغله او هغه سیرابه کړو .

﴿ دَ غسلِ جنابت برکت ﴾

۶ ـــــ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه دَ انبیاء علیهم السلام یوه حلقه ده چه انبیاءؑ په کښې ناست دی او دا کس چه کله خپلې حلقې ته نزدې کیږي نو بهر ویستلې شي ، نو په دغه وخت کښې دَ هغه غسلِ جنابت پکار راغې او هغې ددې کس لاس اونیولو او ماته ئې نزدې کینولو .

﴿ په حج او عمرې سره دَ تیرې دَ عذاب نه نجات ﴾

۷ ـــــ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما یو کس اولیدو چه دَ هغه ښی او کس ، روستو او مخکښې هر طرف ته تیارهٔ وه ، هغه کس ددې تیرې په وجه سره حیران او پریشان وو چه په دې کښې دَ هغه مقبول حج او عمره راغلل او هغه ته ئې ددې تیرې نه نجات ورکړو ، او هغه تیارهٔ ئې ورله په نور بدله کړه .

﴿ دَ غریبانانو په مدد کولو سره نفرت لرې شو ﴾

۸ ـــــ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه دَ مؤمنانو سره خبرې کوی . لیکن هغوی ددهٔ نه مخ اړوی ، چنانچه دَ هغه صلهٔ رحمی کار راغله او هغې صلهٔ

رحمیٔ ورته اوویئیل : اې مؤمنانو ! ددهٔ نه مخ مهٔ اړوئ ، ددهٔ سره خبرې کوئ ، بیا هغه مؤمنانو دَ هغه سره خبرې اوکړې .

﴿ دَ صدقې په برکت سره دَ اور نه نجات ﴾

٩ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه په خپلو لاسونو سره دَ اور نه ځان بچ کوی ددهٔ دپاره چه مخ ئې اونهٔ سوزوی چنانچه دَ هغه صدقه پکار راغله او هغې ددهٔ دَ مخ او دَ سر حفاظت اوکړو .

﴿ دَ تبلیغ په برکت سره دَ روح وتلو دَ عذاب نه نجات ﴾

١٠ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه ما یو کس اولیدو چه دَ هغه هریو عضو (اندام) لره دَ عذاب ملائکو په ګرفت کښې اخستې وو ، لیکن دَ هغه دعوتِ تبلیغ پکار راغلو ، او هغه لره ئې دَ رحمت فرشتو سره ملاؤ کړو .

﴿ دَ الله تعالیٰ دَ خوف او ویرې په برکت سره نیکئ زیاتې شوې ﴾

١١ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما یو کس اولیدو چه دَ هغه دَ بدئ تله درنه وه ، چنانچه دَ هغه خوفِ خداوندی پکار راغلو ، او هغې ورله دَ نیکئ تله درنه کړه .

﴿ دَ اولاد په مرګ باندې صبر کول پکار راغلو ﴾

١٢ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت

یو کس اولیدو چه دَ هغه دَ اعمالو تله (چابړې) سپک وو ، نو هغه ته هغه بچی راغلل چه هغه په ماشوم والی کښې وفات شوې وو ، او په هغې سره دَ هغه دَ اعمالو چابړې وزن دار شو .

﴿ دَ الله تعالیٰ نه دَ خوف او ویرې په وجه سره دَ دوزخ نه نجات ملاؤ شو ﴾

١٣ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه دَ دوزخ په غاړه باندې ولاړ دې ، په دغه وخت کښې دَ هغه دَ الله تعالیٰ نه خوف او ویره پکار راغله او هغه دَ دوزخ دَ غاړې نه لرې کړې شو .

١٤ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه په اور کښې غرځولې شوې وو نو په دغه وخت کښې دَ هغه ، هغه اوښکې په کار راغلې کومې چه دَ الله تعالیٰ دَ ویرې نه ددهٔ دَ سترګو نه تلې وې ، هغه اوښکو دهٔ لره دَ دوزخ دَ اور نه اوویستلو . "

﴿ په الله تعالیٰ ښهٔ ګمان او په پُلِ صراط نجات ﴾

١٥ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه په پلِ صراط ولاړ دې او رپیږی ، په دغه حالت کښې دَ هغه په الله تعالیٰ سره ښهٔ ګمان کول پکار راغلو ، حسنِ ظن ورمخکښې شو او هغه ئې په پلِ صراط باندې تیر کړو .

﴿ دَ درود شریف په برکت سره دَ پل صراط دَ دهشت او خوف نه نجات ﴾

۱۶ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه هغه په پلِ صراط باندې کله په کوناتو ځی، کله په پنډو، په داسې حالت کښې په ما باندې درود شریف وئیل دَ هغه پکار راغلو او دَ درود شریف په برکت سره هغه اودریدو او سیدها په پلِ صراط تیر شو .

﴿ دَ کلمې شریف په برکت سره په جنت کښې داخله ﴾

۱۷ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دَ خپل امت یو داسې کس اولیدو چه هغه به کله دَ جنت دروازو طرف ته اورسیدو نو هغه ته به دَ جنت دروازې بند کړې شوې ، په دې وخت کښې دَ هغه کلمه شهادت پکار راغله او هغه ته ئې دَ جنت دروازې کھولاؤ کړې او جنت ئې داخل کړو .

﴿ دَ چغلخورئ په وجه سره دَ شونډو دَ کټ کولو سزا ﴾

۱۸ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما دَ خپل امت یو کس اولیدو چه دَ هغه شونډې کټ کولې شی ، ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟ نو فرشتو ماته اوښودل چه دا چغلخور دې . ”

﴿ دَ ژبې نه رازوړند کړې شوې ﴾

۱۹ .... بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما څه کسان

اولیدل چه هغوی دَ ژبو نه رازوړند کړې شوې وو . ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟ نو فرشتو ماته اووئیل چه دا هغه خلق دی چه دوی به په مسلمانانو بنځو او سړو بې ځایه تهمتونه لګول .

(بحواله طبرانی ، نوادر الاصول ، ترغیب)

﴿ دَ عذابِ قبر راوی ، دَ څو صحابهٔ کرامو ؓ نومونه ﴾

دَ انسان دَ مرګ نه بعد اولنی منزل یعنی دَ قبر سره واسطه راځی ، او دَ منکر نکیر سوال وغیره ددهٔ نه په هم دې اولنی منزل کښې کیږی ، په دې وجه سره ددې منزل نه تعبیر په فتنهٔ قبر سره هم کولې شی . په دې سلسله کښې تقریبًا دَ اوویشتو (۲۷) صحابهٔ کرامو ؓ نه احادیث مروی دی . چه دَ هغې نه دَ بعضو نومونه دادی .

۱ .... حضرت انس بن مالك رضی الله عنه .

۲ .... حضرت تمیم داری رضی الله عنه .

۳ .... حضرت ثوبان رضی الله عنه .

۴ .... حضرت جابر رضی الله عنه .

۵ .... حضرت عبد الله بن رواحه رضی الله عنه .

۶ .... حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه .

۷ .... حضرت حذیفه رضی الله عنه.

۸ .... حضرت ابن عباس رضی الله عنه .

۹ .... حضرت ابن عمر رضی الله عنه .

۱۰ .... حضرت ابن مسعود رضی الله عنه .

۱۱ .... حضرت عثمان ابن عفان رضی الله عنه .

۱۲ .... حضرت عمر فاروق رضی الله عنه .

۱۳ .... حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه .

۱۴ .... حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه .

۱۵ .... حضرت ابوامامه رضی الله عنه .

۱۶ .... حضرت ابودردآء رضی الله عنه .

۱۷ .... حضرت ابورافع رضی الله عنه .

۱۸ .... حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه .

۱۹ .... حضرت ابوقتاده رضی الله عنه .

۲۰ .... حضرت ابوهریره رضی الله عنه .

۲۱ .... حضرت بشیر بن کمال رضی الله عنه .

۲۲ .... حضرت ضمره بن حبیب رضی الله عنه .

۲۳ .... حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها

وعن کل الصحابة اجمعین

• دَ عذابِ قبر دَ راوی صحابهٔ کرامو ؓ دَ نومونو نه بعد او عذابِ قبر متعلق دَ صحابهٔ کرامو ؓ او دَ اکابرینِ امت اقوال پیش کړ شی ."

باب : ۳

﴿ دَ اسلافو دَ عذابِ قبر نه ویریدل او ژړا کول ﴾

په حدیث شریف کښې راځی .... کفیٰ بالموت وا

مرګ دَ ټولو نه لوی واعظ دی . ددې نه علاوه دَ جنازې په لاره کښې څۀ دنیاوی خبرې به ئې نۀ کولې بلکې دَ مباح او روا خبرو نه به ئې هم پرهیز کولو ، لا دَ نامناسب خبرو کولو به څۀ وائې . دا عادت نن صبا بالکل نشته دی . اکثر خلق دَ جنازو نه عبرت نۀ اخلی ."

اسلاف به کله جنازې سره تلل نو دَ مرګ او دَ عذابِ قبر په خیال او سوچ کښې به مستغرق وو ، دَ دوی نه به بعضِ کسان بالکل متواتر څو ورځې حیران وو او دَ هغوی په مخونو باندې به غم ظاهریدلو .

یحیٰ بن ابی کثیر رحمه الله چه به کله دَ یو جنازې سره لاړو نو په واپسۍ کښې به خلقو هغه په کټ راوړلو ، په هغوی کښې به دَ تللو یا په سورلۍ دَ کیناستو طاقت نۀ وو او څو څو ورځې به په دې حالت کښې وو او دَ شدتِ خوف په وجه سره به ئې خبرې هم نۀ شوې کولې ، اولنو خلقو به دَ جنازې سره خوا کښې پست او خکته آواز بنۀ ګنړلو او چه چا به په بلند آواز سره خبرې کولې نو هغه به رټلو او ورته به ئې وئیل ته دومره سخت زړۀ والا ئې ، ستا په سترګو کښې دَ مرګ عبرت نشته دی .

﴿ دَ جنازې په وخت خندا والا منافق دی ﴾

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یو کس اولیدو چه جنازې سره ئې خوا کښې خندا کوله نو هغوی هغه کس لره اورټلو او څو ورځې ئې دَ هغه سره خبرې هم اونۀ کړې .

جناب حضرت حسن بصری یو کس اولیدو چه قبرستان کښې ئې خوراك کولو نو دَ هغه کس نه خفه شول او ورته ئې اوفرمایل چه ته منافق ئې.

حاتم اصم رحمه الله فرمائی چه دَ زړهٔ دَ علاج دپاره په جنازه کښې شرکت کول ضروری دی. ابراهیم زیات رحمة الله علیه چه به کله څوك په مړی په ژړا اولیدو نو فرمائیل به ئې: اې دوسته! په خپل ځان اوژاړه، او په ځان رحم اوکړه، ځکه چه مړی خو دَ درې مصیبتونو نه نجات موندلې دې.

۱ .... دَ ملك الموت لیدل.

۲ .... دَ مرګ تکلیف برداشت کول

۳ .... دَ بد انجامئ دَ خوف نه بچ کېدل، په خلاف ستا.

﴿دَ قبر دَ حضرت عمر بن العزیز سره خبرې اترې کول﴾

حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله یو ځل دَ جنازې ادا کولو دپاره لاړو، اوس به لړشان غور کوی چه دا عاجز کومه نکته ستا په ذهن کښې اچول غواړی چه هغه فوراً دَ هغه په ذهن کښې راځی. دَ جنازې دَ ادا کولو نه فوراً بعد هغه دَ یو قبر په خوا کښې اودریدو او ژړا ئې شروع کړه. خلقو ترینه تپوس اوکړو. حضرت! تاسو خو ددې جنازې سره ستړئ تاسو ولې روستو اودریدلئ؟ وې

خبرې اترې کوی.

خلقو ترینه پوښتنه اوکړه چه حضرت! قبر تاسو سره څهٔ خبرې اوکړې؟ وې فرمائیل زما سره قبر دا خبرې اترې اوکړې چه اې عمر بن عبد العزیز! ته زما نه دا تپوس ولې نهٔ کوې چه کوم یو بنده ماته راځی نو زهٔ دَ هغه سره څهٔ سلوك کووم؟ ماورته اووئیل ماته اوښایه. قبر راته اووئیل چه زهٔ ورسره دا سلوك کووم:

★ .... دَ هغه دَ ګوتو بندونه جُدا کووم.

★ .... دَ هغه لاسونه دَ متو نه جُدا کووم.

★ .... دَ هغه متې دَ هغه دَ جسم نه جُدا کووم.

★ .... او داسې دَ هغه هډوکی هم جُدا کووم، او هغه هم خورم."

دائې اوفرمائیل او حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله په ژړاشو اووې فرمائیل: دَ دنیا قیام ډیر زیات لږ دې او دهوکه ئې ډیره زیاته ده، ددې ژوندی به ډیر زیات زر مړهٔ شی، دَ دنیا تاسو طرف ته متوجه کیدل دې تاسو لره په دهوکه کښې وانهٔ چوی. حالانکه تاسو ته علم دې چه دا څومره زر مخ اړوی؟ او څومره نادان دې هغه کس چه هغه دَ دنیا په دهوکه کښې اونخلی."

﴿دَمړو تمنا﴾

حضرت ابراهیم بن یزید عبدی رحمه الله فرمائی چه ماته حضرت ریاح قیسی تشریف راوړو او راته ئې اوفرمائیل چه ماسره

آخرت والو تـه لاړ شـه ددې دپاره چـه زۀ ورشم او دَ هغوی سره عهد اوکړم . زۀ دَ هغوی سره لاړم تردې پورې چه مونږ قبرستان ته اورسیدو ، هغوی هلته کښې دَ یو قبر سره کیناستل اووې فرمائیل :

اې ابو اسحاق ! ستا څۀ خیال دې ، کۀ چرې ددې مړو نه څوک تمنا کوی نو څۀ تمنا به کوی ؟

ما اوویـل : والله ! دا تمنا به کوی چه هغه دنیا ته واپس کړې کړې شی ددې دپاره چه هـغـه دَ الله تعالیٰ دَ اطاعت خبرې واورې او خپله اصلاح اوکړی .

دا چه هغوی واوریدل نو وې فرمائیل :

" مونږ اوس په دې دنیا کښې موجود یو (لهذا خپله اصلاح کـول ممکن دی) بیا هغوی اودریدل او په عبادت او ریاضت کښې ئې بنۀ مشقت برداشت کړو او ډیره کمه موده ژوندې پاتې شو او بیا وفات شو . " (ذم الهوی)

﴿ یوه عبرتناکه واقعه ﴾

دَ حضرت فـاطـمه رضی الله عنها جنازه دَ شپې قبر ته کوزه کړې شوه نـو حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه په خپل جوش کښې قبر ته خطاب اوکړو :

" یـا قبـر هـل تـدری من التی جئنا بها الیك هٰذه بنت رسول الـلـه ﷺ هـذه زوجة عـلـی الـمرتضیٰ هذه ام الحسنین هذه فاطمة الزهرآء "

" تـرجـمـه : اې قبر آیا تاتـه پتـه ده چـه مـونږ تاته دَ چا جنازه راوړې ده ، دا دَ رسـول الـلـه ﷺ لور بی بی ده ، دا دَ حضرت علی المرتضیٰ بی بی ده ، دا دَ حضرت حسن او حسین رضی الله عنهما مور بی بی ده ، او دا حضرت فاطمة الزهرآءؓ ده . "

﴿ دَ قبر نه آواز راغې ﴾

" یـا ابا ذر لست انا موضع حسب ولا نسب انا موضع عمل صالح فلا ینجو الا من کثر خیره وسلم قلبه وخلص عمله "

" ترجمه : اې ابو ذر ! زۀ دَ حسب او نسب ځائ نۀ یم ، زۀ خو دَ عمل صالح ځائ یم ، پس نجات به صرف هغه کس مومی چه دَ هغه نیکئ زیاتې وی او قلب ئې سلیم وی او عمل ئې خالص وی . "

﴿ په قبر کښې مړی ته په یو تسبیح او په یو رکعت پریخودو باندې حسرت ﴾

دَ یو تسبیح او دَ یـو رکعت پـه پریښودو باندې مړی پـه قبر کښې حسرت کوی ، څو څو مړی دا تمنا او آرزو کوی چه مونږ دوباره دنیا تـه لاړ شـو ، لیـکـن داسې نۀ شی کیدلې ، په هغوی او دَ هغوی دَ اعمالو په درمیان کښې رکاوټ راغې ، هر څۀ ترینه په دنیا کښې پاتې شول او اعمال ئې ضائع شول .

﴿ دَ مړی دَ ټولو نه لوی خواهش ﴾

کله چه یو نیک بنده دَ مرګ په وخت شرمندګی محسوسوی

نو دَيو ګنهګار بنده به لا څهٔ وائي . دَ مړو په قبرونو کښې دَ تولو نه لوی خواهش به داوی چه کاش هغوی ته يو ساعت ملاؤ شی چه په هغې کښې هغوی توبه اوباسی او نيك اعمال په کښې اوکړی . او حال دادې چه اهلِ دنيا په خپلو زندګو کښې زياتې کوی او هم په دې غفلت کښې دَ هغوی عمر ضائع کيږی . اکثر خلق په ګناهونو کښې مصروف وی او دا قيمتی عمر ضائع کوی .

﴿ اې ابن آدم ! تهٔ به تنها مړ کيږې او تنها به په قبر کښې داخليږې ﴾

دَ ابو عامر خزاز نه روايت دې چه ما دَ حضرت حسن نه اوريدلې دی : اې دَ آدم ځويه ! تهٔ به تنها مړ کيږې ، او تنها به قبر ته داخليږی او تنها به دَ قبر نه راپورته کولې شې، او ستا دَ اعمالو حساب به صرف ستا نه اخستې کيږی . "

﴿ په قبر کښې دَ اعمالو توخه ﴾

" عن ابی بکر الصديق رضی الله عنه قال من دخل القبر بلا زاد فکانما رکب البحر بلا سفينة . " (منبهات مترجم : ص ۲۳)

ترجمه : " حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه فرمائی چه کوم يو کس قبر ته بغير دَ اعمالو دَ توخې نه داخليږی دَ هغه مثال د هغه کس په شان دې چه هغه سمندر ته بغير دَ کشتۍ نه ورکوزيږ

﴿ په قبر باندې ليکلې شوې شعرونه ﴾

حضرت مالك ابن دينار رحمه الله فرمائی چه ما په يو قبر باندې اوليدل :

قال مالك اتيت علىٰ قبر فاذا عليه مکتوب
يا ايها الركب سيروا ان غايتكم
ان تصبحوا ذات يوم لا تسيرونا
حثوا المطايا وارخوا من ازمتها
قبل الممات وقضوا ما تقضونا
كنا اناسا كما كنتم فغيرنا
دهر فسوف كما كنا تكونونا .

" مالك دينار رحمه الله فرمائی زهٔ يو قبر ته راغلم نو په هغې باندې دا يکلې شوې وو اې قافلې والو ! ځئ او دا ياد ساتئ چه يو ورځ به په تاسو داسې وخت راشی چه له تاسو سره به نهٔ شی تللې دَ مرګ نه مخکښې خپلې سورلئ تيزې چلوئ او دَ هغې واګې سُست پريږدئ ، او کوم کار چه تاسو کول غواړئ نو په تيزئ سره اوکړئ . مونږ هم ستاسو په شان خلق وو لين حوادثو دَ زمانې مونږ مړهٔ کړو او بدل ئې کړو ، نزدې ده چه تاسو به هم زمونږ په شان شئ .

(حليه ج۲ ص ۳۸۴)

باب ۴ :

﴿ دَ ګنهګار بنده دَ مرګ منظر ﴾

کله چه دَ الله تعالیٰ دَ نافرمان بنده دَ مرګ وخت راشی نو الله تعالیٰ ملك الموت ته فرمائی چه زما دښمن ته ورشه او دَ هغه روح قبض کړه ، ما په هغه باندې هر قسمه فراخی راوسته او خپل هر قسمه نعمتونه مې پرې اورول ، مګر هغه بیا هم زما دَ نافرمانۍ نه منع نهٔ شو . لهذا اوس هغه مالره راوله ددې دپاره چه نن زهٔ هغه ته سزا ورکړم ، او په هغه باندې ددې نافرمانۍ سزا اوڅکوم .

ملك الموت په ډیر زیات بد صورت کښې هغه ته راځی ، په داسې صورت کښې چه دولس سترګې په هغه کښې وی . او دَ هغه سره دَ اوسپنې یو ګرز وی چه هغه به دَ جهنم دَ اور نه ساز شوې وی ، او په هغې کښې به ازغی وی ، او دَ هغې سره به پنځهٔ فرشتې وی چه دَ هغوی سره به دَ اوسپنې یوه ټکړا وی ، او په لاسونو کښې به ئې دَ جهنم دَ اور غټې انګارونه وی ، چه هغه به ډیر زیات ګرم وی . "

ملك الموت چه څنګه راشی نو دَ راتلو سره به ورله هغه ګرز راخلاص کړی ، چه دَ هغې هغه ازغی به دَ هغه په هر هر رګ او رشه کښې ننوځی ، بیا به هغه ، هغې ګرز لره راکاږی ، او باقی فرشتې به ئې په کوړو سره په مخ وهی ، چه په دې سره به هغه مړې بیهوشه کیږی ، او دَ هغه روح دَ خپو دَ ګوتو ه اوځی او په پونده کښې حصاریږی ، او بیا دَ پوندې نه اوځی . (دا ځایٔ په ځایٔ به څکه روح حصاریږی چه تر ډیره وخته پورې ورته تکلیف اورسی .) په خیټه کښې حصاریږی ، بیا دَ هغه ځایٔ نه اوځی په سینه کښې حصاریږی .

بیا فرشتې هغه دَ تانبې ټکړا او دَ جهنم انګار ددهٔ دَ ژنې نه لاندې ږدی او بیا ملك الموت هغه ته وائی :

اې ملعون روحه ! راوځه او هغه جهنم طرف ته لاړشه چه دَ هغې په باره کښې الله تعالیٰ فرمائیلې دی ، چه هغه خلق به په اور کښې او په ګرمو اوبو کښې او دَ تور لوګی په سوری کښې چه هغه به نهٔ یخ وی او نهٔ به فرخت بخش وی . (بلکې هغه به نهایت تکلیف ورکوونکې وی)

بیا چه کله روح دَ هغه دَ بدن نه رخصتیږی نو روح بدن ته وائی چه الله تعالیٰ دې تاته بده بدله درکړی څکه چه تهٔ مالره دَ الله تعال په نافرمانۍ کښې په تیزۍ سره لیږې ، او دَ هغه په اطاعت کښې به دې سُستی کوله ، تا خپل ځان هم هلاك کړو او زهٔ دې هم هلاك کړم . او هم دغه شان خبره بدن روح ته هم وائی ، او دَ زمکې هغه حصې په کومه باندې چه به دهٔ دَ الله تعالیٰ نافرمانی کوله هغه پرې هم لعنت وائی . او دَ شیطانانو لښکر په منډه منډه خپل سردار ابلیس ته راځی او ورته خوشخبری اوروی چه یو کس مو جهنم ته اورسوو .

﴿ دَ مؤمن او دَ کافر دَ روح وتلو تفصیل ﴾

یو ځل نبی کریم ﷺ دَ مرګ دَ فرشتې نه تپوس اوکړو چه تهٔ دَ مؤمن نه څنګه روح قبض کوې ؟ نو هغه ورته اووئیل :

حضرت چه کله دَ هغه دنیاوی آخری وخت او اوخروی اول وخت وی ، یعنی کله چه هغه دنیاوی زندګی پوره کړی او په آخرت

کښې قدم کېخودل اوغواړی نو زهٔ خپل ماتحت هغه ته اولیږم ، چه هغوی دَ ځان سره دَ جنت خوشبودار ګلونه او نرم ونازك شاخونه واخلی او دوی لاړشی دَ هغه دواړو سترګو سره هغه ګلونه او شاخونه کیږدی .

تردې پورې چه کله ساه دَ هغه مرئ ته اورسی نو زهٔ خپله لاړشم ، سلام ورته اوکړم او روح ترینه قبض کړم او فورًا دَ هغه روح دَ ځان سره واخلم او آسمان طرف ته خیژم . دَ فرشتو په کومه یوه ډله چه هم دغه روح تیریږی نو مرحبا او جزاك الله ورته وائی ، تردې پورې چه دا پاك روح دَ الله تعالیٰ دَ تخت په وړاندې اودرولې شی او الله تعالیٰ فرمائی :

" پاك روح او صفا نفس ته مرحبا ، چه په پاك او طیب جسم کښې ئې خپل کور جوړ کړې وو . بیا حکم کیږی ، اې فرشتو ! زما دَ بنده نوم دَ علیین په دفتر کښې اولیکئ .

فرشتې دَ هغه روح جنت ته اورسوی او کوم نعمتونه چه دَ هغه دپاره تیار کړې شوې وی نو هغه ورته اوښائی او دا ټول هر څهٔ چه اوګوری نو دَ هغې نه بعد بیا دَ مؤمن روح جسم طرف ته واپس کړی او دلته کښې چه راشی نو دَ خپل غسل په ځائ کښې دَ حنوط لوښې او کفن وغیره وینی . په دغه وخت کښې دهٔ ته دَ ټولونه زیات محبوب او خوښ شخص هغه وی ، کوم چه ددهٔ په دفن کولو کښې تیزی کوی او هغه خلق دهٔ ته دښمنان ښکاری ، کوم چه ددهٔ په دفن کولو کښې

وخت اخلی . کله چه دا بنده په قبر کښې داخلیږی نو زمکه وائی :

" تاته دې خوشالی وی تهٔ نرم او ښهٔ ځائ ته راغلې ئې ، ما تهٔ دَ هغه وخت نه دوست لرلې کله چه به تهٔ زما په شا ګرځیدلې ، او اوس چه کله تهٔ زما غیږې له راغلې نو ولې به دې نهٔ غواړم . اوس نزدې ده چه تهٔ به زما هغه سلوك اووینی کوم چه به زهٔ له تاسره کوم ، چنانچه دا قبر هغه ته دومره وسیع شی څومره چه دَ سترګو نظر وی . "

﴿ په قبر کښې سوال او جواب ﴾

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چه مونږ دَ رسول الله ﷺ سره دَ یو انصاری په جنازه کښې شریك وو ، لاتراوسه پورې قبر تیار شوې نهٔ وو ، نو په دې وجه رسول الله ﷺ یو ځائ کښې تشریف فرما شو ، مونږ خلق هم دَ هغوی ﷺ نه ګیرچاپیره کیناستو ، دَرسول الله ﷺ په لاس مبارك کښې یو ډکې وو چه په هغې سره هغوی ﷺ زمکه ګروله (لکه څنګه چه یو غمژن کس کوی) بیا هغوی سر مبارك پورته کړو او مونږ ته مخاطب شو اووې فرمائیل :

" اې خلقو : په الله تعالیٰ سره دَ قبر دَ عذاب نه پناه غواړئ .

دوه درې ځله ئې دا جمله ارشاد اوفرمائیله .

کله چه دَ مؤمن بنده دَ دنیا نه رخصتی او آخرت ته حاضری راځی ، نو هغه ته دَ آسمان نه داسې فرشتې راځی ، چه دَ هغې مخونه به دَ نمر په شان روحانه وی ، دَ هغوی سره به دَ جنت کفن او دَ جنت خوشبو وی . دا فرشتې دَ هغه په وړاندې حدِ نظر پورې کینی ،

بیا ملك الموت تشریف راوړي او دَ هغه سر ته کېني اوورته فرمائي :
"اې نفسِ مطمئنه ! دَ الله تعالیٰ مغفرت او رضامندئ طرف ته لاړ شه . بیا دَ هغه روح داسې اوځی لکه څنګه چه مشکیزه کهولاؤ شي او دَ هغې نه اوبهٔ په آسانتیا سره وځی .

چنانچه ملك الموت دَ هغه روح دَ ځان سره په قبضه کښې اخلی او کومې فرشتې چه دَ هغه سره وی نو هغه فورًا دَ ځان سره کړی او دا روح دَ جنت په حنوط (یو قسم خوشبو) او په کفن کښې راونغاړی ، نو ددې روح نه دَ اعلیٰ مشکو په شان خوشبوئی ځی ، بیا هغه فرشتې دا روح دَ ځان سره کړی او ځی ، نو کله چه هم دَ فرشتو په یو ټولګی باندې تیریږی نو تپوس کوی چه دا پاکیزه روح دَ چا دې ؟ نو هغه فرشتې نوم په نوم دَ هغه په بهترین انداز کښې تعارف کوی ، تردې پورې چه دَ آسمان دَ مقرب فرشتو نه واخله تردَ بره آسمانه پورې ددې روح مشایعت کوی ، تردې پورې چه اووم آسمانه پورې ئې رسوی .

الله تعالیٰ فرمائی چه زما ددې بنده نوم په علیین کښې اولیکئ ، او دهٔ لره دوباره زمکې طرف ته بوځئ ، ځکه چه ما دهٔ لره هم دَ زمکې نه پیدا کړې دې او هم ددې نه به ئې دَ قیامت په ورځ دوباره راپورته کووم . بیا هغه روح خپل بدن ته واپس کوی ."

په دنیا کښې په څو قسمه باندې امتحان وی ، دَ سکولونو کالجونو وغیره طالبان او طالبات دَ امتحاناتو په تیاریٔ کښې مشغول

په نظر راځی ، او کوم طالبات چه په تیاریٔ کښې کوشش کوی نو یقینًا هغوی کامیابی بیا مومی ، او چه کوم خلق په لوبو توقو کښې مصروف وی نو هغوی په امتحان کښې ناکامه وی . بالکل هم دغه شان په قبر کښې هم یو امتحان کیدونکې دې ، مګر افسوس ! مونږ دَ قبر دَ امتحان نه بالکل غافل یو .

حالانکه دَ قبر امتحان کنفرم دې . په یو روایت کښې راغلې دی چه کله په قبر کښې مړې دفن کړې شی ، نو خوفناك شکل کښې ورته فرشتې راځی ، چه بیر سری ، او غټو غټو غابښونو والا به وی دَ هغوی دَ سترګو نه به شُعلې خیژی ، او ډیر په سختیٔ به مړې کینوی او په ترخه او سخته لهجه کښې به ترینه سوال کوی :

★ .... اې په دنیاوی امتحاناتو کښې لګیدلو والو !

★ .... فلمونو ، ډرامو کتلو والو !

★ .... په ګانو بجانو سره زړهٔ لوبه ونکو !

★ .... دَ مونځ ، روژې او دَ تلاوتِ قرآن نه ځان خلاصوونکو !

یاد لرئ کهٔ چرې الله تعالیٰ ناراضه شو ، دَ هغه دَ محبوب پیغمبر ﷺ نه واوریدئ ، او دَ ګناهونو په دسبب سره ایمان برباد شو نو څهٔ به کوئ ؟ فرشتې به په ډیره سخته لهجه کښې سوالونه کوی .

﴿ په قبر کښې دَ مړی نه اولنی سوال ﴾

اولنې سوال په دا کیږی : مَن ربك .... ستا رب

څوك دې ؟

آه .... رب ورته چرته يادېدلو ؟ تمامه زندګی په نافرمانۍ کښې تيره شوه . نۀ به دَ الله تعالیٰ ذکر ، نۀ دَ ذکرِ مصطفیٰ ﷺ طلب . شپه ورځ به پرې دَ فيشن نحوست خور وو ، نۀ ئې سجده کړې او نۀ رکوع کړې ، او نۀ ئې وران زړۀ آباد کړې . اوس به جواب څنګه ورکوی ؟

چانك به ئې دَ خُلې نه دا جواب اوځی : " هيهات هيهات لا ادری " هائے هائے افسوس ! ماته هيڅ معلوم نۀ دی .

﴿ په قبر کښې دَ مړی نه دويم سوال ﴾

بيا به دويم سوال کيږی : مَـادينك ؟ .... ستا دين څۀ دې ؟ بُت پرست وې ، يهودی يا عيسائی وې يا مسلمان ؟ ګنهګار او بې ايمانه انسان به نادم او پښيمانه وی ، ددۀ خو دَ دنيا سره يارانه وه مګر دين سره ئې دوشمنی وه . دۀ ته خو صرف دنيا خوږه وه . شپه ورځ به دَ دنيا په کار کښې مشغول او مصروف وو .

★ .... اې دَ دين دَ تعليم نه لرې اوسيدونکو !

★ .... مور ، پلار او کور والا سره جګړه کوونکو !

★ .... په بازارونو او لارو کوڅو کښې بې پردې ګرځيدونکو !

★ .... مخلوط تفريح ګاهونو ته په خوشالۍ خوشالۍ سره تلونکو !

★ .... په وی سی آر او کيبل باندې دَ بې حيايۍ مناظر کتونکو ! "

څوك چه دَ دين نه لرې پاتې شوې وی نو هغه به په خپل ذهن باندې بوجهـ اچوی مګر هيڅ به ورته ياد نۀ وی چه څۀ جواب ورکړی ؟ اچانك به ئې دَ فرشتو دَ ويرې دَ خُلې نه اوځی :

" هيهات هيهات لا ادری ؟ " هائے هائے افسوس ! ماته هيڅ علم نشته دې . "

﴿ دَ مړی نه دريم سوال ﴾

اوس به دريم او آخری سوال وی ، دَ چا دَ رُخِ انور ديدار به ورته کولې شی او تپوس به ترينه کولې شی :

" ما کنتَ تقول فی حق هذا الرجل ؟ ....

" تا به ددې شخص په باره کښې څۀ وئيل ؟ "

اې دَ رسول الله ﷺ دَ سنتو نه مخ اړه ونکو ! دَ فيشن سره رشته قائموونکو ! ګنهګار او نافرمان به ددې سوال جواب هم نۀ شی کولې ځکه چه هغه به تمام عمر دَ نيکو نه ځان خلاصولو ، شپه ورځ به ئې دَ غير مسلمو طريقې اختيارولې ، فحش فلمونه به کتل ، شپه ورځ به ډش ، وی سی آر او کيبل ته ناست وو . دَ الله تعالیٰ دَ محبوب ﷺ په سنتو پسې به ئې خنداکوله .

نو داسې کس به دَ الله تعالیٰ محبوب پيغمبر اونۀ پيژنی او ددې بدنصيب دَ خُلې نه به بې اختياره اوځی " هيهات هيهات لا

ادری " " هائے هائے افسوس ! ماته علم نشته دې "

په دې کښې به دَ جنت دَ طرف نه یوه کړکۍ کهولاؤ کړې شی او بیا بـه فـورًا بنده کړې شی . بیا به ورته دَ دوزخ دَ طرف نه یوه کړکۍ کهولاؤ کړې شی او دا به نۀ بندیږی .

﴿ دَ ګنهګار دپاره دَ اور دَ کفن اعلان ﴾

مړی ته به اووئیلې شی کۀ چرې تا درست جوابونه کړې وو نو تاته به دَ جنت هغه کړکۍ وه ، بیا دَ هغه کفن په اور کښې تبدیل شی ، په قبر کښې به ورته دَ اور بستره واچوی ، ماران او لړمانان به دَ مړی نه ګیرچاپیره شی .

لیکن زما مونځګذارو خویندو ! تاسو تـه دې مبارکبادی وی . اې دَ نیکۍ پرچار کوونکو ! تاسو ته دې مبارکبادی وی ، دَ فـلمونو او ډرامو نه دَ نفرت اظهار کوونکو ! تاسو ته دې مبارکبادی وی . څوك چه په نیکو باندې عمل کوونکې وی او قبر ته لاړ شی نو قبر دَ هغه دپاره دَ جنت باغ جوړیږی . دَ هغه نه هم درې سوالونه کولې شی .

﴿ په قبر کښې دَ نافرمان بنده جوابونه ﴾

" هـا هـا لا ادری " .... هائے هائے زۀ نۀ پو هیږم . په دنیا کښـے به خلقو وئیل ، ما به هم وئیل اوس نۀ پو هیږم ، ماته علم نشته دی . دا جـواب چـه نکیر منکر واوری نو وائی .... قد کنا نعلم تقول هـذا " .... مـونږ ته دَ مخکښې نه پته وه چه تۀ به داسې وائې . بیا دَ

آسمان نه یو منادی آواز کوی :

" دا بـنـده دروغـجـن دې ددۀ دپاره دَ اور بستره خوره کړئ ، او دَ اور لباس ورته واغوندوئ ، او دۀ ته دَ دوزخ دَ طرف نه یو دروازه پرانیزئ

فرشتې ورتـه اول دَ جنت دروازه کهولاوه وی چه دې هغه اووینی نو خوشاله به شی . فرشتې به ورته وائی اې بدبخته ! کۀ چرته نۀ مؤمن نیـکو کار وې نو ستا ټیکانه به دا وه بیا به ورته هغه دروازه بند کړې شی او دَ دوزخ نه به ورته دروازه پرانیزی . چه په هغې سره به دَ جهنم ګرمې هواګانې او بدبو راځی . او ترقیامته پورې به راځی .

بیا بـه قبـر دې بدبخت او بدنصیب ته مخاطب شی او ورته به وائی اې بـدبخت تـۀ بـه زما دپاسه ګرځیدلې ، نو تۀ به زما ډیر زیات بدې شوې . اوس تـۀ ماته حواله شوې ، او زۀ په تا باندې مسلط کړې شوې یم ، اوس به تۀ اووینې چه زۀ به له تا سره څۀ سلوك کووم . تاته معلومه ده چه په ما کښې ماران دی ، لړمانان دی دا چه اووائی نو قبر به ورته زور ورکول شروع کړی دومره زور به ورکړی چه دَ هغه به یو پښتئ په بله کښې ننوځی .

بیا بـه پـه هغه باندې دَ عذاب والا یو فرشته مسلط کړې شی چه ددې په باره کښـی په حدیث مبارك کښې راځی ...... اعمیٰ واصم — یعنی ړوند او کونړ دې . ړوند په دې وجه دې چه نۀ ددۀ حالت وینی او نۀ ئې پرې رحم راشی . کونړ په دې وجه دې چه نۀ ئې چغې سورې اوری او نۀ پرې رحم اوکړی ، هغه فرشته به دا مړې دَ اوسپنې په ګرز

سره وهي او ترقيامته پورې به ئې وهي .

او په قبر کښې به په دهٔ باندې اويا يا يو کم سل ماران مسلط کولې شي ، چه مسلسل به دهٔ لره چيچي . او ددې نه علاوه به ددهٔ بد اعمال بد شکل اختيار کړي چه مخ به ئې تور وي او غابښونه به ئې اوږدهٔ وي او نهايت بدبودار به وي . هغه بدکردار بنده به وائي چه دا به کله زما نه اخوا شي ؟ هغه به ورته په جواب کښې وائي :

قيامته پورې به دلته کښې يم . ځکه چه زهٔ هم ستا بد اعمال يم ، او ددې بدکردار دپاره به يو يو ګهنټه دَ يو يو کاله پورې شي .

په دهٔ باندې چه کوم ماران او لړمانان مسلط شوې وي هغه به دومره خطرناك وي کهٔ چرې دَ هغې نه يو په مخ دَ زمکې پوکې اووهي نو ترقيامته پورې به شين بوټې رازرغون نهٔ شي ، [مجمع الزوائد ۵۴/۳] په بعض رواياتو کښې ددې اژدهاګانو تعداد ۹۹ راغلې دې او په دې کښې به هره اژدها دَ اووهٔ سرونو والا وي .

﴿ دَ اوسپنې په څټکی وهل ﴾

او په يو روايت کښې دي چه دَ کافر او دَ منافق نه ګير چاپيره به ماران پريښودې شي چه هغه برابر دهٔ لره چيچي ، او کله چه به هغه چغه وهي نو دَ اوسپنې يا دَ اور په څټکی سره به ئې وهي . "

﴿ دَ نيك بنده نه سوالونه او جوابونه ﴾

دا روايت تير شوې دې ليکن په دې کښې دَ هغه اولنی روايت

کولې شي .

فرشتې سوال کوي .... من ربك .... ستا رب څوك دې ؟

هغه به جواب ورکوي ...... ربی الله .... زما رب الله دې .

بيا به سوال کوي .... ما دينك ؟ .... ستا دين څهٔ دې ؟ هغه به جواب کوي ...... دينی الاسلام .... زما دين اسلام دې .

بيا رسول الله ﷺ طرف ته به اشاره اوکړي (دَ هغې اصل او صورت او شکل به الله تعالیٰ ته معلوم وي .) تپوس به کوي چه دا څوك دی ؟ نو هغه به جواب ورکوي ...... هو رسول الله ﷺ ...... دا دَ الله تعالیٰ رسول دې . بيا به ترينه فرشتې تپوس کوي چه ستا څهٔ علم دې ؟ نو مؤمن به جواب ورکوي ما قرآن مجيد لوستلې دې او په هغې مې ايمان راوړې دې او دَ هغه مې تصديق کړې دې . په دې سوال او جواب سره به دَ آسمان نه آواز راځي :

زما بنده رښتيا اووئيل ، لهذا ددهٔ دپاره دَ جنت بستره خوره کړئ ، او ورته جنتي لباس واغوندوئ ، او ورته په قبر کښې دَ جنت دروازه کهولاؤ کړئ ، ددې دپاره چه دَ جنت هوا او خوشبو ورته حاصله شی . او ددهٔ دپاره قبر دومره وسيع او کهولاؤ کړئ چه څومره ددهٔ نظر لړی . "

بيا دې مؤمن ته يو خوبصورته سړې په ښهٔ لباس کښې او په ښهٔ عمده خوشبو کښې حاضرېږی او عرض ورته کوي چه دَ خوشالئ زيرې قبول کړه ، دا هم هغه ورځ ده چه ددې له تاسو سره وعده کړې

شوې وه . هغه مؤمن چه دۀ لره اووینی نو تپوس به ترینه کوی چه تۀ څوك یئ ؟ ستا مخ خو خیر راوړلو والا مخ ښکاری . نو هغه کس به جواب ورکوی چه زۀ ستا نیك عمل یم .

(دَ قبر چه دا آرام اووینی نو) مؤمن بنده به وائی چه اې ربه قیامت قائم کړې ، قیامت قائم کړې ، ددې دپاره چه زۀ زر تر زره دَ خپل مال او دولت او کور والو سره ملاؤ شم .... الخ .

(مسند احمد ۲۸۷/۴ ، مصنف ابن ابی شیبه ۵۷/۳ ، شرح الصدور ۹۲)

﴿ دَ نیك بنده قبر به اویا لاسه کهولاوولې شی ﴾

او دَ ترمذی شریف وغیره په روایت کښې دی چه کله مؤمن بنده دَ منکر نکیر صحیح جوابونه ورکوی نو دَ هغه دپاره قبر اویا لاسه کهولاؤلې شی او قبر ورته ښۀ روښانه کولې شی او ورته وئیلې شی چه اودۀ شه ! هغه مؤمن بنده به دَ خوشالئ نه جواب ورکوی چه ما خپل کور والو ته بوځئ چه زۀ هغوی ته اووایم (چه زۀ په څومره مزو کښې یم ؟) نو فرشتې ورته وائی :

" تۀ دَ هغه ناوې په شان اودۀ شه چه هغې لره صرف هغه کس رابیداروی چه هغه دې ناوې نه په کور والو کښې دَ ټولو نه زیات خوښ وی . (یعنی خاوند کۀ مړ شوې وی نو دَ هغه بی بی) او (تر هغه وخته پورې به اودۀ ئې) چه ترڅو الله تعالیٰ هغه لره دَ خپلو قیام ګاه نه دوباره نۀ پورته کوی .

﴿ مړې دَ دفن کولو والا آواز اوری ﴾

دَ حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زما دې په هغه الله قسم وی چه دَ چا په قبضه کښې زما روح دې چه مړې په قبر کښې کیخودلې شی نو کله چه ترینه واپس خلق راځی نو مړې دَ هغوی دَ پیزار آواز اوری ، پس کۀ هغه مؤمن وی نو مونځ دَ هغه سره ته اودریږی او زکوة ترینه ښی جانب ته او روژه ګس جانب ته او ښۀ او نیك اعمالو او دَ خلقو سره حسنِ سلوك دَ هغې مخې ته اودریږی .

کۀ عذاب دَ سر دَ جانب نه راځی ، نو مونځ ورته وائی چه زما دَ جانب نه دَ تللو لاره نشته دې . او کله چه دَ ښی طرف نه راځی نو زکوة ورته وائی چه زما دَ جانب نه لار نشته دې او کله چه دَ ګس طرف نه راځی نو روژه ورته وائی چه زما دَ جانب نه لار نشته دې ، بیا ددې نه روستو دَ مخې دَ طرف نه عذاب راځی ، نو نیك اعمال او حسنِ سلوك ددۀ او دَ عذاب ترمنځه پرده جوړیږی .

بیا ورته وئیلې شی چه کینه نو هغه کینی ، او دَ هغه په وړاندې نمر داسې پیش کولې شی ګویا چه هغه غریب کیدلو والا وی . نو فرشتې به ورته وائی چه مونږ ستا نه څو سوالات کوو دَ هغې جوابونه راکړه . نو هغه به ورته وائی چه څۀ سوال دې ؟ څۀ تپوس کول غواړئ ؟ فرشتې به ورته وائی چه دَ هغه شخص په باره کښې ستا څۀ خیال دې ؟ یعنی دَ حضور ﷺ متعلق ؟ هغه مؤمن به جواب

ورکوی :

”زهٔ ګواهی ورکووم چه هغه دَ الله رښتونې رسول دې ، چه هغه مونږ ته دَ رب دَ جانب نه واضح دائل راوړل او مونږ ته ئې تشریف راوړو ، پس مونږ دَ هغه ﷺ تصدیق کوو او دَ هغه پیروی کوو .“

په دې جواب سره فرښتې هغه ته خوشخبری اوروی چه تا رښتیا اوویل ، ستا زندګی په هم دې عقیدې باندې تیره شوې ده او هم په دې تا ته مرګ راغلې دې ، او انشاء الله چه دَ قیامت په ورځ به په هم دې عقیده پورته کولې شې ، ددې نه روستو دَ هغه دپاره قبر دَ نظر دَ حده پورې کهولاؤلې شی . (شرح الصدور)

﴿ زمونږ رب زمونږ نه ناراض دې ﴾

مسئله ډیره خرابه شوې ده ...... الله تعالیٰ مونږ ناراضه کړې دې ، دَ الله تعالیٰ په کائناتو کښې خرابی راغلې ده (زمونږ دَ اعمالو په وجه سره) دَ زمکې حال هم بدل شوې دې ...... آسمان هم سترګې راوښکې دی ...... دَ تمام کائناتی نظام زمونږ خلاف کیدل دا دَ الله تعالیٰ دَ ناراض کیدو واضح دلیل دې . ... او ښهٔ صفا او روښانه دلیل دې ...... په دې وخت کښې زمونږ په انفرادی طور باندې ...... په اجتماعی طور باندې دَ توبې ضرورت دې چه مونږ خپل الله تعالیٰ راضی کړو . ...

دنیا هم خرابه شوه ...... دَ آخرت دَ خرابیدو تمام اسباب پوره شوې دی ...... دَ دنیا خرابی هیڅ مسئله نهٔ ده .... زما او ستا دَ ذات

دپاره ...... نو دا هم ډیره زیاته غټه مسئله ده ..... چه مونږ دَ دنیا لوږه هم نهٔ شو برداشت کولې ...... په وړوکی غونډې بدن چه هم درد وی نو تمام شپه خوب حرام وی ...... دا معمولې غونډې درد دې ..... او کهٔ چرې تمام وجود الله تعالیٰ دردمند کړی ....

﴿ دَ مړو نه عبرت واخلئ ﴾

زما رونړو !

مونږ ولې نادان شو ...... دا په مونږ څهٔ اوشو ..... مونږ ته اورولې ولې نهٔ شی ؟ ...... مونږ ته دَ خلقو مړهٔ کیدل ولې نهٔ شی ښودلې ؟ .... مونږ ته په قبرونو کښې ورکیدل ولې نهٔ شی ښودلې ...... په خاوره کښې خوړلیکیدل ...... بدن خورې کیدل ..... دا مونږ ته ولې نهٔ شی ښودلې ...... مونږ ته دَ ژړا کوونکو نوحه ولې نهٔ شی اورولې کیدې ؟

مونږ ته دَ حالاتو بدلیدل .... ولې نهٔ شی ښودلې ؟ ..... ددې دنیا فریب ..... ددې غدار ...... ددې مکار ..... ددې بې وفا ..... او ددې دهوکه بازې دنیا فریب ..... ددې جادو ګرې ..... ورځ تر ورځه نوی نوی عاشق جوړیدل ...... دَ زړو سره جفا ....

﴿ په کومه خبره باندې خندا کوئ ﴾

زما رونړو !

مونږ په کومه خبره باندې خندا کوو ..... په کومه خبره باندې خوشاله یو ...... چه مونږ په ایمان باندې یوه ډاکه نه ..... په لاکهونو

ډاکې غورځولې يو او ناست يو ...... متاع ايمان مو لوټ کړې ده ......
خيټې ته مو شراب تلې دی ...... ايمان لوټ شو ...... خيټې ته مو دَ
رشوت روپۍ تلې دی ...... ايمان لوټ شو ...... په دروغه مو سودا
خرڅه کړه ...... دَ هغې روپۍ مو خيټې ته لاړې ...... ايمان لوټ شو
او په ژبه غيبت کوو ...... ايمان لوټ شو ...... په ژبه مو
کنځلې راځی ...... ايمان لوټ شو ...... په ژبه مو چُغلی راځی
ايمان لوټ شو ...... په طبيعت کښی مو تکبر راځی ...... ايمان
لوټ شو ...... سرِعام يو بل ته کنځل کوو ...... ايمان لوټ شو ...... دروغ
وايو ...... ايمان لوټ شو ...... په کومه کومه خبره باندې اوژاړو او کومې
کومې خبرې تـه زهٔ خپل ځان او خپل رونړه متوجه کړم چه په مونږ
باندې يوه ډاکه نهٔ بلکې په مونږ باندې دَ ډاکوانو ډاکې غورځيدلې
دی ...... ايمان مو لوټ کړې دې او ناست يو ......

زما رونړو!

الله تعالیٰ دَ اختر ورځ دَ خوشالۍ ورځ جوړه کړې ده ...... دا
دَ روژو شکرانه ده ...... چه الله تعالیٰ توفيق راکړو ...... مونږ روژې
اونيولې ...... ددې په شکر کښی مونږ دوه رکعته نفل کوو ...... ستا په
دربار کښی حاضر يو ...... ليکن ......

﴿ دَ الله تعالیٰ دپاره دَ قبر تياری اوکړئ ﴾

زما محترم رونړو او دوستانو !

دَ الله تعالیٰ دپاره ګناه پرېږدئ ...... هيڅ پته نهٔ لګی ! چه

څوك به کوم ځایٔ مړهٔ کيږی ...... دَ زندګئ هيڅ پته نهٔ لګی ...... څوك
به کوم ځایٔ مری ...... کوم ځایٔ به دَ زندګئ نه لاس وينځی ......

زما رونړو ! زهٔ تاسو ته دَ الله تعالیٰ واسطه درکوم ......

دَ هغه الله په نوم باندې ...... چه هغه مونږ راجمع کړو
دَ هغه الله په نوم باندې ...... چه هغه مونږ لره انسان پيدا
کړو . دَ هغه الله په نوم باندې ...... چه هغه مونږ لره مسلمان
پيدا کړو . ... دَ هغه الله په نوم باندې ...... چه هغه مونږ ته دَ
روژو توفيق رانصيب کړو ...... هغه الله چه هغه په دې وخت کښی روژه
نيوونکو ته دَ محبت نه په ډك نظر سره ګوری ...... او په فرشتو باندې
فخر کوی ...... زهٔ تاسو ته دَ هغه الله واسطه درکوم او وايم ...... ددې ځایٔ
نه توبه اوباسئ او پاسئ ...... دلته کښی دَ الله تعالیٰ په وړاندې
اودرېږئ ...... ترڅو به خپله منئ ...... ترڅو پورې به خپلو سترګو ته
خپل دَ زړهٔ خوښه ښايئ ...... په دې ظالم قدمونو سره به ترڅو دَ
غفلت محفلونو ته ځئ ...... ترڅو پورې به غلط تول کوئ ......
ترڅو پورې به سود خورئ ...... ترڅو پورې به دَ ګانو بجانو دَ محفلونو
نه لذت اخلئ ...... آيا مرګ به نهٔ راځی ......

آيا وخت نهٔ تيرېږی ؟ ......

آيا زمانه اودريده ؟ ......

آيا دَ زندګئ پايه په چليدو چليدو اودريده ......

آيا مرګ لره الله تعالیٰ منع کړې دې ؟ ......

آیا عزرائیل ما نهٔ وینی ....

آیا زما په مرګ سره به زما ډیره نهٔ مره کیږی ....

آیا دَ الله تعالیٰ فرشتې زما نه غافله دی ....

په خپل ځان باندې رحم اوکړئ .... دا ستا په خپل ځان باندې رحم دې . ﴿..... ان اعداعوك نفسك التى بين جنبيك .....﴾

دادَ الله تعالیٰ دَ نبی فرمان دې .... زما دَ ټولو نه لوی دښمن دلته کښې ناست دې .... ستا په سینه کښې پټ دې .... ستا په زړهٔ کښې پټ ناست دې .... دَ الله تعالیٰ واسطه درکوم ..... دهٔ [illegible] دښمنۍ سره اونیسئ ..... شیطان دشمن دې ..... دهٔ لره په دشمنۍ [illegible] اونیسئ ..... الله تعالیٰ به درنه هم راضی شی ..... دَ الله تعالیٰ رسـ[illegible]ل ﷺ به درنه هم راضی شی ..... فرشتې به درنه هم قربانیږی ..... قر[illegible] کیږی

او کهٔ چرې دَ خپل نفس سره دې دوستی قائمه کړه ..... نو دا دننه نفس پلید دې ....

" دا دننـه نفـس نافرمان دې .... دا سړې جهنم طرف ت[illegible] راکاږی شیطان مو واګی نیولې دی .... جهنم طرف تـه [illegible] راکاږی زما رونړو ! انګار په لاسونو کښی مهٔ ږدئ ."

په بل اور باندې .... دَ لږ وخت دپاره لاس اونیسئ ..... په اور نهٔ بلکې دَ هغې نه چه کوم بړاس او لوګې خیژی په هغې باندې . دَ لږ وخت دپاره لاس اونیسئ ..... آیا څوک شته دې ..... چه دا تَو او ګرمی

برداشت کړی .... صرف دَ لوګی او تَو ګرمی ..... دَ جون په میاشت کښی بهر نمر ته اودرېږئ .... تاسو به دا مقدسه زمکه ..... دَ جمات فرش هم سوزوی ..... او تاسو به اودریدې نهٔ شئ ..... بې قراره به شئ او دننه به منډې وهئ .... هغه ورځ به کومه ورځ وی ؟ ....

﴿ دَ چا طرف ته چه ورتلل دی دَ هغې دپاره تیاری اوکړئ ﴾

زما رونړو ! مونږ صرف الله تعالیٰ ناراضه کړې دې ، داسې الله ، چه هغه دَ میاندو نه زیات شفیق او مهربانه ..... دَ میاندو نه زیات مینه او محبت کوونکې .... زمونږ په یو درخواست او بلنې سره لبیك وئیلو والا ..... زمونږ پـه تیارهٔ کښـی اوریدلو والا ..... دَ تنهایو اوریدلو والا ..... په بیمارۍ کی اوریدو والا ..... په تکلیف کښی اوریدلو والا ..... دَ ټولو اوریـدونکې ..... کهٔ فرمانبردار وانی یا الله ! نو فرمائی لبیك ..... او کهٔ بافرمان وائی یا الله ! نو فرمائی لبیك .....

کهٔ تمامه زندګی چا دَ هغه نافرمانی کړې وی او صرف یو ځل اووائی یا الله ! نو هغه ذات په انتظار کښی وی چه کله به ماته آواز کوی چه یا الله ! ..... هغه ته چه څوک آواز نهٔ کوی او صرف یو ځل اووائی یا الله ! نو هغه ته هم په خوشالۍ سره جواب ورکوی ..... لبیك لبیك ..... لبیك ..... یا عبدی ..... اې زما بنده زهٔ دَ څومره مودې نه ستا په انتظار کښـی وم ..... چه کله به هم زما نوم ستا په خُلهٔ راځی زهٔ دَ کله نه منتظر وُم ..... چه کله به ماته آواز کوې ..... زما نوم به

اخلي ...... لبيك ...... اي زما بنده زهٔ حاضريم ...... تهٔ څهٔ غواړې ......
دداسې کريم او مهربانه الله مونږ نافرماني کوو او خپله زندگي ضائع
کوو ......

﴿ په حرام مال سره خپل قبر دَ عذاب نه مهٔ ډکوئ ﴾

داسې دنيا او داسې دهوکه ورکوونکې دنيا ...... چه دَ دهوکې
او دَ فريب کور دې ...... او دَ ماشې وزر دې ...... او دَ جولا جاله ده ...... او دار
الغرور (يعنې دَ غرور کور دې) ...... دا زمونږ په پوهه کښې ولې نهٔ
راځي . ﴿ بقيعة يحسبه الخ ...... وتفاخر بينكم وتكاثر في
الاموال والاولاد ...... كمثل غيث اعجب الكفار نباته ثم يهيج فتراه
مصفرًا ثم يكون حطامًا وفي الآخرة عذاب شديد ومغفرة من الله
ورضوان وما لاحيوٰة الدنيا الا متاع الغرور ﴾
دا دهوکې کور دې ...... دا دَ ماشې وزر دې ...... دا دَ جولا
جاله ده ...... په مکان او زمکه باندې جنگ کولو والا روره ! مکان به
هم باقي پاتې شي ...... زمکه به هم باقي پاتې شي ...... او تهٔ به پورته
کړې شې او په قبر کښې به واچولې شې ...... دوکان ته چه درله گاهک
راشي او اې دوکان روره تهٔ ورته دهوکه ورکوې نو واوره ...... ستا دا
دوکان به لا قائم وي چه تهٔ به مړ شې او په قبر کښې به واچولې شې
چينچي به دې خوري ...... اولاد به دې هير کړي . دَ کوم اولاد په
خاطر چه تا دروغ ونيلې دي . ... غلط تول دې کړې دې ...... رشوت دې
اخستي دي ...... ظلم دې کړی دی ...... ډاکې دې غورځولې دی ......

هم دغه اولاد به دې هير کړي او نوم قدرې به دې هم دَ هغوی
په خُلهٔ نهٔ راځي ، او کله به دې هم تپوس نهٔ کوي چه ...... زمونږ څوک
پلار وو ...... هغه مياندې چه اوس هغوی خپل اولاد ته دَ خوراك
ورکولو دپاره دَ ظلم دَ حد نه تيرې شوې دی ...... دَ نورو خلقو حق لاندې
کوی ...... او خپلو بچو ته ئې ورکوی ...... دَ نورو نه ئې اخلي ...... او په
خپلو بچو ئې خوری ...... هغه مياندې به صبا مری ...... خلق به ئې
هيره وی ...... هيڅوك به ئې نهٔ ياده وی ...... چه څوك كله مړ شوې دې
کوم ځاۍ دفن کړې شوې دې ...... او اوس په کوم حال کښې دې ......
هيڅوك نشته دې ...... هيڅوك نشته دې ...... هيڅوك نشته دې ......
دَ دهوکې کور دې . "

﴿ وما الحيوٰة الدنيا الا متاع الغرور ﴾

دَ دهوکې په دې کور کښې غټو غټو خلقو دهوکه خوړلې ده ......
سکندر هم ددې دنيا نه تلې دې ...... دارا هم تلې دې ...... جمشيد هم
تلې دې ...... بنو اميه هم تلې دی ...... بنو عباس هم تلې دی ......
عثمانی ترك هم تلي دې ...... ددې ځاۍ نه مغل هم تلې دی ...... امريکه
به هم لاړه شي ...... روس به هم لاړ شي ...... هيڅوك به باقي پاتې نهٔ
شي ...... هيڅوك به باقي پاتې نهٔ شي .

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★

باب نمبر ۵ :

﴿ په ګنهګار بندګانو باندې دَ عذابِ قبر پنځوس واقعات ﴾

کفن چور او پنځۀ قبرونه :

دَ عبد الملك بن مروان نه منقول دی چه يو نوجوان هغه ته دَ غم په حالت کښې حاضر شو او ژړل ئې اووې وئيل : اې امير المؤمنين ! ما يو ډيره غټه ګناه کړې ده ، آيا زما دپاره څۀ توبه شته ؟ عبد الملك ورته اووئيل چه څۀ ګناه درنه شوې ده ؟ هغه کس ورته اووئيل زما ګناه ډيره غټه ده . خليفه ورته اووئيل څۀ ګناه ده ؟ چه څۀ ګناه هم وی نو الله تعالىٰ ته توبه اوباسه ځکه چه هغه په خپلو بندګانو باندې مهربانه دې توبه قبلوی .

هغه ورته اووئيل اې امير المؤمنين ! ما به قبرونه کهولاؤل او په هغې کښې به مو عجيب وغريب معاملات کتل . خليفه ترينه تپوس اوکړو څۀ به مو کتل ؟ هغه ورته اووئيل :

﴿ دَ اولنی قبر کنستل ﴾

اې امير المؤمنين ! يو ځل ما دَ شپې قبر کنيستلو ، څۀ وينم چه دَ هغه رُخ دَ قبلې نه اړولې شوې دې ، زۀ ترينه اوويريدم ما دَ هغه راوستل اوغوښتل ، نو ما اچانك دَ قبر نه دَ څۀ آواز واوريدو : تۀ ددې مړی نه ولې تپوس نۀ کوې چه ستا دا مخ دَ قبلې نه ولې اړولې شوې

دې ؟ ما ترينه تپوس اوکړو چه آو راته اووايه چه ولې دې مخ دَ قبلې نه اړولې شوې دې ؟ نو هغه اووئيل : "په مونځ به مې سُستی کوله . او دا به مې ډير زيات سپکه خبره ګنړله ، نو دا اوس ددې سزا ده ."

﴿ د ـ ـريم قبر کنيستل ﴾

بيا ما يو قبر اوکنيستلو ، نو ما اُليدل چه دَ مړی نه خنزير جوړ شوې دې ، او اوس په زنځيرونو او طوقونو کښې تړلې شوې وو . زۀ اوويريدم نو اچانك يو ويونکی اووئيل چه دَ دۀ نه دَ عمل متعلق تپوس نۀ کوې چه دۀ ته دا عذاب ولې ورکولې شی ؟ ما ترينه تپوس اوکړو چه داسې ولې تاسره کيږی ؟ نو هغه ورته جواب ورکړو :

"دۀ به په دنيا کښې شراب څښکل او بغير له توبې نه مړ شوې وو .

﴿ دَ دريم قبر کنيستل ﴾

بيا مې يو دريم قبر اوکنيستلو نو ما اوليدل چه مړې دَ اور دَ مېخونو په ذريعې سره زمکې پورې پيوست کړې شوې دې ، او دَ هغه ژبه بهر راوتې وه ، زۀ اوويريدم او واپس کيدم ، چه يو آواز راغې چه ددۀ نه تپوس اوکړه چه په دې مصيبت کښې ولې مبتلا شوې ئې ؟ نو ما ترينه تپوس اوکړو داسې ولې کيږی ؟ نو هغه ورته جواب ورکړو :

ما به دَ متيازو دَ څاڅکو نه ځان نۀ ساتلو او دَ خلقو خبرې به مې يو بل ته رسولې . نو اوس په داسې قسم سزا کښې مبتلاء يم .

﴿ دَ څلورم قبر کنیستل ﴾

څلورم قبر مې کھولاؤ کړو نو څۀ ګورم چه یو مړې په اور کښې سوزوی . زۀ دَ خوف او دَ ویرې لـه وجې نه واپس شوم . چه په دې کښې مې یو آواز واوریدو چه ددۀ نـه ددۀ دَ حالت تپوس ولې نۀ کوې چـه ددۀ دا حالت ولې دې ؟ نو هغه راته اووئیل چه ما به مونځ پریښودو . "

﴿ دَ پنځم قبر کنیستل ﴾

بیا مې یو قبر اوکنیستو چه په هغې کښې یو تخت پروت وو چه په هغې باندې هغه مړې اودۀ وو ، او دَ نور جلوې به پرې پریوتلې ، او پـه جسم بـانـدې ئې خشتـه عـمـده لباس وو . مـا چه کله دا حالت اولیدو نو په ماباندې یو هیبت غوندې طاری شو او دَ خوف او ویرې له وجې نـه واپـس شوم ، نو ماته یو آواز اوکړې شو چه له دۀ نه ددې حال تپوس اوکړه چـه دې ولې پـه قبر کښې دومره مکرم او معزز دی ؟ ما عرض اوکړو ماته اووایئ ، نو ماته اوښودلې شوه .

دا کـس جـوان وو او عـبادتِ الٰهی کښې به مصروف وو او دَ هر حکمِ شرعی تعمیل به ئې کولو . عبد الملك چه دا حالات واوریدل نو وې فرمائیل :

" ان فـی ذالك لـعبـرة لـلعالمین وبشارة للطائعین فالواجب عـلـی الـمبتلـیٰ لهـذا المعائب المبادرة الی التوبة والطاعة . (ذهبی

کتاب الکبائر : ٨٦)

" دا حالات چـه کـوم تـاته ښودلې شوې دی دا هغه دی چه په دې کښې دَ ګنهګـارانو دپاره عبـرت دې ، او کوم خلق چـه پـه دې ګناهونو کښې مبتلاء دی نو هغوی به فورًا ددې نه توبه اوکړی او (دَ رسول الله ﷺ فرمانبرداری به اوکړی) او کوم خلق چه په عبادتِ الٰهی کښې مشغول دی دَ هغوی دپاره بشارت دې چه دَ هغوی به ډیر زیات تکریم او تعظیم وی او درجات به ورته ملاویږی . "

﴿ دَ یو نوجوان ګنهګار توبه ﴾

روایت دې چـه جنـاب ابـراهیـم بـن ادهم رحمه الله ته یو کـس راغې او وې وئیـل اې ابـو اسحـاق ! (دا دَ هغـوی کـنیت وو) زۀ دَ ګناهونو عادی شوې یم ، ماته یو داسې نصیحت اوکړئ چه هغه زما دَنفس دپاره تنبیـه او زمـادَ زړۀ دپاره دَ ګناهونو نـه دَ نفرت سبب اوګرځی . هغوی ورته اوفرمائیل چه دوه کارونه تۀ خپل کړې . نو ګناه به تا نۀ پریشانه کوی ، او نۀ به دَ دنیا لذت تالره په هلاکت کښې اچوی . هغه کس اووئیـل : اې ابواسحاق ! په تیزئ سره بیان کړئ . هغوی اوفرمائیل :

" اولـنی نصیحت دادې کۀ چرې تۀ دَ الله تعالیٰ نافرمانی کول غواړې نو بیا دَ هغه دَ رزق خوړل پریږده . هغه سړی اووئیل چه زۀ به دَ کوم ځایٔ نه خوراك کوم ؟ حالانکې په تمام کائنات کښې صرف او صرف دَ هغه رزق دې . هغوی ورته اوفرمائیل چه آیا دا مناسب دی

چه رزق هم دَ هغه خوري او دَ هغه نافرماني هم کوې ؟ هغ ورته اووئيل نهٔ دا خو مناسب نهٔ دى . دويم نصيحت اوفرمايئ :

هغوى ورته اوفرمائيل کهٔ چرې تهٔ دَ الله تعالىٰ نافرماني کول غواړې نو بيا دَ هغه په زمکه باندې اوسيدل بند کړه . هغه ورته اووئيل چه دا خو ډير زيات مشکل کار دې ، مشرق او مغرب خو تمام دَ هغه دې بيا به زهٔ کوم ځائ اوسيږم ؟ هغوى ورته اوفرمائيل :

آيا دا مناسب دى چه دَ هغه په زمکه کښې اوسيږې او دَ هغه نافرماني هم کوې ؟ هغه نوجوان ورته عرض اوکړو نهٔ .

﴿ دَ ميخونو نه ډك مړې ﴾

ابن ابى الدنيا دَ عبد المؤمن بن عبد الله بن عيسىٰ نه روايت کړې دې چه يو کفن چور دَ غلا نه توبه اوويسته ، نو دَ هغه نه تپوس اوکړې شو :

آيا تا به دَ کفن چورئ په دور کښې څهٔ عجيبه واقعه ليدلې وى ؟ هغه ورته اووئيل :

" ما دَ يو کس قبر کهولاؤ کړو نو دَ هغه په تمام بدن باندې ميخونه ووهلې شوې وو او يو غټ ميخ دَ هغه په سر لګيدلې وو او دويم غټ ميخ ئې دَ خپو په درميان کښې .

﴿ دَ يو بل کفن چور واقعه ﴾

يو کفن چور وو چه هغه توبه ويستې وه دَ هغه نه تپوس اوکړې شو چه تا کومه ډيره عجيبه واقعه ليدلې وى نو هغه ماته بيان

کړه ، هغه اووئيل چه ما دَ يو مړى قبر کهولاؤ کړو نو ما اوليدل چه دَ هغه تمام بدن دَ ميخونو نه ډك کړې شوې وو او يو غټ ميخ ئې په سر باندې وهلې شوې وو او يو دَ پښو په مينځ کښې .

﴿ دَ کفن چور انکشافات ﴾

دَ حضرت سيدنا حسنِ بصرى رحمه الله په لاس باندې يو داسې کفن چور توبه اوويسته چه هغه تقريبًا دويشت سوه (٢٢٠٠) کفنونه غلا کړې وو . دَ حضرت سيدنا حسنِ بصرى رحمه الله په تپوس کولو سره هغه دَ دريو قبرونو حالات بيان کړل .

﴿ دَ اور زنځيرونه ﴾

يو ځل ما يو قبر کهولاؤ کړو ...... نو ما په کښې يو داسې منظر اوليدو چه زړهٔ ئې درزولو ، څهٔ ګورم چه دَ يو مړى مخ تك تور دې ، په لاس او خپو کښې ئې دَ اور زنځيرونه دى او دَ هغه دَ خُلې نه رينه او پيپ روان دې . ددې نه علاوه دَ هغه نه داسې بدبو روانه ده چه دماغو برداشت کولې نهٔ شو .

دا خوفناك منظر چه ما اوليدو نو زهٔ دَ ويرې او خوف په وجه سره واپس کيدلو والا وُم ، چه په دې کښې هغه مړى آواز اوکړو ولې تختې ؟ زما نه واوره چه زهٔ دَ کومې ګناه سزا خورم ؟ ما چه دَ مړى آواز واوريدو نو زهٔ اودريدم او همت مې اوکړو او قبر ته ورنزدې شوم او ځنګه چه مې قبر کښې اوکتل نو فرشتو دَ هغه مړى په ګردن کښې دَ اور زنځيرونه اچولې دى . ما دَ مړى نه تپوس اوکړو څوك ئې ؟ هغه

جواب راکړو:

"زهٔ مسلمان د مسلمان ځوی یم. مګر افسوس! چه زهٔ شرابی او زانی وُم او هم ددې بد مستئ په حالت کښې مړ شوم او په عذاب کښې ګرفتار یم.

﴿ تور مړې ﴾

یو ځل ما د کفن د غلا کولو په عرض سره قبر کهولاؤ کړونو یو تك تور مړې اودریدو چه ژبه ئې بهر راوتې وه د هغه نه ګیر چاپیره اور وو، فرشتې د هغه په ګردن کښې د اور زنځیرونه اچولې وو. هغه مړی چه ماته څنګه اوکتل نو آواز ئې اوکړو:

"روره! زهٔ ډیر سخت تندې اخستې یم، په ما باندې لږې شان اوبهٔ اوڅکه. فرشتو ماته اووئیل. خبردار! دې بې نمازه ته اوبهٔ ورنهٔ کړې. بیا ما همت اوکړو او هغه مړی ته مې اووئیل تهٔ څوك ئې؟

هغه جواب راکړو:

"زهٔ مسلمان وُم مګر افسوس! ما د الله تعالیٰ ډیرې زیاتې نافرمانې کړې دی او زما په شان ډیر خلق په عذاب کښې مبتلا دی.

﴿ ما قبر کهولاؤ کړونو هغه باغ جوړ شوې وو ﴾

دغه شان ما یو قبر کهولاؤ کړو، نو ما اولیدل چه قبر دننه ډیر وسیع دې او ما په کښې، یو ډیر زیات خوبصورته باغ اولیدو، چه هغې کښې نهرونه بهیدل او یو نوجوان په هغه باغ کښې مزې اخلی. ما د هغه نوجوان نه تپوس اوکړو تاته د کوم یو عمل په وجه سره دا انعام

ملاؤ شوې دې؟ هغه اووئیل:

"ما د یو واعظ نه اوریدلې وو چه څوك د عاشورې په ورځ شپږ رکعته نفل اوکړی نو الله تعالیٰ د هغه مغفرت کوی. لهذا ما به هر کال د عاشورې په ورځ شپږ رکعته نفل کول. (راحت القلوب)

﴿ د قبر کنیستونکی انکشاف! قبر ګرم وو ﴾

د حضرت عمرو بن مسلم بیان دې چه یو قبر کنیستلو والا خپله واقعه بیان کړې ده چه ما یو ځل د دریو مړو دپاره مسلسل درې قبرونه اوکنیستل. ما دوه قبرونه کنیستلې وو او په دریم قبر کښې لګیا ووم چه ماته سخته ګرمی محسوس شوه. ما په قبر باندې کمبل واچوله او لاندې د هغې په سوری کښې کیناستم.

په دې دوران کښې ما عجیبه منظر اولیدو چه دوه کسان په تیزرفتار اس باندې سوارهٔ راغلل او په اولنی قبر باندې اودریدل، یو کس بل ته اووئیل: اولیکه! هغه دویم کس اووئیل څهٔ اولیکم؟ اولنی کس ورته اووئیل: یو فرسخ اوږدوالې او یو فرسخ پلن والې اولیکه.

ددې نه بعد بیا دا دواړه دویم قبر ته راغلل. او یو کس بل ته اووئیل چه اولیکه، هغه ورته جوابًا اووئیل چه څهٔ اولیکم؟ چنانچه هغه اولنی کس ورته اووئیل: اولیکه؟ څومره چه د سترګو نظر وی.

بیا دا دواړه دریم نمبر قبر ته راغلل او زهٔ په دې قبر کښې په سوری ناست وُم. یو کس بل ته اووئیل اولیکه! هغه ورته په جواب

کنبی اوونیل څهٔ اولیکم ؟ اولنی کس ورته اوونیل : اولیکه دَ شهادت
دَ گوتې او دَ کُتمې په درمیان کنبی فاصله .

دا منظر چه ما اولیدو نو ما ددې دریواړو جنازو سخت انتظار
اوکړو . چنانچه یوه جنازه راغلې چه دَ هغې سره ډیر زیات کم خلق وو
. ما تپوس اوکړو چه دا دَ چا جنازه ده ؟ خلقو اوونیل چه دا یو عیال دار
غریب او مسکین سړې دې هیڅ مال او دولت ورسره نشته دې . مونږ
ددهٔ دَ تکفین او تجهیز سامان کړې دې ما چه دا واوریدل نو ما دَ قبر
کنیستلو مزدوری واپس کړه او ورته مې اوونیل چه دا دَ هغه په کور
والو خرچ کړئ او بیا مو هغه لره په هغه اولنی قبر کنبی دفن کړو .

بیا دویمه جنازه راغله هغه جنازې سره صرف دومره کسان وو
چه هغه ئې پورته کړې وو او ددې نه علاوه ورسره هیڅوك نهٔ وو . دا
جنازه هغې قبر ته راغله چه دَ هغې په باره کنبی لیکلې شوې وو چه
دَ سترگو دَ نظر پورې کهولاؤوالې . ما تپوس اوکړو چه دا دَ چا جنازه
ده ؟ خلقو اوونیل چه دا یو مسافر غریب الوطن دې ، نهایت بې کسه
وو او په یو اس باندې وفات شوې وو او پروت وو ، چنانچه ما دَ هغه د
قبر کنیستلو هم څهٔ مزدوری وانهٔ خسته . او بیا په هغه دویم قبر
کنبی دفن کړې شو .

بیا مې دَ دریمې جنازې انتظار تر ماسخوتنه پورې اوکړو . د
ماسخوتن نه بعد یوه جنازه راغله ما ترینه تپوس اوکړو چه دا څوك
دی ؟ نو خلقو راته اوونیل چه دَ یو مشهور سرمایه دار خاندان یو

معتبره ښځه ده . په دې جنازه کنبی کافی خلق وو . دا ښځه په هغه
دریم قبر کنبی دفن کړې شوه چه دَ هغې په باره کنبی دَ شهادت دَ
گوتې او دَ کُتمې په درمیان کنبی فاصله لیکلې شوې وه . یعنی چه
ددې وسعت به دومره وی . (شرح الصدر)

﴿په خپو کنبی دَ اوسپنې زنځیر ، او په نامه کنبی میخ﴾

ابن فارسی په خپل تاریخ کنبی روایت کړې دې :

" هغه ی په ۵۹۰ هجری کنبی په بغداد کنبی دننه یو زوړ
مړې بیا موند ـ . په هغه کنبی دَ هډوکو نه علاوه هیڅ نهٔ وو . دَ هغه
په لاسونو کنبی د اوسپنې زنځیرونه وو . یو میخ دَ هغه په نامه او یو
میخ دَ ه ـه په تندی تك وهلې شوې وو . هغه مړې انتهائی
بدصورته او عټو هډوکو والا وو ، دَ هغه دَ راوتلو وجه دا وه چه دَ " تلِ
احمر " دَ اوبو دَ زیاتوالی په وجه سره بهر ته راوتلې وو .

﴿دَ مړی کوپړئ دَ ویلی کړې شوې سیکې نه ډکه کړې شوې وه﴾

چا دَ یو کفن چور نه دَ هم خبرې تپوس اوکړو (چه تا څنگه
نوبه اوویستـه) نو هغه ورته اوونیل : ما دَ یو مړی کوپړئ اولیده چه
هغه دَ ویلی کړې شوې سیکې نه ډکه کړې شوې وه .

دَ یو کفن غلا کوونکې نه پوښتنه اوکړې شوه چه ستا دَ

توبې سبب څهٔ دې ؟ نو هغه اووئيل چه ما به اکثر مړی ليدل چه دَ هغوی مخ به دَ قبلې نه اړولې شوې وو . (دا مذکوره تمام واقعات په کتاب القبور کښې دی)

ابن ابی الدنيا دَ مثد بن حوشب نه روايت کړې دې چه زهٔ دَ يوسف بن عمرو سره ناست ووم او دَ هغه سره په سنګ کښې يو بل کس ناست وو ، چه دَ هغه دَ مخ لړه شان حصه دَ اوسپنې نه جوړ شوې وه . نو يوسف ورته اووئيل چه تاته څهٔ ليدلې دی نو هغه مونږ ته هم بيان کړه . نو هغه اووئيل :

" ما دَ يو کس قبر دَ شپې اوکنيستلو ، کله چه خلقو هغه لره دفن کړو او خلق واپس لاړل . نو دوه مارغان چه دَ هغې شکل دَ اوښانو په شان وو او سپين رنګ ئې وو . نو يو مارغهٔ دَ هغه مړی سر طرف ته پريوتلو او بل خپو طرف ته . بيا يو قبر کښې دننه داخل شو او دويم مارغه په کناره باندې ولاړ وو زهٔ هغه قبر ته نزدې راغلم نو څهٔ وينم چه هغه مارغهٔ مړی ته وائی : اې انسانه تهٔ هغه انسان نهٔ ئې چه تا به ځان خائسته جوړ کړو او قيمتی لباس به دې واغوستو او په تکبر سره به تللې . هغه ورته اووئيل چه زهٔ دَ هغې دَ برداشت نه قاصريم . نو هغه ئې دومره په زوره سره اووهلو چه قبر کښې اوبهٔ او تيل راووتل او دغه شان ئې څلور کرته اووهلو .

بيا هغه زما طرف ته اوکتل اووې وئيل دې کوم ځای ناست دې ، خُدای دې ليله کړی . بيا ئې زما په مخ باندې يو ګزار اوکړو نو زهٔ

تمامه شپه بيهوشه پروت وُم . چه کله په هوش کښې راغلم نو زما دا حشر وو ، لکه چه تاسو مالره اوس وينئ .

﴿ دَ اور پيسې ﴾

يوه واقعه حضرت حکيم الامت اشرف علی تهانوی رحمه الله په خپل کتاب حقوق االعباد کښې ليکلې ده چه يو مياجی حلقو نه لوستل کول او دَ وهلو عادی وو او اخوا ديخوا کلو ته به دَ چندې دپاره هم وتلو ، نقد وغيره چه به ورته کوم حاصل شو نو هغه به نې دَ خاورې په يو لوښی کښې اچول او په زمکه کښې به ئې دفن کول .

يو ځل ئې دغه شان روپۍ دفن کولې چه په دې کښې يو شرير طالب العلم اوليدو ، نو کله چه حسبِ دستور هغه مياجی چرته کلی ته دَ چندې دپاره اووتلو نو هلکانو په څهٔ شان سره دَ بازار نه چابی راوړه او هغه دروازه ې کهولاؤ کړه او هغه لوښی ئې دَ زمکې نه راوويستو او په هغې کښې چه کومې روپۍ وې هغه ئې حاصلې کړې او بيا ئې هغه لوښی هم په هغه ځای کښې دفن کړو .

په هغه پيسو سره ئې دَ بازار نه غوښه ، غوړی ، مصالحه ، چينی وغيره راوړل او ښهٔ عمده قسم تورمه نې تياره کړه . اتفاقًا مياصاحب راغې هلکانو ئې په ښهٔ انداز کښې استقبال اوکړو او دَ ځان سره ئې په خوراك کښې شريك کړو . مياصاحب چه هر کله دا عمده خوراك اوکړو نو دَ هغوی نه ئې تپوس اوکړو چه آيا تاسو ته څوك ميلمه راغلې وو چه تاسو دَ هغه دپاره بې شميره روپۍ خرچ

کړې او قسم قسم خوراکونه مو تيار کړل .

دوه دريو هلکانو ورته اوويل چې دا ټول ستاسو د پيزار صدقه ده . مياصاحب څۀ پوهه نۀ شو . بيا ئې بې اختياره اوويل چه آخر د چا کورته داسې خاص ميلمه راغلې دې ، چه د هغه دپاره تاسو بې شميره روپۍ خرچ کړې او قسماقسم خوراکونه مو تيار کړې دی ؟ بيا څوك کسانو په خندا کې اوويل چې هيڅ نشته دې ، هيڅ خبره نشته ، دا تمام څيزونه ستاسو د پيزار صدقه ده .

مياصاحب چه د دوی دا خندا اوليده نو په زړۀ کښې ئې خيال تير شو چه چرته کښې دې ظالمانو ته زما پيسې چرته کښې په لاس نۀ وی ورغلې . دا سوچ ئې اوکړو او په تيزۍ سره ئې خوراك څښاك اوکړو او خپلې کمرې ته زر زر داخل شو زمکه ئې اوکنوله او لوښې ئې بهر ته راوويستلو نو څۀ گوری چه په هغې کښې يو روپۍ هم نۀ وه . مياصاحب چه کله دا حال اوليدو نو تاب ئې رانغې ، دفعتًا ئې زړۀ په درزيدو شو او حرکتِ قلب ئې بالفور بند شو او وفات شو .

په کلی تهانه کښې دا خبر خور شو چه هلکانو د مياصاحب پيسې والوزولې او مياصاحب ددې برداشت اونۀ کړې شو او وفات شو . نو څۀ خلق د تهانه بهون مُفتی مولانا سعيد الحق صاحب په خدمت کښې حاضر شول او د مسئلې په باره کښې ئې ترينه پوښتنه اوکړه .

مفتی صاحب ورته اوفرمائيل چه روپۍ ډيرې منحوس دی

چه ددې په وجه سره يو انسان مړ شو ، په دې وجه سره هغه طالبانو له پکار دی چه هغه رقم واپس کړی او مياصاحب چه کله په قبر کښې دفن کړې شی نو هغه روپۍ دې د هغه په سينه باندې اوشيندلې شی . خلقو هم داسې اوکړل .

کله چه کفن چورو (د کفن غلا کوونکو) ته دا معلومه شوه چه د مياصاحب سره په قبر کښې ډير زيات مال دفن کړې شوې نو د شپې د کفن چورو يوه ډله راغله ، د قبر خاورې چه ئې اخوا کړې او يوه تخته ئې لرې کړه نو هغه پيسې ئې په نظر راغلې . په اصل کښې د هغه تمامو پيسو نه انگار جوړ شوې وو او مړی ته د عذاب ورکولو دپاره گرمې کړې شوې وې . لکه څنگه چه ارشاد دې :

"يوم يحمىٰ عليها فى نار جهنم فتكوىٰ بها جباههم وجنوبهم وظهورهم"

"په دې کفن چورو کښې يو کس وو هغه دې گرمو او سکروټو پيسو ته لاس وراوږد کړو . کله چه د هغه گوتې هغه روپو ته ورنزدې شوې ، نو په اور کښې ئې لاس اوسوزيدو او هغه کفن غلا کولو والا چغې کړې .

زۀ اسوزيدم .... زۀ اسوزيدم . او په تيزۍ سره اوتښتيدلو . او تمام کفن چور هم اوتښتيدل .

مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله ليکلې دی چه په تهانه بهون کښې د هغه کفن چور واقعه مشهوره ده چه هغه به د اوبو په

يره پياله کښې خپل لاس کيخودو نو لږ وخت کښې به دَ هغه پيالئ اوبۀ گرمې شوې، نو بيا به ئې په بله پياله کښې کيخودلو، مگر کله چه به ئې دَ يو پيالې نه لاس راوښکلو او بله کښې به ئې کيخودلو نو چغې به وهلې، چه زۀ مړ شوم. زۀ مړ شوم.

دا دَ هغه اور گرمائش وو چه دَ کوم اور په عذاب کښې هغه مياصاحب مبلاء وو او چه دَ هغې په معمولي غوندې حرارت نه به تمام عمر هغه کفن چور چغې وهلې او آخر مړ شو. ددې واقعې نه ښۀ اندازه کولې شي دَ عذابِ قبر.

﴿ په گردن کښې دَ اور اميل ﴾

ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب "عيون الحکايات" کښې په خپل سند سره روايت کړې دې چه دَ ابوسنان نومی کس بيان ې، چه زۀ دَ يو کس سره دَ هغه دَ رور دَ تعزيت دپاره لاړم نو ما اوليدل چه هغه ډير زيات پريشانه وو. ما ترينه تپوس اوکړو چه دا حالت ولې دې؟ نو هغه راته اووئيل چه کله ما خپل رور دفن کړو او فارغ شوم نو ما دَ هغه قبر نه دَ رور آواز راواوريدو، نو ما په تيزئ سره قبر کهولاؤ کړو نو ما ته چا آواز راکړو:

"اې دَ الله بنده قبر کهولاؤ نه کړې."

بيا چه کله واپس راغلم نو هم هغه شان آواز راغې چه "اې دَ الله بنده! قبر کهولاؤ نۀ کړې. دا آواز چه ما واوريدو نو ما دَ اول ځل په شان په هغه قبر باندې خاوره واړوله. کله چه فارغ شوم نو لږ شان

لږ تلې وُم چه ما بيا آواز واوريدو. ما اووئيل: په الله قسم! اوس به ضرور قبر کهولاؤوم. کله چه ما هغه قبر کهولاؤ کړو نو ما اوليدل چه دَ هغه په غاړه کښې دَ اور اميل وو او تمام قبر په اور سره روښانه وو ما اوغوښتل چه هغه اميل دَ هغه دَ غاړې نه لرې کړم. ما دَ هغه په غاړه خپل لاس اووهلو نو زما گوتې اوسوزيدې او ايره شوې. ما ته هغه خپل لاس اوښودلو نو دَ هغه څلور گوتې نۀ وې.

﴿ دَ کفن چور توبه، دَ رسول الله ﷺ په لاس مبارك ﴾

شيخ صدوق روايت کوی چه يوه ورځ حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه په ژړا رسول الله ﷺ ته راغې او سلام ئې اوکړو، رسول الله ﷺ ورته دَ سلام جواب ورکړو او تپوس ئې ترينه اوکړو: ستا دَ ژړا سبب څۀ دې؟ هغوی ورته عرض اوکړو چه اې دَ الله رسوله! په دروازه کښې يو کس ولاړ دې او هم دارنگه ژړا کوی لکه څنگه چه يوه ښځه دَ خپل زلمی ځوی په مرگ باندې ژړا کوی، او هغه ستا په خدمت کښې دَ حاضر کيدو اجازت غواړي.

حضور ﷺ ورته اوفرمائيل: دننه ئې راوبلئ. حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه هغه لره دننه راوبللو، هغه نوجوان دننه داخليدو سره سلام اوکړو، رسول الله ﷺ ورته دَ سلام جواب ورکړو او تپوس ئې ترينه اوکړو اې هلکه! ستا دَ ژړا سبب څۀ دې؟ هغه عرض اوکړو:

اې دَ الله رسوله! زۀ به ولې نۀ ژاړم حال دا دې چه زما نه يوه

عظیمه ګناه شوې ده ، کۀ چرې الله تعالیٰ زما په دې ګناه سره ګرفت اوکړی نو ماله به ضرور جهنم ته اولیږی . او ماته دا یقین دې چه زما مواخذه به ضرور کوی . او کله به مې هم نۀ بخښی .

رسول الله ﷺ ترینه تپوس اوکړو چه آیا تا شرك کړې دې ؟ هغه نوجوان اووئیل زۀ په الله سره پناه نیسم دَ شرك کولو نه . رسول الله ﷺ ترینه بیا تپوس اوکړو چه آیا تا په ناحقه قتل کړې دې ؟ هغه نوجوان په نفی کښی جواب ورکړو . رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل کۀ چرې ستا ګناه دَ غرونو نه هم غټه وی نو هم به ئې الله تعالیٰ معاف کړی . هغه کس عرض اوکړو چه حضور ! زما ګناه خو دَ غر نه هم غټه ده .

رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : اګر چه ستا ګناه دَ اووۀ زمکو او آسمانونو او څۀ چه په دې کښی دی ددې نه هم غټه وی نو هم به ئې الله تعالیٰ معاف کوی . هغه نوجوان عرض اوکړو حضور ! زما ګناه ددې ټول هر څۀ نه هم غټه ده .

حضور ﷺ ورته اوفرمائیل : اګر چه ستا ګناه دَ ستورو ، آسمانونو ، عرش او کرسئ هومره هم وی نو الله تعالیٰ به ئې معاف کوی . هغه عرض اوکړو چه زما ګناه ددې نه هم غټه ده . بیا رسول الله ﷺ هغه کس طرف ته دَ ناراضتیا په صورت کښی اوکتل اووې فرمائیل : اې بنده ستا ګناه غټه ده او کۀ الله رب العزت ؟ پس هغه نوجوان عرض اوکړو چه پروردګار دَ هر عیب نه منزه او مبرا دې ، هیڅ

څیز دَ هغه نه لوی نشته دې ، هغه دَ هر څیز نه بزرګ او اعلیٰ دې . رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه دَ الله تعالیٰ نه سوا څوك عظیم بخښش والا شته دې ؟ هغه اووئیل اې دَ الله رسوله ! دَ هغه نه سوا هیڅوك نشته دې او خاموش شو . بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل اې نوجوان ماته خپله ګناه اووایه . نو هغه نوجوان عرض اوکړو :

" اې دَ الله رسوله ! ما تر اووۀ کالو پورې به قبرونه کهولاوول او دَ مړو نه به مې کفنونه ویستل . یوه ورځ یوه انصاری جینئ دفن کړې شوه ، کله چه شپه شوه نو ما دَ عادت مطابق دَ هغې قبر کهولاؤ کړو او هغه مړې مې بهر ته راوویستو او کفن مې ترینه اوویستلو او هغه مې بربنډه دَ قبر په غاړه پریښوده او زۀ ترینه لاړم . په دغه دوران کښی شیطان زما په زړۀ کښی وسوسه واچوله او هغه جینئ ئې زما په نظر کښی خائسته او خوبصورته اوګرځوله او شیطان راته په زړۀ کښی واچول چه آیا تا ددې سپین او نرم بدن نۀ دې لیدې ؟ او ددې غټ غټ پتونان (ورون) دې نۀ دی لیدې ؟ تردې پورې چه شیطان په ما باندې غلبه حاصله کړه او زۀ واپس قبر طرف ته راغلم او دَ هغه مړی سره مې مجامعت (همبستری) اوکړه او خپل مخ مې توز کړو او مړې مې په هم هغه حالت کښی پریښودو او واپس راغلم .

اچانك ما دَ شانه یو آواز واوریدو چه ماته آواز کوی او وائی : اې نوجوان ! په تا دې دَ الله تعالیٰ لعنت وی چه کله دَ محشر په ورځ به دَ الله تعالیٰ په وړاندې جهګړا پیش کیږی . چه تا ماله دَ مړو په

ورانـدې بربنـډ کړو ، دَ قبر نه دې بهر ته راوويستم ، کفن دې رانه غلا کړو او ما سره دې جماع اوکړه او دَ جنابت په حالت کښې دې پرېښودم او زهٔ بـه پـه هـم دې حالت کښې محشور کيږم ، او اې نوجوان ستا ځواني دې دَ جهنم په اور اوسوزي .

پس هغه جوان عرض اوکړو چه ما دا دومره غټه ګناه کړې ده نو ماته يقين دې چه زهٔ به دَ جنت بوئې هم اونهٔ مومم .

رسول الله ﷺ ورتـه اوفـرمائيل اې فاسقه ! زما دَ نظر نه لرې شه ، ځکه چه ماته ويره ده چه چرته کښې تاسره زهٔ دَ جهنم په اور اونهٔ سوزم ، ځـکـه چـه تـهٔ جهنم ته ډير زيات نزدې ئې . دا خبره دې پته نهٔ وې چه دَ رسول الله ﷺ دې نوجوان لره داسې لرې کول ، دَ هغه په زړهٔ کښـې دَ زيات خوف دَ پيدا کولـو له وجې نه وو ، ددې دپاره چه هغه زياته التجاء اوکړي او دَ خلقو نه تعلقات کټ کړي او الله تعالیٰ ته توبه اوباسي . او الله تعالیٰ ئې توبه قبوله کړي .

چنانچـه هغـه جوان توبه کړه او توبه ئې قبوله شوه . رسول الله ﷺ هغه ته بار بار هم دا حکم اوکړو . ترڅو پورې چه هغه نوجوان بهر تـه راووتـلو او دَ مـديـنـې بـازار ته راغې او دَ خو ورځو خوراك ئې واخستو او دَ مـديـنـې يو غـرهٔ طـرف تـه اوووتلو او دَ ټاټ لباس ئې واغـونـدلو او دَ الله تعالیٰ په ذکر او عبادت کښې مشغول شو او خپل لاسونه ئې غاړه کښې واچول او ژړا فرياد ئې شروع کړو .

اې الله ! دا ستا بنده بهلول ستا په حضور کښې خپل لاسه نه

په غاړه کښې اچولې دی او ولاړ دې . اې الله ! تهٔ ما او زما ګناه هم پيژنې . اې الله ! زهٔ په خپلو کړو ګناهونو باندې پښيمانه يم ، او زهٔ ستا پيغمبر ﷺ ته ورغلم او هغوی ته مې دَ خپلې ګناه اظهار اوکړو . هغوی زهٔ دَ خپل ځان نه لرې کړم او زما خوف او ويره کښې ئې اضافه اوکړه ، پس زهٔ تاته ستا دَ عظمت او جلالت او دَ اسمائې حسنیٰ واسطه درکوم او سوال کووم چه مالره دَ اميد نه نااُميده نهٔ کړې ، اې زما پروردګار ! زما دُعا رَد نهٔ کړې او مالره دَ خپل رحمت نه مايوسه نهٔ کړې ، ترڅو پورې چه څلويښتو ورځو پورې ئې دا الفاظ وئيل او ژړا به ئې کوله ، ترڅو پورې چه حيواناتو او درندګانو به دهٔ ته کتل او هغوی به هم ژړا کوله . کـلـه چـه څلويښت ورځې تيرې شوې نو هغه جوان دواړه لاسونه اوچت کړل او دُعا ئې اوکړه او عرض ئې اوکړو .

اې زما ربـه ! تا زما حاجت سره څهٔ اوکړل ؟ کهٔ چرې تا زما دُعا قبوله کړه او زما ګناهونه دې معاف کړل نو خپل پيغمبر ته وحی نازله کړه ددې دپاره چه هغه هم زما دَ دُعا متعلق پوهه شی ، او اې الله ! کهٔ چرې تا زما ګناه معاف نهٔ کړه او مالره دې تراوسه پورې معاف کړې نهٔ وی نو مالره په عذاب کښې مبتلا کړې او داسې اور راوليږې چه مالره اوسوزوی ، او يا مالره په دې دنيا کښې په يو سخت مصيبت کښې مبتلاء کړې ليکن اې الله ! ما دَ قيامت دَ ورځې د ذاب نه اوساتې او ماته دَ هغې نه نجات راکړې . پس الله تعالیٰ دَ هغه دَ توبې په قبلولو باندې دَ آيت نازل اوفرمائيلو .

"او هغه خلق چه کله دَ هغوی نه بدی اوشی یا په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړی نو دَ الله تعالیٰ ذکر کوی او دَ خپلو گناهونو معافی غواړی او دَ الله تعالیٰ نه سوا څوك دې چه هغه گناهونه معاف کولې شی ؟ او کوم څۀ چه هغوی کړې دی نو هغه ئې قصداً نۀ دی کړې ، هم دا هغه خلق دی چه دَ هغوی جزاء دَ هغوی دَ رب دَ طرف نه بخشش او جنت دې ، چه دَ هغې لاندې به نهرونه بهیږی او په هغې کښې به همیشه دپاره اوسیدونکې وی ، او دَ عمل کوونکو دپاره څومره ښۀ اجر دې . (سورۀ آل عمران ۱۳۵ ، ۱۳٦)

کله چه دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ بهر ته تشریف راوړو او هغوی ﷺ ددې آیت تلاوت هم فرمائیلو او دَ بهلول دَ حالت تپوس به ئې هم کولو . حضرت معاذ رضی الله عنه عرض اوکړو چه مونږ اوریدلې دی چه هغه فلانکی ځائ کښې اوسیږی ، رسول الله ﷺ دَ خپلو څو صحابۀ کرامو سره هغه غر طرف ته متوجه شو او هلته کښې تشریف یوړو ، څۀ گوری چه هغه جوان (بهلول) دَ دوو کانړو په مینځ کښې ولاړ دې او خپل دواړه لاسونه ئې غاړه کښې اچولې دی او دَ هغه مخ دَ نمر په تَو سره تور شوې دې او دَ مسلسل ژړا په وجه سره ئې دَ سترگو بانړۀ پرې وتلې دی او دا وائی :

"اې زما ربه ! تا مونږ لره اشرف المخلوقات پیدا کړې دې او ښۀ شکل او صورت دې راکړې دې ، کاش ! چه ماته دا هم پته وې چه تۀ به ماسره څنگه سلوك کوې ؟ چه تۀ به ما لره دَ جهنم په اور

سوزوې او کۀ په خپل جوار کښې به مالره په جنت کښې دننه ځائ راکوې ؟

اې الله ! تا په ما باندې ډیر زیات احسانات کړې دی او ستا دَ نعمتونو حق په ما باندې زیات دې . هائې افسوس ! کاش چه ما خپل انجام هم پیژندلې ، چه تۀ به ما په خپل رحمت سره جنت ته بوځې یا به مالره ذلیل وخوار کوې او دوزخ ته به مې لیږې ؟

اې الله ! زما گناه دَ زمکې ، آسمان او دَ عرش او کرسی نه غټه ده څومره به ښۀ وه چه ماته دا هم علم وې چه آیا تۀ به زما گناه بخښې یا به ما جهنم ته بوځې .

هغه جوان دا قسم خبرې کولې او په خپل سر ئې خاورې اچولې ، دَ ځنگل حیواناتو او درنده گانو دَ هغه نه گیرچاپیره حلقه جوړه کړې وه او مارغانو دَ هغه دَ سر دپاسه قطار جوړ کړې ولاړ وو او هغه ته ئې کتل .

پس رسول الله ﷺ ورته تشریف راوړو او دَ هغه لاسونه ئې دَ غاړې نه پرانیستل او په خپل لاس مبارك سره ئې دَ هغه دَ سر نه خاورې لرې کړې اووې فرمائیل : اې بهلول ! تاته دې زیرې وی الله تعالیٰ تۀ دَ جهنم دَ اور نه آزاد کړې ئې . او رسول الله ﷺ خپلو صحابۀ کرامو ته اوفرمائیل : اې زما صحابه ؤ ! تاسو هم دَ بهلول په شان دَ خپلو گناهونو معافی اوغواړئ . او بیا ئې آیتِ کریمه تلاوت اوفرمائیلو . او بیا ئې بهلول ته دَ جنت خوشخبری واوروله .

﴿ دَ خپو په ويښتو سره تړل ﴾

په تاريخ مقريزی کښی دی چه يو په ۶۹۹ هجری کښی يو کس چه هغه په ساحلی علاقه کښی اوسيدلو ، دَ هغه ښځه وفات شوه ، کله چه ئې هغه دفن کړه نو واپس راغې ، ليکن دَ هغه نه په قبر کښی يوه تيلۍ پاتې شوه چه په هغې کښی څو دراهم وو چنانچه هغه دَ علاقې يو عالِم دَ ځان سره کړو چه قبر کهولاؤ کړی او هغه تيلۍ راوباسی . هغه عالِم دَ قبر په غاړه باندې اودريدو . چه څنګه ئې قبر کهولاؤ کړو اووې کتل نو دَ هغه ښځې خپې دَ هغې په ويښتو باندې تړې شوې وې .

هغه ډير زيات کوشش اوکړو چه دَ هغې خپې پرانيزی ليکن دا کار ئې اونۀ کړې شو . کله چه ئې ډير زيات کوشش اوکړو نو دواړه ښځه ، خاوند په زمکه کښی ډوب کړې شو او هغه فقيه عالِم هلته کښی يوه ورځ او يوه شپه بيهوشه پروت وو .

﴿ دَ اور صندوق ﴾

زما رونړو ! کله چه دَ يو بد نصيب خاتمه په کفر باندې اوشی نو هغه به په قبر کښی يو کم سَل ماران تر قيامته پورې چيچی . او ددې په شان نور دردناك عذابونه به ورته هم وی . دَ قيامت ورځ چه هغه به دَ پنځوسو زرو کالو برابر وی هغه به په سخت تيرن هو ، کو کښی په هغه باندې تيريږی . بيا به په پړمخې جهنم ته راښکلې شی او جهنم ته به اوغورځولې شی .

کوم مسلمانان چه دَ څۀ ګناه په وجه سره جهنم ته تلې وی نو هغه به آخر جهنم نه راوويستلې شی ، او صرف هغه خلق به په جهنم کښی پاتې شی چه دَ هغوی خاتمه ه کفر سره وی . اوس به هر يو کافر دَ اور په يو صندوق کښی بند کړې شی او تاله به ورپسې اولګولې شی بيا به هر يو صندوق دَ اور په بل صندوق کښی واچولې شی او تاله به ورپسې اولګوی او دَ دواړو صندوقونو په درميان کښی به اور بلولې شی .

بيا به دغه شان هر يو صندوق په دريم صندوق کښی واچولې شی . او مرګ به دَ ګډ په شکل کښی دَ جهنم او دَ جنت په درميان کښی ذبح کړې شی اوس به هيچا ته مرګ نۀ راځی . هر جنتی به هميشه هميشه دپاره جنت او هر جهنمی به هميشه هميشه دپاره په جهنم کښی اوسيږی .

" اې الله عز وجل ! مونږ ستا نه ايمان او عافيت سوال کوو ، او ستا دَ حبيب ﷺ په وطن مدينة المنوره کښی دَ مرګ سوال کوو .

﴿ دَ اور دَ کوړو عذاب ﴾

هشام بن عمار په خپل سند سره په خپل کتاب " کتاب البعث " کښی روايت کړې دې چه يو کس چه دَ هغه نيم سر او نيمه ګيره سپينه وه ، دَ حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه په خدمت کښی حاضر شو . حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ هغه نه دَ راتلو دَ وجې تپوس اوکړو . نو هغه ورته اووئيل :

" زۀ دَ بنی فلان په قبرستان باندې تیر شوم ما اولیدل چه یو کس سره دَ اور کوړا دې او یو بل کس پسې شاته لګیدلې دې او هغه نیسی کله چه به هغه اونیولو نو په هغه کوړه به ئې وهلو ، کله چه به ئې اووهلو نو دَ سر نه تر خپو پورې به هغه کس په اور کښې ډوب شو . هغه کس رامنډې کړې او ماته ئې اووئیل :

" اې دَ الله بنده ! زما فریاد واوره ، او زما فریاد رسی اوکړه . "

کوم کس چه ورپسې وو او دَ اور کوړه وه ورسره نو هغه ماته اووئیل : " اې دَ الله بنده ! دده مدد مۀ کوه ځکه چه دا ډیر زیات غټ کافر دې .

په دې باندې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل : په دې وجه خو رسول الله ﷺ یواځې دَ سفر کولو نه منع فرمائیلې ده.

﴿ دَ اتیا کالو بوډۍ ښځې په لاش باندې دوه ګزه اوږده اژدها ﴾

دَ شیخوپورې ډسټرکټ مجسټریټ په هدایت باندې چه کله دَ هرچند کلی په قبرستان کښې دَ یوې بوډۍ ښځې (حفیظان بی بی) چه دَ هغې عمر اتیا کاله وو دَ پوسټ مارټم دپاره دَ هغې قبر کھولاؤ کړې شو نو دَ تمامې علاقې خلقو چه دا اولیدل نو حیران پاتې شول .

دوه ګزه اژدها دَ هغه مړی په لاش باندې پروت وو ، چه هغه په ډیره مشکله سره دَ قبر نه راوویستلې شو او اووژلې شو . ښودلې شی چه هغه ښځه تقریبًا درې میاشتې مخکښې وفات شوې وه دَ هغې

ځوی چه هغه دَ فوج ملازم پاتې شوې وو هغه ډسټرکټ مجسټریټ ته درخواست اوکړو چه دَ هغه په عدم موجودګئ کښې زما ښځې په زهرو سره هغې لره وژلې وه . لهذا دَ هغې دَ لاش پوسټ مارټم دې اوکړې شی . (روزنامه جنګ ۲ جولائی ۱۹۹۱ ء)

﴿ په قبر کښې دَ سترګو لیدلو مناظر ﴾

حضرت مولانا ذوالفقار نقشبندی فرمائی چه دا واقعه ما په یو ملك کښې خلقو ته واوروله . په هغه مجلس کښې پی ایچ ډی ډاکټر ، ایم بی بی ایس ډاکټر او سائنسدان قسم خلقو ته دعوت ورکړې شوې وو . دَ محفل په اختتام باندې یو سائنسدان صاحب ماته راغې اووې وئیل : حضرت ! تاسو دا واقعه په کوم کتاب کښې لوستلې ده ؟

ما ورته اووئیل : دا دَ حضرت عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه واقعه شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمه الله په فضائلِ صدقات کښې هم نقل کړې ده . کله چه داسې مستند بزرګ ځۀ واقعه نقل کوی نو هغه صحیح وی . هغه صاحب اووئیل : حضرت ! آیا تاسو دا هر څۀ په خپلو سترګو لیدل غواړئ ؟ ما ورته اووئیل : ستاسو مطلب څۀ دې ؟ هغه اووئیل : چه دا ځیز دلته کښ په یو ځائ کښی لیدلې شی.. ما چه دَ هغه دا خبره واوریده نو حیران شوم ، هغه اووئیل :

" حضرت ! تاسو درې ګهنټې فارغ کړئ او زۀ تاسو بو ځم او دا

تول مناظر تاسو ته ښايم . زهٔ نور هم حيران شوم ، مو ورته اووئيل تيك ده صبا به لاړشو . په بله ورځ باندې هغه صاحب په وخت باندې راغې او مونږ ئې يو ميوزيم (عجائب گهر) ته بوتلو . او په دغه عجائب گهر کښې کفارو حنوط شُده لاشونه اوېخودې وو .

په استيج باندې ناست يم ، زهٔ په ډيره غټه ذمه وارئ سره دا خبره بيانوم ، په اوداسهٔ کښې يم ، په جمات کښې ناست تم ، او سَل فيصده صحيح خبره کوم .... هغوی په هغه عجائب گهر کښې دَ شيشې کمرې جوړې کړې وې ،

﴿ اولنی قبر ﴾

کله چه مونږ اولنئ کمرې ته لاړو نو دَ هغې په دروازه باندې ليکلې شوې وو چه کله انسان مړ شی نو دَ هغه حالت دا وی . کله چه مونږ دننه لاړو ، نومونږ ته يو لاش په نظر باندې راغې ، چه په هغې ئې کيميکل لگولې وو او دَ هر يو څيز نه ئې بچ کړې وو . هغې ته حنوط شُده لاش وائی . او په انگلش کښې ورته MAMMY (ممی) وائی ، هغوی اووئيل چه کله يو بنده مړ شی نو هغه په دې حالت کښې وی ، مونږ پرې کيميکل لگولې دې او لاش مو دلته کښې ايخودې دې . مونږ چه هغه لاش اوليدو نو حيران شو .

﴿ دويم قبر ﴾

بيا دويم نمبر کمرې ته ورغلو ، هلته کښې په يو پليټ باندې ليکلې شوې وو ، چه دا مړې مونږ په قبر کښې دفن کړو او څو ورځې

روستو مونږ هغه قبر کهولاؤ کړو او په کوم حالت کښې چه مونږ دا لاش بيا موندو نو هم په هغې مو کيميکل واچول او دلته کښې مو کېخودو . مونږ چه کله هغه بنده ته اوکتل نو دَ هغه باقی تمام بدن صحيح وو ، مگر دَ هغه دَ دواړو سترگو دننه حصه اوېهٔ شوې وه او په مخ ئې رابيدلې وې او دَ هغه په گاتو کښې چينجی شوې وو .

معلومه شوه چه په قبر کښې دَ بدن په جسم کښې دَ ټولو نه اول کومه تبديلی راځی نو هغه داده چه دَ هغه سترگې دَ هغه په مخ باندې راوبهيږی او په هغې کښې چينجی کيږی ، په کومو سترگو سره چه غير الله ته دَ محبت په نظر سره کتلې شوې وی ، نو په هغې کښې دَ ټولو نه اول چينجی کيږی . گويا چه الله تعالیٰ فرمائی : اې زما بنده ! ستا سترگې ستا په قابو کښې نهٔ وې ، تابه غير الله ته دَ محبت او دَ مينې په نظر سره کتل ، مگر دا حق ستا دَ رب وو . ليکن تاته به دَ غير محرمو مخونه خائسته ښکاره کيدل . ستا سترگې چه غير محرم ته دَ محبت په نظر سره گوری ، په قبر کښې به په دغه سترگو کښې دَ ټولو نه اول چينجی کيږی .

﴿ دريم قبر ﴾

ددې نه روستو مونږ بيا دريم نمبر کمرې ته ننوتلو ، په دې کمره کښې چه کوم يو لاش پروت وو نو دَ هغه لاش دَ سترگو گاتی هم نو هغه هم چيبجو خوړلې وو ، مگر اوس دَ هغه شونډې هم چينجو خوراك جوړ کړې وو . صرف دَ غاښونو اورئ په نظر راتلې ، ددې نه

علاوه باقي لاش ټيک ټاک وو ، نو دويمه تبديلي دا راغله چه دَ هغه په خُلهٔ کښې چينجي شوي وو ، او دَ هغه شونډې چينجو خوړې وې ، چه دَ هغې په وجه سره دَ لرې نه دَ هغه غاښونه په نظر راتلل .

معلومه شوه چه په کومه خُلهٔ به دهٔ دَ الله تعالىٰ نه شکوې او ګيلې کولې او خلقو سره به ئې دَ غلط محبت نه ډکې خبرې کولې ، نو اوس په دويم نمبر کښې دَ هغهٔ خُلهٔ چينجو اوخوړه .

﴿ څلورم قبر ﴾

بيا مونږ څلورم نمبر کمرې ته لاړو . هلته کښې هم مونږ اوليدل چه دَ سترګو نه دننه حصه ويستلې شوې ده او چينجو خوړلې وو او خُلهٔ هم چينجو خوړلې وه ، ددې نه علاوه مونږ اوليدل چه دَ هغه لاش خېټه دَ پيالۍ په شان جوړه ده او په هغه پيالۍ کښې چينجي پراتهٔ وو ....

په کومه خېټه کښې چه به ئې حرام اچول نو اوس په هغه خېټه کښې چينجي پراتهٔ دي ، او خوري ئې . بيا مونږ بله کمره اوليده چه چينجو خوارهٔ کيدل شروع کړې دي . آخريو داسې کمرې ته لاړو چه په هغې کښې چينجو دَ جسم پورا غوښه خوړلې وه او صرف هډوکي موجود وو .... او بيا مو په نورو کمرو کښې دَ هډوکو دَ بوسيده کيدلو (رژيدلو) مشاهده اوکړه .

او کله چه مونږ آخري کمرې ته اورسيدو نو په هغې ليکلي شوي وو چه مونږ دا قبر کهولاؤ کړو نو په هغې کښې صرف دَ شا دَ

مونږ هډوکي باقي وو باقي تمام هډوکي هم خاورې شوي وو .

دا تمام معاملات په بده باندې په قبر کښې راځي . زمونږ په کتابونو کښې ليکلي شوي وو او دَ هغه ملک کافرانو چه په قبر کښې کومه تبديلي اوليده ، نو هغوی هغې لره دَ حنوط شُده لاشونو په صورت کښې دَ خلقو دپاره نمائش جوړ کړې وو . مګر دا کوم لاشونه دي چه هغه خاورې او چينجي خوري ؟

دا دَ هغه لقو لاشونه وي ، چه ګناه کوي ، ځکه چه په هغوی کښې دننه دَ ګناه اثرات وي ، په دې وجه سره دَ هغوی بدن او هډوکي خاورې او چينجي خوري ، او کوم خلق چه ځان دَ ګناهونو نه ساتي او دَ الله تعالىٰ په حضور کښې پيش کيږي ، چونکه هغوی دَ خپل علم او ارادې په اعتبار سره ګناه نهٔ وي کړې ، نو په دې وجه سره دَ هغوی لاشونه په قبرونو کښې محفوظ وي .

دَ انبياءِ کرامو عليهم السلام په باره کښې خو په احاديثو کښې راغلې دي چه الله تعالىٰ دَ انبياءِ کرامو جسمونه په زمکه باندې حرام کړې دي . دغه شان چه کوم خلق دَ انبياء عليهم السلام وارثين وي او خپل ځانونه دَ ګناهونو نه ساتي ، نو چونکه دَ هغوی په جسمونو کښې دَ ګناه اثرات نهٔ وي نو په دې وجه سره دَ هغوی جسمونه هم محفوظ او سالم وي ، خاورې او چينجي ئې نهٔ خوري .

په دې وجه سره دَ بعضِ اولياء الله قبرونه کنيستلي شوي دي او دَ هغوی جسمونه په کښې صحيح سالم موندلي شوي دي ، ځکه

چه دَ هغوی په جسمونو کښې دَ گناه اثرات نهٔ وو .

﴿ دَ بې دين او بد مذهب انجام ﴾

حافظ ابو محمد خلال په کتاب کرامات الاولياء کښې په خپل سند سره روايت کړې دې چه ماته عبد الله بن هاشم اووئيل چه زهٔ يو مړی ته دَ غسل ورکولو دپاره لاړم ، کله چه ما دَ هغه دَ جسم نه کپړا لرې کړه نو دَ هغه دَ بدن نه مار تاؤ شوې وو ، نو ما هغه مارانو ته اووئيل چه تاسو په دې مړی باندې مسلط کړې شوې يئ او زمونږ په نزد باندې مړی ته غسل ورکول سنتِ نبوی دی نو کهٔ چرې تاسو اوس دې پريږدئ نو مونږ به ورته غسل ورکړو او بيا به تاسو واپس راشئ . دا چه ئې واوريدل نو هغه مار دَ مړی گردن پريخودو او يو طرف ته لاړو ، بيا چه هرکله مونږ دَ غسل نه فارغ شو نو هغه مار بيا راغې او دَ هغه لاش نه تاؤ شو . معلومه شوه چه هغه مرده بې دينه او بد مذهب وو او دَ شريعت پيروی او اتباع به ئې نهٔ کوله .

﴿ دَ مارانو نه ډك ديرش (۳۰) قبرونه ﴾

دَ يو بد اعمال او بد کردار مړی حکايت دې چه کله هغه مړ شو نو خلقو دَ هغه دپاره قبر اوکنيستلو ، څهٔ گوری چه په هغه قبر کښې يو ډير زيات غټ مار دې ، بيا هغوی دويم قبر اوکنيستلو ، نو په هغې کښې هم مار وو ، غرض دا چه هغوی به بار بار داسې کوله تردې پورې چه هغوی ديرشو ته قريب قبرونه اوکنيستل او په هر يو قبر کښې به مار راوتلو .

آخر کله چه هغوی دا اوليده چه دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه نيښته نهٔ شی کيدلې نو هغه خلق مجبوره شول او هم دَ هغه مار سره دفن کړو . او دا مار دَ هغه بد عمل وو . الله تعالیٰ دې مونږ ټول دَ خپل عذاب نه بچ اوساتی . " آمين " !!!

﴿ دَ مړی دَ پوزې نه توره وينه بهيدله ﴾

شيخ قحطانی بيان کوی چه يوه ورځ زهٔ دَ مازيگر دَ مونځ نه روستو قبرستان طرف ته لاړم ، او دَ يو مړی دپاره مو قبر تيار کړو . زما په لاسونو باندې خاورې لگيدلې وې او ما دَ لاسونو دَ وينځلو اراده اوکړه ، چه په دې کښې يوه جنازه راغله او تقريبًا پنځوس کسان دَ هغې سره وو . په هغوی کښې يو کس ماته آواز اوکړو چه دَ الله دپاره مونږ سره په قبر جوړولو کښې مدد اوکړه ، ځکه چه مونږ په ښهٔ شان سره قبر نهٔ شو جوړولې .

چنانچه ما دَ هغوی سره قبر جوړولو ، کله چه قبر تيار شو نو مونږ هغه مړې دفن کولو ، هغه مړې ډير زيات چاق وو دوو کسانو ماسره هغه مړې قبر ته کوز کړو . ما يوه خښته طلب کړه ددې دپاره چه دَ هغه مړی سر ته ئې کيږدم او ما بند کهولاؤ کړو نو دَ هغه مړی مخ دَ قبلې نه واړيدو .

شيخ قحطانی وائی چه ما بيا دوباره دَ هغه مړی سر قبلې طرف ته کړو او زهٔ دَ مړی نه بل طرف ته شوم او دويمه خښته مې اونيوله ، ما اوليدل چه دَ هغه مړی سترگې کهولاؤ دی او دَ هغه دَ

خُلې او دَ پوزې نه نهايت توره وينه بهيدله . دا چه ما اوليدل نو په ما باندې دومره خوف او ويره طاري شوه چه زما خپو زما دَ پورته كولو نه جواب اوكړو (يعنى پورتـه كيدې نـهٔ شوم) زما سره سره دوه دريو كسانو هم عجيب او غريب منظر اوليدو .

بيا هغوى ماته دريمه خښته راكړه او ما اوليدل چه دَ هغه مخ پـه دريم ځـل بـانـدې هم دَ قبـلې نـه اوړيدلې وو . چنانچـه ما هغـه پريښـودو او فورًا دَ هغه دَ قبر نه اوتښتيدم او كوم خلق چه ماسره وو هغوى هم دَ خوف له وجې نه اوتښتيدل او دَ دفن كولو باقى كارئې په ځاىٔ پريښـودو او دَ لـحد په ځاىٔ ئې پرې هم داسې خاوره واړوله . بيا چه په هغـه مړى باندې كوم حالات پيش راغلې وو هغه ما اووهٔ اتهٔ ځـله په خـوب كښې اوليدو ، چنانچه كله چه زهٔ دَ عمرې دپاره مكې مـعظمې ته لاړم او پنځلس ورځې مې هلته كښې قيام اوكړو نو الله تعالىٰ زما زړهٔ ته اطمينان او سكون نصيب كړو .

﴿ دَ اور دَ شُعلو نه ډك قبر ﴾

مـرحـوم شيخ مـحـمـود عراقى په خپل كتاب " دار السلام " كښې دَ باعتماد افرادو په حوالې سره ليكى :

" چـه يـو ځـل مـونـږ دَ تهران مـقبرې تـه لاړو ، دَ ماښام وخت شـروع كيـدلـو والا وو ، زمـونـږ نه يو كس په يو كانړى باندې ناست وو چه هغـه كـانړې په يو قبر باندې لګيدلې وو ، چه اچانك هغه چغې سورې سازې كړې .... ما اوچت كړىٔ ! ......

كـله چـه مونږ دَ هغه دَ پورته كولو دپاره نزدې ورغلو نو دَ قبر هغه كانړې دَ اور پـه شان ګـرم وو ، معلومه نهٔ ده چه هغه مړى ته به څومره عـذاب كيـدلـو چـه پـه هغه قبر باندې دَ پاسه لګيدلې كانړې دومره ګرم وو .

ددې واقعـې بيانولو والا فرمائى چه مونږ ددغه قبر والا پيژنو البته دَ ذلت او رسوايئ په وجه سره مونږ دَ هغه نوم اخستل نهٔ غواړو دغه شان دَ يو بـل كـس پـه بـاره كښې هم خلق بيان كوى چه هر كله هغه په قبر كښـې دفن كړې شو نو دَ هغه دَ قبر نه دَ اور شُعلې پورته شوې . "

﴿ مړى لره مار په خُلهٔ باندې چيچلو ﴾

كـلـه چـه منګلا ډيم په پاكستان كښې جوړيدو او بند اچولې شو او خاورې بـه دَ اخـوا ديـخـوا نه راجمع كولې شوې نو ددغه كار په دوران كښې بـلـډوزر يـو قبر كهولاؤ كړو . په هغه قبر كښـې مړې پروت وو او دَ هغه په خُلې باندې يو مار وو او هغه مار به دې مړى لره وقفه په وقفه په خُلهٔ باندې چيـچلو . دا خوفناك منظر دَ هغه ځاىٔ تمامو خلقو اوليدو چنانچه بعضِ خلقو دَ الله تعالىٰ ذكر او اذكار شروع كړو نو څهٔ وخت بعد هغه مار غائب شو .

﴿ دَ عذابِ قبر منكر ته دَ الله تعالىٰ تنبيه ﴾

په دلائـل الـنبـوة كښې امام مستغفرى دَ يو نيك او صالح كس نه روايت كړې دې چه دَ هغه كس پلار دَ عذابِ قبر نه منكر وو . دَ هغه

کس بیان کړي چه یو ځل زهٔ دَ هغه سره په خپل کور کښې اوده وُم چه اچانك هغه په اضطرابی حالت کښې رابیدار شو اووې وئیل :

"پاسئ او ډیوه بله کړئ !"

ما ډیوه واخسته نو څهٔ گورم چه دَ هغه دَ خپو په پوندو باندې دَ سوزیدو اثر وو او هغه پولئ شوې وې . بیا ئې اووئیل چه ما په خوب کښې اولیدل لکه چه زهٔ په قبرستان کښې یم ، زما خپې په زمکه کښې خخیږی او لاندې روانې دی او سوزی . پس هم دا دَ هغې اثر دې . دې واقعې نه روستو هغه په عذابِ قبر باندې ایمان راوړو او دوباره ئې کله هم انکار اونهٔ کړو .

﴿ دَ اوسپنې پلك دَ مړی په سر باندې ﴾

حارث بن منهال وائی چه یو ځل زهٔ عیدگاه ته لاړم ، او هلته کښې په محراب کښې اودهٔ شوم ، هلته کښې یو قبر وو ، ما آواز واوریدو چه دَ اوسپنې په پلك سره دَ مړې سر وهی . دَ هغه په غاړه کښې یو زنځیر دې او دَ هغه مړی مخ تك تور شوې دې او سترگې ئې شنې شوې دی . هغه وائی " هائت په ما باندې کومه بلا نازله شوې ده ؟ کهٔ چرې دَ دنیا والا نه ما څوك اووینی نو کله به هم دَ گناه اراده اونهٔ کړی ، واللّه ! زما نه دَ گناه خطا شوې ده او هغې زهٔ هلاك کړم . آیا څوك شته دې چه هغه زما کور والا ته خبر ورکړی . "

حارث وائی چه زهٔ ډیر زیات په خوف او ویره کښې وُم ما دَ هغه مړی کور والا تلاش کړل . ما درې جینکئ اوموندلې ما ورته دَ

هغه مړی دَ حال خبر ورکړو او دَ هغه دوستانو ته مې دَ هغه واقعه بیان کړه هغوی ټول دَ هغه قبر ته راغلل او دَ اللّه تعالیٰ نه ئې دَ هغه دَ مغفرت دُعاگانې اوغوښتې .

بیا څو ورځې روستو زهٔ دَ هغه قبر ته بیا لاړم او بیا دَ هغې سره متصل سملاستم او هغه مې په ډیر زیات خائسته صورت کښې اولیدو . دَ هغه په سر باندې یو تاج وو او دَ هغه په خپو کښې دَ سروزرو پیزار وو . هغه ماته اووئیل : جزاك اللّه عنّی خیرًا تا زما لوریانو او دوستانو ته خبر ورکړو او هغوی زما دپاره دَ مغفرت دُعا اوکړه . (دواء القلب القاسی تذکیر الموت للناسی ٦٥)

عذاب قبر برحق دې او دَ مړو دپاره دَ مسلمانانو دُعا ډیره ښهٔ او ضروری ده ، په دې سره گنهگار مړی ته فائده رسیږی . او دا هم معلومه شوه چه دَ گناهونو ارتکاب ډیر بدکار دې ، په دې سره په قبر کښې هم عذاب کیږی ، ددې وجې نه پکار دی چه هر مسلمان دَ گناه نه خپل ځان ساتی .

﴿ په غابښونو سره لاس کټ کول ﴾

ابن ابی الدنیا دَ ابو جریس نه او هغوی دَ خپل والد صاحب نه روایت کړې دې چه کله ابو جعفر دَ کوفې خندق کهولاؤ کړو نو دَ خپلو مړو منتقل کول شروع کړل نو وې لیدل چه یو نوجوان په قبر کښې خپل لاس په غابښونو سره کټ کوی .

﴿ په قبر کښې دَ فرشتو هیبتناك شکل ﴾

دا واقعه دَ کشمیر ده ، ښودلې شي چه په یوه علاقه کښې دَ
یو کس یواځې یو ځوې وو چه هغه سره به ئې ډیره زیاته مینه او
محبت کولو ، په اتفاق سره هغه بچې ئې بیمار شو او مړ شو ، پلار
ددې ځوی په مرګ باندې ډیر زیات خفه وو او دا اعلان ئې اوکړو چه دَ
خپل ځوی نه جُدا کیدې نهٔ شم ، دهٔ لره به دَ ځان سره ږدم او دفن کوم
به ئې نهٔ . . چنانچه لاش چه درې ورځې دَ ځان سره اوساتلو نو دَ هغه
نه بدبو خوریدل شروع شو . دَ محلې والا خلق راجمع شول او پلار ته
ئې ورله منت زاری اوکړل چه دا خپل ځوی اوس زمکې ته اوسپاری،
په ډیره مشکله سره پلار په دې خبره باندې راضی شو ، مګر شرط ئې
دا اولګوو چه قبر به کھولاؤ سازولې شی ددې دپاره چه زهٔ هم ددې
خپل ځوی سره په قبر کښې یم . تمامه ورځ محلې والا پریشان وو .

آخر قبر کھولاؤ جوړ کړې شو . کله چه قبر مکمل شو نو
پلار مخکښې لاړو او اودهٔ شو او دَ خپل ځوی لاش ئې دَ ځان سره
سملولو او دَ قبر دَ بندولو دپاره ئې اوویل . خلقو دَ قبر بندول شروع
کړل ، کله چه ئې قبر په خختو سره بند کړو نو خلق دَ څهٔ وخته پورې
دَ انتظار دپاره کیناستل ، نو څهٔ وخت بعد دَ هغه هلك پلار دَ قبر
خختې کھولاؤ کړې او بهر ته دَ قبر نه راوتلو او یر زیات خوفزده وو او
خلقو ته ئې اوویل چه هر کلهقبر بند کړې شو نو دوه فرشتې راغلې
، هغوی دَ مړی خپې ته حرکت ورکړو ، مړې کیناستو ، مګر دَ هغه
فرشتو هیبتناك شکل ئې اولیدو نو پلار ئې خپل ځان بچ کړو او

خپل خوږ ځوی ئې پریښودو او بهر ته ترینه را اوتښتیدلو .

﴿ په قبر کښې خوفناکه دهماکه ﴾

ابان بن عبد الله بجلی رحمه الله بیان کوی چه زمونږ یو
ګاونډی مړ شو ، مونږ ورته غسل او کفن وغیره ورکړل او پورته مو
کړو او قبرستان ته مو یوړو . قبر اوکنیستلې شو نو مونږ اولیدل چه دَ
هغه په قبر کښې دَ پیشو په شان یو ځناور دې . مونږ اوېرولو خو هغه
ځناور بهر ته راونهٔ وتلو . هغه قبر بند کړې شو او په بل ځائ کښې قبر
اوکنیستلې شو نو هلته کښې هم هغه ځناور موجود وو .

په په دریم ځائ کښې قبر اوویستلې شو نو هلته کښې هم
هغه ځناور هم موجود وو . خلقو په خپل مابین کښې مشوره اوکړه او
مړې هم هغه شان دفن کړې شو او هرکله چه ئې په قبر خاوره واړوله
نو یوه زبردسته دهماکه اوشوه بیا خلق دَ هغه مړی کورته اورسیدل او
دَ هغه دَ ښځې نه ئے پوښتنه اوکړه چه دهٔ به څهٔ عمل کولو ، چه دَ
هغې په وجه سره په هغه باندې دا وبال او نقصان راغې ؟ ښځې ئې
ورته اوویل چه دهٔ به دَ جنابت نه غسل نهٔ کولو . (شرح الصدور ٧٥)

﴿ دَ تور رنګ والا سړې ﴾

حافظ ابو محمد قاسم په خپل سند سره په خپل تاریخ کښې
ذکر کړې دی چه عبد الکافی بیانج کړې دې چه دَ یو وخت واقعه ده
چه ما په یوه جنازه کښې شرکت اوکړو نو دَ یو تور رنګ والا سړې هم
زمونږ سره په جنازه کښې شریك وو . بیا مونږ دَ جنازې مونځ اوکړو

نو هغه دَ تور رنګ والا سړی مونځ اونهٔ کړو . او زما جانب ته ئې اوکتل اووې وئیل چه زهٔ ددهٔ عمل یم . دا ئې اووئیل او په قبر کښې ورکوز شو او بیا مونږ اونهٔ لیدلو .

﴿ مړې دوه ټکړې شو ﴾

دَ راولپنډۍ په زوړ قبرستان کښې دَ یو مړی دَ تدفین په وخت کښې یو ناقابلِ یقین واقعه ظاهره شوه چه هغې په سوونو خلقو باندې رقت طاری کړو . بلکې دَ خلقو په ذهنونو باندې ئې نقش پریښودو .

دَ تفصیلاتو مطابق په قریبی آبادۍ کښې یو کس مړ شو ، دَ مړی دَ دفن کولو دپاره اهلِ محله او عزیز او اقارب راجمع شول او قبرستان ته لاړل . قبرستان ته دَ مړی دَ راوړلو نه مخکښې قبر اوکنیستلې شو ، څنګه چه مړې دَ تدفین دپاره قبر ته ورکوز کړې شو ، نو تمامو خلقو کتل چه په څو سیکنډو کښې دننه دننه دَ لحد په درمیان کښې زمکه رابنده کړې شوه او داسې رابنده کړې شوه ګویا چه دَ سر نه کنیستلې شوې نهٔ وی ، دا حالت چه خلقو اولیدو نو تمام خلق په خوف او ویره کښې مبتلاء شول ، هلته کښې موجود عالِم دین دَ یو بل قبر دَ کنیستلو حکم اوکړو ، بیا هم هغه شان اوشو ، څنګ چه مړې په قبر کښې ورکوز کړې شو نو خلقو کتل چه په تیزۍ سره لحد رابند شو .

تمامو خلقو استغفار شروع کړو ، پس دَ هغې نه دَ عالِم دین په

حکم سره دوباره دَ قبر کنیستلو حکم اوکړې شو ، دَ هغه ځائ موجود خلقو داسې عبرتناک منظر اولیدو چه دَ هغې مثال نهٔ شو موندلې کیدې ، کوم ځائ چه قبر کنیستلو دَ هغه ځائ نه ماران او لړمانان داسې راوتل لکه څنګه چه دَ اوبو دَ چینې نه اوبهٔ راخوټکیږی . دَ حیرانتیا خبره خو داده چه هغه مارانو او لړمانانو هیچا ته هیڅ اونهٔ وئیل او هلته کښې راجمع شول .

مړې چه کله ورکوز کړې شو نو یو مار دَ کمر دَ لاندې نه راووتلو ، چه دَ هغه سره جوړه یو بل مار هم وو . دا واقعه چه خلقو اولیده نو دَ خلقو زړونه په درزار شو ، خلقو ورته کتل چه دې دواړو مارانو هغه مړې د دوو حصو کښې تقسیم کړو لکه څنګه چه په آرې سره لرګې دوه ټکړې کیږی . (جنګ ۱۹۹۱)

﴿ په قبر کښې دَ مړې په شان خوفناک ځناور ﴾

راوی وائی چه څو کاله مخکښې یو جماعت سره لاړم ، مانسهرې ته قریب یو وړوکی غوندې کلی ته اورسیدو ، جمات کښې مو سامان کیښودو او تعلیم شروع شو . دَ جمات نه بهر اخوا دیخوا ډیر خلق فارغ ناست وو . څهٔ خلق مونږ سره جمات ته دَ تللو دپاره تیار شول . یو صاحب اووئیل چه زهٔ به دَ مونځ په وخت درشم او دَ مونځ نه بعد به دَ عذابِ قبر یوه واقعه خلقو ته اوروم .

چنانچه دَ ماسپخین دَ مونځ نه روستو دا صاحب زمونږ سره ناست وو ، خپل تعارف ئې راسره اوکړو ، چه زهٔ ریټائر فوجی یم . په

۱۹۶۵ ء کښې دَ پاکستان او هندوستان په جنګ کښې په يو قبرستان کښې دَ اسلحې يو عارضي ذخيره جوړه کړې شوې وه او دَ ځو نوجوانانو سره دَ هغه هم ډيوټی وه ، ورځ وه او ځۀ خاص کار نۀ وو .

چنانچه مونږ په هغه قبرستان کښې ګرځيدل شروع کړل . په يو زوړ قبر باندې تير شو نو داسې محسوس شوه چه ددې قبر نه دَ هډوکو دَ ماتيدلو آواز راځی ، هغه نوجوان فوجی وائی چه ما دَ توپک په بټ سره دَ هغه قبر نه خختې لرې کړې ددې دپاره چه زۀ اووينم چه دا آواز څنګه دې ؟ ماچه به څنګه څنګه خاوره لرې کوله نو هغه شان به آواز تيزيدلو او زما خوف او ويره به نوره هم زياتيدله .

دَ ورځې وخت وو او رڼړا هم خوره شوې وه . څۀ ګورم چه په قبر کښې دَ انسان دَ هډوکو ډهانچه پرته ده او په هغې باندې دَ مرږې په شان يو ځناور ناست دې او کله چه هغه خپله خُلۀ په هغه ډانچه باندې وهی نو ټوله ډانچه اوخوزی او دَ هډوکو دَ ماتيدلو آواز به ترينه راتلو . زما په وړاندې درې ځله هغه ځناور په هغه ډانچه باندې خُله اووهله ، ماته ډير زيات ترس راغې چه دا ځناور دې مړی ته تکليف رسوی .

چنانچه ما چه کله دَ هغه ځناور دَ وژلو اراده اوکړه نو هغه په خاوره کښې پټ شو . لږ وخت روستو هغه ځناور دَ قبر نه راووتلو او ما پسې شو په ما باندې ډير زيات هيبت او خوف طاری شو زما نه دَ هغې وژل هير شو او منډې مې کړې . ډير لرې چه اوتښتيدم نو ما په

ـې باندې اوکتل نو ما اوليدل چه هغه ځناور په تيزئ سره زما طرف ـه منډې راوهی . زما سره نزدې دَ اوبو يو خوړ وو ما د هغه ځناور نه دَ ځان بچ کولو دپاره هغه خوړ ته اودانګل .

ما چه شا ته اوکتل نو هغه ځناور راغې او دَ خوړ په غاړه باندې اودريدو او څۀ وخت بعد ئې خپله خُلۀ په اوبو کښې اووهله . ـمدستی اوبۀ ګرمې شوې ، ما منډې کړې او دَ هغه خوړ نه اوتښتيدم ، زما خپې سوزيدلې ، او سرې شوې وې او پولۍ شوې هم ـ د درد په وجه سره زما تلل محال وو .

ـا خپلو ملګرو ته آواز ورکړو ، چنانچه زۀ دَ ايبټ آباد په هسپتال کښې داخل کړې شوم او بيا دَ هغې نه دَ راولپنډئ غټ فوجی هسپتال ته منتقل کړې شوم ، زما دَ خپو غوښه په خرابيدو شوه او هر وخت به ترينه بدبو تلله ، او وينه او پيپ به ترينه هم تللو . په هيڅ يو علاج سره زۀ ښۀ نۀ شوم ، تر دغه وخته پورې زما دَ خپو صرف هډوکی سم پاتې وو ، غوښه ترينه ټوله ختمه شوې وه او هر وخت به ترينه دَ مړو په شان بدبو تلله . بيا هغه مونږ ته دواړه خپې اوښودلې پټئ پرې لګيدلې وې . (روزنامه پاکستان ۱۳ مئی دسمبر ۱۹۹۱)

دا واقعات په وجه سره ليکلې شوې دی چه مونږ دَ قبر دپاره په تياری کولو کښې لګيا شو پته نشته دې چه کله به مرو . الله تعالیٰ دې مونږ ټولو ته دَ اعمالِ صالحه توفيق رانصيب کړی . او دَ قبر

او دَ حشر دَ عذاب نه دې نجات راکړی . امین .

دا څو ورځې زندګی په هر صورت کښې تیرېږی . اصل فکر دَ آخرت پکار دې اصل او او دائمی زندګی دَ آخرت زندګی ده .

﴿ دَ مارانو او دَ لړمانانو نه ډک قبر ﴾

دَ تلمبه یو زمیندار مړ شو ، دَ هغه دپاره قبر تیار کړې شو ، نو دَ خاورې نه لړمانان او ماران په کثرت سره ظاهر شول . چا چه قبر کنولو نو هغه ډیر زیات پریشان وو . هغه مارانو او لړمانانو هغه قبر کنیستلو والا ته هیڅ تکلیف ورنهٔ کړو . دا نظاره ډیره زیاته عبرتناکه وه . او هم په هغه خاوره کښې مړې دفن کړې شو .

﴿ دَ قبر نه دَ خر آواز ﴾

دَ سمندر نه په دوه کلومیټره فاصله باندې یو کلې آباد وو ، او هلته کښې یو زوړ قبرستان وو دَ هغه ځائ خلقو دَ قبرستان نه دَ خر په شان یو آواز واوریدو ، لیکن خر ئې نهٔ لیدو نو هغه خلق پریشان وو ، دَ هغوی نه یو کس دَ بهادرئ مظاهره اوکړه او یو زوړ قبر ئې معلوم کړو چه په هغې کښې یو سورې وو او دا آواز دَ هغې نه راتلو ، هغه هلته کښې اولیدل چه یو خر سر رابهر کړې وو او بیا دوباره دننه شو .

هغه کس لاړو او په کلی کښې ئې شور او غوغا جوړه کړه ، خلقو دَ هغه په خبره باندې یقین نهٔ کولو ، لیکن هر کله چه هغه په پوره وثوق او یقین سره خلقو لره دَ هغه واقعې نه آګاه کړو نو دَ جمات دَ امام سره ډیر خلق راجمع شول او هغه قبر طرف ته اووتل ، کله چه

قبر سره خوا کښې اودریدل نو هغوی واوریدل چه دَ هغه قبر نه دَ خر آواز راځی .

تمامو خلقو استغفار شروع کړو او کلی ته واپس راغلل . دَ قبر والا په باره کښې دا معلومه نهٔ کړې شوه چه دا دَ چا قبر وو . او آیا دَ سړی وو او کهٔ دَ ښځې ؟ لیکن بیا هم دَ قبر په تختی باندې دَ بسم الله تحریر صفا شوې وو .

﴿ دَ قبر نه دَ اور شُعله ﴾

دَ هنجر په علاقه کښې دَ قبرستان نه دَ اور شُعلې پورته شوې . دَ هغه ځائ دَ خلقو دَ وینا مطابق دَ اور دَ شُعلې په هغه وخت کښې بند شوې کله چه خلق راجمع شول او دَ قبر سره په خوا کښې ئې دَ قرآن مجید آیتونه تلاوت کړل .

هغه خلقو ته دا معلومه نهٔ وه چه دا قبر دَ چا دې . وئیلې شی چه څهٔ خلق دَ هغه قبرستان سره خوا کښې تیریدل چه دَ اور دا شُعلې ئې اولیدې ، هغوی ددې اطلاع کلی والو ته ورکړه او بیا هلته کښې دَ خلقو کافی ګڼړه جوړه شوه .

دَ بعضِ خلقو مطابق هغوی په خپلو سترګو سره اولیدل چه دَ قبر نه دَ اور شُعلې خیژی ، او کلی والا قرآن مجید لولی او دُعاګانې کوی ، چه ددې پنځ روستو اور بند شو ، ددغه قبر سره نزدې یوه سوړه وه چه هغه روستو بنده کړې شوه او په هغې باندې خختې کیخودلې شوې ، دَ خلقو دَ وینا مطابق هغه اور به ددغه سورې نه راوتلو .

﴿ دَ عذاب قبر په ليدو سره يو خوفناکه چغه ﴾

حضرت مولانا شاه وصه الله صاحب فرمائيل چه دَ يو مجذوب تيريدل په يو قبرستان باندې اوشو ، نو هغه دومره تيزه چغه اووهله چه دَ هغې نه معلوميده چه دا دَ برداشت نه بهر دې ، اوريدلو والا به نهٔ اوريده او نهٔ به ئې دَ هغې برداشت کولې شو . حضرت شاه صاحب رحمه الله به فرمائيل : کيدې شی چه په دې مجذوب باندې دَ قبر عذاب منکشف شوې وی ، چه دَ هغې تحمل نهٔ شی کولې او په زوره زوره سره چغې وهی او بې قراره دې .

﴿ کلمې ته کنځلو کولو والا باندې په قبر کښې لړمانان ﴾

دَ لسو کالو وړاندې خبره ده ، زهٔ په قائد اعظم کالج کښې په طور دَ پرنسپل ووم ، دَ نزدې کلی نه يو ډسپنسر دَ يو مرض په باره کښې دَ مشورې طلب کولو دپاره راغلې وو ، يوه ورځ هغه اووئيل چه زمونږ په کلی کښې يو حجام (نائی) مړ شو .

کله چه په هغه باندې دَ نزعې کيفيت جاری شو نو خلقو هغه لره اوخوزولو اوورته ئې اووئيل : کلمه اووايه ! (حالانکه دا غلطه طريقه وه .) هغه کلمه اونهٔ وئيله ، خلقو به اوخوزولو ، او دَ کلمې وئيلو ئې ورته اووئيل . دَ مرګ دَ سختئ په وجه سره هغه کلمې ته کنځل اوکړل .

لږ وخت بعد دَ هغه نه ساه اووتله . کله چه دَ هغه دپاره قبر تيار کړې شو نو هغه قبر خلقو اوليدو چه دَ لړمانانو نه ډك دې ، خلقو فورًا هغه قبر بند کړو ، او په بل ځای کښې ئې قبر اوکنستلو ، هر کله چه مړې په قبر ورکوز کړې شو نو خلقو اوليدل چه هغه قبر دَ لړمانانو نه ډك دې ، چنانچه خلقو په هم دغه حالت کښې دفن کړو .

﴿ اې دُنيا دارو ! په قبر کښې اې ، سی اولګوئ ﴾

په ساهيوال کښې يوه کورنۍ ده ، چه هغه خلق ډير مالدار او نيك خلق دی ، په يو ايکسيډنټ کښې دَ هغوی دوه ځامن او يو نمسې په موقع باندې هلاك شو ، هغه اووئيل چه زما زړهٔ غواړی چه زهٔ دوی په قبر کښې ائير کنډيشن اولګوم ، چه دوی په دنيا کښې کله هم خوَله نهٔ ده ليدلې . په خپله تمامه زندګئ کښې ئې چرته کښې هم په خپل وجود باندې دَ نمر ګرمی نهٔ ده برداشت کړې ، نو په قبر کښې دوی ځهٔ کوی ؟ هغه وائی چه زهٔ دومره پاګل شوم چه زما په ذهن کښې راغلل چه زهٔ دوی ته په قبر کښې ائير کنډيشن اولګوم ، بيا زما په خيال کښې راغلل چه هغه به دَ دوی ځهٔ په کار راشی ؟ مرګ سره خو هر ځهٔ ختم شی .

﴿ دَ علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله نصيحت ﴾

علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله نصيحت فرمائی . په عذاب قبر باندې کلکه عقيده لرل ضروری دی هم دا دَ هدايت لاره ده ، او هم په دې سره زندګی جوړيږی ، دَ منکر او نکير په سوال جواب

باندې کلك يقين کول ضروري دی ، په دې باره کښې دَ علماءِ حق
اتفاق دې ، او کوم خلق چه ددې په څۀ جزء و کل باندې شك کوی او
انکار کوی نو دا بدعتی دې او دَ باطل سره تعلق لری ، دَ دوی نه لرې
اوسيدل پکار دی .

﴿ په قبر کښې دَ عذاب په گرمئ سره دَ لاس سوزيدل ﴾

دَ نن نه تقريبًا پنځوس يا شپېتۀ کاله وړاندې دَ يوپی په يو ښار
کښې يوه عجيبه واقعه ظاهره شوه ، دَ شهر په يوه حصه کښې يو زوړ
او وسيع قبرستان دې . اتفاقًا يو کس وفات شو ، خلقو دَ هغه جنازه
دغې قبرستان ته يوړه . هرکله چه قبر تيار کړې شو او دا مړې قبر ته
ورکوز کړې شو او تختې اولگيدې ،نو کوم کسام چه ورسره قبر ته
ورکوز شوې وو ، نو دَ هغوی نه يو دَ کس کوم چه سر طرف ته وو دَ
جيب نه قيمتی کاغذات په قبر کښې پريوتل .

هغه ته پته هم اولگيده مگر خيال ئې اوکړو چه دا خلق کله
تختې اولگوی او دَ قبر نه بره اوخيژی نو زۀ به دا کاغذات دَ ځان سره
واخلم . مگر دَ الله تعالیٰ کار وو چه هغه کاغذونه دَ هغه نه هير شو ،
ليکن څنگه چه په قبر باندې دَخاورې اړولو وخت راغې نو فورًا ورته
رایاد شو ، نو شور او غوبل ئې جوړ کړو چه زما نه په قبر کښې څه
قيمتی کاغذات لويدلې دی ، او تاسو ماته لږه دَ هغې دَ راخستو
موقع راکړئ .

په دغه خلقو کښې ورسره څو کسانو اختلاف هم اوکړو چه
اوس دَ تختو لگولو نه بعد دَ قبر کھولاؤول مناسب نه دی ، مگر دَ
هغه ډير زيات اسرار وو او خلقو ته ئې دا اووئيل کۀ چرې ما ته دا
کاغذات ملاؤ نۀ شول نو ماته به ډير زيات مالی نقصان اورسی .
غرض دا چه په دې افراتفرئ کښې دَ خاورې اړولو کار ملتوی شو . دَ ټولو
خلقو دا رائ وه چه دَ علاقې دَ مفتی نه دې مشوره واخستې شی .

چنانچه چه دَ کوم سړی معامله وه نو هغه او نور کسان دَ هغه
ځائ مفتی لـه فورًا لاړل او ورته تمامه واقعه بيان کړه . دَ مفتی
صاحب رائې دا شوه چه دَ کوم صاحب سامان په قبر کښې پريوتې دې
نو صرف هم هغه دې دَ هغه ځائ تخته اوچته کړی کوم ځائ چه ددۀ
خيال رائحی چه ددې ځائ کښې پروت دې .

دا خلق فورًا قبر ته واپس راغلل ، خلقو انتظار کولو ، دوی
ورته دَ مفتی دَ مشورې اطلاع ورکړه . آخر دا چه تمامو خلقو صاحب
معامله ته اجازت ورکړو ، چه ستاسو نه په کوم ځائ کښې سامان
لويدلې وی نو هغه ځائ کھولاؤ کړئ .

هغه کس ورته اووئيل چه ماته هغه ځائ ډير زيات ښۀ ياد دې
، زۀ ددې مړی سر طرف ته وُم چه زما نه دا کاغذونه لويدلې دی ،
چنانچه هغه کس دَ سر طرف ته يوه تخته لرې کړه ، څنگه چه ئې
خپل يو لاس قبر ته ورخکته کړو نو يوه چغه ئې اووهله او خپل لاس
ئې فورًا بهر تـه راوبهتو ، او دا ئې وئيل : .... لاس اوسوزيدو

لاس اوسوزیدو ...... په لاس مې اور اولګیدو ...... لاس اوسوزیدو ...... په لاس مې اور اولګیدو ......

خلق حیران شول چه دا څهٔ اوشو ؟ خاوره خو خلقو په قبر ورواړوله او قبر ئې بند کړو او خلق شروع شول دَ هغه لاس ئې په ښځهٔ شان سره کتلو ، په ظاهره خو دَ هغه لاس بالکل صحیح سالم وو ، او دَ سوزیدو پرې څهٔ ظاهری علامت نهٔ وو . خلقو هغه لره پوهه کولو چه روره ستا لاس خو صحیح سالم دې بیا تهٔ ولې دومره ټوپونه وهې ؟ لیکن په هغه باندې دَ هیڅ اثر نهٔ کیدو او هم هغه شان چغې سورې ئې وهلې .

په دې حالت کښې خلقو هغه لره په کټ کښې واچولو او خپل کورته ئې راوستلو ، دلته په کور کښې ئې هم هغه شان دَ چغو سورو او دَ ټوپونو حالت وو خلقو رائے ورکړه چه یو پوهه ډاکټر دې اوښودلې شي ، اتفاقًا په دغه زمانه کښې دَ هغه علاقې سرجن ډاکټر مسلمان وو ، خلقو هغه ته بوتللو .

هغوی ورله په جدید آلاتو سره دَ لاس پوره معائنه اوکړه لیکن دَ هغه په لاس باندې دَ سوزیدو څهٔ علامت نهٔ وو ، تمامه څرمن ئې تیك وه ، په رګونو کښې ئې دَ وینې آمدورفت بدستور جاری وو ، هډوکی او غوښه په خپل حالت باندې صحیح سالم وو ، مګر هغه به هم دا چغې وهلې چه لاس مې اوسوزیدو ، او په لاس مې اور اولګیدو ، دَ هغه چغو سورو او بې قرارئ ته به چا کتلې نهٔ شو ، چغې سورې

به ئې وهلې . ټول ډاکټران او سرجنان او دَ هغه تمام رشته دار او عزیزان پریشانه او حیران وو چه دا څهٔ معامله ده ؟ دغه شان درې شپې او درې ورځې تیرې شوې او ددې نه بعد بیا وفات شو .

[بحواله دارالسلام مالیر کوټله مئی ۹۳ء]

﴿ دَ دُنیا حالات دَ ګناهونو په وجه سره راځی ﴾

مونږ کاروبار پرې نهٔ ښودلو ...... دوکان مو پرې نهٔ ښودلو زمکه مو پرې نهٔ ښودله ...... بچی او ښځه مو پرې نهٔ ښودله کور او بار مو پرې نهٔ ښودلو ...... کهٔ چرې معمولې شان اور اولګی نو دَ " فائر بریګیډ انتظار کوو . کهٔ چرې په پوره محله کښې اور اولګی ، نو هر سړې بالټې اوړی او ورمنډې کوی . هر بنده دا سوچ کوی کهٔ چرې دَ فائر بریګیډ انتظار کوو ، نو تمام ښار به اور اوسوزوی اوس چونکه په تمامه دنیا کښې دَ ګناهونو اور لګیدلې دې ، هر یو بنده لره پکار دی چه منډې کړی .

هر یو کس ته به منت او زاری کول وی ...... نو هله به په خلقو کښې دَ الله تعالیٰ طرف ته رجوع پیدا کیږی ...... او کهٔ داسې نهٔ وی نو تمام اعمال داسې دی چه دَ الله تعالیٰ عذاب طرف ته دعوت ورکوی . خلق وائی چه ګرانی ده مونږ وایو شکر اوباسئ چه مونږ ژوندی یو ورنه زمونږ اعمال داسې دی چه زمکه راته اوشلیږی او مونږ په کښې ددننه ننوځو ، څهٔ چه مونږ کوو نو مونږ ددې قابل یو چه دَ آسمان بجلی راشی او مونږ اوسوزوی یا فرښتې راشی او مونږ

ته په زمکه کښې عبرتناك عذاب راکړی ...... دا خو دَ الله شکر دې
چه مونږ ژوندی یو ......
په دې وجه سره مونږ وایو چه حکومتونو پسې منډې مۀ
وهئ ...... هرتالونه مه کوئ ...... جمات ته راشئ ...... دَ الله
تعالیٰ کور ته راشئ ...... توبه اوباسئ ...... لاسونه پورته کړئ .
لکه څنګه چه دَ حضرت یونس علیه السلام قوم په سجده
پریوتلې وو ...... او الله تعالیٰ ترینه عذاب پورته کړې وو ...... دا ټول
عذاب دې ...... دَ یو بل سره نفرتونه ...... دَ یو بل قتلول او زمکه
نیول ...... ظالم حکمران ...... بددیانته ملازمین ...... بد دیانت افسر ......
دا ټول دَ الله تعالیٰ عذاب دې ...... دا عذاب به په توبې سره اوچتیږی
دَ کائنات هیڅ قوت دا نۀ شی پورته کولې ...... دَ الله تعالیٰ اوَ
هغه دَ رسول غلام جوړ شئ ...... ټولې دنیا ته دَ الله تعالیٰ پیغام
اورسوئ ...... الله تعالیٰ زمونږ نبی کریم ﷺ دَ تمام جهان دپاره رحمة
اللعالمین جوړ کړې دې .

****
****
****
**
*

باب ٦ :

﴿په مال کښې خیانت او عذابِ قبر﴾

دَ خلقو دَ مال خوړلو باندې عذابِ قبر :

حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دَ قیامت په ورځ به درې قسمه دفترونه وی . یو دفتر به هغه وی چه په هغې کښې لیکلې شوې ګناه به الله تعالیٰ نۀ معاف کوی او دا به دَ شرك ګناه وی .

دَ الله تعالیٰ ارشاد مبارك دې : بیشکه الله تعالیٰ به دَ هغه کس مغفرت نۀ کوی چاچه دَ الله تعالیٰ سره شرك کړې وی . او یو قسم دفتر به هغه وی چه په هغې دَ لیکلې شوې څیزونو فیصلې به الله تعالیٰ ضرور کوی ، او دَ فیصې نه بغیر به ئې بالکل نۀ پرېږدی . او دا به هغه ظلمونه وی کوم چه بندګانو په خپل مابین کښې په یو بل کړې وی . او الله تعالیٰ به دَ یو بل نه بدله اخلی .

او یو قسم دفتر به هغه وی چه په هغې کښې به هغه زیاتئ درج وی کومې چه به دَ الله تعالیٰ دَ احکامو خلاف ورزئ په وجه سره دَ بندګانو نه صادر شوې وی . پس ددې دفتر څیزونه به دَ الله تعالیٰ په مشیت او اراده باندې وی ، کۀ الله تعالی غواړی نو سزا به ورکوی او کۀ او غواړی نو معاف کوی به ئې . (مشکوة المصابیح ص ۱۴۳۵ از بیهقی)

﴿ په مال خوړلو باندې خوفناك وعيد ﴾

په يو حديث شريف كښې دي چه چا دَ بل كس دَ يو ليشت برابر هم زمكه په ناحقه غصب كړې وى ، نو دَ قيامت په ورځ به ددغه يو ليشت زمكې خاوره تر اوومې زمكې پورې ښار جوړ كړې شى او ددې غصب كوونكى غاړه كى به واچولې شى . (بخارى)

﴿ دَ يو ليشت زمكه په قبضه كولو باندې په كروړونو منه عذاب ﴾

په يو روايت كښې دى چه چا په يو ليشت زمكه باندې (په ناحقه) قبضه كړې وى ، دَ قيامت په ورځ چه كله هغه دَ قبر نه پورته كيږى نو دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه به حكم كولې شى چه اووۀ زمكو پورې هغه يو ليشت زمكه كنه وه ، كله چه ئې هغه اوكنوى نو دَ هغې نه چه كومه خاوره راوځى نو دَ هغې نه به يو ښار (اميل) جوړ كړې شى او دَ هغه په غاړه كښې به واچولې شى . (احمد)

او په يو روايت كښې دى كۀ چرې چا دَ بل چا زمكه په ناحقه غصب كړې وى نو تر اووۀ زمكو پورې به دې په هغه زمكه كښې ننويستې شى . (بخارى)

الله تعالىٰ دې مونږ ددې نه محفوظ كړى آمين . لهذا كله چه تر اووۀ زمكو پورې هغه زمكه ښار جوړ كړې شى او ددۀ په غاړه كښې واچولې شى نو دا په ټنونو وزن شو ، او په كوم صورت كښې

چه به هغه په زمكه كښې ننويستلې شى نو دا به څومره دردناك عذاب وى ؟ "

﴿ دَ قرض په وجه سره په شهيد باندې عذابِ قبر ﴾

دَ حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه دَ قرض نه علاوه به شهيد ته هره گناه بخښلې شى . (مشكوة ص ۱۲۵۲ . از مسلم)

فائده : مطلب دادې چه كۀ چرې يو كس دَ چا نه قرض واخستو او بيا ئې نۀ ادا كړو او نۀ ئې دَ هغې دَ ادائيگئ انتظام جوړ كړو نو باوجود ددينه چه شهادت غټه درجه ده او دَ شهيد هره گناه معاف ده مگر دَ قرض معافى به ورته نۀ كيږى ځكه چه دا دَ حقوق العباد نه دىَ . "

﴿ دَ وعده خلافئ نه ځان اوساتئ ﴾

زما دوستانو ! تا دَ قرض اخستو په وخت كښې وعده اوكړه چه صبا يا ماښام به درته رقم حواله كوم . تا وعده خلافى اوكړه او هغه دې پريشانه كړو (افسوس چه اكثر تاجران خلق داسې كوى) لهذا اوس ددې تلافى داسې ممكنه ده چه دَ هغه نه دې كوم قرض اخستې وو هغه هم ادا كړه او په ادائيگئ كښې چه مو كوم تاخير كړې وى نو دَ هغې معافى هم اوغواړئ او په دې شان سره دَ هغه دَ خوشالولو كوشش كوه .

ددې په ضمن كښې يو عرض كوم ، كه چرې تاسو دَ چا نه

قرض واخستو او دَ ادائیګئ دپاره درسره څۀ رقم نۀ وی مګر لوښی، فرنیچر وغیره سامان وی نو دا خرڅ کړئ او خپله قرضه پرې ادا کړئ. کۀ چرې ادا مو نۀ کړو او دَ چا نه مو چه قرض اخستې دې دَ هغه نه مو مهلت هم وانۀ خستو نو ستاسو به هره لمحه په ګناهونو کښی وی.

﴿ دَ دریو پیسو وبال ﴾

زما رونړو! نن صبا دې طرف ته هډو دَ چا دهیان قدرې هم نشته دې، اکثر خلق قرضه واخلی او دَ طاقت باوجود خپله قرضه نۀ ادا کوی، او بالخصوص کاروباری خلق خو قرض خواه ته ښۀ دیکې ورکوی، او بعضِ تاجران خلق خو په خپلې چالاکئ سره دَ خلقو قرضې بالکل هیره وی یا دَ طاقت او دَ زور په ذریعې سره دهمکی ورکوی ورته وائی کۀ چرې تاکښی طاقت وی نو تۀ زما نه خپل قرض وصول کړه.

یاد ساتئ! څوك چه په دنیا کښی په دوو دریو پیسو باندې ناجائز قبضه کوی، نو دې به دَ قیامت په ورځ هغه ته ددې په بدله کښی اووۀ سوه باجماعت مونځونه ورکوی. کله چه ددۀ سره نیکئ باقی پاتې نۀ شی نو دَ هغه (قرض خواه) ګناهونه به راخستې شی او ددۀ په سر به انبار کولې شی او په اور کښی به اوغورځولې شی. دا حکم عدل دې او الله تعالیٰ حقوق العباد بالکل نۀ معاف کوی ترڅو چه ئې هغه بنده خپله معاف نۀ کړی.

په چا چه قرض دې نو په هغه باندې دا فرض دی چه هغه په حال رحم اوکړی او ځان دې دَ قرض نه پاك کړی. مرګ دې لرې نۀ ګڼړی. دَ اور عذاب به ښکل وی.

هر کله چه تقریبًا دَ دریو پیسو دا وبال دې نو کوم خلق چه په لاکهونو او کروړونو روپو باندې خیټه اچوی نو چه دَ هغوی به لا څۀ حال وی؟ او ظاهره خبره چه په جمعې سره کړې مونځونه به ورکوی چه کوم قبول شوې وی. او آه! مونږ ته دا هم معلومه نۀ ده چه آیا زمونږ مونځونه قبول دی یا نۀ؟.

﴿ دَ عبادت سره سره دَ حقوق العباد په اهتمام نۀ کولو باندې عذاب قبر ﴾

حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله په خپل کتاب احوال القبور کښی لیکلې دی چه یو صاحب وئیلې دی چه ما په خپله زمکه کښی کار کولو. یوه ورځ چه دَ ماښام په وخت کښی زۀ خپل کور طرف ته روان وُم نو هم په لاره کښی په ما باندې دَ ماښام وخت راغې. په لاره کښی نزدې یوه مقبره وه، ما اراده اوکړه چه دَ ماښام مونځ هلته مقبره کښی اوکړم. چنانچه زۀ او زما یو دوو ملګرو دَ ماښام مونځ هلته کښی اوکړو، او دَ ماښام مونځ مو چه اوکړو نو دَ ماسخوتن معمولات او تسبیحات مو هم هلته کښی پوره کولو.

او هر جله چه په مزه مزه باندې تیارۀ خوره شوه نو چانك ما بر هیبتناك آواز واوریدو، چه ددې په وجه سره زۀ اوېریدم، ما اخوا

دیخوا اوکتل خو هیڅ په نظر رانغلل . لږ وخت وخت بعد بیا دَ " هائے هائے " آواز راغې ، کله چه ما دَ آواز طرف ته پوره دهیان اوکړو نو هغه آواز دَ قبر نه راتللو ، زهٔ قبر خوا ته ورغلم . او پخپل غوږ مې د قبر سَره اولګوو نو دَ قبر نه دَ هائے هائے آواز سره دا آواز هم راتللو چه " قد کُنتُ اصلی وقد کنت اصوم " (ما خو به مونځ کولو ، او ما به روژه نیوله . ") بیا ماته دا سزا ولې راکولې شی ؟

او دا آواز دومره دردناك وو چه زهٔ ئې بالکل بیانولې نهٔ شم . بیا زهٔ دَ هغه قبر نه پاسیدم او زما سره چه نزدې کومو دوو ملګرو مونځ کولو ، هغوی مې راوبلل او دَ ځان سره مې دې قبر ته راوستل او ورته اووئیل چه دا آواز خو لږ واورئ ، چه آیا دا واقعی آواز دې او کهٔ زما دَ ذهن خلل دې . هر کله چه هغوی غوږ کیخودو نو هغوی هم دا آواز واوریدو ، هغوی راته اووئیل چه دا بالکل واقعی آواز دې ، دا ستا دَ دماغو خلل نهٔ دې .

بهر حال مونږ خو په دغه ورځ زر تر زره خپل معمولات پوره کړل او واپس لاړو ، بیا په بله ورځ هم دَ ماښام دَ مونځ دَ ادا کولو دپاره هم دې مقبرې ته راغلو ، او دا سوچ مې اوکړو چه زهٔ لاړشم چه هغه آواز واورم ، چه آیا هغه آواز به نن هم وی او که نهٔ . چنانچه نن چه بیا مقبرې ته لاړو نو اول مو دَ ماښام مونځ اوکړو او بیا په خپلو معمولاتو کښې مشغول شوم ، بیا هم هغه شان دَ قبر نه آواز راتلو لکه څنګه چه په اوله ورځ وو.

زهٔ لاړم او دَ قبر دَ پاسه مې غوږ کیخودو نو هم هغه الفاظ مې واوریدل ، کوم چه مې په اوله ورځ اوریدلې وو . لهذا ماته یقین راغې چه دې مړی ته دَ قبر عذاب کیږی بیا چه هر کله دَ هغه ځائ نه واپس شوم نو په ما باندې شدید خوف طاری شو او دَ ویرې په وجه سره زما پوره دوه میاشتې تبه وه .

علامه ازرقی رحمه الله روایت کوی چه دَ کعبې شریف کنجی چه دَ کوم قوم سره ده ، دَ هغوی نه یو کس قریب الموت (مرګ ته نزدې شو) نو څو څو ورځو پورې په هغه باندې دَ جان کنی حالت طاری وو ، یعنی هغه دَ مرګ او دَ ژوند په کشمکش کښې وو ، یوه ورځ ترینه پلار پوښتنه اوکړه چه بچیه ! ستا په ذمه خو دَ کعبې دَ مال نه څهٔ څیز نشته دې ؟

هغه ورته اووئیل : آو جی . څلور سوه درهمه زما په ذمه دی دَ هغه پلار دَ څو کسانو په وړاندې دا وعده اوکړه چه اې الله زهٔ دا څلور سوه دیناره ادا کوم تهٔ زما په ځوی باندې رحم اوکړې . چنانچه دَ هغو روح فوراً پرواز اوکړو او وفات شو .

﴿ دَ لسو دینارو په وجه سره عذابِ قبر ﴾

دَ شهر بن حوشبؒ نه منقول دی چه دَ حضرت صعب بن جثامهؓ او عوف بن مالكؓ په درمیان کښې دوستی وه . یوه ورځ حضرت صعبؓ دَ حضرت عوف بن مالكؓ نه عهد واخستو کهٔ چرې په مونږ کښې کوم یو مخکښې مړ شو نو هغه دې خپل ملګری ته

ضرور په خوب کښې راشي .

حضرت عوف ترینه پوښتنه اوکړه چه آیا داسې ممکن ده ؟ هغوی ورته جواب ورکړو آو . اتفاقًا د حضرت صعب خپله انتقال اوشو (وفات شو) ، چه هغه خپله معاهدې والا وو ، د وفات نه روستو په اولنۍ شپه کښې په خوب کښې حضرت عوف بن مالک له د ملاقات دپاره راغې .

حضرت عوف بن مالک ترینه تپوس اوکړو چه حالت دربانده څنګه تیر شو ؟ د الله تعالیٰ په وړاندې پیشی څنګه اوشوه ؟ حضرت صعب رضی الله عنه ورته اوفرمائیل چه د ډیرې سختې مشکلئ او دُشوارئ نه بعد نجات ملاؤ شو . خبرې کیدې کیدې نو حضرت عوف بن مالک اولیدل چه د هغه په ګردن باندې د سوزیدو داغ لګیدلې دې . هغوی د حضرت صعب نه تپوس اوکړو چه دا د سوزیدو داغ څنګه دې ؟ حضرت صعب ورته اوفرمائیل چه په اصل کښې ما د ضرورت دپاره د یو یهودی نه لاس دیناره قرض اخستې وو ، او هغه قرض لا تراوسه پورې ما نۀ وو ادا کړې چه مرګ راغې .

د هغه لسو دینارو د نۀ ادا کولو په وجه سره په هغې سره ماته داغونه راکړې شو ، دا تور داغ چه تۀ وینې نو دا د هغه داغونو نشان دې . هغه لس دیناره اوس هم زما په کور کښې زما په ترکش کښې دننه پراتۀ دی ، تۀ سحر وختی زما کور ته لاړ شه او هغه لاس دیناره واخله او فلانکی کس ته ئې ورکړه ، ددې دپاره چه زما دا تکلیف ختم

شي .

﴿ د تکلیف په وجه سره خپلې ګوتې په خُلۀ کښې چیچل ﴾

دغه شان حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه دا هم اولیدل چه د حضرت صعب په ګوتو باندې کپړا تاؤ شوې ده . او داسې معلومیده چه د هغه ګوتې دننه ډیرې زخمې دی . هغوی ترینه تپوس اوکړو چه ستاسو په دې ګوتو څۀ شوې دی ؟ هغوی ورته جواب ورکړو چه په کوم تکلیف کښې زۀ مړ شوم ، هغه تکلیف دومره سخت وو چه د هغې د شدت په وجه سره ما خپلې ګوتې په خُلۀ کښې اوچیچلې او د هغې نه بعد بیا د الله تعالیٰ په حضور کښې پیشی اوشوه نو الله تعالیٰ اوفرمائیل : چه کوم څیز تا په خپله خراب کړې دې نو هغه مونږ نۀ درست کوو . ما دا ګوتې په دې وجه سره پټې کړې دی کۀ چرې تاسو دا اولیدې نو تاسو ته به هم تکلیف وی .

﴿ د رسول الله ﷺ د دُعا برکت ﴾

حضرت عوف بن مالک رحمه الله فرمائی چه کله صبا شو نو سحر وختی زۀ د هغوی کور ته لاړم ، او د هغوی نه مې ترکش اوغوښتو ، نو په هغې کښې واقعی لس دیناره وو ، او تقریبًا چه هغه دینارونه استعمال شوې هم نۀ وو ، ما هغه دینارونه واخستل او د

هغه قرضه مې خلاصه کړه او بيا دَ هغې نه روستو دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او دَ خوب تمامه واقعه مې ورته واوروله ، او ورته مې اووئيل : چه دَ هغوی قرضه خو مې ادا کړه ليکن دَ هغوی ګوتو ته تکليف ډير زيات دې ، لهذا تاسو دُعا اوکړئ .

چنانچه رسول الله ﷺ خپل لاسونه مبارك پورته کړل او دَ هغوی دپاره ئې دُعا اوکړه : يا الله ! دَ هغه مغفرت اوکړې . په بله ورځ چه زۀ کله اودۀ شوم نو حضرت صعب رضی الله عنه بيا په خوب کښې راغې ، او اوس دَ هغه په مرئ باندې داغ هم ختم شوې وو او ګوتې ئې هم صحيح سالم وې . (عالم برزخ وابن ابی الدنيا بتصرف)

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

باب ٧ :

﴿ دَ دنيا په محبت باندې عذابِ قبر ﴾

هيبت ناك شكل او صورت :

دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه هغوی اوفرمائيل : دنيا به دَ قيامت په ورځ د شنو سترګو ، بېر ويښتانو والا دداسې بوډئ په شکل کښې راوستې شی چه داړې به ئې بهر ته راوتې وی او نهايت بدصورته به وی . څوك چه هم ورته ګوری نو بدی به ئې شی ، او هغه به مخلوق ته دَ بره نه ګوری . خلقو نه به وئيلې شی چه تاسو دا پيژنئ ؟ خلق به وائی چه مونږ ددې دَ پيژندلو نه په الله تعالیٰ سره پناه نيسو .

ارشاد به اوشی چه دا هغه دنيا ده په کومه چه به تاسو فخر کولو ، دَ کومې په وجه سره چه به تاسو قتل او غارت کولو . په يو روايت کښې دی چه دَ هغې په باره کښې حکم اوکړې شی او دَ دوزخ په اور کښې اوغورځولې شی . هغه به وائی اې ربه ! زما پيروکار او ملګری کوم ځائ دی ؟ چنانچه هغوی به دَ دنيا سره شامل کړې شی .

دَ حضرت عيسیٰ بن مريم عليه السلام نه مروی دی چه : په تاسو تعجب دې چه ددنيا دپاره محنت کوئ حال دادې چه تاسو په دې کښې بغير دَ کوشش کولو او محنت کولو نه رزق درکولې شی ، او تاسو دَ آخرت دپاره کوشش او محنت نۀ کوئ حالانکه بغير دَ عمل نه

هلته کښې هيڅ نۀ ملاوېږي ."

﴿دَ دنيا دارو سره په محبت کولو باندې عذاب قبر﴾

حضرت عيسىٰ عليه السلام په يو کلی باندې تير شو چه په هغې کښې ئې تمام خلق مړۀ اوليدل ، هغوی په لارو کوڅو کښې پرمخې پراتۀ وو . حضرت عيسىٰ عليه السلام په هغوی بطاندې ډېر زيات تعجب اوکړو او وې فرمائيل : اې زما خالصو دوستانو ! دا تمام خلق دَ الله تعالىٰ په عذاب او غضب کښې دی ، کۀ چرې دوی دَ الله تعالىٰ په رضامندئ کښې مړۀ شوې وو نو دوی به يو بل لره دفن کړې وو . هغوی عرض اوکړو اې روح الله ! مونږ غواړو چه ددوی قضه او قصه معلومه کړو . نو حضرت عيسىٰ عليه السلام دَ الله تعالىٰ نه دُعا اوغوښتـه ، الله تعالىٰ دَ هغوی طرف ته وحی نازله کړه چه کله دَ شپې وخت وی نو دوی ته به آواز اوکړې ، نو دوی به جواب درکړی .

کله چه شپه شوه نو حضرت عيسىٰ عليه السلام په يو اوچت او بلند ځائ باندې اوختلو او آواز ئې اوکړو اې کلی والو ! نو دَ هغوی نه يو کس جواب ورکړو "لبيك يا روح الله ! حضرت عيسىٰ عليه السلام ورته اوفرمائيل ستاسو قصه څۀ ده ؟ ستاسو څۀ واقعه ده ؟ هغه عرض اوکړو اې روح الله ! دَ شپې مونږ په عافيت سره اودۀ شو ليکن دَ صبا په وخت کښې مونږ دَ الله تعالىٰ په عذاب کښې گير شو . تپوس ئې ترينه اوکړو چه داسې ولې اوشو ؟ عرض ئې اوکړو، دا په دې وجه سره چه مونږ به له دُنيا سره محبت کولو ، او دَ بدکارو

فرمانبرداری به مو کوله .

حضرت عيسىٰ عليه السلام ورته اوفرمائيل چه دَ دنيا سره مو محبت څنگه وو ؟ هغه عرض اوکړو لکه څنگه چه مور دَ خپل بچی سره محبت کوی کله چه به مخې ته راغله نو خوشاله به شو ، او کله چه به دنيا لاړه نو مونږ به ژړل . حضرت عيسىٰ عليه السلام اوفرمائيل : اې فلان ! ستا په ملگرو څۀ اوشو . هغوی جواب ولې نۀ ورکوی ؟ هغه ورته عرض اوکړو ، چه هغوی ته دَ طاقتور سختو فرشتو په لاسونو سره دَ دوزخ واگی پراتۀ دی .

عيسىٰ ورته اوفرمائيل چه بيا تا ماته څنگه جواب راکړو تۀ خو هم دَ هغوی نه ئې ؟ هغه ورته اووئيل چه زۀ خو په دوی کښې وُم ، ليکن زۀ له دوی نه نۀ يم . کله چه په دوی عذاب راغې نو له دوی سره په ما باندې هم عذاب راغې . زۀ په دې وخت کښې دَ دوزخ په غاړه باندې زوړند کړې شوې يم . ماته پته نشته دې چه آيا ماته به ددې نه نجات راکولې شی يا به په دې کښې غورځولې شم .

" الله تعالىٰ دې مونږ ټولو ته ددې نه نجات رانصيب کړی ، او الله تعالىٰ دې زمونږ حفاظت اوکړی . آمين "

﴿دَ دنيا محبت دَ مرگ په وخت کښې پرې کفر اوکړو﴾

يو زميندار به بار بار دا معلومات کول چه ميښې ته گياه اچولې شوې ده ؟ دا شکايت چه کله دَ هغه رشته دارو ماته اوکړو نو زۀ

پو هـه شـوم چـه دا دَ هغه آخری وخت دې ځکه چه دَ هغه تمام عمر دَ میښـې او دَ ګناه سره تیر شـوې دې ، پـه دې وجه سره هم هغه څیز دَ هغه مخې ته راغې ، او دَ کلمې دَ نعمت نه محروم شو .

﴿ دَ کلمې نه محروم وکیل ﴾

دَ ملتان یـو وکیـل چـه هغـه زما زیرِ علاج وو ، زما پـه وارډ کښـې داخل شو ، څو ورځې روستو دَ هغه رشته داو ماته اووئیل چه هغه هر وخت دَ شُفعې خبره کوی . زۀ چه کله هغه ته نزدې ورغلم نو هغـه ښـی طرف بدل کړو او تپوس ئې اوکړو چه دَ شفعه نمبر ۱۰ څۀ اوشو . بیا ئې چپ طرف بدل کړو او تپوس ئې اوکړو چه دَ شفعه نمبر ۳ څۀ اوشو ؟ او لږ وخت بعد هغه دَ دنیا نه رخصت شو .

﴿ دَ ګناهونو په کثرت باندې دَ مرګ په وخت کنځل ﴾

یـو مریض چه زما په وارډ کښې وو ، دَ هغه مرض فوراً سخت شو ، مـا چـه دَ هغـه معائنه اوکړه نو نرس ته مې حکم اوکړو چه ورته تیکه اولګوی ، کله چه نرس تیکه اولګوله ، نو هغې ته ئې ډیر زیات ګـنده کنځل اوکړل ، دَ دویمې تیکې لګولو نه نرس انکار اوکړو ، نو ما اولـګـولـه ، دَ تیـکې لګولو نه فوراً بعد هغه ماته سخا او ګنده کنځل اوکړل ، او لږ وخت تیر شوې نۀ وو چه هغه مړ شو . معلومه دا شوه چـه کنځل کول دَ هغه تکیه کلام وو (یعنی دَ هغه عادت وو) کله چه بـه هـم دَ چا سره مخاطب شو نو کنځل به ئې ورته اوکړل ، ددې عادت پـه وجـه سره ورته دا څیز په آخری وخت کښې هم نصیب شو . (ماو په

کنځلو کنځلو کښې ترینه ساه اووتله .)

﴿ دَ مرګ په وخت کښې دَ ګانو اوریدلو شوق ﴾

یو نوجوان دَ زړۀ بیمار وو ، او زما زیرِ علاج وو ، کله چه به هم زۀ دَ هغه دَ معائنې دپاره لاړم نو ریډیو به دَ هغه سره پروت وو او دَ ګانو په اوریدو کښې به مشغول وو . ماته پته وه چه دا لاعلاج مرض دې ، ما ورته دَ قرآن لوستلو ترغیب ورکړو نو هغه راته اووئیل چه زۀ دَ حافظِ قرآن یم ، او ګانې هم اورم ، او قرآن مجید هم لولم ، ماترینه تپوس اوکړو چه تۀ کوم یو کار ډیر کوې ؟ نو هغه اووئیل ګانې ډیرې اورم . کله چه هغه مړ کیدلو نو دَ لوبو آواز راتلو ، او دَ کلمې توفیق ورته نصیب نۀ شو .

هائے څومره بد نصیبی ده چه دَ الله تعالیٰ کلام ئې دَ ګانو نه کمتر ګنړلو نو دَ مرګ په وخت کښې دَ کلمې دَ نعمت نه محروم شو .

﴿ په سَلو مریضانو کښې صرف دریو ته کلمه نصیب شوه ﴾

دَ ډاکټر نور محمد وینا ده چه بطورِ ډاکټر ما تقریباً سَل مسلمانان لیدلې دی چه هغوی زما په وړاندې مړۀ شوې دی ، او ما دا جستجو او تلاش کولو چه ددې مړی آخری الفاظ به څۀ وی . په سَلو کسانو کښې صرف دریو کسانو ته په آخری وخت کښې کلمه نصیب شوه ، ددې نه علاوه نورو ټولو به دَ دنیا خبرې اترې کولې او مړ به شو

، مثلًا چا به څهٔ څیز غوښتلو ، چا به ګانې وئیلې ، چا به دَ فلمي اداکارانو نومونه بار بار اخستل ، او چا به ریډر ډائجسټ غوښتلو ، او چا به دَ شُفعې او دَ زمینداریٔ دَ معاملاتو ذکر کولو .

﴿ په قبر کښې تور مار ﴾

حضرت خواجه محمد دَ بنده نواز ګیسودراز په ملفوظاتو کښې لیکلې دی چه یوه ورځ ما یو درویش په یو ځائ کښې دَ یو بزرګ دَ باطنی ملاقات دپاره اولیګلو ، او ورته ئې اووئیل چه کوم څهٔ هلته کښې اووینی نو ماته ئې اووایه . هغه درویش هلته کښې لاړو ، نو وې لیدل چه یو ډیر لوی باعظمت بزرګ دې ، لیکن دَ هغه په قبر کښې یو ډیر لوی تور مار هم موجود دې . ما ترینه تپوس اوکړوې حضرت ! ددې بزرګیٔ او عظمت باوجود دا دومره لوی مار په قبر کښې ولې موجود دې ؟

هغه ورته جواب ورکړو چه څهٔ اوکړم الله تعالیٰ په کثرت سره ماله مال او دولت راکړې وو لیکن ما هغه بے ځایه خرچ کړو ، اودَ هغې ماته دا جزاء ملاؤ شوه چه دا مار زما مصائب جوړ کړې شوې دې . ترڅو چه زهٔ په دې قبر کښې یم نو دا مار به زما سره موجود وی . سبحان الله ! ددې حقائق ومعارف او مقامات ومراتبِ قرب باوجود دا بلا هم نازله کړې شوې وه .

﴿ درې خوفناك قبرونه ﴾

مولانا طارق جمیل صاحب فرمائی : زمونږ دَ قریبی کلي

واقعه ده ، هلته کښې یو جاګیردار مړ شو دَ هغه دپاره قبر تیار کړې شو نو قبر دَ تورو لړمانانو نه ډك شو ، هغه بند کړې شو ، او بل ځائ کښې قبر اوکنِستلې شو ، هغه هم دَ لړمانانو نه ډك شو ، تردې پورې چه درې قبرونه تیار کړې شو مګر په درېو واړو کښې لړمانان راووتل ، دا دَ زمکې لړمانان نهٔ وو بلکې دا دَ هغه دَ بد اعمالو لړمانان وو ، دا کله کله الله تعالیٰ پرده لرې کړی او خلقو ته ئې ښائی .

دغه شان مونږ ټولو ته الله تعالیٰ فرمائی چه لږ په احتیاط سره ګرځئ ، دَ ټولو نه لوی محسن (نیکو کار) نن صبا څوك دې چه هغه دهٔ لره دَ دوزخ نه بچ کړی ، هغه محسن نهٔ دې چه هغه په روټئ جنګ کوی ، په زمکه جنګ کوی ، په کپړا باندې جنګ کوی ، محسن هغه دې چه هغه دنیا والا دَ دوزخ نه بچ کړی ، تبلیغ دنیا لره دَ جهنم نه دَ بچ کولو دَ محنت نوم دې ، دا زمونږ په نوم لیکلو سره لازم نهٔ دې ، دَ ختم نبوت عقیده چه کله په زړهٔ کښې قرار اونیسی نو له دې سره سره دَ تبلیغ ذمه داری هم راغله ، کهٔ چرې زمونږ په ذمه نهٔ شی نو دَ مسلمانانو په ذمه به نه وی نو بیا تاسو اوښایئ چه دَ چا په ذمه به وی . ؟

﴿ دَ چینجو نه ډك جسم ﴾

حضرت دین پوریؒ فرمائی چه یو زهٔ یو ځل بلوچستان طرف نه دَ تقریر دپاره تلم ، لوی لوی ویښتهٔ ، او ډیر خطرناك بریتان ، ما په لاره کښې پولیس اولیدو ، لاشونه پراتهٔ وو . ما تپوس اوکړو دا څهٔ دی ؟

نو وې وئيل چه دا خلق ډاكوانو وژلي دي او تښتيدلې دي ، يوه مياشت بعد پته اولګيده نو دوی نن راويستلې شو او په جسمونو كښې ئې چينجي شوې وو ، ما په خپلو سترګو سره اوليدل ، دومره چينجي وو چه وجود په كښې په نظر نۀ راتلو . ما اووئيل چه واقعي دَ الله تعالیٰ عذاب برحق دې ، ددې ځایٔ نه شروع كيږي ، پته نشته دې چه دا به کوم قسم خلق وو ، چه دَ هغوی وجودونه چينجو خوړلې وو الله تعالیٰ دې مونږ دداسې حال محفوظ اوساتی . آمين .

﴿ دَ دنیا محبت هر څیز خوفناك اوګرځولو ﴾

ابو اسحاق فزاری فرمائی چه يو كس به اكثر زما سره ناست و او خپل نيم مخ به ئې پټ ساتلو . ما ورته يو ورځ اووئيل چه تۀ مونږ سره اكثر كيني او تا نيم مخ پټ كړې وی دا څۀ وجه ده ؟ هغه كس اووئيل چه تۀ عهد اوكړه چه دا به بل چاته نۀ وائې . ما ورته ووېل زۀ عهد كووم . هغه اووئيل چه ما به كفنونه پټول . يوه ورځ يوه ښځه دفن كړې شوه نو زۀ دَ هغې قبر ته اورسيدم او هغه مې كهولاؤ كړو او كله چه قبر كهولاؤ شو نو ماترينه كفن راښكلو نو هغه ما په راښكلو سره رانۀ ښكلې شو .

آخر ما دواړه پنډیٔ په زمكه اولګولې او بيا مې راښكلو ، نو دې سره هغه ښځې لاس پورته كړو او زۀ په مخ په څپيړه اووهلم بيا چه كله ما خپل مخ ته اوكتل نو په هغې باندې دَ هغې دَ پنځۀ واړو ګوتو نشان جوړ شوې وو ، ما ورته اووئيل بيا تا څۀ اوكړل . هغه

اووئيل چه بيا ما په هغې باندې څادر وغيره هم هغه شان ټيك كړل او قبر مې دوباره پټ كړو او خاوره مې پرې واړوله ، او دَ خپل ځان سره مې دا عهد اوكړو چه كله به هم قبر نۀ كهولاؤوم .

وائی چه بيا ما اوزاعی ؒ ته دا قصه اوليكله نو هغوی په جواب كښې راته دا اوليكل چه دَ هغه نه تپوس اوكړه چه تا كم بخت به داسې مړو سره هم داسې معامله كوله كوم چه اهلِ توحيد وو او دَ هغه مخ به قبلې طرف وو . ما دَ هغه نه تپوس اوكړو ، نو هغه اووئيل چه دَ اكثرو مخ به دَ قبلې نه اوړيدلې وو . ما بيا هم دا اوزاعی ؒ ته اوليكل . هغوی ماته په جواب كښې دړې ځكه دا اوليكل : " انا لله وانا اليه راجعون " ياد ساتئ چه دَ چا مخ دَ قبلې نه اوړيدلې وو نو هغوی هم دَ دين مخالف مړ شوې وو .

★★★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

☆

باب نمبر ۸ :

﴿ ټی وی او عذابِ قبر ﴾

کورته په ټی وی راوړلو باندې عذاب قبر :

په عربو کښې دوه باعمله دوستان اوسيدل يو په رياض او بل په جده کښې ، رياض والا دوست مړ شو ، يوه ورځ جدې والا دوست رياض والا دوست په خوب کښې اوليدو چه هغه په عذاب کښې مبتلاء دې ، دۀ ترينه دَ عذاب دَ سبب په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه مرحوم ورته اووئيل ، زما دَ فِلمونو او دَ ډرامو سره اګر چه نفرت وو مګر دَ خپلو بچو په اسرار سره ما دَ هغوی دپاره ټی وی واخستو او کورته مې راوړو .

آه ! دَ کله نه چه زۀ مړ شوې يم نو ددې ټی وی په سبب سره زۀ په عذاب کښې مبتلا شوې يم . هائے هغوی مزې اخلی فِلمونه او ډرامې او پروګرامونه ګوری او زۀ په قبر کښې په عذاب کښې مبتلا يم . روره ! لږه مهربانی اوکړه ! په ما باندې ترس اوکړه او زما کور والا پوهه کړه چه هغوی دکور نه ټی وی لرې کړی . کله چه صبا شو نو جدې والا دوست ته دا خوب رایاد نۀ شو ، په بله شپه ئې هم هغه شان خوب اوليدو چه په هغې کښې ددۀ هغه مرحوم دوست چغې سوری وهلې ، او دۀ ته ئې وئيل چه تۀ زمونږ دَ کور نه زر تر زره ټی وی لرې کړه .

چنانچه هغه په هوائی جهاز کښې په تيزئ سره رياض ته لاړو ، تمام کور والا ئې راجمع کړل او هغوی ته ئې خپل خوب ئې ورته واورولو ، دا چه هغوی څنګه واوريدل نو په ژړا شول ، مشرې ځوی ئې په جذباتو کښې راغې او پاسيدو او ټی وی په زوره سره زمکې ته راګوزار کړو ، ټی وی دانه وانه لاړو ، او هغه په کور کښې اعلان اوکړو چه انشآء الله دَ نن نه پس به زمونږ کور ته کله هم دا منحوس ټی وی نۀ داخليږی ، دَ هم دې په وجه سره زمونږ خوږ ابو جان په عذاب کښې دې.

جدې والا دوست چه کله دَ شپې اودۀ شو نو هغه بيا هغه مرحوم دوست په خوب کښې اوليدو ، هغه مرحوم دوست ئې په خندا او خوشالئ کښې اووئيل چه کله زما ځوی هغه ټی وی زمکې ته راګوزار کړو نو الحمد لله په هم هغه وخت زما نه عذاب لرې شو .

﴿ دَ قبر نه دَ اور شُعله ﴾

مولانا درخواستی فرمائی ، ما اوليدل چه دَ قبرونو نه دَ اور شُعلې ختلې ، مونږ په قبرونو کښې لړمانان اوليدل ، دَ قبر عذاب حق دې . زمونږ آقا ﷺ په ګوتو کښې ګوتې واچولې اووې فرمائيل : چه لکه څنګه زۀ محمد ﷺ ګوتې په ګوتو کښې اچوم نو دغه شان په قبر کښې په عذاب سره پښتئ په يو بل کښې ننوځی .

حضور ﷺ اوفرمايل : کۀ چرې مړې دَ قبر نه راپورته شی او دَ قبر حال بيان کړی نو خلق به په دنيا کښې مړی دفن کول پريږدی .

" الله تعالیٰ دې مونږ ټول دَ قبر دَ عذاب نه اوساتي . آمین ."

﴿ ټی وی کتل ، او دَ هغې دَ فیشن اختیاروالو والا ښځې انجام ﴾

په ټی وی ، فِلمونو ، ودونو وغیره کښې بې پردې راتلو نکې او دَ میك اپ شوقین ښځې دې ددې واقعې نه عبرت حاصل کړي .

دا واقعه په ګلګت کښې پیښه شوې وه چه یو کس په قبرستان باندې تیریدلو ، چه هغه دَ قبر نه آواز واوریدو چه وئیل ئې ما اوباسئ ، ما اوباسئ زهٔ ژوندئ یم . کله چه یو ځل دوه هغه دآواز واوریدو نو هغه دا اوګڼرله چه دا زما وهم او خیال دې څهٔ آواز نهٔ راځي ، لیکن هرکله چه هغه مسلسل دا آواز واوریدو نو هغه ته یقین راغې ، چنانچه نزدې یو کلي وو نو هغه خلقو ته ددې آواز په باره کښې اطلاع ورکړه چه تاسو هم لاړ شئ او هغه آواز واورئ . چنانچه څو کسان دَ هغه سره لاړل نو هغوی هم هغه آواز واوریدو نو ټولو دا یقین اوکړو چه واقعی دا آواز دَ قبر نه راځي .

اوس دَ یقین راتلو نه بعد خلقو ته دَ مسئلې تپوس کولو فکر شو چه اول دَ علماءِ کرامو ه دې تپوس اوکړې شي چه آیا قبر کهولاؤول جائز دی یا نهٔ . چنانچه هغه خلق دَ محلې امام ته ورغلل او هغوی ته ئې اووئیل چه دغه شان دَ قبر نه آواز راځي چه ما دَ قبر نه اوباسئ زهٔ ژوندئ یم . امام صاحب ورته اووئیل کهٔ چرې تاسو ته دَ هغې دَ ژوندې کیدو یقین وی نو قبر کهولاؤ کړئ او هغه ترینه بهر ته

راوباسئ .

چنانچه هغه خلقو همت اوکړو او قبرستان ته لاړل ، هغه قبر ئې کهولاؤ کړو اوس چه ئې څنګه تختې لرې کړې نو وې کتل چه هغه ښځه بربنډه ناسته ده او دَ هغې کفن ځیرې شوې وو او هغه ښځه وائی چه تیزی کوئ ماله دَ کور نه کپړې راوړئ . چنانچه دا خلق فورًا لاړل او او کپړې وغیره ئې راوړې او قبر ته ئې وراوغورځولې ، هغه ښځې کپړې واچولې او څادر ئې دَ ځان دپاسه واچولو او بیا په تیزئ سره دَ خپل قبر نه راووتله او بیا په تیزئ سره خپل کور طرف ته لاړه ، او کمرې ته چه څنګه ننوتله نو ځان پسې ئې دروازه بنده کړه .

کوم خلق چه قبرستان ته تلې وو نو هغوی هم دَ هغې کور ته منډې کړې او اوس ورته معلومه شوه چه هغه کمرې کښې ده او ځان پسې ئې دروازه بنده کړې ده . هغه خلقو ورته دروازه اوټکوله ، نو هغې جواب ورکړو چه زهٔ خو دروازه کهولاؤوم خو دننه کمرې ته دې صرف هغه کس راشی څوك چه زما دَ لیدو طاقت لری ، ځکه چه په دې وخت کښې زما حالت داسې دې چه هر کس ما اووینی نو برداشت کولې نهٔ شی ، لهذا مضبوط زړهٔ والا کس دې کمرې ته راشی او زما حالت دې اووینی . اوس تمام خلق کمرې ته دَ داخلیدو نه یریدل ، مګر دوه څلور کسان چه مضبوط او قوی زړهٔ والا وو ، هغوی اووئیل چه ته خو کونډهٔ کهولاؤ کړه چه مونږ دننه درشو . چنانچه هغې کونډهٔ کهولاؤ کړه او دا خلق دننه ورغلل .

کومې ښځې چه ټي وي فلمونو او په عامه زندګئ کښې کهولاؤ سر ګرځی او تاویږی نو دَ هغوی حشر اوس اووینئ، دننه په کمره کښې هغه ښځې ځان په ځادر کښې پټ کړې وو کله چه دا کسان دننه داخل شو نو هغه ښځې دَ ټولو نه اول خپل سر کهولاؤ کړو نو هغه خلقو اولیدل چه دَ هغې په سر باندې یو ویښتهٔ هم نهٔ وو هغه بالکل خالی کوپړئ وه، نهٔ په هغې باندې ویښتهٔ وو او نهٔ څرمن بالکل صرف هډوکی وو، هغه خلقو ترینه تپوس اوکړو چه ستا ویښتهٔ څهٔ شول؟ هغه ښځې جواب ورکړو چه کله زهٔ ژوندئ وُم نو کهولاؤ سر به دَ کور نه بهر وتلم، بیا دَ مرګ نه بعد کله چه زهٔ په قبر کښې دفن کړې شوم نو فرشتو زما دَ سر نه یو یو ویښتهٔ راښکلو او دَ هغې راښکلو په نتیجه کښې به ورسره زما دَ سر نه څرمن هم وتله. په دې وجه سره اوس زما په سر نهٔ ویښتهٔ شته او نهٔ څرمن.

اوس دې لږ فِلمی، ټی وی اداکاره، ګلوکاره، فنکاره ددې واقعې نه عبرت حاصل کړی چه دوی سر تور سَر دَ تمامې دُنیا په مخکښې راځی، او ددې نه علاوه هغه تمام ښځې کومې چه په کورونو کښې، کوڅو او بازارونو کښې، پارکونو کښې، په فائیو سټار هوټلونو کښې، په سالګره او ودونو کښې او محفلونو کښې بربنډ سر ګرځی راګرځی، هغوی دې لږ په خپل انجام سوچ اوکړی او ددې واقعې نه دې سبق واخلی او آئنده دپاره دې دَ بربنډ سر اوسیدو نه توبه اوکړی.

﴿دَ ناخُن پالش لګولو والا ښځې خوفناك حشر﴾

دَ هغې نه بعد هغه ښځې خپل مخ کهولاؤ کړو کله چه خلقو دَ هغې مخ ته اوکتل نو هغه دومره خوفناك شوې وو چه سوا دَ غاښونو نه هیڅ په نظر نهٔ راتلل، نهٔ بره شونډه موجود وه او نهٔ لاندینئ شونډه، بلکې دوه دیرش غاښونه سره دَ جړو په نظر راتلل، لږ غور اوکړئ چه دَ یو انسان صرف او صرف غاښونه په نظر راځی نو هغه چه څوك اووینی نو څومره به ویریږی. اوس دې خلقو ددې ښځې نه تپوس اوکړو چه ستا شونډې څهٔ شوې؟

هغه ښځې اووئیل چه ما به په خپلو شونډو باندې سُرخی پورې کوله یعنی لپ سټك به استعمالولو او دَ نامحرم سړو په وړاندې به ګرځیدم، دَ هغې دَ سزا په نتیجه کښې زما شونډې نشته دې. اوس دې هغه ښځې لږ غور اوکړی کومې چه سُرخی اولګوی او په ټی وی کښې په خبرونو راځی او تفصیل یا خلاصه پیش کوی، یا ګلوکاری، فنکاری او اداکاری کوی او دَ تمامې دنیا په وړاندې ظاهریږی، او هغه ښځې دې هم په خپل انجام باندې غور اوکړی چه هغوی سُرخی، لپ سټك وغیره اولګوی او په ودونو، او رنګین محفلونو، بازارونو، پارکونو او سیرګاهونو کښې ګرځی راګرځی.

﴿په ټی وی، فِلمونو او محفلونو کښې ناخن پالش لګولووالا ښځو حشر﴾

ددې نه روستو هغه ښځې بيا دَ خپلولاسونو او خپو ګوتې اوښودلې چه په هغې کښې نوکونه نهٔ وو . دَ تمامو ګوتو نوکان ئې غائب وو . دَ هغه ښځې نه ئې تپوس اوکړو چه ستا دَ ګوتو نه نوکونه څهٔ شول ؟ هغې ورته جواب ورکړو چه دَ ناخن پالش لګولو په وجه سره زما يو يو نوك اوويستلې شو .

چونکه ما به تمام کار اوکړو او بيا به دَ کور نه بهر وتلم او دَ پردو سړو مخې ته به ګرځيدم راګرځيدم ، او او ستر به مې نهٔ کولو ، په دې وجه سره چه کله زهٔ قبر کښې دفن کړې شوم نو زما سره دا معامله اوکړې شوه او ما ته دا سزا ملاؤ شوه چه زما دَ سر ويښتهٔ هم اوويستلې شو م او زما شونډې هم کټ کړې شوې او زما نه نوکونه هم اوويستلې شو . ددې دومره خبرو کولو نه روستو هغه بيهوشه شوه او يو بې جانه مړې شو لکه څنګه چه لاش وی .

چنانچه هغه خلقو دوباره قبر کښې دفن کړه . بهر حال الله تعالیٰ دا عبرت ښودل مقصود وو چه اوګورئ ددې ښځې څهٔ انجام شو او هغې ته څومره هولناك او دردناك عذاب ورکړې شو ددې دپاره چه دَ دنيا خلق عبرت واخلی .

﴿ دَ مرګ نه روستو بيا دوباره ژوندی کيدل ﴾

دَ چا په زړهٔ کښې خو دا شبهه پيدا کيدې شی چه دَ مرګ نه روستو بيا ژوندی کيدل په دنيا نشته دې ، دا ښځه څنګه ژوندئ شوه ؟ ددې جواب دادې چه دَ الله تعالیٰ عام قاعده خو داده چه دَ مرګ نه

پس په دنيا کښې هيڅوك نه ژوندی کيږی ، او دنيا ته واپس نهٔ راځی . ليکن الله تعالیٰ کله کله دَ عبرت دپاره داسې کوی ، او دا خبره دَ نن نه نهٔ ده بلکه دَ کله نه چه دنيا آباده شوې ده دَ هغه وخت نه داسې کيږی ، او په هره زمانه کښې څهٔ نه څهٔ واقعه دداسې قسم پيښيږی چه دَ مرګ نه روستو څوك ژوندې شوې وی . او هغه دَ مرګ نه بعد حالت بيان کړې وی او بيا دوباره مړ شوې وی .

دَ حافظ ابن ابی الدنيا عربی رساله ده چه دَ هغې نوم دې " من عاش بعد الموت " په دې کتاب کښې په سند سره ډير داسې واقعات ليکلې شوې دی چه يو انسان مړ شو ، او بيا هغه ژوندې شو ، او خبرې ئې اوکړې او دَ مرګ نه بعد والا حالت ئې ژوندو ته بيان کړل او بيا دوباره مړ شو . دغه شان حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله دَ احوال القبور په نوم سره يو کتاب ليکلې دې . په هغې کښې هم بعضِ داسې واقعات دی . بهر حال کله کله دَ عبرت حاصلولو دپاره الله تعالیٰ داسې واقعات ښائی . لهذا دا دَ قرآن او سنت نه خلاف نهٔ دی . البته عام دستور هم دارنګه دې چه دَ مرګ نه روستو بيا انسان دنيا ته واپس کيدې نهٔ شی .

﴿ په تې وی راوړلو باندې عذابِ قبر ﴾

يو بزرګ بيان کړې دې چه يوه شپه زهٔ يو تازه قبر سره ناست وم ددې دپاره چه څهٔ عبرت حاصل کړم . په ما باندې پرکالی غوندې راغله او دَ قبر حال په ما باندې منکشف شو ، څهٔ ګورم چه صاحبِ

قبر دَ اور په ګیره کښې دې او په چغو چغو ماته وائی ، ما بچ کړه ، ما بچ کړه . ما ورته اووئیل زهٔ دې څنګه بچ کړم ؟ هغه ماته اووئیل چه اوس لږې ورځې مخکښې زهٔ مړ شوې یم . زما ځوان ځوی په دې وخت کښې په ټی وی باندې فِلم ګوری ، کله چه هغه داسې کوی نو په ما باندې شدید عذاب شروع شی .

دَ خُدای دپاره زما هغه ځوی پوهه کړه چه هغه نور ټی وی نهٔ ګوری ځکه چه هغه ټی وی ما اخستې وو او اوس دَ هغې په وجه سره ماته عذاب کیږی ، افسوس چه ما خو دَ هغه دنیاوی تربیت کړې وو خو لیکن اسلامی تربیت مې دَ هغه نهٔ وو کړې . هغه مې دَ ګناهونو نه نهٔ وو منع کړې او دَ قبر او دَ آخرت دَ احوالو نه مې نهٔ وو خبر کړې ، او هغه قبر والا ورته خپله پته او نوم هم اوښودلو .

چنانچه زهٔ په صبا باندې نزدې کلی ته ورغلم او دَ هغه سړی مکان ته اورسیدم ، هغه نوجوان دَ شپې په ټی وی باندې دَ فِلم کتلو اعتراف اوکړو ، ما چه کله هغه ته خپل خوب بیان کړو نو هغه ددې صدمې په وجه سره په ژړا شو او هغه دَ کور نه ټی وی بهر کړو .

﴿ دَ قبرستان خوفناك آواز ﴾

حضرت علامه جلال الدین سیوطی الشافعی رحمه الله په خپل کتاب شرح الصدور کښې فرمائی : یو کس چه دَ هغه کور قبرستان ته نزدې وو هغه دَ خپل ځوی دَ وادهٔ په سلسله کښې دَ شپې دَ ډانس او ګانو وغیره محفل جوړ کړو ، خلق په ډانس او ګانو وغیره

کښې مشغول وو چه دَ قبرستان نه یو زوردار او خوفناك آواز راغې . هغه آواز په دوو عربی اشعارو مشتمل وو .

یا اهل لذة لهو لا تدوم لهم   ان المنایا تبید اللهو واللعبا

کم من رأینا مسرورا بلذته   امسیٰ فریدا من الاهلین مغتربا

" اې په ناپیدار ډانس او ګانو په لذت کښې منهمك کیدونکو خلقو ! مرګ تمامې لوبې ختموی . ډیر داسې خلق مونږ اولیدل چه هغوی په مسرت او لذتونو کښې غافل وو او مرګ هغوی لره دَ خپل اهل وعیال نه جُدا کړو .

راوی وائی زما دې په الله قسم وی ! چه څو ورځې پس دَ وادهٔ دَ ځلمی انتقال اوشو (یعنی مړ شو)

آه مرګ راغې ، او خوشالئ ، خنداګانې او هغه لذتونه تمام ختم شول ، ځلمې مړ شو او دَ خوشالو نه ډك کور په ماتم باندې سر شو .

تو خوشی کے پھول لے گا کب تلک
تو یہاں زندہ رہے گا کب تلک

﴿ بد نصیب دَ وادهٔ ځلمې ﴾

دَ پاکستان صوبه پنجاب کښې دَ یو نوجوان وادهٔ وو ، دَ وادهٔ په سلسله کښې دَ شپې ډمتوب کیدلو ، دَ ګاونډ او دَ خاندان ښځو دَ شرم او حیا څادرونه غورځولې وو ، او دَ فِلمی ګانو بجانو طوفان ئې برپا کړې وو . په دې کښې دَ وادهٔ ځلمې راغلو او خپلې مور ته وائی ، اې

زما خورړې مورې ! صبا زما وادهٔ دې او دَ خوشالئ موقع ده ، زما خواهش دې تهٔ هم ډانس اوکړه . مور ورته اووئيل چه اې بچيه ! دا خو دَ جينکو کار دې ، زهٔ په دې عمر کښې چرته ډانس کولې شم .

ليکن ځوى دا خپله مور دَ لاسه راښکله او په رنګ ئې واچوله ، او هر طرف ته دَ خندا فُواره شروع شوه ، طبل او ډول غږيدلو .او مور ئې دَ بې تکئ انداز کښې لاسونه او خپې خوزولې . دغه شان تمامه شپه ډمبازى کيدله ، آخر سترې شول او تول اودهٔ شول . ورځ شوه او نن دَ وادهٔ ورځ ده ، بينډ باجو سره جنج اوړل دى ، دَ كور يو فرد دَ وادهٔ دَ ځلمى کمرې ته راغې ددې دپاره چه هغه رابيدار کړى ، آوازونه ئې ورته اوکړل مګر دَ وادهٔ دا ځلمې بيدار نهٔ شو

آو هو ! داسې هم سترلې والې شته دې ، جنج تيار دې ، او دَ وادهٔ دَ ځلمى خوب نهٔ پوره کيږى ، دې کس چه هر کله دا ځلمې په زوره سره اوخوزولو نو دَ هغه دَ خُلې نه يوه چغه اووتله دَ كور تمام خلق اوبريدل او په منډه منډه راغلل .

آه ! بد نصيب دَ وادهٔ ځلمى تمامه شپه په ډانس او ډمتوب کښې تيره کړه او خپله مورې هم په ډانس باندې مجبوره کړه او اوس دَ هغې نه بعد مړ پروت دې ، روح ترينه پرواز کړې دې ، چغې او سورې شروع شوې دَ خوشالو نه ډك كور اوس په ماتم باندې سر شو ، لږ وخت مخکښې چه کومو کسانو خنداګنې او خوشالئ کوې اوس دَ هغوى دَ سترګو نه دَ اوښکو فوارې روانې دى ، اوس لږ وخت

مخکښې چه کوم ځاى دَ خنداګانو زور او شور وو اوس هلته کښې دَ ژړا او واويلا شور او زور دې ، هر يو كس تصويرِ غم جوړ شوې وو ، غُسال راغلل او دې مړى ته ئې غسل ورکړو ، کفن ئې ورکړو او دَ آه وفغان په شور کښې خلقو ددې بد نصيب ځلمى جنازه پورته کړه .

تو خوشی کے پھول لے گا کب تلک

تو یہاں زندہ رہے گا کب تلک

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

باب نمبر ۹ :

﴿ دَ کیرې په خرئیلو باندې عذابِ قبر ﴾

دَ کیرې خرئیل یا دَ کیرې دَ یو موټي نه کمول حرام او گناه ده او څوك چه داسې کوي نو هغه فاسق او دَ جهنم لائق دې . په حدیث شریف کښې دي دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بریتان کټ کړئ او گیره غټه کړئ . "

﴿ دَ کیرې په خرئیلو باندې په قبر کښې تور لړمانان ﴾

کوئټه ته نزدې دَ یو نوجوان لاش ملاؤ شو ، چه هغه کلین شیو کړې وه (گیره او بریت ئې خرئیلې وو) دَ ضروري کاروائۍ نه بعد خلق راجمع شول او هغه ئې دفن کړو . چه په دې کښې دَ هغه ورثاء راورسیدل ، او هغوی خلقو ته ددې خبرې دَ خواهش اظهار اوکړو چه مونږ دَ خپل عزیز قبر په خپل کلي کښې جوړول غواړو ، چنانچه دَ قبر نه ئې خاوره لرې کړه او کله چه ئې دَ مخ دَ طرف نه تخته لرې که نو خلقو چه اولیدل نو یوه چغه ئې اووهله چه اوس په دې وخت مو خائسته دَ کلین شیو نوجوان دفن کړې دې او اوس دَ هغه په مخ باندې توره گیره جوړه کړې شوې ده او دا توره گیره دَ تورو ویښتو نۀ وه بلکه دَ تورو لړمانانو وه . دا منظر چه کله خلقو اولیدو نو استغفار ئې شروع کړو او زر ترزره ئې قبر بند کړو او دَ خوف او ویرې په حالت کښې

واپس شول .

دَ محبتِ رسول ﷺ دعوې کوونکو ! لږ شان دا حدیث بار بار لولئ . بریتان کټ کړئ او گیرې اوږدې کړئ او دَ یهودو په شان صورت مه جوړوئ . "

﴿ په غسل خانه کښې تور لړم ﴾

دا واقعه چه دَ کراچۍ یو جوان واوریده نو هغه فوراً دَالله تعالیٰ دَ ویرې نه گیره پریښوده مگر دَ بد قسمتۍ نه دَ هغه کور والو دَ هغه دَ گیرې مخلافت اوکړو مگر هغه دَ وادۀ په لالچ کښې راغې نو هغه هم گیره اوخرئیله . مگر دَ تور لړم والا دا واقعه به دَ هغه دَ ذهن نه نۀ اخوا کیده ، کله چه دَ شیو کولو نه روستو غسل خانې ته ننوتلو نو څۀ گوري چه په غسل خانه کښې یو تك تور غټ لړم دې دَ ویرې او دَ خوف په وجه پرې رپیدل راغلل ، دا چه څنگه هغه اولیدل نو په هم هغه ځائ ئې دَ گیرې خرئیلو نه توبه کړه او الحمد لله دَ گیرې اوږدول ئې شروع کړل .

﴿ خوفناکه کنده ﴾

په حدیث پاك کښې په ناجائز فیشن کولو باندې دَ ذاب وعید راغلې دې :

" دَ سرورِ عالم ﷺ فرمان دَ عبرت نشانی ده : مو څو کسان داسې اولیدل چه دَ هغوی ژبې دَ اور په قینچو سره کټ کولې شوې ، ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دي ؟ نو ماته اوښودلې شو چه دا هغه

خلق دی چه دوی به په ناجائز ځیزونو سره زینت کولو . "

﴿ دَ ګیرې کټ کولو والا حجام (نائی) باندې عذابِ قبر ﴾

یو کس لیکلې دی چه زمونږ په کلی یو حجام وو ، دَ هغه آخری وخت وو ، خلقو ورته اوویل چه کلمه اووایه . نو هغه جواب ورنهٔ کړو ، دَ مرګ دَ سختئ په وجه سره هغه کلمې ته کنځل اوکړل (معاذ الله) څهٔ وخت بعد هغه مړ شو . کله چه هغه دفن کړې شو نو خلقو چغې کړې ، ځکه چه قبر دَ لړمانانو نه ډك وو ، هغه قبر خلقو بند کړو ، او بل ځائ کښې قبر اوکښستلې شو . آه ! هغه قبر هم دَ لړمانانو نه ډك وو ، چنانچه په هم دې حالت کښې دَ هغه حجام (نائی) لاش دفن کړې شو .

کوم نائی صاحبان چه دَ ګیرې په شان عظیم سنت خرائی یائې دَ یو موټی نه کم کټ کوی او په داسې خوفناك جرم سره خپله روزی ګټی نو هغوی دې ددې خوفناکې واقعې نه عبرت حاصل کړی . او ددینه علاوه دا هم یاد ساتئ چه په دې شان سره کوم اجرت حاصلیږی نو هغه حرام دې . او ددې سره سره دې هغه خلق کوم چه ګیره باکل دَ بیخ نه کټ کوی یائې دَ یو موټی نه کمه وی نو هغوی دې هم دَ الله تعالیٰ دَ قهر نه اوویریږی چه دَ هغوی دا فعل حرام دې .

دَ محبتِ رسول ﷺ دعوئ کولو والو ! دَ الله تعالیٰ دَ خوږ پیغمبر ﷺ فرمانِ عالیشان بار بار لولئ : " بریتان کټ کوئ (یعنی

وارهٔ کوئ نې . او ګیره غټه کړی ، او دَ یهودیانو په شان صورت مه جوړوئ . "

﴿ دَ ګیرې دَ کټ کولو سره سمدستی مرګ ﴾

چا دا واقعه بیانوله چه په بنګله دیش کښې یو نوجوان ګیره پریښودې وه کله چه دَ هغه دَ وادهٔ وخت رانزدې شو نو هغه لره خپل مور او پلار په ګیره خرئیلو باندې مجبوره کړو ، هغه بد قسمته نائی ته لاړو او ګیره ئې کټ کړه . کور طرف ته راتللو په سړك باندې اوختلو چه یو تیز رفتار ګاډی اووهلو او په ځائ مړ شو دَ وادهٔ ارمان په ځائ پاتې شو ، مور او پپلار ئې څهٔ پکار راغلل ؟ نهٔ ئې وادهٔ اوشو او نهٔ ئې ګیره باالقی پاتې شوه . نو زما رونړو ! په خوش کښې راشئ . په الله تعالیٰ باندې بهروسه اوکړئ او دَ نن نه دا عهد اوکړئ چه اوس به دَ سرورِ کائنات ﷺ په محبت کښې سر کټ کیږی مګر اوس به دَ دنیا هیڅ یو طاقت ګیره زما نه نهٔ شی جُدا کولې . شاباس ، مبارك مبارك ، مبارك مبارك . "

﴿ دَ آخرت مار ډیر زیات خطرناك دې ﴾

مولانا طارق جمیل صاحب فرمائی چه زما پلار وفات شو نو ما هغه په خوب کښې اولیدو ، انتهائی سخت په خوف او هراس کښې وو ما ترینه تپوس اوکړو : څهٔ درسره اوشو ؟ هغوی راته اوویل : بچیه ! دَ آخرت ماران ډیر زیات خطرناك دی . الله تعالیٰ خو زما حفاظت اوکړو . او دَ آخرت ماران ډیر زیات خطرناك دی .

دَ یو ماشی نه دَ بچ کیدلو دپاره نظام جوړ دې . دَ یو لړم نه دَ بچ
کولو دپاره نظام موجود دې . او هغه مار او لړم چه په هغې باندې دَ
نه مرګ نهٔ راځی ....

﴿ دَ جهنم یو لړم دَ قچر برابر دې ﴾

یو ځل چه مړې اوچیچی نو تر څلویښت کالو پورې به ورته تکلیف وی ، او هغه به ئې مسلسل چیچی . نو دَ انسانیت بچ کولو ته ضرورت دې . هغه خلق کوم چه دَ الله تعالیٰ نافرمان دی هغوی قابلِ رحم دی . مونږ له پکار دی چه دَ هغوی دَ بچ کولو دپاره فِکر اوکړو .

حضرت حسنِ بصری رحمه الله فرمائی : کهٔ چرې خپل دشمن دَ الله تعالیٰ نافرمان اووینې ، نو تاسو ته دَ بدلې اخستلو ضرورت نشته دې . الله تعالیٰ ستاسو دَ طرف نه خپله بدله اخستونکې دې .

څوک چه مجرم مړ شو . اُف ! څومره په خوفناکې طریقې سره به دَ هغه حشر کولې شی . نو لهذا دَ تمامې دُنیا انسانانو له ددغې راتلونکی عذاب نه بچ کړئ او خپل ځانونه او خپل اولاد هم بچ کړئ " قوا انفسکم واهلیکم نارا " خپل ځانونه او خپل اهل دَ جهنم دَ اور نه بچ کړئ . " دَ ګرمئ نه ئې بچ کړئ ، دَ یخنئ نه هم بچ کړئ ، دَ حقوقو معامله ده .

★★★★★★★★★★★★★★★★★

باب نمبر ١٠ :

﴿ دَ بے پردګئ په وجه سره عذابِ قبر ﴾

دَ بې پردګئ هولناکه سزا :

علامه ابن حجر مکی رحمه الله فرمائی چه دَ معراج په شپه کښی جناب رسول الله ﷺ دَ بعضو ښځو کوم هولناك مناظر کتلې وو نو په هغې کښی دا هم وو چه یوه ښځه دَ ویښتو نه زوړنده کړې شوې وه او دَ هغې په سر کښی دماغ ځُټکیدل . سرورِ کائنات ﷺ په خدمت کښی عرض اوکړې شو چه دې ښځې به خپل ویښتهٔ دَ پردو سړو نه نهٔ پټول ." (الزواجر : ج ٢ ص ٩٨)

﴿ په بې پردګئ باندې خوفناك ځناور ﴾

دَ راوی وینا ده چه یو نوجوان داسې حلفیه بیان ورکړو چه زما دَ یو عزیز دَ ځوانې لور انتقال اوشو . کله چه مونږ دَ تدفین نه فارغ شو . او کله واپس کیدو نو دَ مرحوم پلار ته رایاد شو چه دَ هغه نه یو هینډ بیك چه په هغې کښی اهم کاغذات وو په غلطئ سره قبر کښی دفن کړې شوې دی ، چنانچه دَ مجبورئ په وجه سره دوباره قبر کهولاؤ کړې شو ، څنګه چه دَ قبر نه تختې لرې کړې شوې نو دَ خوف او دَ ویرې له وجې نه مونږ چغې کړې .

څکه چه کومه پیغله جینئ مونږ په صفا سُتره کفن کښی

اوس لږ وخت مخکښې دفن کړې وه ، هغې کفن څيرې کړې وو او ناسته وه ، آه ! دَ هغې دَ ويښتو نه خپې شان جوړې وې وې ، او څو نامعلومه خطرناك او خوفناك غونډې ځناور ورپورې پيوست شوې وو ، دا دهشت ناك منظر چه مونږ اوليدو نو دَ خوف او دَ يرې په وجه سره مونږ اورپيدو ، او دَ هينډ بيك دَ راخستو نه بغير مو پرې زر زر خاوره واړوله او اوتښتيدو .

مونږ چه کله کورته راغلو نو ما دَ عزيزانو نه دَ هغه جينۍ دَ جرم په باره کښې پوښتنه اوکړه ، نو هغوی اووئيل چه په دې کښې په يوه زمانه کښې هم څۀ داسې معيوب جرم نۀ وو ، البته دې به هم دَ نن صبا عام جينکو په شان فيشن کولو او پرده به ئې نۀ کوله . اوس دَ وفات نه لږ مخکښې په رشته دارو کښې وادۀ وو نو دې فيشني ويښتۀ کټ کړې وو او دَ عامو زنانو په شان ئې په وادۀ کښې بې پردې شرکت اوکړو .

آيا ددې واقعې نه هغه ښځې دَ عبرت درس نۀ حاصلوی چه هغوی دَ شيطان په لمسې سره داسې قسم بهانې او حيلې کوی چه زما خو مجبورې ده ، زمونږ په کور کښې هيڅوك پرده نۀ کوی ، دَ خاندان رواج ته هم کتل دی ، زمونږ تمام خاندان ليکلو لوستلو والا دی ، ساده او پردې والا جينۍ ته زمونږ په نزد باندې څوك دَ رشتې پيغام هم نۀ ليږی ، وغيره وغيره .

آيا خاندانی رسم ورواج او دَ نفس مجبوری به تاسو ته دَ عذابِ

قبر نه نجات درکړی ؟ آيا تاسو چه دَ الله تعالیٰ په دربار کښې دا قسم بې کاره مجبورئ بيان کړئ نو تاسو ته به خلاصې درکړې شی ؟ او تاسو به کامياب شئ ؟ او کۀ داسې نۀ وی ، او واقعی داسې نۀ ده نو بيا تاسو په هر حال کښې دَ بې پردګۍ نه توبه اوکړئ .

ياد ساتئ ! په لوحِ محفوظ کښې چه د چا کوم ځائ جوړه ليکلې شوې وی نو هم هلته کښې به وادۀ کيږی . او کۀ داسې نۀ ده نو دَ ورځې څومره داسې جينکۍ مری چه هغوی ښۀ ماهرن او اعلیٰ تعليم يافته وی او ښۀ ماهرن او دَ فيشن والا وی او بغير دَ وادۀ نه مړې شی ، بلکې بعضِ وختونه ناوې دَ رُخصتۍ نه لږ شان مخکښې مړه شی او دَ ډول سنګار او دَ خوشبودار کور په ځائ باندې دَ تيرو او دَ چينجو کور ته لاړه شی ، او په تکو تيرو کښې قبر ته اوسپارلې شی .

﴿ دَ اور په قينچئ سره ئې ژبه کټ کولې شوه ﴾

زما خويندو ! دَ بې شرمئ دَ لباس او دَ هر قسم ناجائز زينت او بې حيايئ نه دَ ډك فيشن نه اجتناب او پرهيز اوکړئ . رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : ما څو داسې خلق ليدلې دی چه دَ هغوی ژبې دَ اور په قينچو سره کټ کولې شوې ، ما ترېنه تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟

ماته اوښودلې شو ، دا هغه خلق دی چه دوی به په داسې څيزونو سره زينت حاصلولو کوم چه له دوی دپاره حرام وو . او ددې نه علاوه ما يوه سخته بدبوداره کنده اوليده چه په هغې کښې شور او

غـو غـا وه . مـا تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟ ماته اوښودلې شوه چه دا هغه زنانه دی چه دوی به په ناجائز څیزونو سره زینت حاصلولو ." (شرح الصدور للسیوطی ص ۱۶۸ ، دار الکتب العلمیه بیروت)

﴿ په بربنډ سر ګرځیدو باندې ویښتهٔ غائب شو ﴾

یو کس لیکلې دی چه هغه خپله لور په ډیر ناز او نعم سره لویـه کړه ، چه زما لور ډیره خوږه ده . خوبصورته ده ، عقلمنده ده ، او هغې ته ئې ماډرن تعلیم ورکړو ، هغې به ډیره زیاته بې پردګی کوله ، دَ اللـه تعالیٰ شان ته ګوره چه هغې ته په ځوانئ کښې مرګ راغې ، هغـه خپـل پلار په خوب کښې اولیده ، نو په خوب کښې ئې دَ خلې لور سر اولیدو چه ویښتـهٔ پرې بالـکل نهٔ وو ، صفا کوپړئ وه ، او دَ هغې شونډې نهٔ وې ، لکه چه چا ترینه کټ کړې دی او غاښونه یې بهر ښکاره کیدل او لاسونهخپې ئې زخمی وو ، په دې حالت کښې ئې په خوب کښې اولیده .

هغـه ترینه تپوس اوکړو : لورې دا څنګه ؟ هغې ورته جواب ورکړو ابا جان ! کله چه زهٔ دلته کښې راغلم نو فرشتو اوویل چه تهٔ به بربنډ سر ګرځیدې ، تاته به ددې سزا ملاویږی ، چنانچه زما سر غټ کړې شو ، زما یو یو ویښتهٔ دَ اونې هومره شو ، او بیا فرشتو زما یو یو ویښتـهٔ په راښکلو سره راوښکلو ، ماته په دې سره دومره تکلیف اورسیدو چه زهٔ هغه تکلیف نهٔ شم بیانولې بیا هغه فرشتو اوویل چه ستا به اودس هم ټیک نهٔ وو تا به سُرخی ولې په شونډو پورې کوله

دَ هغې دَ لرې کولو دپاره چه کله زما برنئ شونډه راښکله نو زما دَ غاښونو پورې پوره غـوښـه ورسره اوشوکیدله ، او بیا ئې لاندینی شونډه راښکله نو هغه هم سره دَ غوښې اوشوکیدله ، او بیا ئې راته اوویل چه ستا غسل به هم ټیك نهٔ وو ، ځکه چه ستا په نوکانو باندې به هم څهٔ لګیدلې وو ، نو هغوی زما دَ نوکانو نه ناخُن پالش لرې کولو نو چه نوك به ئې راښکلو نو هغې سره به زما نوك وتلو ، تردې پورې چه زما ټول نوکان اوویستلې شو او ابا جان ! زهٔ اوس په دې حالت کښې یم .

نن صبا کهٔ چرې مونږ خپلو بچو ته دینی تعلیم نهٔ ورکوو نو صبا به پته نهٔ لګی چه دې بیچارو سره به څهٔ کولې شی په آخرت کښې . دَ سړو ذمـه واری ده چـه هغـوی خپـلو بچو تـه دینی تعلیم ورکړی ، دَ تقـوی او دَ پرهیزګارئ زندګی ورته اوښائی ، ددې دپاره چه هغوی په خپـله زنـدګئ کښـې خپل رب رضا کړی او خپل آخرت درست کړی ، نن وخت دې څومره چه څوك هم غټ ګناه ګاروی ، کهٔ توبه اوکړی نو الله تعالیٰ به هغه ته دَ زنا ګناه ، دَ دروغو ګناه ، دَ غیبت ګناه ، چـه کـومـه ګـناه هم وی الله تعالیٰ به ورته ټول ګناهونه معاف کړی .

پـه دې وجه سره مونږ له پکار دی چه نن په خپلو لاسونو سره خپل آخرت جوړ کړو ، الله تعالیٰ دې زمونږ حفاظت اوکړی او مونږ نه دې دَ آخرت دَ جوړولو توفیق رانصیب کړی . امین "

باب نمبر ۱۱ :

﴿ دَ مور او پلار په نافرمانۍ باندې عذاب قبر ﴾

يو روايت حضرت عبد الله بن ابی الهذيل بيان کړې دې چه يو کس وو چه کله به هم مور هغه ته څه خبره کوله نو هغه مور ته دَ خر په شان درې ځله آواز اوکړو او مور ته به ئې وئيل چه تۀ خره ئې . کله چه هغه مړ شو نو روزانه به دَ مازيګر په وخت کښې دَ خپل قبر نه داسې راوتلو چه دَ هغه دَ قبر نه به دَ خر په شان يو سر دَ سينې پورې بهر ته راوتلو او درې ځله به ئې دَ خر آواز کولو او بيا به دننه کيدلو .

﴿ دَ مور په نافرمانۍ سره خر جوړ شو ﴾

عوام بن حوشب فرمائي چه زۀ يو کلي ته لاړم او دَ هغه کلي سره نزدې قبرستان وو . کله چه دَ مازيګر وخت شو نو مونږ اوليدل چه يو قبر کهولاؤ شو ، او دَ هغې نه يو کس راووتلو چه دَ هغه سر دَ خر دَ سر په شان وو ، هغه درې ځله دَ خر په شان آواز اوکړو ، او بيا قبر ته واپس شو او قبر بند شو . ما دَ خلقو نه تپوس اوکړو چه دا څۀ معامله ده ؟ نو ماته چا اووئيل چه دا شرابي وو ، چه کله به ئې شراب اوڅکل او بيا به په هوش کښې راغې نو مور به ورته نصيحت کولو

چه اې ځويه ! دَ الله تعالیٰ نه اويريږه ، نو دۀ به ورته وئيل موري تۀ خو دَ خرې په شان خبرې کوې . بيا دې دَ مازيګر په وخت کښې مړ شو . نو اوس هره ورځ دې دَ مازيګر په وخت کښې دَ قبر نه راوځي او درې ځله دَ خر په شان آوازونه کوي ، او بيا په قبر کښې داخليږي .

په يو بل روايت کښې دي چه کله يو کس دَ مور او پلار نافرمان وي او هغه په قبر کښې دفن کړې شي نو قبر هغه ته دومره زور ورکوي چه ددې کس پُختئ په يو بل کښې ننوځي . "

﴿ دَ مور په بې ادبۍ باندې قبر دَ پناه ورکولو نه انکار اوکړو ﴾

دَ حضرت ابو عبد الله محمد تکروری مانکی رحمه الله سره خوا کښې يو قبر دې چه په هغې کښې دَ مړي خپې دَ قبر نه بهر وې ، دَ زائرينو جماعت چه هر کله دا حال اوليدو نو ډيره زياته خاوره ئې راوړه او دَ هغه مړي خپې ئې پرې پټې کړې . بيا زيارت له راغلل نو دوباره ئې دَ هغه مړي خپې دَ قبر نه بهر اوليدې . نو هغوی اووئيل چه اې خلقو ! شايد چه په مونږ کښې دَ دۀ نه زيات بل ځوك ګناهګار بل ځوك نۀ وي . الله تعالیٰ طرف ته متوجه شئ او دُعا اوکړئ ، بيا ټولو خلقو به عاجزۍ سره دُعا اوکړه ، الله تعالیٰ ئې دُعا قبوله کړه او دَ هغه مړي خپې ئې پټې کړې او بيا ددې نه روستو دَ هغه خپې بهر اونۀ ليدلې شوې .

دَ امام سخاوی رحمه الله دَ قول مطابق هغه دَ خپلې مور بې

ادبي په خپو سره کړې وه ، لهذا د هغه دا انجام شو .

﴿ د مور سره د خبرو په بندولو باندې د مرګ وحشت ﴾

په روايت کښې دي چه يو صحابي چه د هغه نوم حارثه وو ، هغه بيمار شو او د نزع حالت پرې طاري شو ، رسول الله ﷺ د هغه د عيادت دپاره تشريف يوړو او هغوی ته ئې د کلمهٔ شهادت تلقين اوکړو نو هغه کلمه اونهٔ وئيله ، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل کلمه ولې نهٔ لولې ؟ هغه په جواب کښې عرض اوکړو اې د الله رسوله ! زما مخې ته د اور غر دې . کله چه زهٔ د کلمې لوستل اوغواړم نو د وحشت په وجه سره زما ژبه بنده شي .

رسول الله ﷺ ترينه تپوس اوکړو : ستا نه څهٔ داسې عمل سرزد شوې دې ؟ هغه ورته عرض اوکړو چه ما د خپلې مور سره خبرې کول پرېښودې دي . رسول الله ﷺ د هغه مور بی بی راوبلله او ورته ئې اوفرمائيل : د خپل بچي قصور معاف کړه او کهٔ داسې نهٔ وي نو ددهٔ روح د دوزخ فرشتې اوړي . مور ئې د معاف کولو نه انکار اوکړو . حضور ﷺ اوفرمائيل : ښهٔ ده دُعا اوکړه چه ستا د بچي د خُلې نه کلمهٔ شهادت ادا شي .

په دغه وخت کښې حضرت جبرئيل عليه السلام حاضر شو اووې وئيل : يا رسول الله ! الله تعالیٰ د سلام نه پس فرمائي چه تاسو زما په مخلوق کښې د ټولو نه زيات افضل اوبرتر يئ . زما دې په خپ، عزت او جلال قسم وی زهٔ د حارث نه هرګز نهٔ راضي کيږم ترڅو

چه ددهٔ مور دهٔ ته خطا معاف نهٔ کړي .

دا ارشادِ رباني چه هر کله رسول الله ﷺ واوريدو نو د هغه مور ته جې سفارش اوکړو چه هغه د خپل ځوی نه رضا شي ، هغې خپل ځوی ته خطا معاف کړه او د هغه د خُلې نه فورًا کلمهٔ شهادت جاري شوه .

﴿ مور ته په تکليف رسولو باندې عذابِ قبر ﴾

روايت دې چه رسول الله ﷺ يو ځل حضرت ابو ذر غفاري رضی الله عنه ته اوفرمائيل : چه راځئ د غريبانو او فقيرانو او د ګاونډيانو زيارت اوکړو . حضرت ابو ذر غفاري ؓ عرض اوکړو چه غرباء کوم خلق دی ؟ هغوی ورته اوفرمائيل : هغه خلق چه د هغوی د زيارت دپاره څوك نهٔ ځي . دوی ورته عرض اوکړو چه شايد ستاسو مراد اهلِ قبور وی . وې فرمائيل : آو . چنانچه حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه ئې د ځان سره کړو او تشريف يې يوړو . رسول الله ﷺ جنت البقيع ته اورسيدو او هلته کښې په يو قبر باندې اودريدو او په ژړا شو . حضرت ابوذر رضی الله عنه عرض اوکړو : يا رسول الله ﷺ تاسو ولې ژاړئ ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په دې قبر کښې زما يو امتي دې چه په هغه په کښې سخت عذاب دې .

په دې کښې حضرت جبرئيل ؑ حاضر شو او عرض ئې اوکړو : اې د الله رسوله ! ستاسو په ژړا سره په آسمانونو کښې تمامې فرښتې ژاړي . حضور ﷺ اوفرمائيل : اې جبرئيل ! ددې قبر نه چه کوم آواز

راځي نو هغه دَ چا نوجوان آواز معلوميږي او دده دا فرياد دَ چا غريبن فرياد سره ملاويږي ، دا مړي څوك دي ؟ حضرت جبرئيلؑ عرض اوكړو : يا رسول الله ! مونږ خلقو ته ستا دَ امتي ګناه معلومه نۀ ده . تاسو الله تعالىٰ نه سوال اوكړئ چه هغه دا مړې ژوندي كړي او تاسو ته خپله ګناه بيان كړي .

رسول الله ﷺ دُعا اوكړه او دَ هغه نوجوان آواز دَ قبر نه بلند شو : يا رسول الله ﷺ الامان الامان ! زما فرياد واورئ . زما دپاسه اور دي ، او لاندې هم اور دې ، او ښى طرف ته مې هم اور دې او دا وبال او نقصان دَ هغه ګناه دې چه ما به خپلې مور ته تكليف وركولو . دا فرياد چه رسول الله ﷺ واوريدو نو حضرت ابو ذر رضى الله عنه ته ئې اوفرمائيل : په مدينه كښې آواز اوكړه چه دا قبر دَ چا دَ عزيز وى نو هغه دې دلته كښې راشى . او دَ قبر سر ته دې اودريږي . چنانچه ندا اوكړې شوه او څۀ خلق راغلل .

رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كۀ چرې دده مور مړه وى نو تر قيامته پورې به ورته عذاب كيږي . لږ وخت روستو يوه بوډۍ ښځه په امسا باندې دَ قبرونو په مينځ كښې روانه وه او راغله دده قبر سر ته اودريده . رسول الله ﷺ ترينه تپوس اوكړو چه دده قبر والا سره ستا څۀ رشته ده ؟ هغې عرض اوكړو چه دا زما ځوى زما دَ سترګو يخوالې او دَ زړۀ ټكړا ده .

حضور ﷺ ورته اوفرمائيل : آيا تۀ دده نه راضى ئې ، خوشاله

ئې ؟ هغې ورته جواب وركړو : نۀ . " رسول الله ﷺ ترينه تپوس اوكړو : دَ ناراضتيا څۀ سبب دې ؟ هغې عرض اوكړو چه يوه ورځ زۀ په مونځ كښې مشغوله وم او دا زما ځوې كور ته داخل شو په داسې حال كښې چه دَ شرابو په نشه كښې مست وو او زۀ ئې په لرګى باندې دومره په زوره سره اووهلم چه زما لاس مات شو ، ما خيرې اوكړې چه الله تعالىٰ دې ستا نه رضا نۀ شي . رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اې ضعيف بوډۍ ! په خپل ځوى باندې رحم اوكړه ځكه چه دَ چا په زړۀ كښې رحم نۀ وى نو په هغه باندې الله تعالىٰ رحم نۀ كوى .

بوډۍ جواب وركړو : زۀ دَ خپل ځوى دپاره په زړۀ كښې رحم نۀ مومم . رسولِ اكرم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : ښۀ ده خپل غوږ دې قبر باندې كيږده او دَ هغه آواز واوره . هغه بوډۍ په قبر باندې غوږ كيښودو او دَ خپل ځوى فرياد ئې واوريدو چه هغه وئيل : اې زما مورې ! زما په دې بې كسۍ باندې رحم اوكړه ، كۀ چرې تۀ په ما باندې رحم نۀ كوې نو ترقيامته پورې به په قبر كښې سوزم ، دا دردناك آواز چه كله هغه بوډۍ واوريدو نو عرض ئې اوكړو : يا رسول الله ! زۀ دَ خپل ځوى نه راضى يم . ددې دَ خُلې نه دا وتل وو چه دَ هغه نوجوان نه دَ قبر عذاب لرې شو او دَ جنت هواګانې پرې اولګيدې .

★★★★★★★★

★★★

باب نمبر ۱۲ :

﴿ دَ رشوت په اخستلو باندے عذابِ قبر ﴾

لاندې په اختصار سره دَ رشوت په عنوان سره دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاداتو خلاصه ليکلې شی . رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

﴿۲﴾ ...... رشوت اخستلو والا او په جوارئ سره ګټلو والا دواړه برابر دی . (کنز العمال ۳)

﴿۲﴾ ...... دَ رشوت په اخستونکی باندې لعنت وريږی ." (ابن ماجه)

﴿۳﴾ ...... په فيصلې باندې رشوت اخستل کفر ته نزدې دی .

﴿۴﴾ ...... فرمانِ نبوی ! هغه غوښه به جنت کښی نهٔ داخليږی په کومه کښی چه حرام شامل وی . (بيهقی)

﴿۵﴾ ...... په حرام (رشوت) خوړلو سره څلويښت ورځې مونځ نهٔ قبليږی . (ديلمی)

﴿۶﴾ ...... په حرام مال (رشوت) سره دُعا نهٔ قبليږی . (مسلم)

﴿ دَ رشوت اخستلو په وجه سره په قبر کښی خوفناك مار ﴾

دَ رشوت دا مرض چه نن صبا څومره عام دې نو دا دَ هيچا نه پټه نهٔ ده ، هر يو کس ددې نه پريشان دې . او دا مرض په پوره قوم او ملك کښی عام دې ، الله تعالیٰ دې په مسلمانانو باندې رحم اوکړی ، په دې سلسله کښی دَ حافظ ابن حجر رحمه الله بيان کړې شوې واقعه بيانولې شی :

حافظ ابن حجر مکی رحمه الله فرمائی چه عبد الباسط نومی يو کس وو ، هغه دَ ښار دَ قاضی چپړاسی وو ، دا کس په ابتداء کښی ډير زيات غريب وو مګر دَ قاضې سره به اوسيدو او په رشوت اخستو سره ئې ډير زيات مال جمع کړو ، او ښهٔ مالدار شو ، کله چه هغه مړ شو نو خلقو دفن کړو ، دَ اتفاق خبره ده چه دَ دفن کولو نه بعد دَ هغه قبر لږ شان کهولاؤ شو ، نو څو وينو چه په يو زنځير سره يو غټ مار دَ هغه لاش پورې تړلې شوې وو ، مونږ دَ ويرې له وجې نه زر تر زره دَ هغه په قبر باندې واپس خاوره واړوله ، او عبرت مو حاصل کړو او کور ته واپس شو . (زواجر)

اې خلقو ! دَ رسول الله ﷺ دا فرمان مبارك په کهولاؤ سترګو سره لوستل پکار دی : " الراشی والمرتشی فی النار "

نن مونږ په خپلو سترګو سره وينو چه رشوت څومره عام شوې دې چه دَ حکومت هيڅ يوه محکمه داسې نه ده چه هغه دَ رشوت نه بچ وی ، خدائ دې نهٔ کړی کهٔ هم داسې زمونږ ليل ونهار تيريږی نو پته نشته دې چه زمونږ انجام به څه رنګه وی .

﴿ دَ رشوت اخستلو په وجه سره دَ قبر زورنه ﴾

دَ راولپنډئ په قبرستان " رته امرال " کښی دَ يو سرکاری افسر واقعه پيښه شوې ده ، دا يو دردناکه واقعه ده ددې نه دې رشوت اخستونکی خلق عبرت حاصل کړی . په ۲۷ جمادی الاول ۱۴۱۱ هجری کښی دَ يو پوليس افسر جنازه دَ قبرستان په لوری اوچه کړې

شوه ، کله چه هغه په قبر کښې ورکوز کړې شو نو فوراً دَ هغه قبر کیناستو ، اول اول کښې خو خلقو دا دَ قبر کیناستلو والا قصور اوګڼړلو ، مګر په دویم ځایٔ کښې چه کله قبر تیار کړې شو نو هغه یو ځل بیا کیناستو ، اوس په خلقو کښې خوف او هراس پیدا شو ، په دریم ځل هم قبر کیناستو ، او دومره حیرت انګیز حده پورې به کیناستو چه دفن کول به په کښې ممکن نهٔ وو .

آخر په جنازه کښې چه څومره خلق شریك وو نو هغوی په جمع باندې دَ مړی دَ پاره دَ مغفرت دُعاګانې اوکړې او په پنځم قبر کښې په هر حال کښې دَ هغه دَ تدفین فیصله ئې اوکړه . چنانچه پنځم قبر هم کیناستو نو خلقو په دې ځل په سختئ سره مړې په هم دې حال کښې قبر ته اوسپارلو .

دَ حضرت سیدنا عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کوم یو کس دَ قوم والی او قاضی مقرر کړې شو نو هغه به دَ قیامت په ورځ داسې پیش کولې شی چه دَ هغه لاسونه به دَ ګردن پورې تړلې شوې وی ، بیا کهٔ چرې هغه رشوت اخستونکی نهٔ وی او دَ هغه فیصلې په حق باندې مبنی وې نو هغه به آزادولې شی . او کهٔ چرې هغه رشوت خور وو او دَ خلقو نه ئې مال اخستې وو او دَ حق نه خلاف ئې فیصلې کړې وې نو هغه به جهنم ته اوغورځولې شی او دَ پنځو سوو کالو دَ مسافت برابر په ګهرائئ کښې به پریوځی . "

﴿ دَ صاحبِ مزار توجه ﴾

په فیصل آباد کښې یو ریټائرډ ګرداور دې دَ هغه بیان دې چه په هندوستان کښې یو پټواری وو . چه دَ هغه نوم نور محمد وو ، هغه ډیر زیات رشوت خور وو ، دَ خلقو نه به ئې رشوت هم اخستلو او کار به ئې هم په صحیح طریقې سره نهٔ کولو . یو ځل هغه پټواری په اس باندې سوروو او چرته کښې روان وو . دَ ګرمئ شدت وو هغه اوکتل چه دَ سړك دپاره یوه خانقاه ده هلته کښې شنې اونې هم دی ، غسل خانې په کښې هم دی او دَ لمبلو انتظام په کښې شته دې . پټواری صاحب ته خیال راغې چه دَ ماسپخین وخت دې او ګرمی ډیره زیاته سخته ده ، څو ګهړئ به دلته کښې ایسار شم ، لهذا هغه دَ اس نه کوز شو او خپله سورلی ئې دَ یوې اونې پورې اوتړله او خپله غسل خانې ته لاړو . دَ غسل خانې نه چه کله بهر ته راغې نو هغه اولیدل چه یو درویش دې ، او دَ مزار سره ناست دې او سترګې ئې بندې کړې دی .

دا چه کله پټواری اولیدل نو هغه ته غصه ورغله او هغه درویش ته ئې په سختئ سره اووئیل چه دا تهٔ څهٔ کوې ، تاته دلته کښې څهٔ ملاویږی ؟ هغه درویش ورته اووئیل چه صاحب ! تهٔ هم راشه دلته کښې کینه او اووینه چه څهٔ ملاویږی ، دا چه هغه پټواری واوریدل نو دَ هغه په زړهٔ کښې خیال راغې چه راځه چه اووینو چه دلته کښې څهٔ ملاویږی . او څهٔ کیږی . پس هغه پټواری راغې او دَ مزار شریف سره خوا کښې کیناستو او سترګې ئې پټې کړې ، دَ

صاحبِ مزار پرې داسې توجه اوشوه چه هغه پټواری په سلګو سلګو اوژړل ، هلته کښی په ناسته ناسته ئې توبه اوویستله : اې الله ! زهٔ تباه شوم ، یا الله زهٔ په ګناهونو کښی ډوب شوم . اې زما ربه ! زهٔ رښتونی توبه اویاسم ؟ آئنده به په هیچا باندې ظلم نهٔ کووم ، او دَ هیچا نه به رشوت نهٔ اخلم .

بار بار به ئې دَ توبې تکرار کولو ، دَ سترګې نه ئې اوښکې روانې وې ، او په ډیره مشکله باندې ئې په خپل ځان قابو بیا موندله . کور ته راغې او خپله بی بی ئې راوبلله ، او ورته ئې اووئیل چه ما اوس توبه کړې ده او راغلې یم ، دَ نن نه پس به زهٔ رشوت نهٔ اخلم . زما څلور روپۍ تنخواه ده ، کهٔ چرې په دې باندې ګزاره کولې شی نو تهٔ زما ښځه ئې او زهٔ ستا خاوند ، او کهٔ چرې په دې تنخواه باندې ګزاره نهٔ شې کولې نو رونړه دې راوغواړه او چه کومه خبره صبا کول وی نو نن ئې اوکړه .

بی بی ډیره زیاته پریشانه شوه چه اوس بوډا والې دې ، بچی هم سکول ته ځی ، ګزاره به څنګه وی ؟ هغه پټواری ورته اووئیل چه اوس دویمه خبره نهٔ شی کیدې . ښځې خپل رونړه راوبلل ، رونړو ئې هم دَ پټواری صاحب دَ پوهه کولو کوشش اوکړو چه دَ رشوت نه بغیر به څنګه ګزاره کیږی . هغه پټواری ورته اووئیل چه اوس به دویمه خبره نهٔ شی کیدې ، خپلې خور ته اووایۍ کهٔ چرې په دې تنخواه ګزاره کولې شی نو بهتره ده ، او کهٔ داسې نهٔ وی نو ددې لاره جُدا ده او

زما جُدا .

رونړو دَ خور نه تپوس اوکړو ، هغې زړهٔ اووهلو اووې وئیل : چه زهٔ به دَ چا چا مخ ګورم ، چه څنګه هم وی نو ګزاره به کوم . بیا هغه پټواری یوه چیلۍ اوساتله . کله چه به دَ خپل کار دپاره تللو نو دَ چیلۍ پۍ به ئې دَ ځان سره په لوښی کښی اوړل ، کله چه به ورته لوږه اولګیده نو لږ شان پۍ به ئې دَ هغې نه اوڅکل ، او کله چه به ورته تنده اولګیده نو په هغه پیو کښی به ئې لږې شان اوبهٔ واچولې او په هغې به ئې ګزاره کوله ، اوس هغه ته سکون وو ، زړهٔ ئې مطمئن وو ، دَ هغه مخکښی په شان بې قراری نهٔ وه ، اوس چونکه خوفِ خُدا دَ هغه په زړهٔ کښی راغې نو خلقو کار په صحیح طریقې سره کیدل شروع شو .

یوه ورځ دَ هغه علاقې تحصیل دار په دوره باندې راغې ، دَ علاقې تمام پټواریان راجمع شول ، هغه فائلونه اوکتل ، نو په ځائ ځائ کښی ئې غلام محمد ، غلام محمد لیکلې اولیدل . تحصیل دار پوښتنه اوکړه چه دا غلام محمد پټواری څوك دې ؟ هغه خو ډیر زیات کارونه کړې دی ، نورو پټواریانو غلام محمد طرف ته اشاره اوکړه چه دا غلام محمد پټواری دې . تحصیل دار دَ خوشالۍ نه اووئیل اې غلام محمد ما تهٔ دَ پټواری نه ګرداور کړې ، او ستا تنخواه اوس دَ څلورو روپو نه شپږ روپۍ شوه . او ورسره ورسره تحصیل دار اووئیل چه دادَ اس الاؤنس دې .

غلام محمد ورته اووئيل : جي زما سره اس نشته دې ، زهٔ دا الاؤنس نهٔ شم اخستې ، تحصيل دار ورته اووئيل چه زهٔ دَ وخت مجازي حاکم يم ستا نه څوك تپوس كوي چه آيا تاسره اس شته او كنه ؟ پټواري اووئيل چه زما نه هيڅوك هم تپوس اونهٔ كړي نو الله تعالىٰ خو به رانه تپوس كوي كنه . الله تعالىٰ خو هر څهٔ ويني ، لهذا زهٔ دا الاؤنس چه ددې بنياد په دروغو باندې دې نهٔ اخلم . آخر هغه پټواري به خپله جائز ګټه كوله ، تردې پورې چه هغه دا دُنيا پرېښوده او دَ خپل رب سره ملاؤ شو ، او مونږ ته ئې دا سبق راكړو چه كهٔ څوك ګزاره كوي نو بغير دَ رشوت نه هم ګزاره كولې شي .

الله تعالىٰ دې خپل رحمت نازل كړي په داسې پاكباز خلقو باندې چا چه رېتوني توبه اوكړه او په دنيا كښې ئې هم نوم پرېښودو او په آخرت كښې هم دَ انعام او اكرام مستحق اوګرځېدل .

﴿ اوس زړهٔ مطمئن دې ﴾

يو نوجوان په څهٔ ډسپنسرۍ كښې ملازم وو . دَ هغه بيان دې چه ما به دَ ډسپنسرۍ دوائي خرڅوله او زرګونه روپۍ مياشت به مې جوړوله ، بيا ما دَ چا الله والا ه بيعت اوكړو ، اوس ما توبه ويستلې ده او زما تنخواه نهٔ سوه روپۍ ده ،

يو هغه وخت وو چه په زرګونو روپو ناجائز حاصلولو باندې به ګزاره نه كيده ، زړهٔ به بې چين او بې سكون وو ، او اوس صرف په نهٔ سوه روپو باندې ګزاره هم كيږي او زړهٔ هم مطمئن دې ، زړهٔ په

چين او سكون كښې دې .

باب نمبر ۱۳ :

﴿ سود خوري او عذاب قبر ﴾

سود خور او تور مار :

يوه قصه رايادہ شوه ، دَ تبليغي جماعت ملګري چه كله چرته لاړ شي نو په واپسۍ باندې هغوي بعضِ وختونه څهٔ عجيب او غريب واقعات بيانوي . چنانچه يو جماعت په يو محله باندې تيريدلو ، هغوي اوليدل چه دَ يو كور په كوڅه كښې ډير خلق راجمع شوې دي او ډير زيات پريشانه دي ، نو هغوي چه تيريدل نو تپوس ئې اوكړو چه څهٔ خبره ده ؟ څهٔ شوې دي ؟ خلق ولې پريشان دي ؟

هغه خلقو ورته اووئيل چه يو كس مړ شوې دې او په كور كښې دننه هغه مړې موجود دې ، ليكن دَ هغه په سينه باندې يو تور مار دې ، مونږ دَ هغه دَ لرې كولو ډير زيات كوشش اوكړو مګر لرې كيږي نهٔ . او مونږ يريږو هم چه چرته كښې چاته تك ورنهٔ ړي ، او حال دادې چه مونږ به دې مړي ته غسل هم وركوو ، كفن به هم وركوو ، او مونځ دَ جنازې به پرې هم كوو ، زمونږ په پوهه كښې نهٔ راځي چه مونږ څهٔ اوكړو ؟ په دې وجه سره مونږ پريشان يو ، او دا دَ عام مارانو په شان هم نهٔ دې چه په لرګي سره ئې ترينه لرې كړو .

جماعت والا پوهه شول چه دَ الله تعالىٰ عذاب دې . او دا ددې

مړی د څهٔ ګناه او عمل په وجه سره په دهٔ باندې نازل شوې دې.
چنانچه هغه جماعت والا بیان کوی چه مونږ دننه ورغلو او مونږ اولیدو نو مونږ ته یقین راغې چه ددې مړی څهٔ غټه ګناه ده، چه ددهٔ نه شوې ده، او هغه الله تعالیٰ په دې شکل کښې ظاهر کړې دې، مونږ په دغه کمره کښې یو طرف ته کیناستو او د الله تعالیٰ نه مو د هغه د مغفرت دپاره دُعاګانې اوغوښتې، او د هغه د ایصالِ ثواب دپاره مو تلاوت اوکړو. ګهنټه یو یوه نیمه ګهنټه تیره شوه چه د الله تعالیٰ شان ته ګوره هغه مار غائب شو، پته نهٔ لږی چه هغه مار کوم خوا لاړو، حالانکه تمامو خلقو کتل چه هغه مار د خلقو د نظرنه غائب شو.

هغه مار چه څنګه غائب شو نو فورًا خلقو هغهٔ مړی ته غسل ورکړو، کفن ئې ورته ورکړو او په ډیره تیزئ سره ئې مقبرې ته یوړو، او کله چه ئې په قبر کښې ورکوز کړو، نو دوباره هغه تور مار راغې او د هغه مړې د سینې نه تاؤ شو. بیا چه کله مونږ هغه اولیدو نو مونږ اووئیل چه اوس د الله تعالیٰ نه سوا بل څوك ده لره بچ کوونکې نشته دې. په جلدئ سره مونږ تختې اولګولې او د خوف او ویرې له وجې نه مونږ په تیزئ سره واپس شو.

بیا چه کله مونږ واپس راغلو نو د هغه د کور والا نه مونږ تپوس اوکړو چه دهٔ به څهٔ کار کولو چه د هغې په وجه سره الله تعالیٰ په هغه باندې دا خوفناك حال ظاهر کړو. نو هغوی اووئیل چه دې

کس به سودی لین دین کولو.

توبه توبه! اې مسلمانانو! ددې واقعې نه عبرت واخلئ او د سود نه ځان بچ کړئ.

﴿د سود خور په کفن کښې مار﴾

بلوچستان کښې په یو علاقه کښې مړې لحد ته ورکوز کړې شو، خلقو اولیدل چه د مړی نه یوه غټه اژدها تاؤ ده او د کفن نه ئې سر راښکلې دې، کله چه خلقو دا حال اولیدو نو خوف او هراس په کښې پیدا شو. د تفصیلاتو مطابق د شیخ مانده رهائشی مړ شو، د مونځ د جنازې نه روستو لحد ته د ورکوزولو په وخت کښې چه کله د هغه نه کپړا لرې کړې شوه نو د هغه د کفن دپاسه یو خطرناك مار تاؤ شوې وو.

د عینی شاهدینو وینا ده چه هغه مار د مړی د خپو نه ترسر پورې تاؤ شوې وو او د مار خُلهٔ د مړی د خُلې دپاسه وه، د خلقو وینا ده چه هغه به د سود لین دین کولو. علماؤ خلقو لره د مار د وژلو نه منع کړل او هم په هغه حالت کښې ئې د مړی د دفن کولو حکم اوکړو.

﴿د قبر نه د اور شُعلې او لوګی﴾

هغه به پنځه مونځونه په پابندئ سره کول، د مالدارئ سره سره لوی سخی هم وو، د غریبانانو او یتمانو سره به ئې مدد هم کولو، د څو یتمانانو بچو ودونه ئې هم کړې وو، حج ئې هم کړې وو. په کال ۱۹۷۳ ء کښې مړ شو. بې حده ملنسار او بااخلاقه انسان وو، اهلِ

محلـه تریـنـه ډیر زیات متاثر وو ، دَ هغوی په جنازه کښې ډیر زیات خلق وو ، تمام خلق قبرستان ته راغلل ، قبر تیار کړې شو ، څنګه چه ئې مړې قبر خوا ته راوړو نو غضب نازل شو .

فورًا قبر خپله بند شو ، تمام خلق حیران پاتې شو ، دوباره زمکه اوکنستلې شوه ، کله چه ئې مړې ورکوزولو نو بیا قبر خپله بند شو ، تمام خلق پریشان وو ، څو ځله هم داسې اوشو ، آخر په څلورم ځل باندې قبر تیار کړې شو ، او خلق په تدفین کښې کامیاب شول ، خلقو دُعا اوکړه او تمام خلق واپس شول ، او کله چه څو قدمونه خلق لاړل نو داسې محسوسه شوه لکه چه زمکه په زور زور سره رابنده شوه . خلقو بې اختیاره په شاه اوکتل نو یو خوفناك منظر وو ، هغه قبر کهولاؤ پروت وو او دَ هغې نه دَ اور شُعلې ختلې ، او دَ قبر نه دَ چغو سورو آواز صفا اوریدې شو ، دا لرزه خیز منظر چه خلقو اوکتلو نو دَ ټولو وار خطا شو او په منډه منډه خلق اوتختیدل .

تمام خلق پریشان وو چه دا خو په ظاهره یو ښهٔ نیك او باخلاقه انسان وو آخر په دهٔ باندې داسې حال ولې راغې ؟ ددهٔ نه څهٔ خطا شوې ده چه دَ هغې په سبب سره دې په دومره سخت عذاب کښې مبتلا شو ، کله چه تحقیق اوکړې شو نو دَ هغه حال دا وو چه دې دَ ماشوموالې نه ډیر زیات ذهین وو ، لهذا مور او پلار ورته اعلیٰ تعلیم ورکړو ، کله چه ئې ښهٔ تعلیم اوکړو نو دَ رشوت په زور سره دهٔ سرکاری ملازمت اختیار کړو ، او رشوت به ئې اخستو ، او دَ رزوت په

پیسو باندې ئې پلاټونه واخستل او ښهٔ بینك بیلنس ئې هم جوړ کړو ، په هم دې ګټې سره ئې حج هم ادا کړو او دا ټولِ سخاوت به ئې هم په دې حرام مال سره کولو .

﴿ سود خور او یو خطرناك لړم ﴾

دَ ډاکټر بلوچ صاحب په حوالې سره حالات لیکم : دَ ملتان په بوس روډ باندې په یو قبرستان کښې دَ قبر دَ کهولاؤولو حکم اوشو ، دا دَ یو داسې سړی لاش وو چه هغه شل کاله په سعودی عرب کښې وو ، الحاج وو ، حافظِ قرآن وو ، دَ سعودی عرب نه واپس راغې او سودی کاروبار ئې شروع کړو . او اچانك مړ شو .

دَ هغه دَ اولنئ ښځې بچو مجسټریټ ته درخواست اوکړو چه زمونږ پلار ته زهر ورکړې شوې دی او چا وژلې دې ، دَ دفن کیدلو نه یو کال بعد دَ قبر کهولاؤولو حکم اوکړې شو ، زهٔ دَ بورډ ممبر وُم ، دَ سِول جج په موجودګئ کښې قبر کهولاؤ کړې شو ، نهٔ څهٔ بوئی وو او نهٔ څهٔ چینجی ، کله چه کفن دَ لاش نه لرې کړې شو نو صرف دَ هډوکو او دَ تورو ایرو نه سوا هیڅ نهٔ وو ، البته مختلف قسم لړمانان په هغه هډوکو پورې اونختلې وو .

دَ هغه هډوکو نه دَ لړمانانو لرې کول ممکن نهٔ وو ، ځکه چه هغه لړمانانو به هډوکی دَ دننه نه چیچلو ، او دَ هغې دَ زیات چیړلو نه خطره وه ، په دې وجه سره په هم دې حال کښې ئې پریښودو ، ددې حالاتو نه دا معلومیږی چه کوم خلق دَ سود کاروبار کوی او مړ شی نو

په هغه باندې به په قبر کښې داسې اور مسلط کولې شي چه دې به بالکل ايره کوی . د هغه په لاش باندې کفن هم هغه شان وو ، نو معلومه شوه چه دَ هغه اور اثر صرف دَ مړی په جسم باندې وی .

﴿ په سود خورئ باندې دَ قبر نه دَ هائې هائې آواز ﴾

يوه عبرتناکه قصه تاسو ته اوروم . حضرت علی ابن مدينی رحمه الله فرمائی چه زما دَ والد صاحب انتقال اوشو ، او زهٔ دَ الله تعالیٰ په فضل سره حافظِ قرآن ووم ، دا زما معمول وو چه زهٔ به روزانه قبرستان ته تللم او دَ خپل پلار دپاره به مې دَ ايصالِ ثواب دپاره دَ قرآن مجيد تلاوت کولو ، يو ځل دَ رمضان شريف مياشت وه ، اوويشتمه شپه وه ، دَ پيشمنی خوراك کولو نه روستو دَ سحر دَ مونځ نه چه فارغ شوم نو دَ معمول مطابق دَ سحر دَ مونځ نه روستو دَ پلار قبر ته لاړم او دَ قرآن مجيد تلاوت مې اوکړو ، نو اچانك دَ يو نزدې قبر نه دَ هائے هائے آواز راغې ، کله چه په اول ځل آواز راغې نو زهٔ اوويريدم .

ما اخوا ديخوا اوکتل نو دَ تيرې په وجه سره ماته څهٔ په نظر رانغلل . کله چه ما دَ آواز طرف ته توجه اوکړه لو غور مې کيخودو نو ماته پته اولګيده چه دا آواز دَ يو قبر نه راځی ، او داسې معلوميده چه مړی ته په قبر کښې سخت عذاب ورکولې شي او دَ هغه عذاب دَ تکليف په وجه سره هغه مړې دَ هائے هائے آواز کوی ، بس بيا څهٔ وو ، زما نه لوستل هير شو او دَ خوف په وجه سره رېدونکی اودريدم

او ما هم هغه قبر طرف ته توجه اوکړه او کيناستم ، بيا چه څنګه په مزه مزه باندې دَ صبا رڼرا خوره شوه نو هغه آواز هم په مزه شو ، او بيا چه ورځ ؤ روښانه شوه نو هغه آواز بالکل بند شو .

بيا چه کله خلقو تلل راتلل شروع کړل نو دَ يو کس نه ما تپوس اوکړو چه دا قبر دَ چا دې ؟ نو هغه دَ يو کس نوم واخستو چه هغه ما هم پيژندلو ځکه چه هغه کس زمونږ دَ محلې سړې وو او ډير کلك مونځ ګذار وو ، او پنځه وخته مونځ به ئې په جمعې سره په اولنی صف کښی ادا کولو ، او انتهائی شريف سړې وو ، دَچا په کار کښی به دخل نهٔ لرلو ، کله چه به هم دَ چا سره ملاويدو نو په ښهٔ اخلاقو سره به ورسره ملاويدو ، او زيات تره به په ذکر او تسبيح کښی مشغول وو . هر کله چه ما هغه لره اوپيژندلو نو دا خبره په ما باندې ډيره زياته ګرانه پريوتله چه دومره نيك انسان او په هغه باندې دا عذاب !!!

ما سوچ اوکړو چه ددهٔ تحقيق کول پکار دی چه ددهٔ نه کومه داسې ګناه شوې ده چه دَ هغې په سبب سره ورته دا عذاب کيږی ؟ چنانچه زهٔ دَ هغه محلې ته لاړم او دَ هغه دَ هم عمر کسانو نه مې تپوسونه اوکړل چه فلان کس څو ډير زيات عابد او نيك انسان وو ليکن ما هغه لره په عذاب کښی مبتلا اوليدو ددې څهٔ وجه ده ؟ خلقو اووئيل چه هغه خو دغه شان ډير زيات نيك او عبادت ګذار سړې وو او ډير زيات زاهد وو .

مګر دَ هغه هيڅ اولاد نهٔ وو او دَ هغه کاروبار ډير زيات وسيع وو ، کله چه هغه بوډا شو او په هغه کښې دَ کاروبار چلولو طاقت باقي پاتې نهٔ شو او بل څوك داسې دَ هغه سره هم نهٔ وو چه دَ هغه کاروبار ئې چلولې وې ، نو هغه دَ خپلو ملګرو سره مشوره اوکړه او خپله ئې هم سوچ اوکړلو چه زهٔ اوس دَ خپل ذريعهٔ معاش دپاره څهٔ طريقه اختيار کړم ؟ دَ هغه خبيث نفس هغه ته دا تدبير اوښودلو چه تاته کومې پيسې راشي نو هغه په سود باندې ورکړه ، چنانچه هغه خپل تمام حلال کاروبار ختم کړو او چه کوم رقم ورته راغې هغه ئې په سود کښې اولګوو .

چونکه دَ کاروبار نه اوزګار شوې وو نو په دې وجه سره به تمام وختونه په جمات کښې وو ، دَ اشراق ، څاښت ، تهجد او دَ اوابين مونځونه به ئې په پابندئ سره کول . او پنځه واړه مونځونه به ئې په جمعې سره ادا کول . او تمامه شپه به په ذکر او تسبيح کښې مشغول وو ، او په هره مياشت کښې به ورته دَ سود معقول رقم ملاويدو او دَ هغې په ذريعې سره به ئې تمامه مياشت تيروله . بس چه دا ما واوريدل نو زهٔ پوهه شوم چه دې کس ته شديد عذاب کيږي او دا دَ هغه دَ سود خورئ دَ ګناه وبال وو . الله تعالیٰ دې تمام مسلمانان دَ حرام خوراك او دَ حرام څکاك نه محفوظ اوساتي . (الزواجر)

﴿ دَ عذابِ قبر وجه ﴾

باوجود دَ نيك انسان کيدو او دَ مونځ ګذار کيدو هغه خپل

حلق دَ حرامو نه محفوظ اونهٔ ساتلو ، په دې وجه سره په هغه په قبر کښې عذاب وو . دا عذاب په هغه باندې دَ سود خورئ په وجه سره وو نن صبا هم بعضِ مسلمانان داسې دی چه هغوی انعامی بانډ اخلی او په هغې باندې چه کوم انعام راوځی نو هغه بغير دَ څهٔ ججك نه خوری ، تردې پورې چه په هغه رقم باندې حج او عمره هم کوی ، حالانکې هغه انعام خالص حرام دی . څومره مسلمانان داسې دی چه هغه ته دَ ريټائرمنټ په وخت کښې کوم فنشن لس لاکهه وغيره ملاويږی نو هغه په بينك کښې په اکاونټ کښې جمع کوی او هره مياشت دَ هغې سود حاصلوی او په هغې باندې خپله ګزاره کوی زمونږ په دې معاشره کښې دَ حرام مال خوړلو دا مختلف صورتونه دی ، چه ددې نه دَ بچ کيدلو ضرورت دې .

دَ حضرت لقمان عليه السلام فرمان دې چه کله په درستخوان باندې کينئ نو دَ حرام خوراك نه دَ خپل حلق حفاظت اوکړه ، چه ستا حلق ته حرامه نمړئ لاړه نهٔ شی ، کهٔ چرې حرامه نمړئ مو حلق ته لاړه نو بيا به ستاسو عبادت نهٔ قبليږی . بلکې چه کوم هولناك عذاب او وبال په قرآن او حديث کښې بيان کړې شوې دی دَ هغې نه بچ کيدل به هم مشکل وی .





باب نمبر ۱٤ :

﴿ شراب او عذاب قبر ﴾

دَ شرابی دردناك انجام :

حضرت اسماء بنت یزید فرمائی چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلي دی چه کوم کس شراب څکی ، نو چه یو څاڅکي دَ شرابو دَ هغه خیټي ته اورسی نو اووهٔ ورځو پوري به دَ هغه عبادت ، روژه ، مونځ هیڅ قبول نهٔ وی ، او چه په دې سره په هغه باندې څهٔ بیهوشی راشی نو بیا به تر څلویښت ورځو پورې نهٔ قبلیږی . او کهٔ چرې هغه په طریقې سره مړ شو ، نو دا کس دَ کافر او دَ مشرك په مرګ مړ شو او کهٔ چرې هغه توبه اوکړه او ددې ګناه ئې دَ الله تعالیٰ نه معافی اوغوښته نو الله تعالیٰ توبه قبلوونکې دې . کهٔ چرې دوباره هغه شرابی جوړ شو ، نو دَ الله تعالیٰ فیصله ده چه هغه به ضرور جهنم ته رسی ."

﴿ دَ شرابی عبادت مردود دې ﴾

په یو حدیث کښی فرمائیلي شوې دی چه په یو ځل شراب څکلو سره به دَ هغه څلویښت ورځې مونځ ، روژه او نور عبادات نهٔ قبلیږی ، او په دویم ځل شراب څکلو باندې به اتیا ورځې او په دریم ځل شراب څکلو باندې څلور میاشتې او په څلورم ځل شراب څکلو

باندې هغه هلاك کړې شی . چه هغه کافر دې ، او الله تعالیٰ دا فیصله فرمائیلې ده چه په هغه به دَ جهنم پیپ څکولې شی .

﴿ شراب دَ تمامو ګناهونو مور ده ﴾

په یو روایت کښی دی چه ګناه او خطاګانې تمام په یو کور کښی جمع کیږی ، او شراب استعمالول دَ هغه ګناهونو په واسطې سره دَ قفل یا دَ تالې حیثیت لری ، یعنی مطلب دادې چه کله انسان شراب اوڅکی نو هغه په خپل ځان باندې دَ تمامو ګناهونو دروازې کهولاوه وی (او په خپل ځان باندې تمام حرام کارونه حرامه وی)

﴿ دَ شرابی څلویښت ورځو پورې مونځ نامنظور ﴾

دَ شرابیانو دپاره او دَ فوډریانو او چرسیانو دپاره او دَ زنا او جوارئ ادې چلولو والا دپاره لمحه فکریه .

دَ حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه څوك شراب اوڅکی نو څلویښت ورځې دَ هغوی مونځونه نهٔ قبلیږی ، کهٔ چرې هغه توبه اوباسی نو الله تعالیٰ دَ هغه توبه قبلوی ، بیا کهٔ چرې دوباره شراب اوڅکی ، نو بیا به څلویښت ورځو پورې دَ هغه مونځ نهٔ قبلیږی ، بیا که چرې هغه توبه اوکړی نو الله تعالیٰ دَ هغه توبه قبلوی .

بیا کهٔ چرې هغه په ریم ځل شراب اوڅکی نو تر څلویښت ورځو پورې به دَ هغه مونځ نهٔ قبلیږي ، کهٔ چرې هغه دوباره شراب اوڅکل نو الله تعالیٰ به دَ هغه توبه قبلوی ، بیا کهٔ چرې په څلورم

ځل هغه دَ شرابو څکلو ارتکاب اوکړو نو دَ هغه توبه به قبول نۀ وي، او دَ قيامت په ورځ به په هغه باندې دَ جهنميانو دَ پيپ دَ نهرنه څکولې شي." (جامع ترمذی حديث ۱۸۶۹ ص ۳۴۱ ج ۳)

﴿ شراب نوشی دَ بد انجامئ سبب ﴾

دَ معبد جهنیؒ بيان دې چه په ملك شام کښې يو شرابی وو، هغه چه کله دَ مرګ وخت راغې نو هغه ته دَ کلمۀ شهادت وئيلو تلقين اوکړې شو، نو هغه دَ کلمې وئيلو په ځائ باندې دا کلمات وئيل شروع کړل: "اشرب واسقنی" (خپله هم اوڅکه او په مونږ باندې هم اوڅکوه.) يعنی دَ هغه په دماغو باندې هم شراب نوشی مسلط وه)

ددې واقعې نه معلومه شوه چه دَ شرابو په سبب سره هم بنده دَ بد انجامئ ښکار ګرځی. دا ګناه دَ تمامو ګناهونو جړ او بنياد دې او سوءِ خاتمه لوی سبب دې.

دَ ابن ابی الدنياؒ نه منقول دی چه يو داسې کس سره ملاقات اوشو چه هغه په شرابو کښې نشه وو او هغه په لاس باندې مِتيازې کولې او دَ اودس کولو په شان ئې په مِتيازو سره لاس وينځلو او وئيل ئې:

"الحمد لله الذی جعل الاسلام نورًا والمآء طهورًا"

(حمد دې هغې الله لره چه هغه اسلام لره نور او اوبو لره ئې پاکې ګرځولې دی."

دَ عذاب قهر درې سوه واقعات

امام ابو يوسفؒ په مدائن کښې يو شرابی اوليدو چه هغه دَ شرابو په نشه کښې او متيازې ئې کولې او متيازې به ئې په لاسونو راخستې او په مخ پورې به ئې مږلې او وئيل به ئې:

"اللهم بيض وجهی"

يو شرابی دَ نشې په حالت کښې قې اوکړو او هم هلته په لاره کښې راپرېوتلو. يو سپې راغې او دَ هغه شرابی خُلۀ ئې څټله، شرابی اووئيل اې زما آقا تکليف مۀ کوه رومال به دې خراب شی، او بيا به څۀ بل رومال اخلې.

﴿ دَ شرابی دَ ايمان او دَ کفر پيمانه ﴾

دَ حضرت عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دې چه کله شراب څکلو والا مړ شی نو هغه لره هم دغه شان په يو ځائ کښې دفن کړئ او څو ګهنټې روستو ئې قبر کهولاؤ کړئ او اوګورئ، کۀ چرې دَ هغه مخ دَ قبلې نه اوړيدلې نۀ وو نو بيا آئنده دپاره ئې دَ مسلمانانو په قبرستان کښې دفن کړئ.

﴿ دَ شرابی دَ قبر نه دَ خر آواز ﴾

امام بخاری رحمه الله دا واقعه نقل کړې ده چه په "مفرد" کښې يو کس دَ مرګ نه بعد دَ قبر نه راوځی او دَ هغه مخ دَ خر په شان دې، درې ځله دَ خر آواز کوی. څوك چه ددې واقعې راوی دې هغه تپوس اوکړو چه دا څۀ چکر دې؟ هغه ته اوښودلې شو چه دا شرابی وو دۀ به شراب څکل، مور به ورته نصيحت کولو چه شراب مۀ څکه

نو دهٔ بـه خپـلې مـور تـه وئيـل چـه تهٔ دَ خرې په شان خبرې کوې. نو هرکله چه دې مړ شو نو دهٔ سره دَ خر په شان معامله کولې شي .

﴿ دَ شرابو دَ نحوست په وجه سره دَ مرګ په وخت کښې دَ کلمهٔ شهادت نه انکار ﴾

حافظ ابن رجب حنبلي رحمه الله بيان کوي چه عبد العزيز بن رداد اووئيل : چه زهٔ يو قريب المرګ سړي ته ورغلم ددې دپاره چه زهٔ ورتـه دَ کـلمهٔ شهادت تلقين اوکړم . هغه قريب المرګ سړي اووئيل چه تهٔ څهٔ وائې نو زهٔ دَ هغې نه انکار کووم ، او هم په دې حالت کښې هغه مړ شو ، عبد العزيز رداد فرمائي چه ما دَ هغه متعلق دَخلقو نه تپوس اوکړو نو ما ته اووئيلې شو چه دې کس به شراب څکم. عبد العزيز به وئيل چه دَ ګناهونو نه ځان بچ کړئ ، ځکه چه دَ ګناهونو په وجه سره دې کس دَ کلمهٔ شهادت نه انکار اوکړو .

﴿ په قبر کښې دَ شرابي مخ دَ قبلې نه اړولې شي ﴾

دَ حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنهما نه نقل کړې شوې دی ، هغوی اوفرمائيل : چه کله شرابي مړ شي نو تاسو هغه دفن کړئ ، او ما دَ ځان سره ايسار کړئ ،او دَ دفن کولو نه خو ګهنټې روستـو بيا دَ هغه قبر کهولاؤ کړئ کهٔ چرې دَ هغه مخ دَ قبلې نه نهٔ وي اوړيدلي نو بيا ما په کاڼړو باندې اولئ (سنګسار مې کړئ).

دا ددې دنيا سزا شوه ، دَ آخرت سزا خو دَ شمير نه بهر ده ، په

هغه باندې به ګرمې سرې کړې اوبهٔ څکولې شي ، زقوم به پرې خوړلې شي ، په دوزخ کښې چه دَ دوزخيانو کوم پيپ او نور جمع کيږي هغه به په شرابي باندې څکولې شي ، او ددې نه علاوه به نور قسمونه عذاب هم ورکولې شي . الله تعالیٰ دې مونږ ټول مسلمانان دَ شرابو څکلو نه محفوظ کړي . آمين . "

الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر

الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

الله اکبر الله اکبر

الله اکبر

باب نمبر ۱۵ :

﴿ دَ كچو (گيټو) په پټولو باندې عذابِ قبر ﴾

" دَ گيټو چه كومه حصه پټه كړې شوې وى نو هغه به په جهنم كښې سوزى . " ﴿حديث﴾

﴿ دَ اسبالِ ازار وعيد ﴾

يو دوه مثالونه تاسو ته بيانوم .... دَ بخارى شريف حديث دې ، حضور اكرم ﷺ فرمائى :

" مَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْاِزَارِ فِى النَّارِ "

((اې ايمان والو ! څومره قدرې چه ستاسو گيټې (په لنگ يا پرتوگ كښې) پټه وى نو هغه هومره حصه به په جهنم كښې سوزى . " حضرت مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله په بذل المجهود كښې ليكلې دى چه ددې لباس نه مراد هغه لباس دې چه هغه دَ بره نه راځى ، كۀ چرې دَ لاندې نه راځى لكه موزه شوه يا جُرابه شوه نو كۀ په هغې كښې گيټې پټې هم شى نو په هغې كښې ذرا برابر گناه هم نشته دې . بلكې دَ يخنۍ په موسم كښې خپلې خپې پټول اجر دې . خو چه كوم لباس دَ بره نه راځى يعنى دَ بره طرف نه اچولې شى نو په هغې كښې گيټې پټول گناه ده .

﴿ څوك چه اعلانيه گناه كوى نو هغه ناقابلِ معافى دې ﴾

حضور ﷺ فرمائى " كل امتى معافى الا المجاهرين " زما هر امتى دَ اجر قابل دې مگر چه دَ چا گناه ښكاره باره وى نو هغه قابل دَ معافۍ نۀ دې . " نو دا تقرير ددې دپاره چه چه مونږ پرې عمل اوكړو او دَ رسول الله ﷺ دَ بشارت مطابق دَ معافۍ قابل جوړ شو . كم از كم چه مادل خو جوړ كړو ، اول استركچر جوړيږى او روح بيا روستو راځى ، دَ انسانيت استركچر جوړيږى نو دَ انسانيت روح راځى . كۀ مونږ دَ الله والو استركچر جوړ كړو ، نو الله تعالىٰ به دَ الله والو روح هم عطا كوى ، او دَ گيټو پټولو په باره كښې مونږ دَ حضور ﷺ ارشاد مبارك ذكر كړو چه كوم سړې هم گيټې پټوى نو سيدها به جهنم ته ځى . "

﴿ څوك چه گيټې پټوى هغوى ته !!!! ﴾

حضرت عمر فاروق رضى الله عنه سره دَ دين دَ خبرو نورو خلقو ته دَ رسولو او دَ نورو خلقو دَ جهنم نه دَ بچ كولو څومره خيال وو ددې په باره كښې يوه قصه ملاحظه كړئ :

بدبخت يهودى غلام چه كله حضرت عمر فاروق رضى الله عنه لره په نيزه باندې اووهلو ، نو دَ هغوى په خيټه كښې داسې زخم جوړ سو كۀ چرې پۍ به اوڅكل نو هغه به سيدها بهر ته راووتل ، او

کله چه داسې زخم پیدا شی نو بیا ظاهره ده چه دَ جوړیدو هیڅ امکان هم نهٔ وی .

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دې حالت کښې وو دَ بچ کیدو هیڅ امید ئې نهٔ وو ، په داسې حالت کښې یو کس دَ هغوی دَ عیادت دپاره راغلل کله چه هغه واپس تلو نو حضرت عمر فاروقؓ اولیدل چه دَ هغه اِزار (لنګ) دَ ګیټو نه خکته وو او دَ زمکې سره جنګیدلو ، هغه کس ئې واپس راوبللو او دَ محبت په انداز کښې ئې داسې تنبیه ورکړه :

" یا ابن اخی ارفع ثوبك فانه انقیٰ لثوبك واتقیٰ لربك "

" اې زما وراره ! خپله کپړا اوچته کړه ځکه چه دا ستا دَ کپړو صفائی او ستا دَ رب دَ عذاب نه دَ بچکیدو ذریعه ده . (اسد الغابه)

حضرت عمو فاروق رضی الله عنه دَ کبیره ګناه نه بل لره بچ کولو ته دومره اهمیت ورکړو چه په دومره نازك وخت کښې ئې هم په هغې باندې تنبیه اوکړه . ددې نه دا ثابته شوه چه دَ هغوی په زړهٔ کښې دومره درد وو دومره درد چه دَ نورو خلقو دَ جهنم نه دَ بچ کولو په کوشش کښې بې تابه وو ، دَ چا په زړهٔ کښې چه داسې درد نهٔ وی ، او دَ بل چا دَ جهنم نه دَ بچ کولو کوشش نهٔ کوی نو هغه خپله هم دَ جهنم نه نهٔ شی بچ کیدې . دَ جهنم نه دَ بچ کیدلو په شرطونو کښې یو شرط دا هم دې چه هغه به دَ نورو خلقو دَ جهنم نه دَ بچ کولو کوشش کوی . په ظاهره چه څوك هر څومره ولی الله جوړ شی مګر دَ نورو دَ

بچ کولو کوشش او فِکر نهٔ کوی نو دا ولی الله نهٔ دې بلکې ولی الشیطان دې ، دې به هم دَ نورو خلقو په شان جهنم ته ځی .

﴿ په لمن زوړندولو باندې عذاب قبر ﴾

مرثد بن حوشب رحمه الله فرمائی چه یو ځل زهٔ دَ حضرت یوسف بن عمرو سره ناست وُم او دَ هغه سره یو بل کس ناست وو چه دَ هغه دَ مخ یو طرف دَ اوسپنې وو . یوسف هغه ته اوونیل چه خپله واقعه خو لړه مرثد ته بیان کړه ، نو هغه اوونیل چه ما دَ شپې په وخت کښې دَ یو کس دپاره قبر تیارولو ، خلقو چه کله هغه دفن کړو او خاوره ئې پرې واړوله او واپس شول ، نو دَ اوښ په شان دوه غټې مارغان راغلل ، رنګونه ئې سپین وو .

یو مارغه دَ مړی سر طرف ته او بل خپو طرف ته اودریدو ، په ترینه یو قبر ته دننه داخل شو او دَ بره نه خاوره دَ یو بل سره یو ځائ شوه او قبر بند شو . ما چه دا اولیدل نو زهٔ ورغلم او دَ هغه قبر سره خوا کښې کیناستم ، ما واوریدل څوك وائی مړی ته ، آیا تهٔ هغه کس نهٔ وې چه تا به دَ زیړ رنګ جامې اچولې وې ، او هغه لباس به اوږد وو لمنې به ئې په زمکه راښکلې شوې او تهٔ به په متکبرانه انداز کښې دَ سخر کره تلې ؟ هغه مړی اوونیل چه زهٔ خو دَ هغه نه په څو څو چنده کمزور انسان یم ، نو په دې ئې هغه داسې یو ګزار اووهلو چه په هغه باندې قبر دَ څلورو واړو طرفو نه رایو ځئ شو تردې پورې چه دَ قبر نه اوبهٔ ، تیل ، یا چربی ښکاره شوه . دوباره دغه شان خبرې اترې اوکړې

شوې او دغه شان وهل اوشو ، په دريم ځل هم دغه شان اوشو او ددې نه روستو چا اووئيل چه دهٔ ته اوګوره کوم ځائ ناست دې ، الله تعالىٰ دې هلاك کړي . بيا زما په مخ يو داسې څپيړه راغله چه زهٔ تمامه شپه بيهوشه پروت وم ، کله چه صبا شو نو زما مخ داسې شوې وو لکه تاسو چه ئې څنګه وينئ . (از مولانا مفتی عبد الغنی ، شرح الصدور)

باب نمبر ۱۶ :

﴿ زنا او عذاب قبر ﴾

د مړي په ګردن کښې د اور زنځير :

د حضرت سيدنا حضرت حسنِ بصري رحمه الله په لاس مبارك باندې يو داسې کفن چور توبه اوکړه چه هغه تقريبًا دوه سوه کفنونه غلا کړې وو . د حضرت حسنِ بصري رحمه الله په تپوس کولو سره هغه د دريو قبرونو حال بيان کړو ، چه د هغې نه صرف يوه واقعه ستاسو په خدمت کښې پيش کوو .

يو ځل ما يو قبر اوکنستلو نو ما يو زړهٔ درزولو والا منظر اوليدو ، څهٔ وينم چه د مړي مخ تك تور دې ، په لاس او خپو کښې ئې د اور زنځيرونه دي او د هغه د خُلې نه وينه او پيپ جاري وو ، او دومره سخا بدبو ترينه راتله چه د برداشت قابله نهٔ وه ، دا خوفناك منظر چه کله ما اوليدو نو زهٔ اوويريدم او واپس تللو والا وُم چه هغه مړي راته آواز اوکړو : ولې تخښتې ؟ راشه او زما نه واوره چه زهٔ د کومې ګناه سزا خورم .

ما چه د مړي آواز واوريدو نو ما ځان کلك کړو او اودريدم او قبر ته ورنزدې شوم او کله چه مې ورته اوکتل نو د عذاب فرشتو د هغه په غاړه کښې د اور زنځيرونه اچولې وو او په قبر کښې ناست وو .

ما دَ مړی نه تپوس اوکړو چه ته څوك ئې ؟ هغه راته په جواب کښې اووئیل چه زهٔ مسلمان بن مسلمان یم مګر افسوس ! زهٔ شرابی او زانی وُم او هم دغه خراب عادتونو کښې مړ شوم او په دې عذاب کښې ګرفتار شوم .

﴿ دَ زنا کار شرمګاه او دَ اوسپنې سلائی ﴾

یو ډاکټر صاحب په وارډ کښې په طور دَ رجسټرار کار کولو ، هغه ډاکټر صاحب بیان کوی چه دَ کال ۱۹٦۱ عیسوی واقعه ده چه ما دَ شپې یو خوب اولیدو چه دَ هغې په وجه سره زهٔ شپږ میاشتې بیمار وُم . خوب داسې دې چه زهٔ یو قبر ته بوتللې شوم ما اولیدل چه په قبر کښې یو مړې دې او دَ عذاب په وجه سره ترپیدو . داسې معلومیده چه مړې په سخت عذاب کښې دې . دَ هغه خُلهٔ کهولاؤ وه مګر آواز ئې نهٔ شو کولې ، لاسونه او خپې ئې دَ سخت درد په وجه سره رپیدل .

تر ډیر وخته پورې دا حالت وو ، کله چه لږ شان په سکون کښې شو نو ما اولیدل چه یو کس دَ یو چمکدار چابك په شان یو څیز دَ مړی دَ متیازو په نالئ کښې داخلوی چه ددې دَ تکلیف په وجه سره هغه مړې بیا په ټوپونو شو . دَ هغه مړی اذیت او تکلیف چه ما اولیدو نو ما ترینه تپوس اوکړو چه دې مړی ته دا عذاب ولې ورکولې شی ؟ هغه راته اووئیل چه دې مړی به په دنیا کښې بدکاری (زنا) کوله او دَ کله نه چه دې مړ شوې دې نو دهٔ ته دا عذاب ورکولې شی .

ما تر ډیره وخته پورې دا معامله کتله ، ما چه دَ مړی دا حالت اولیدو نو ماته پرې رحم راغې ، ما لا دا سزا کتله چه چا زهٔ اونیوم او په زمکه باندې ئې سملولم او هم هغه شان چمکدار څیز ئې زما دَ متیازو په نالئ راداخل کړو چه په دې سره ماته دومره شدید تکلیف راورسیدو چه ما داسې ټوپونه اووهل لکه څنګه چه مئې دَ اوبو نه بهر ترپیږی ، نن چه هم ماته هغه منظر رایادیږی نو په ما باندې ویښتهٔ اودریږی .

دَ خوب نه چه کله بیدار شوم نو زهٔ ډیر سخت بیمار وُم ، هر قسمه علاج مې اوکړو او هر قسم لیبارټو کښې مې ټیسټونه هم اوکړل لیکن صحیح نهٔ شوم ، آخر ما استغفار او توبې طرف ته توجه اوکړه نو الله تعالیٰ ماته دَ هغې نه نجات راکړو .

(روزنامه پاکستان ۱۳ مئی دسمبر ۱۹۹۱ء)

﴿ دَ یو امیر زادی واقعه ﴾

علامه ابن الجوزی رحمه الله په خپل کتاب " ذم الهویٰ " کښې لیکی : ابن نجیع دَ خپل یو با اعتماد واقعه بیان کړې ده چه ما یو ځل دَ شپې خوب اولیدو چه زمونږ کور سره نزدې کومه مقبره ده نو دَ هغې نه مړی دَ خپلو خپلو قبرونو نه راوتلې دی او یو ځائ جمع شوې دی ، بیا هغوی آه وزاری شروع کړه ، او په ژړا ژړا کښې الله تعالیٰ ته دُعا کوی : یا الله فلانکئ ښځه کومه چه سحر مړه شوې ده ، هغه چه زمونږ په قبرستان کښې دفن نهٔ شی ، مونږ دَ هغې نه بچ

اوساتې.''

ما چه دا واقعه اولیده نو ما دَ یو مُرده نه تپوس اوکړو چه څه واقعه ده؟ تاسو دا دُعا ولې کوئ؟ هغوی راته اووئیل چه نن سحر کوله ښځه مړه شوې ده نو هغه جهنمی ده. کۀ چرې هغه زمونږ په قبرستان کښې دفن کړې شوه نو چه مونږ دَ هغې عذاب وینو نو مونږ ته به اذیت او تکلیف رارسی. په دې وجه سره مونږ آه وزارې کوو او په ژړا ژړا دَ الله تعالیٰ نه سوال کوو. ما چه دا واوریدل نو بیدار شوم، او ډیر زیات حیران شوم.

چه کله صبا شو نو زۀ قبرستان طرف ته اووتلم او اومې کتل چه یو ګورکفن (قبر کنِستلو والا) لګیا دې او قبر تیاره وی ما ترینه تپوس اوکړو چه دا قبر دَ چا دپاره کنوئ؟ نو هغه راته په جواب کښې اووئیل چه دَ یو مالدار تاجر ښځه مړه شوې ده دا دَ هغې دپاره تیاروم.
ما ورته دَ شپې والا تمامه قصه اوکړه نو هغه چه واوریدل نو قبر کنِستل ئې بند کړل. اوس ما انتظار کولو چه څۀ به کیږی.

څۀ وخت چه تیر شو نو څو کسان راغلل او دَ ګورکنو نه ئې تپوس اوکړو چه آیا قبر تیار شو؟ هغوی ورته په جواب کښې اووئیل چه دا قبر نۀ شی تیاریدې ځکه چه لاندې زمکه ختمه ده هغه سړی چه دا واوریدل نو دویم ځائ ته لاړل، چونکه هلته کښې هم خوب والا قصه رسیدلې وه نو هغوی هم دَ قبر کنِستلو نه انکار اوکړو، بیا دَ هغه ځائ نه بلې مقبرې طرف ته لاړل او هلته کښې ئې قبر جوړ کړو

بیا دَ جنازې راوړلو انتظار وو. بیا اچانك شور جوړ شو چه جنازه راغله، زۀ هم دَ جنازې سره شوم.

دَ جنازې سره ډیر زیات خلق وو ما دَ جنازې سره یو خائسته نوجوان اولیدو. ما تپوس اوکړو نو خلقو راته اووئیل چه دا ددې ښځې ځوی دې کومه چه مړه شوې ده، نو دۀ او ددۀ پلار له خلقَ دَ تعزیت دپاره راځی. کله چه مړې دفن کړې شو نو زۀ دې دواړو ته ورنزدې شوم، او ورته مې اووئیل چه ما دَ شپې څۀ خوب لیدلې دې کۀ ستاسو اجازت وی نو زۀ به ئې بیان کړم. دا چه ئې واوریدل نو ددې هلك پلار (یعنی دَ مړې ښځې خاوند) اووئیل چه ماته دَ خوب اوریدو څۀ ضرورت نشته دې. لیکن ځوی ئې اووئیل چه ماته خوب بیان کړئ. ما هغه ځانله کړو او خوب مې ورته بیان کړو.

بیا مې ورته اووئیل چه تاله پکار دی چه تۀ ددې خبرې تفتیش اوکړې او دا وجه معلومه کړې چه قبر والو ولې دَ الله تعالیٰ نه په ژړا او منت سره سوال کولو. هغه نوجوان اووئیل چه ما او تاته هیڅ معلوم نۀ دی مګر دومره راته علم دې چه زما مور به شراب نوشی کوله او ګانې به ئې اوریدلې او ددې نه علاوه په نورو ښځو به ئې بهتان لګولو، مګر دا افعال دومره سنګین نۀ دی چه دې ځائ ته خبره اورسی چه مُرده ګان هم سوال کوی چه دا مړې دې زمونږ سره په یو مقبره کښې دفن نۀ کړې شی. هلته زمونږ سره په کور کښې یوه بوډۍ ښځه ده چه دَ هغې عمر یوکم سَل کاله دې هغه زما دَ مور

خدمتګاره وه کۀ ستاسو خوښه وي نو لاړ به شو او دَ هغې نه به معلومات اوکړو. شائد چه هغه زما دَ مور کردار پيژني .

بيا مونږ دواړه دَ هغه نوجوان کور ته لاړو . هغه نوجوان مونږ لره يو بالاخانې ته داخل کړو هلته کښې يوه بوډۍ ښځه ناسته وه، هغه نوجوان دې لره زما طرف ته متوجه کړه ما ورته هغه خوب بيان کړو او تپوس مې ترينه اوکړو ، ابئ تاسره دَ هغې متعلق څۀ معلومات شته دي ؟ دا چه هغې واوريدل نو وې وئيل چه زۀ دَ الله تعالىٰ نه سوال کوم چه دَ هغې بخشش اوکړي ، دا ښځه ډيره زياته بدکاره وه . په دې باندې دې نوجوان بوډۍ ته اووئيل چه آيا زما مور به دَ شراب نوشئ ، دَ ګانو اوريدو او په نورو ښځو باندې دَ بهتان لګولو نه علاوه بله ګناه هم کوله ؟

هغه بوډۍ ښځې ورته اووئيل اې بچيه ! کۀ چرې تۀ دَ هغې بدى نۀ منې نو زۀ ئې درته ښايم ، ځکه چه دې سړى کوم خوب ليدلې دې نو دا ستا دَ مور دَ ګناهونو په وړاندې معمولى دې . دا چه هغه نوجوان واوريدل نو وې وئيل چه زۀ غواړم چه تۀ مونږ ته بيان کړې ، ددې دپاره چه مونږ ددې کردار نه ځان بچ کړو او عبرت ترينه حاصل کړو ، دا چه ئې واوريدل نو هغه بوډۍ په ژړا شوه اووې وئيل الله تعالىٰ ته علم دې چه ما دَ څو کالو نه توبه کړې ده او ماته اميد وو چه ستا مور به هم توبه کړې وى مګر هغې توبه نۀ دې ويستې.
اوس زۀ ستا دَ مور درې کارنامې بيانوم .

دَ عذابِ قبر دري سوه واقعات

دې بوډۍ ددې ښځې ځوى ته ونيل چه ستا مور ډيره زياته بدکاره وه ، هره ورځ به نوجوانان د هغې کور ته راتلل چه هغې به ترينه خپل خواهش پوره کولو او ستا پلار به په بازار کښې کار کولو . بيا چه کله تۀ ځوانيئ ته اورسيدې نو تۀ ډير زيات وجيه او خوبصورت نوجوان وې ، ما به ليدل چه تاته به ستا مور دَ شهوت په نظر سره کتل ترڅو پورې چه يو ځل ستا مور ماته اووئيل چه زۀ به دې خپل ځوى باندې ميينه شوې يم لهذا تۀ دۀ لره ما طرف ته مائله کړه .

ما چه دا واوريدل نو ما ستا مور ته اووئيل ، اې لورې تۀ دې طرف ته ولې ځې ، ستا دپاره خو ډير نوجوانان شته دې چه دَ هغوى نه تۀ خپل شهوت پوره کولې شې . لهذا اې لورې ! تۀ د الله نه اوويرېږه او دَ خپلې ارادې نه واوړه . نو ستا مور ماته په جواب کښې اووئيل چه ماته ددۀ نه بغير صبر نۀ راځى نو ما ستا د مورنه تپوس اوکړو چه تۀ به په دې مقصد کښې څنګه کامياب شې ، حال دا دې چه ستا بچې هم نوعمر دې تۀ به ضرور بدنامه شې ، لهذا د الله تعالى دپاره ددې ارادې نه منع شه . نو ستا مور ماته اووئيل : اې مورې تۀ ماسره په دې کښې مدد اوکړه نو زۀ په دې کښې کامياب کيدې شم . ما ترينه تپوس اوکړو چه کومه حيله به اختيارولې شى ؟

نو ستا مور راته اووئيل چه په فلانکئ محله کښې يو عرض نويس دې هغه خط ليکى او سړى او ښځې خپلو کښې ملاوه وى او

په هغې باندې اُجرت اخلی ، نو تهٔ هغه ته اووايه چه هغه زما ځوی ته
خط اولیکی او دَ نوم اخستو نه بغیر دې ورته اووائی چه یوه جینۍ
تاسره د عشق تر حده پورې محبت کوی ، او هغه تاسره په فلان ځایْ
کښې په فلانکی وخت کښې ملاویدل غواړی . هغه بوډئ ښځه
وائی چه ما هم داسې اوکړل او کله چه ما تاته هغه خط درکړو نو تهٔ
هم فریفته شوې او تا اولیکل چه ماته منظوره ده او زهٔ به فلانکی
وخت له درځم .

نو ما هغه خط ستا مور ته ورکړو ، نو ستا مور هغه جواب
اولوستو نو وې وئیل : اې مورې ! زما ځوی ته اووایه چه هغه په فلان
وخت فلانکی ځایْ ته راشی ، او تهٔ فلانکۍ بالاخانه ښهٔ تیاره کړه او دَ
فروټ او دَ خوشبو انتظام هم اوکړه او زما ځوی ته دا هم اووایه چه
کومې ښځې تهٔ ځان ته بللې ئې نو هغه لا ناوادهٔ ده او هغه رنړانهٔ
خوښوی بلکې داکار به په تیارهٔ کښې بهتر وی ددې دپاره چه ستا مور
او پلار ته څهٔ شك نهٔ وی . بیا زهٔ تاته راغلم نو تا دا خبره اومنله او دَ
شپې وخت مقرر شو ما ستا دَ مور خبره تاته راورسوله . نو هغې ښهٔ
کپړې واچولې او ښهٔ خوشبو ئې اولګوله او بالاخانې ته راغله او بیا تهٔ
هم بالاخانې ته راغلې او بیا ستاسو دادِ عیش تر سحره پورې جاری وو
، بیا تهٔ هم هلته کښې اودهٔ شوې او زهٔ دَ صبا په وخت کښې راغلم او تهٔ
مې بیدار کړې .

بیا څو ورځې روستو ستا مور ماته اووئیل ، مورې ! زهٔ اوس دَ

خپل ځوی نه حامله شوې یم . اوس څهٔ اوکړم نو ما اووئیل زما خو
څهٔ په پوهه کښې نهٔ راځی نو څهٔ اوکړم . لیکن ستا مور به ستا نه په
مختلف بهانو او حیلو سره خواهش پوره کولو ، تردې پورې چه دَ
ولادت وخت قریب راغې نو ستا مور ستا پلار ته اووئیل زهٔ بیماره یم ،
غواړم چه څو ورځې زهٔ دَ مور کره تیرې کړم ، نو ستا پلار ورته اجازت
ورکړو .

بیا زهٔ او ستا مور ستا نیا کره لاړو او هلته کښې به یوه کمره
کښې به پاتې کیدو او کله چه دَ ولادت وخت راغې نو ما یوه دائی
راوبلله او ستا دَ مور بچې پیدا شو ، هغه بچې ستا مور مړ کړو او بیا
مونږ هغه بچې دفن کړو ، او څو ورځې روستو بیا مونږ واپس راغلو .
څو ورځې چه تیرې شوې نو ستا مور ماته اووئیل اوس زهٔ بیا دَ خپل
ځوی نه خواهش پوره کول غواړم . ما ورته اووئیل لورې ! دا چه څهٔ
اوشو نو دا ستا دپاره کافی نهٔ وو ؟ نو ستا مور راته اوویل ماته صبر نهٔ
راځی . نو بیا دا سلسله هم هغه شان جاری شوه .

بیا چه کله مورئې دویمه واقعه بیانول شروع کړل نو دَ هغه
ښځې ځوی دا خبره اوکړه چه بس کړه دومره کافی ده . الله تعالیٰ دې
زما په مور لعنت اولیږی او ورسره دې په تا هم لعنت اوکړی . دائې
اووئیل او پاسیدهٔ او زهٔ هم دَ هغه سره پاسیدم . کاش چه هغه بوډئ
نورې دوه واقعې هم بیان کړې وې . (ذم الهوئ ص ۳۴۰)

دا څو یوه امیر زاده وه لیکن په پاکستان کښې په سوونو

اميرزادګان او اميرزادګانې دي چه هغوي دَ اقتدار په کُرسو باندې ناست دي او هغوي غواړي چه په مسلمانانو کښې بې حيائي خوره کړي لکه څنګه چه دَ هغوي ټي وي پروګرام دا ګواهي ورکوي. نو داسې امير زادګان او اميرزادګانې دې دَ الله تعالىٰ جبار او قهار دا حکم هم واوري :

" اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةَ فِي الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ "

" هغه خلق غواړي چه په ايمان والو کښې بې حيائي خوره کړي دَ هغوي دپاره په دنيا او آخرت کښې دردناك عذاب دې . "

ددې واقعې نه مونږ ته دا سبق ملاوېږي " لا تستوى الحسنة ولا السيئة " نيکي او بدي برابر نهٔ دي . څومره چه انسان بدئ پسې لګې نو هغه هومره به هغه دَ سزا مستحق ګرځي . تردې پورې چه تمام اهلِ قبور دَ بدئ کار کوونکو نه په الله تعالىٰ سره پناه غواړي .

فائده : ددې واقعې نه دا هم عيان شوه چه عام مړو ته په قبرونو کښې دننه دَ الله تعالىٰ په عطاء سره د غيب دَ معاملاتو علم کيږي ، څکه چه هغه ښځه دَ ددې مړو په وړاندې نهٔ ده مړه شوې بلکې هغه ترينه غائب وه ، معلومه نهٔ ده چه په کومه محله کښې دا ښځه مړه شوې وه چه هغه به دَ مقبرې نه څومره لرې وه ، کهٔ هر څومره لرې او منلې شي نو هغه غائب مخې ته نهٔ وو .

لهذا چه عام مړو ته علم کيدې شي نو اولياء الله ته خو په

...يقهٔ اولىٰ سره علم کيدې شي ، او بيا به لا دَ انبياءِ کرامو عليهم ...لام د علم څهٔ وائې ، او بيا دَ نبيانو دَ نبى سيد العالمين ﷺ دَ علم ...يف به څوك اندازه لګولې شي ؟ الله تعالىٰ دې هر څوك دَ تعصب ...ه بچ کړى او دَ سوچ کولو توفيق دې ورته نصيب کړى . " آمين .







باب نمبر ۱۷ :

﴿ دِين پورې په خندا کولو باندې عذاب قبر ﴾

دين پورې خندا کول : يو سنګين جرم :

کهٔ چرې دَ دين څهٔ خبرې پورې خندا اوکړې شي يا هغه خلقو پورې خندا اوکړې شي چه دَ هغوی دَ دين سره تعلق او نسبت وی نو دا هم يو غټ سنګين جرم دې ، دَ انساني برادرئ نه هميشه دپاره يوه ډله داسې راروانه ده چه هغوی دَ انبياءِ کرامو عليهم السلام دَ دعوت په باره کښې دَ خندا او مذاق رويه اختيار کړې ده ، داسې خلق په مکه کښې هم موجود وو او په مدينه کښې هم ، دَ څورلسو سوو کالو تاريخ مونږ ته دا ښائی چه په هر يو دور کښې داسې خلق موجود دی.

او زمونږ په دې زمانه کښې هم په کثرت سره داسې خلق موجود دی چه هغوی دَ اين په باره کښې دَ مذاق او خندا کولو رويه اختيار کړې ده ، دَ قرآن مجيد چه يو آيت يا دَ څهٔ حکم حواله ورکړې شی يا ورته دَ رسول الله ﷺ دَ سنت په باره کښې څهٔ اووئيلې شی يا ورته دَ علماؤ او ديندارو خلقو څهٔ وينا اوکړې شي نو دا خلق ورپورې خنداګانې کوی او مذاق کوی . بعضِ خلق ګيرې پورې خندا کوی ، بعضِ خلق مسواك پورې خندا کوی او بعضِ خلق دې پورې خندا کوی چه چا دَ ګيتو (کچو) نه بره شلوار يا ازار تړلې وی ، او وائی چه دا څهٔ کوی چه پاجامه دَ ګيتو نه بره تری ، او بعض خلق ديني مدارس

او په هغې کښې تعليم حاصلوونکو طلباؤ پورې خندا کوی او وائی چه دا ادارې دَ قوم يو ډير لوی تعداد لره دَ کار نه اوباسی او خلق بې کاره کوی .

﴿ قبلې طرف ته په لاړو توکلو سره مخ داغ دار شو ﴾

په ظاهره سره په قبيح کارونو کښې او په هغه حالاتو کښې په کومو کښې چه شرمګاه ظاهرېږی يعنی دَ متيازو وغيره په کارونو کښې قبلې طرف ته مخ کول درست نهٔ دی او په نيك کارونو کښې قبلې طرف ته مخ کول موجب دَ نجات او کاميابی دې ليکن افسوس ! چه خلق داسې کار وړوکی او معمولی ګڼړی او په دې باندې عمل نهٔ کوی . په ابوداود شريف کښې يو حديث دې :

" مَنْ تَفَلَ تُجَاهَ الْقِبْلَةِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَتَفْلُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ "

(يعنی چه کوم يو کس قبلې طرف ته لاړې توکی ، نو دَ قيامت په ورځ باندې به په داسې حال کښې راځی چه هغه لاړې به ددهٔ دَ سترګو په درميان کښې په مخ باندې دَ يو بدصورته داغ په شکل کښې وی . ")

په يو بل مرفوع حديث کښې دی :

" اکرم المجالس ما استقبل به القبلة "

((يعنی د (ذکر او نيکئ) هغه مجلس چه په هغې کښې دَ استقبالِ قبله لحاظ ساتلې شوې وی ، نو هغه دَ تمام مجالسو نه بهتر دې .)) او په يو بل حديثِ مرفوع کښ دی :

"انّ لکل شئ سیدا وان سید المجالس القبلة"

((یعنی د هر یو څیز دپاره یو اعلیٰ مقام وی او د مجالسو زینت او شرافت استقبالِ قبله دې .))

چنانچه ابو میسره رحمه الله فرمائی چه د یو قبر نه شُعلې پورته کیدې او مړی ته عذاب وو . مړی تپوس اوکړو چه ما ولې وهئ؟ فرشتو ورته اووئیل چه یو مظلوم تاته فریااد اوکړو مګر تا د هغه فریاد رسی اونۀ کړه . او یو ځل تا بې اودسه مونځ کړې وو . (اخلاق الصالحین)

﴿ په بې اودسۍ کښې د مونځ کولو سزا ﴾

ابن ابی شیبه ، هناد او ابن ابی الدنیا د حضرت عمر بن شرحبیل رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه یو نهایت متقی انسان وفات شو . کله چه دا وفات شوې بنده قبر ته داخل شو نو ملائکې ورته اووئیل چه مونږ تاته د الله د عذاب سَل کوړې درکوو . هغه متقی انسان اووئیل چه ماته کوړې ولې راکوئ زۀ خو متقی ووم . بیا هغه فرشتې اووئیل چه ښۀ ده پنځوس کوړې درکوو . بیا هغه برابر بحث کولو . تردې پورې چه هغه فرشته یو کوړې لا راغله . چه یو کوړا دې وهو .

هغې فرشتې دا بنده یو کوړا اووهلو چه په هغې سره دا ټول قبر د اور نه ډک شو او هغه انسان ایره شو . بیا هغه ژوندې کړې شو نو هغه د فرشتې نه تپوس اوکړو چه اوس راته اووایه چه تا زۀ په کوړا

ولې اووهلم نو هغه فرشتې ورته اووئیل چه یو ورځ تا بې اودسه مونځ کړې وو او یوه ورځ تاته یو مظلوم خپل فریاد اوکړو مګر تا د هغه فریاد رد کړو .

﴿ مونځ ، روژې پورې په خندا کولو باندې عذابِ قبر ﴾

د ۱۹۸٦ ء په جنګ اخبار کښې یو مور دا بیان ورکړې وو . زما مشره لور وفات شوې وه ، د هغې د دفن کولو دپاره چه کله قبر تیار کړې شو نو خلقو اولیدل چه د هغې په قبر کښې پنځوس ، شپیته ماران جمع شول ، دویم قبر اوکنستلې شو په هغې کښې هم هغه شان ماران وو . بیا دریم قبر تیار کړې شو نو په هغې کښې د هغه نورو دوو قبرونو نه زیات ماران وو . په ټولو خلقو باندې وحشت طاری وو ، او وخت هم ډیر زیات تیر شوې وو . خلقو په خپل مابین کښې مشوره اوکړه نو زما لور ئې د مارانو نه په ډک قبر کښې دفن کړه او خلقو پرې د لرې نه خاورې واړولې او لاړل .

زما د لور اباجان چه کله د قبر نه کور ته راغې نو د لور د حالت په لیدو سره د هغه طبیعت ډیر زیات خراب وو او د خوف او یرې په وجه سره به هغه بار بار سَر خوزولو . ددې مور نور مزید بیان دې چه زما لور خو د مونځ او روژې پابند وه ، مګر هغې په ځائ ددې چه په خپل آخرت باندې توجه ورکړې ، هغه به اولته په ما باندې غصه شوه او زۀ به ئې ذلیله او خواره کړه . افسوس ! چه زما څۀ خبره ددغې مادرن لور په پوهه کښې نۀ راتله .

کیدې شي چه ستاسو په ذهن کښې دا خبره د شیطان په وسوسې سره راشي چه دا خو یو اخباري واقعه ده څۀ معلومه ده چه دا به ربښتیا وي او که نۀ ؟ . بالفرض که چرې دا غلط هم ثابت شي خو د فیشن پرستۍ او د بې پردګۍ فضیلت هم څوك نۀ شي ثابتولې . او ددې د جائز کیدو څۀ دلیل نۀ شي پیش کولې .

﴿ بغیر د اودس نه د مونځ کولو خوفناك انجام ﴾

چا یو کس لره په خوب کښې اولیدو چه د هغه نه یو مونځ فوت شوې وو . د هغه نه د حال تپوس اوکړو او دا تپوس ئې ترینه اوکړو چه د مرګ نه پس درسره الله تعالیٰ څۀ معامله اوکړه ؟ هغه ورته جواب ورکړو : " صلیتُ یومًا بلا وضوء فوکل عليّ ذئب یروغني في قبري فحالي معه اسوء حال "

" یعني ما یوه ورځ بغیر د اودس نه مونځ کړې وو چه د هغې په وجه سره په ما باندې یو شیرمخ مسلط کړې شو چه هغه ما لره هر وخت په قبر کښې یره وي . او ددې خوفناك حال په وجه سره زما حالت ډیر بد دې . "

﴿ غسلِ جنابت نه کولو باندې عذاب قبر ﴾

یو کس چالره په خوب کښې اولیدو نو ورته ئې اووئیل :

" دعني فاني لم اتمكن من غسل یومًا من الجنابة فالبسني الله ثوبًا من النار اتقلب فیه لیلًا ونهارًا "

" یعني ما پریږده ! زۀ په بد حالت کښې یم ځکه چه ما یو ځل د جنابت غسل نۀ وو کړې چه د هغې په جرم کښې الله تعالیٰ ما ته د اور لباس واغوندولو ، په دې آتش لباس کښې شپه ورځ سرګردان یم . "

﴿ د اذان په بې حرمتۍ باندې د الله تعالیٰ نیول ﴾

کله چه یو نیك انسان مړ شي نو د زمکې هغه ټکړې ژاړي چه کوم ځائ کښې به دۀ عبادت کولو ، د آسمان هغه دروازې ورپسې ژاړي په کومو دروازو چه به ددۀ رزق نازل کیدو . او نافرمان بنده چه کله د الله تعالیٰ نافرماني کوي نو بعضِ وختونه د الله تعالیٰ نیول د عبرت په خاطر راشي ، او الله تعالیٰ ورته هم په دې دُنیا کښې عذاب ځکوي .

د یو افسر واقعه ده ، نورو افسرانو ته چه څنګه افسري ګرانه وي نو دغه شان دې افسر ته هم دا خپله افسري ډیره ګرانه وه . موټر ، کوټې وغیره هر څۀ موجود وو . نن صبا خلقو پیسې د عزت معیار ګرځولې دې حالانکه د الله تعالیٰ په نزد خو د عزت معیار تقویٰ ده . ددۀ سره هم د دنیا ډیر ساز وسامان وو ، د هغه د کور سره یو جمات وو ، چه په هغې کښې لوډاسپیکر هم لګیدلې وو . جمات والو د سحر آواز ورکړو ، ځکه چه بعض بوډاګان خلق وي چه هغوی اذان څنګه واوري نو جمات ته راشي ، او هم داسې د مسلمانانو شعار هم دې . اذان د مونځ دپاره د رابللو طریقه ده . دې افسر هغه مؤذن منع کړو چه د سحر وختي آذان مۀ کوه په دې سره زما خوب خرابیږي ، دې موذن

په صبا باندې آذان کړو.

نو دا افسر راغې او دا موذن ئې په مخ باندې دوه څلور څپیړې اووهلو او ورته ئې اووئیل چه ته ما منع کړې نۀ وې چه دَ سحر اذان مۀ کوه په دې سره زما خوب خرابیږي. بس بیا څۀ وو غیرتِ الهی په جوش کښې راغې، هغه موذن بې چاره خو څپیړې اوخوړې او خاموش شو مګر دَ هغه افسر نیول دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه راغې، په هغه افسر باندې دَ فالج حمله اوشوه او خپې ئې هم بیکاره شوې، افسرانه مزاج وو بنځې به ورله خدمت کولو او دۀ به بیا هم سنغې سپورې وئیل، بی بی خپلو رونړو ته فون اوکړو، رونړه ئې راغلل او خپله خور ئې ترینه بوتله. ورسره بچې پاتې شو، هغوی ترینه هم ډیر زیات تنګ راغلل، او هغه بچې ئې دومره ناراض شول چه دې ئې اوچت کړو او بهر ئې چرته په روډ باندې کینښودو.

نمر راوختلو، ګرمی زیاته شوه، خولې پرې راغلې، دَ شپې ئې هم روټۍ نۀ وه خوړلې، اوس هم اوږې وو. دَ تلونکو راتلونکو نه روټۍ غواړي. فرسټ کلاس ګرنډ آفیسر دې مګر دَ الله تعالیٰ په ګرفت کښې راغلو او اوس ئې حالت داسې شو چه په لاره دَ تلونکو راتلونکو نه دَ روټۍ سوال کوي. چا روټۍ راوړه ورته ئې کینښوده، ورته ئې اووئیل اوخوره! دۀ ورته اووئیل ټائم نشته دې.

اوس لږ په دې منظر باندې سوچ اوکړئ، او عبرت حاصل کړئ چه روټۍ دَ خپو په ګوتو سره خوري.

﴿ خوفناک آواز ﴾

مانسهرې ته نزدې دَ "باټر" په تباهئ سره دَ تی وی، اخبار او رسالو په ذریعې سره ملاویدونکې تفصیلات دَ اهلِ وطن والو دپاره درسِ عبرت دې. دَ "باټر" په حوالې سره زما یو عزیز چه هغه نن صبا په CMH ایبټ آباد کښې ملازم دې او هغه دَ "باټر" اوبټو لو طبی امداد ورکوونکې ټیم کښې شامل دې. هغه وائی چه زمونږ په هسپتال کښې یو بابا داخل دې چه هغه زمونږ ته دا قصه بیان کړه:

باټر متمول دَ خلقو یو کلې دې چه هلته کښې دَ عیش او عشرت هر سامان موجود وو، مګر په دغه کلی کښې هیڅ یو جمات نشته دې. دَ کلی نه بهر باټر سینې توریم دې چه دَ هغې په یو ګوټ کښې یو ووړوکې غونډې جمات دې. بابا وائی چه په کومه شپه په مونږ باندې دَ الله تعالیٰ عذاب نازل شو نو په هغه ورځ دَ صبا آذان زما رور ورکړو نو دَ کلی یو کس دَ انتهائی غصې په حالت کښې جمات ته داخل شو او دَ آذان وئیلو په جرم کښې ئې زما رور یو څو څپیړې اووهلو چه ته مونږ آرام سره خوب ته نۀ پریږدې. او لاؤډ اسپیکر دَ جمات نه لرې کړې شو.

دَ شپې لس مینټۀ کم په درې بجې یو آواز واوریدلې شو چه عذاب راځی، ځان بیدار کړئ. بیا پنځۀ، شپږ مینټه بعد بیا دغه شان آواز واوریدې شو، نزدې کورونو والا خلق دَ کورونو نه اووتل، درې بجې په برنۍ چشمې باندې په اول ځل تندر پریوتلو او بیا څو

مينته روستو دَ شديد ترين طوفان سره دوباره تندر پريوتلو ، دا نهٔ معلوميده چه آيا كاڼي دَ غرونو نه رالويږي يا دَ آسمان نه راوريږي .

دَ اوبو وتلو روايتي لاره په كاڼو او غټو غټو ګټانو سره بند شوه او دَ چينې اوبو په تيزئ سره چه دَ هغې رفتار سَل كلوميټره في ګهنټه وو ، ډاډر طرف ته ئې رُخ كړو او آنًا فانًا هر يو څيز ، هر عمارت تَس نَس شو ، كوم خلق چه بچ پاتې شوې وو دَ هغوى چغې سورې وې ، طوفان چه په كومې تيزئ سره راغلې وو نو په هم هغه تيزئ سره ختم شو .

زما عزيز وائى چه په غرونو او ډاډر باندې كوم كاڼي او غټ غټ ګټان موندِ اوليدل نو دا وئيل مشكل دى چه دا دَدې غرونو كاڼي دى او په حجم كښې دومره لوى چه دوه كرينه يو ځائ شى نو په مشكله سره به ئې پورته كوى . په هسپتال كښې دَ داخل بوډا سړى دَ وينا مطابق دا دَ اذان په توهين باندې دَ الله تعالىٰ غيرت په جوش كښې راغې او باغى قوم ئې تباه كړو .

﴿ دَ يو نصرانى دَ كلمهٔ شهادت پرې مذاق او خندا كولو باندې عبرتناك انجام ﴾

دا واقعه په حواله دَ ابن ابى حاتم په تفسير مظهرى كښې نقل كړې شوې ده چه په مدينه طيبه كښې يو نصرانى وو ، كله چه به ئې په اذان كښې " اشهد ان محمدا رسول الله " واوريدو نو دا به ئې وئيل " احرق الله الكاذب " يعنى دروغژن دې الله تعالىٰ په اور سره

اوسوزوى . "

آخر دَ هغه دا وينا دَ هغه دَ پوره خاندان دَ سوزيدو سبب جوړ شو ، دَ هغې واقعه داسې ده چه دَ شپې هغه كله اودهٔ كيدو نو دَ هغه نوكر دَ څهٔ ضرورت دپاره كور ته اور راوړو ، دَ هغې نه يو بَسرې واولوتو او دَ يو كس په جامو پريوتلو او ټول اودهٔ وو نو ددې نه اور اولګيدو او ټول په ټوله اوسوزيدل .

﴿ قرآن مجيد ته دَ كلامِ الله وئيلو په ځائ مخلوق وئيلو باندې انجام ﴾

امام مستغفرى رحمه الله په سلف صالحين كښې دَ يو صاحب نه روايت كړې دې چه دَ هغه يو نابينا ګاونډى وو چه هغه حافظِ كلام الله وو او يوه ورځ ئې په دې خبره يو كس سره جګړا راغله كهٔ چرې قرآن مجيد مخلوق نهٔ وو نو الله تعالىٰ به ددې يو آيت زما دَ سينې نه نهٔ محو كولو . په دغه شپه چه هغه اودهٔ شو نو دَ هغه دَ سينې نه قرآن كريم محو شوې وو .

او صبا هغه ته دَ قرآن مجيد متعلق دا هم معلومه نهٔ وه چه قرآن مجيد څهٔ څيز دې . كله چه به هغه ته دَ قرآن مجيد دَ تلاوت دپاره اووئيلې شو نو هغه به ژبه خوزوله چه په دې سره به چاته پته نهٔ وه چه دې څهٔ وائى . خپل كور والا ترينه تنګ شول ، هغوى دَ مرئ نه اونيولو او زور ئې وركړو چه په دې سره هغه مړ شو .

★★★★★★★★★★★★★★★★★★

باب نمبر ۱۸ :

﴿ په ناپ ، تول کښې کمی کول ، په امانت خیانت کول ، مسلمانانو ته دهوکه ورکول ، او په سامان کښې دَ عیب په پټولو باندې دَ عذابِ قبر خوفناك ربښتونی واقعات ﴾

زما دوستانو !

دَ سامان او دَ سودا اخستو په وخت کښې په ناپ تول کښې کمی کول ، دا یو قسم غلا او خیانت دې چه دا یو حرام او سخت دَ گناه کار دې او ددې سزا دَ جهنم عذاب دې . په قرآن مجید کښې الله تعالیٰ فرمائی :

" وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ () اَلَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ () وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ () "

" دَ هغه خلقو دپاره دردناك عذاب دې کوم خلق چه په ناپ تول کښې کمی کوی ، کله چه دَ نورو خلقو نه دَ وصولئ وخت راشی نو پوره پوره وصولوی ددې دپاره چه ذرا برابر هم کمی رانهٔ شی ، لیکن کله چه نورو ته ورکوی نو په هغې کښې کمی کوی . دداسې خلقو په باره کښې فرمائی : چه ددوی دپاره دردناك عذاب دې .

یاد ساتئ ! مفسرینو لیکلی دی چه " ویل " شدید ذاب ته

ویلې شی ، او یا دا دَ جهنم دَ یو وادئ نوم دې . ددې خصوصیت دادې چه غرونه په کښې اوغورځولې شی نو هغه به هم دَ گرمئ په وجه سره ویلی شی . چنانچه قومِ شعیب په ناپ تول کښې کمی اوکړه نو په هغوی باندې څهٔ عذاب راغې . دَ قرآن نه واورئ ، په سورة الاعراف کښې دی :

" فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ () "

" یو داسې سخته زلزله راغله چه دَ هغې په نتیجه کښې هغوی په خپلو کورونو کښې (دَ کانړو او خشاك په شان) پراتهٔ وو . "

اوس خلق دا گنړی چه په ناپ تول کښې کمی په هغه وخت کیږی چه کله بنده څهٔ سودا خرڅوی او په هغې کښې کمی اوکړی ، حالانکې علماء فرمائی چه

" التطفیف فی کل شیئ " .

(یعنی په ناپ تول کښې کمی په هر څیز کښې ده . ")

لهذا چه یو کس دَ اتو گِنټو ملازم دې او هغه پوره اتهٔ گِنټې نوکری نهٔ کوی ، نو هغه هم په ناپ تول کښې کمی کوی او ددې عذاب مستحق دې ، ددې لحاظ کول پکار دی . (از " دَ گناهِ کبیره اثرات)

﴿۱﴾ ...... یاد ساتئ ! دَ دفتر سامان دَ دفتر په وخت کښې دا امانت دې ، په دې کښې خیانت کول جرم دې . کهٔ چرې دَ دفتر کار اتهٔ گِنټې دې او تهٔ پټ په پټه اووهٔ گِنټې پس اوځې نو تهٔ هم غل ئې او دَ

غل په شان ستا په ملاو کښې حرام شامل شو. چه ددې په وجه سره د فرمانِ نبوی مطابق به ستا هم د يو نمړۍ په وجه سره څلويښت ورځې مونځ نهٔ قبليږي.

﴿۲﴾...... د مجلس خبرې اترې امانت دې.

﴿۳﴾...... د راز خبره هم امانت دې.

﴿۴﴾...... په ټيلفون باندې د نورو خلقو خبرې اوريدل هم خيانت دې.

﴿۵﴾...... د چا نه دې کتاب راوړو او د کتلو نه بعد دې واپس نهٔ کړو نو دا هم خيانت دې.

﴿۶﴾...... دغه شان، سترګه، ژبه، لاس خپې هم امانت دې دې اندامونو لره د الله تعالیٰ د ناراضګۍ په کارونو کښې استعمالول خيانت دې.

﴿ په ناپ تول کښې د کمی په وجه سره د فصل تباهي ﴾

د رسول الله ﷺ ارشاد دې:

۱﴾...... په کوم قوم کښې چه زنا او بې حيائی خوره شی نو په هغوی کښې الله تعالیٰ طاعون نازلوی، يعنی هغوی په کثرت سره مری.

۲﴾...... کوم خلق چه په ناپ تول کښې کمی کوی نو الله تعالیٰ د هغوی فصلونه او انګور تباه کوی او هغه قوم لره په قحط سالۍ کښې مبتلا کوی.

۳﴾...... کوم قوم چه زکوة نهٔ ادا کوی نو په هغوی باندې باران بندولې

شی. د الله تعالیٰ ارشاد دې:

" اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۝ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝ يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ "

او دې خلقو ته علم نشته دې چه د يو لوی ورځ دپاره به دوی راپورته کولې شی، چه په دغه ورځ به خلق الله ربالعٰلمين ته اودريږي.

زجاج رحمه الله فرمائی چه ددې آيتونو مطلب دادې: يعنی کهٔ خلقو ته ددې خپلو اودريدو پته اولګی نو په ناپ تول کښې به کمی پرېږدی."

د لوی نه لوی ورځ د قيامت ورځ ده، چه خلق به د خپلو قبرونو نه د الله تعالیٰ په حکم سره د جزاء او حساب دپاره اودريږي او هلته کښې به د الله تعالیٰ په وړاندې تمامې فيصلې کيږي.

(کتاب الکبائر، للذهبی)

﴿ په امانت کښې خيانت ﴾

په امانت کښې خيانت ډيره غټه ګناه ده او حرام کار دې، او د غلا په شان دا هم جهنم ته رسوونکې عمل دې، الله تعالیٰ په قرآن مجيد کښې فرمائيلې دی:

" اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا "

(بے شکه الله تعالیٰ تاسو حکم کوی چه امانتونه خپل اهل ته اوسپارئ."

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې چه

رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه څلور خبرې په چا کښې موندلې شي نو هغه به خالص منافق وی ، او په چا کښې چه ددې نه یوه خبره موجوده وی نو په هغه کښې یو خصلت دَ منافق موجود دې تردې پورې چه توبه ترینه اوکړی .

۱﴾ کله چه امین جوړ کړې شی نو خیانت کوی .

۲﴾ کله چه خبره کوی نو دروغ وائی .

۳﴾ کله چه څهٔ معاهده اوکړی نو عهدِ شکنی کوی .

۴﴾ کله چه جګړا کوی نو کنځل کوی .

(مشکوة ص ۱۷ ج ۱ بحواله بخاری ومسلم)

دا خبره دې واضحه وی چه لکه څنګه په روپو ، پیسو او په مال او سامان کښې خیانت کول حرام دی نو دغه شان په خبرو ، کارونو او عهد او امانت کښې هم خیانت کول حرام دی . مثلًا چا تاسو ته دَ راز خبره اوکړه او تاته ئې اووئیل چه دا خبره له تاسره امانت دې چاته ئې مهٔ کوه ، او هغه خبره تا چاته اوکړه نو دا په امانت کښې خیانت شو ، دغه شان تالره چا مزدور اونیولو او یو کار ئې تاته حواله کړو مګر تا قصدًا دَ هغه کار خراب کړو نو په دې شان سره تا په امانت کښې خیانت اوکړو .

منقول دی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام یو ځل اولیدل چه شیطان په څلورو خرونو باندې سامان بار کړې دې او چرته ئې اوړی . حضرت عیسیٰؑ ترینه تپوس اوکړو چه په دې څهٔ دی ؟ هغه

ورته اووئیل چه دا زما مالِ تجارت دې ، په دې کښې په یو خر باندې ظلم بار دې ، په دویم باندې خیانت ، په دریم باندې مکر یعنی دهوکه او په دې څلورم خر باندې حسد بار دې . هغویؑ ترینه تپوس اوکړو چه دا به څوک اخلی ؟ شیطان ورته اووئیل :

ظلم ...... بادشاه او حکمران اخلی .

خیانت ...... تاجران اخلی .

دهوکه ...... ښځې اخلی .

حسد ...... علماء اخلی .

معلومه شوه چه دَ شیطان اموالِ تجارت څلور څیزونه دی ، ظلم ، خیانت ، دهوکه او حسد او په دې روایت کښې اووئیلې شو چه دهوکه ښځې اخلی .

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

★ ★ ★ ★ ★

★ ★ ★

★ ★

★

باب نمبر ۱۹ :

﴿ مسلمان ته دَ دهوكې وركولو عذاب ﴾

دَ مسلمانانو سره دهوكه كول قطعًا حرام او گناه ده چه ددې سزا دَ جهنم عذابِ عظيم دې ، ددې دَ ممانعت او حرمت په باره كښې څو احاديث ډېر زيات رقت خيز او عبرت آموز دي .

دَ اميرالمؤمنين حضرت ابو بكر صديق رضى الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه څوك چا مؤمن ته ضرر اورسوى يا دَ هغه سره مكر او دَهوكه اوكړى نو هغه ملعون يعنى لعنتى دې ." (مشكوة ص ۴۳۸ ج ۲ بحواله ترمذى)

دَ حضرت اميرالمؤمنين حضرت ابوبكر صديق رضى الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : درې كسان به جنت ته نۀ داخليږى ."

۱﴾ .... دهوكه باز .

۲﴾ .... ښاتنې والا (چه چا سره احسان اوكړى او بيا دَ هغې ښاتنه كوى .)

۳﴾ .... بخيل . (كنز العمال ص ۱۳۰ ج ۳)

او په يو بل حديث مبارك كښې دَ رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دې ، فرمائى : څوك چه مونږ سره دهوكه كوى هغه زمونږ نه نۀ دې ، مكر او دهوكه بازى دَ جهنم نه دى ." (طبرانى شريف)

﴿ دَ دهوكه باز په پُشت به دَ قيامت په ورځ جهنډا وى ﴾

په حديثِ پاك كښې راځى : "لكل خادع لواء يوم القيامة" څوك چه دهوكه وركوى ، وائى چه دا زما څيز دې . زۀ داسې وُم ، دهوكه وركوى او خپل تعارف كوى دَ هغه شاته به دَ قيامت په ورځ جهنډا وى ، په هغه جهنډا به ليكلې شوې وى اې محشر والو ! اوگورئ دا دهوكه باز جهنم ته ځى . په جهنډا به ليكلې شوې وى چه دا دهوكه باز دې ، الله تعالىٰ به دَ هغه دَ ذليل كولو دپاره دا جهنډا دَ هغه شاته لگولې وى او ښائى به چه دا دهوكه باز دې .

حضرت سيدنا شيخ محمد اسماعيل بخارى رحمه الله كوم چه په امام بخارىؒ باندې مشهور دى ، دَ احاديثو مشهور مستند كتاب صحيح بخارى دَ هغوى دَ خدماتو نتيجه ده .

هغوى دَ حديث دَ اخذ كولو دپاره يو صاحب ته تشريف يوړو اتفاقًا دَ هغه نه اس تختيدلې وو او دَ هغې دَ نيولو ئې دا كوشش كولو چه خالى جولۍ ئې په لاس كښې اونيوله او اس ته ئې دارنگه اشاره كوله چه گويا په جولۍ كښې اوربشې وغيره دى . حالانكې په هغې كښې هيڅ نۀ وو ، چنانچه دَ دانې خوړلو په لالچ كښې اس هغه ته نزدې راغې ، او دۀ اونيولو .

حضرت شيخ امام بخارى رحمه الله دَ هغه كس نه تپوس اوكړو چه آيا واقعى ستا په جولۍ كښې دانې وې . هغه ورته اوونـ

نۀ بلکې دا خو ما دَ اس رانیولو دپاره هسې دهوکه کوله . حضرت سیدنا امام بخاری رحمه الله راواپس شو ، اووې فرمائیل چه زۀ دداسې کس نه حدیث څنګه اخذ کړم چه هغه دروغ وائی . دهوکه کوی .

★.....★.....★.....★.....★.....★

★.....★.....★.....★

★.....★.....★

★.....★

★

باب نمبر ۲۰ :

﴿دَ سامان دَ کرخولو په وخت کښې دَ هغې دَ عیب پټولو انجام﴾

یو ځل رسول الله ﷺ دَ غلې په یو انبار (ډیری) باندې تیر شو او لاس مبارك ئې په انبار کښې وردننه کړو نو دَ رسول الله ﷺ لاس مبارك ته نمی غوندې محسوس شو . حضور ﷺ دَ هغه غلې دَ مالك نه تپوس اوکړو چه دا نمی (لوندوالې) دَ کوم ځائ نه راغې ؟ هغه ورته اووئیل اې دَ الله رسوله ! دَ باران په وجه سره دا لوند شوې دی . نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : تا دا لونده غله دَ ډیری دَ پاسه ولې نۀ کیخودله ددې دپاره چه خلقو ته معلومه شی چه دا غله لونده ده ؟ بیا ئې اوفرمائیل " من غش فلیس منا " چاچه دهوکه ، خیانت او ملاوټ اوکړو هغه زمونږ نه نۀ دې . "

نن صبا دَ خوفِ الٰهی نه عاری ډیر تاجران او سودا ګر دَ سامان تجارت دَ عیب پټولو کوشش کوی او ددې دپاره هغوی په څو څو قسمه حیلې استعمالوی ، مثلًا دَ عیب والا ځائ باندې پلاستر لګول ، یا چه کوم سامان خراب وی نو هغه لاندې کیخودل ، یا کیمیائی دوائی استعمالوی او په دې سره هغه سامان په ظاهره سره دِلکش معلومیږی او په حقیقت کښې خراب وی . او کله چه ګاهك سامان واخلی او کورته اورسی نو هغه سامان زر خراب یا ضائع شی ، او

بعضِ دوکاندار خو دَ سامان آخرې تاريخ بدله وی او ګاهك لره دَ سامان دَ معائنې او دَ جانچ پړتال نه منع کوی .

په خاص طور سره دَ ګاډو او دَ مختلف آلاتو خرڅولو والا اکثر تاجران ګاډې وغيره خرڅوی او دَ هغې عيب نۀ ښکاره کوی ، او حال دادې چه دَ عيب پټول حرام دی . رسول الله ﷺ فرمائی :

" المسلم اخو المسلم ولا يحل لمسلم باع من اخيه بيعًا فيه عيب الا بينه له "

مسلمانان په خپل مابين کښې يو بل سره رونړه دی او دَ هيڅ مسلمان دپاره دا جائز نۀ دی چه هغه په خپل مسلمان رور باندې عيب دار څيز خرڅ کړی او عيب ورته بيان نۀ کړی ، بلکې په دۀ باندې لازم دی چه دې دَ خرڅولو په وخت هغه عيب بيان کړی .

دَ ګاډو کاروبار کولو والا بعضِ تاجران په نيلام ګهر کښې دا آواز کوی چه زۀ دَ اوسپنې ډيرې خرڅوم ، څوك چه اخستل غواړی نو دا اوسپنه دې واخلی او هغه دَ ګاډی عيب خلقو ته نۀ ظاهره وی او هغوی دا ګنړی چه مونږ دَ ګاډی په ځائ دَ اوسپنې انبار اوويل مونږ دَ ګناه نه بری الذمه شو ، حالانکې داسې تجارت دَ برکت نه خالی وی . لکه څنګه چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دی :

" البيعان بالخيار مالم يتفرقا ، فان صدقا وبينا بورك لهما فی بيعهما ، وان كذبا و كتما محقت بركة بيعهما "

اخستو او خرڅولو والا (دوکاندار او ګاهك) چه ترڅو په

مجلس کښې وی نو هغوی په خپل درميان کښې دَ طے شُده اخستلو او خرڅولو (دَ جاری ساتلو يا دَ ختمولو) پوره اختيار لری . کۀ چرې هغوی رښتيا اووائی او معامله بالکل صفا اوساتی نو دَ هغوی په دې معامله کښې به برکت وی او کۀ چرې دواړه دروغ اووائی او په سامان کښې عيوب پټ کړی نو ددوی په دې اخستو او خرڅولو کښې برکت ختميږی . "

﴿ په ذخيره اندوزئ والا باندې لعنت ﴾

دَ حضرت معمر رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ذخيره اندوزی کولو والا ګناهګار دې .

(مشکوة ص ۲۵۰ ج ۱ باب الاحتکار بحواله مسلم)

﴿ دَ قيمت زياتول هم خيانت دې ﴾

بعضِ خلق بغير دَ اخستو دَ ارادې نه دَ څيز قيمت په بولۍ کښې زياتوی ددې دپاره چه ګاهك ته دهوکه ورکړی او هغه دَ سامان په اخستو باندې دَ خپل اصل قيمت نه په زيات باندې مجبور کړی . دَ نبی کريم ﷺ ارشاد دې :

" ولا تناجشوا " بغير دَ ارادې دَ اخستو نه دَ سامان په قيمت کښې اضافه مۀ کوئ . "

(يا دَ سامان دَ خرڅولو په وخت کښې دَ هغې په دروغه باندې تعريف مۀ کوئ .) يقينًا دا دَ دهوکې يو قسم دې او دَ نبی کريم ﷺ ارشاد دې :

"المکر والخدیعة فی النار"

(دهوکه او چال بازی کولو والا دَ جهنم په اور کښې دی."

﴿په قبر کښې خوفناك تور مار﴾

بیهقی دَ ابن محمودؒ نه روایت کړې دې چه زهٔ دَ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما سره ناست وُم چه هغوی ته څو کسان راغلل او وې وئیل چه مونږ دَ حج دپاره راغلې یو او په لاره کښې زمونږ نه یو کس وفات شوې دې، مونږ دَ هغه دپاره قبر اوکنِستلو نو مونږ اولیدل چه په لحد کښې یو غټ تك تور مار ناست دې، مونږ هغه ځائ پریښودو او په بل ځائ کښې مو قبر اوکِنستلو نو په هغې کښې هم هغه مار وو، مونږ اوس ډیر زیات پریشانه یو، تاسو ته راغې یو چه څهٔ اوکړو؟

حضرت ابن عباسؓ ورته اوفرمائیل چه تاسو هغه لره هم ددې مار سره دفن کړئ. په الله قسم! کهٔ چرې تاسو دا تمامه زمکه دَ هغه دپاره اوکنوئ نو بیا هم دا مار تاسو ضرور په نظر راځی. چنانچه مونږ دَ هغه دپاره یو قبر تیار کړو او هم دَ هغه مار سره مو دفن کړو او بیا مونږ په واپسئ کښې دَ هغه مړی دَ ښځې نه دَ هغه په باره کښې تپوس اوکړو نو هغې اووئیل چه دا دَ اوړو سودا ګر وو او دهٔ به په اوړو کښې دَ لرګو بوره ملاووله. او خرڅول به ئې.

آه!! نن هم دَ ملاوټ دَور دې حالانکې دا دَ خلقو حق تلفی ده او حرام او ګناه ده. په داسې کولو سره په ظاهره خو په مال کښې

اضافه او ترقی راځی لیکن نتیجه ئې هلاکت دې هلاکت. په دنیا کښې هم خساره ده او په آخرت کښې هم دَ عذاب وعید دې. په دنیا کښې هم حرام مال اکثر په بیمارو، مقدمو لګی او اکثر ډاکوانو له په لاس ورشی نو ددهٔ هیڅ پکار رانهٔ شی.

﴿دَ ملاوټ سره متعلق څو مسائل﴾

امام غزالی رحمه الله فرمائی چه بزار (یعنی دَ کپړې تاجر) دَ کپړې اخستو په وخت کښې کپړا سُسته راکاړی او کله چه کپړا په بل چا خرڅه کړی نو بیا سخته راکاږی، نو داسې بنجاری په سخت ترین فاسقانو کښې شامل دې، او کوم یو قصاب چه داسې هډوکې په غوښه کښې کیږدی او خرڅوی ئې چه دَ هغې رواج نهٔ وی نو هغه هم په بدترین فاسقانو کښې داخل دې، او کوم یو کس چه غله اخلی او دَ عرف او عادت نه زیات مقدار کښې خاوره او دوره دَ تول نه بهر پریږدی نو هغه هم په دوی کښې داخل دې او دا تمام خبرې حرام او ناجائز دی.

او په هر قسم کاروبار او حالاتو کښې دَ خلقو سره عدل او انصاف کول فرض او ضروری دی. دغه شان ښهٔ مال بره او خراب او بیکاره مال لاندې کیښودل چه په دې سره مقصود دهوکه ورکول وی، ښهٔ مال چاته ښودل او خراب مال خرڅول، په میوو وغیره باندې اوبهٔ څنړکاؤل ددې، دپاره چه په وزن کښې ئې اضافه وی دا ټول حرام کارونه دی. البته چه دانسته دا عیوب ګاهك ته ښودل او دَ ښودلو نه روستو بیا خرڅول یا اخستل ګناه نهٔ ده.

﴿ دَ ذخيره اندوز انجام ﴾

ابن قيمؒ په خپل سند سره دَ ابو عبد الله حرانی نه روايت کړې دې چه هغوی دَ ماز يګر دَ مونځ نه بعد دَ خپل کور نه بتان طرف ته روان شو ، دَ مابنام نه لږ شان مخکښې دَ هغه تيريدل په يو قبرستان اوشو نو هغه يو قبر اوليدو چه دَ لوهار دَ بټئ په شان ګرم او سور وو او مړې دَ هغې په درميان کښې وو . هغه دَ قبر والا متعلق تپوس اوکړو نو پته اولګيده چه هغه ذخيره اندوز وو او هغه هم په دغه ورځ مړ شوې وو .

﴿ په اوړو کښې دَ ملاوټ کوونکی انجام ﴾

بيهقی دَ ابن محمود نه روايت کړې دې چه زهٔ دَ حضرت ابن عباسؓ سره ناست وُم چه يو کس راغې اووې وئيل چه مونږ دَ حج دپاره راغلې يو او په لاره کښې زمونږ نه يو کس وفات شوې دې ، مونږ دَ هغه دپاره قبر اوکِنستلو نو مونږ اوليدل چه په لحد کښې يو غټ تك تور مار ناست دې ، مونږ هغه ځائ پريښودو او په بل ځائ کښې مو قبر اوکِنستلو نو په هغې کښې هم هغه مار وو ، مونږ اوس ډير زيات پريشانه يو ، تاسو ته راغې يو چه څهٔ اوکړو ؟

حضرت ابن عباسؓ ورته اوفرمائيل چه تاسو هغه لره هم ددې مار سره دفن کړئ . په الله قسم ! کهٔ چرې تاسو دا تمامه زمکه دَ هغه دپاره اوکنوئ نو بيا هم دا مار تاسو ضرور په نظر راځی . چنانچه مونږ دَ هغه دپاره يو قبر تيار کړو او هم دَ هغه مار سره مو دفن کړو او بيا

مونږ په واپسۍ کښې دَ هغه مړی دَ ښځې نه دَ هغه په باره کښې تپوس اوکړو نو هغې اووئيل چه دا دَ اوړو سوداګر وو او دهٔ به په اوړو کښې دَ لرګو بوره ملاووله . او خرخول به ئې . (حيوة الحيوان ص ۲۲ ج۱)

﴿ په قومی مال کښې خيانت کوونکو ته عذابِ قبر ﴾

حضرت رافع رضی الله عنه فرمائی چه مونږ يو ځل دَ رسول الله ﷺ سره يو ځائ دَ بيقع په قبرستان باندې تير شو نو رسول الله ﷺ اُف اُف " اوفرمائيل ، ما خيال اوکړو چه شايد دوی ماته دا دَ ناګوارئ کلمه فرمائی چنانچه ما فورًا عرض اوکړو چه حضرت ! زما نه څهٔ خطا اوشوه ؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : څهٔ مطلب ؟ ما ورته اووئيل چه تاسو ماته اوکتل نو اُف ، اُف مو اوفرمائيل .

نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه تاته ما دا کلمه نهٔ ده وئيلې بلکې ما ددې قبر والا فلان کس ته دا کلمه اووئيله ، دا کس ما فلانکئ قبيلې ته دَ زکوة دَ وصولولو دپاره عامل ليږلې وو . تهٔ هلته کښې يوه کُرته پټه کړې وه او په هغې کښې ئې خيانت کړې وو . اوس ورته هغه شان دَ اور کُرته اغوندولې شوې ده . " اعاذنا الله منه "

(مسند احمد ۳۹۲/٦ ، شرح الصدور ۲۲۸)

دا روايت دَ هغه خلقو دپاره دَ سختې خطرې پته ورکوی ، کوم چه قومی او ملی کارونه کوی ، کهٔ دَ مالی ذمه وارئ په ادائيګئ کښې کوتاهی اوکړې شی ، نو په قبر کښې دَ خطرناك او هولناك

عذاب اندیښنه ده . الله تعالیٰ دې مونږ ټول ته خپل خوف او خشیت عطا اوفرمائی . آمین ."

﴿دَ قبر عذاب لره زمونږ دَ خلقو لیدل﴾

اگر چې دَ الله تعالی عام دستور دا دے ، چې دَ قبر عذاب عام پیریان او انسانان نۀ وینی ،لیکن کله کله الله تعالی دَ عبرت دَپاره بعضے حالات ظاهروی ، چنانچه دَ مواعظ او عِبر په کتابونو کښې ډیر زیات داسې واقعات موجود دی چه په هغې کښې دَ قبر دَ عذاب دَ مشاهدې ذکر دې ، او دَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه دا خبره بعیده نۀ ده ځکه چه هغه په دې باندې قادر دې چه په بعضِ خلقو باندې حالات منکشف کوی ، لاندې مونږ دغه شان څو واقعات نقل کوو ددې دپاره چه دَ هغې په مطالعه کولو سره مونږ عبرت حاصل کړو .

په حدیثِ پاک کښې راځی چه بیشکه په جهنم کښې یوه وادی ده چه دَ هغې دَ گرمئ نه اهلِ جهنم روزانه پنځه ځله پناه غواړی . کۀ چرې په هغه وادئ کښې غر اوغورځولې شی نو هغه به هم دَ هغې دَ گرمئ په وجه سره ویلی شی ، په هغه وادئ کښې به هغه خلق بندولې شی کوم چه په مونځ کښې سُستی کوی او په ناپ تول کښې کمی کوی . نو افسوس دې په داسې کس چه هغه داسې جنت چه دَ هغې پلن والې دَ زمکې او آسمانونو نه برابر دې او هغه دې د یو دانې یا دَ دوو دانو په بدله کښې خرڅوی . (قرة العیون)

﴿عیسیٰ علیه السلام او یو ق...﴾

دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام تیریدل په یو قبرستان باندې اوشو ، هغوی یو قبر والا ته آواز اوکړو ، نو په حکم الٰهی سره هغه ژوندې شو ، دوی ترینه تپوس اوکړو ته څوک ئې ؟ هغه عرض اوکړو اې حضرت ! زۀ یو حمال (پنډی ، مزدور) یم ، دَ خلقو ساز وسامان به مې اوړلو ، یو ځل ما دَ یو سړی دَ لرگو گیډئ دَ هغه کور ته اورسوله او ما دَ غاښونو دَ صفا کولو دپاره یو تنکا دَ لرگو نه ماته کړه او استعمال مې کړه ، دَ هغې مطالبه زما دَ مرگ نه واخله تر اوسه پورې کیږی ، چه یا هغه ولې ماته کړه . "[غنیة الطالبین]"

﴿کاروبار او دَ سودا خرڅولو کښې دهوکه ورکول دَ عذابِ قبر سبب دې﴾

علامه جلال الدین سیوطی رحمه الله په حواله دَ حافظ ابن قیم" دَ ابو عبد الله نه نقل کړې دی ، ابو عبد الله څو قبرونه لیدې دی ، په هغې کښې یو قبر دَ اور نه ډک وو او دَ هغې نه دَ اور شُعلې ختلې . ابو عبد الله دَ خلقو نه دَ هغه مړی متعلق تپوس اوکړو نو معلومه شوه چه هغه کس به په سودا خرڅولو کښې دَ خلقو سره دهوکه کوله .(نور الصدور)

دَ دهوکې مختلف صورتونه دی مثلاً کم تول کول ، کم ناپ کول ، ښۀ مال ښودل او خراب خرڅول ، دا تمام دَ دهوکې صورتونه دی ، نن صبا ډیر زیات خلق په دې بدو کارونو کښې مبتلا دی ، ددې نه دَ بچ کیدو ډیر زیات ضرورت دی .

حسان بن سفيانؒ په باره کښې روايت دې چه هغه ترشپيتو كالو پورې نۀ اودۀ شوې وو نۀ څۀ چکنائی وغيره ئې خوړلې وه او نۀ ئې يخې اوبۀ څکلې وې . هغه چه کله وفات شو نو چا په خوب کښې اوليدو نو تپوس ئې ترينه اوکړو چه الله تعالىٰ درسره څۀ معامله اوکړه ؟ هغه اوفرمائيل چه ښۀ معامله ئې راسره اوکړه ليکن زۀ دَ يو ستن په سبب سره چه هغه ما دَ چا نه عاريةً (يعنى په سوال) غوښتې وه لو واپس کړې مې نۀ وه ، دَ جنت [redacted] يم ."

﴿ دَ زمکے روزانه آواز ﴾

وائی چه زمکه دَ ورځی پنځۀ ځله آواز کوی ،

دَ هغی رومبنے اواز دا دے :" چی اے ابنِ آدمه: تۀ زما پۀ شا باندے گرځی راګرځی سبا به زما خیټی ته راشی :"

دویم آواز یئ دا دے :" چی اے ابنِ آدمه تۀ زما په شا باندے رنگا رنگ خوراکونه کوے او زما په خیټه کښی به تا چینجی خوری ."

دریم آواز یئ دا دے:" چی اے ابنِ آدمه تۀ زما په شا باندے خاندے زر ده چی زما خیټه کښی به ډیر اوژاړے."

څلورم آواز ئې دادې : اې ابن آدم ! تۀ خو زما په شا باندې خوشالئ مناوئ ليکن زر ده چه تۀ به زما په خيټه کښى غم پورته کړې ."

پنځم آواز ئې دادې : اې ابن آدم ! تۀ زما دَ پاسه گناه کوې او زر

ده چه تاته به زما په خيټه کښې عذاب درکړې شی ."

﴿ دَ لسو دينارو په وجه سره عذاب ﴾

حضرت صعب رضى الله عنه وفات شو دَ وفات نه پس په اولنئ شپه کښې حضرت عوف بن مالك رضى الله عنه ته په خوب کښې دَ ملاقات دپاره راغې . حضرت عوف بن مالك رضى الله عنه ترينه تپوس اوکړو چه الله تعالىٰ درسره څۀ معامله اوکړه ؟ دَ الله تعالىٰ سره دې څنګه پيښى اوشوه ؟ حضرت صعب رضى الله عنه ورته جواب ورکړو دَ ډيرې مشکلئ او دَ ډيرې سختئ نه روستو راته نجات ملاؤ شو . دوى په خپل مابين کښى خبرے اترې کولې چه حضرت عوف بن مالكؓ اوليدل چه دَ هغویؓ په غاړه باندې دَ سوزيدو داغ دې .

هغوى دَ حضرت صعبؓ نه تپوس اوکړو چه دا داغ څنګه دې ؟ حضرت صعب ورته اوفرمائيل چه ما دَ څۀ ضرورت دپاره دَ يو يهودى نه لس ديناره اخستې وو او لا تراوسه پورې مې ادا کړې نۀ دی چه زۀ مړ شوم .

دَ هغه لسو دينارو دَ نۀ ادا کولو په وجه سره په هغې سره ماته داغونه راکړې شو ، دا تور داغ چه تۀ وينې نو دا دَ هغه داغونو نشان دې . هغه لس ديناره اوس هم زما په کور کښى زما په ترکش کښى دننه پراتۀ دی ، تۀ سحر وختی زما کور ته لاړ شه او هغه لس ديناره واخله او فلانکی کس ته ئې ورکړه ، ددې دپاره چه زما دا تکليف ختم

شي .

﴿ دَ تکلیف په وجه سره خپلې ګوتې په خُلهٔ کښې چیچل ﴾

دغه شان حضرت عوف بن مالك رضی الله عنه دا هم اولیدل چه دَ حضرت صعب ؓ په ګوتو باندې کپړا تاؤ شوې ده . او داسې معلومیده چه دَ هغه ګوتې دننه ډیرې زخمې دی . هغوی ترینه تپوس اوکړو چه ستاسو په دې ګوتو څهٔ شوې دی ؟ هغوی ورته جواب ورکړو چه په کوم تکلیف کښې زهٔ مړ شوم ، هغه تکلیف دومره سخت وو چه دَ هغې دَ شدت په وجه سره ما خپلې ګوتې په خُلهٔ کښې اوچیچلې او دَ هغې نه بعد بیا دَ الله تعالیٰ په حضور کښې پیشې اوشوه نو الله تعالیٰ اوفرمائیل : چه کوم څیز تا په خپله خراب کړې دې نو هغه مونږ نهٔ درست کوو . ما دا ګوتې په دې وجه سره پټې کړې دی کهٔ چرې تاسو دا اولیدې نو تاسو ته به هم تکلیف وی .

﴿ دَ رسول الله ﷺ دَ دُعا برکت ﴾

حضرت عوف بن مالك رحمه الله فرمائی چه کله صبا شو نو سحر وختی زهٔ دَ هغوی کور ته لاړم ، او دَ هغوی نه مې ترکش اوغوښتو ، نو په هغې کښې واقعی لس دیناره وو ، او تقریبًا چه هغه دینارونه استعمال شوې هم نهٔ وو ، ما هغه دینارونه واخستل او دَ

هغه قرضه مې خلاصه کړه او بیا دَ هغې نه روستو دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او دَ خوب تمامه واقعه مې ورته واوروله ، او ورته مې اووئیل : چه دَ هغوی قرضه خو مې ادا کړه لیکن دَ هغوی ګوتو ته تکلیف ډیر زیات دې ، لهذا تاسو دُعا اوکړئ .

چنانچه رسول الله ﷺ خپل لاسونه مبارك پورته کړل او دَ هغوی دپاره ئې دُعا اوکړه : یا الله ! دَ هغه مغفرت اوکړې . په بله ورځ چه زهٔ کله اوده شوم نو حضرت صعب رضی الله عنه بیا په خوب کښې راغې ، او اوس دَ هغه په مرئ باندې داغ هم ختم شوې وو او ګوتې ئې هم صحیح سالم وې . (عالم برزخ وابن ابی الدنیا بتصرف)

﴿ بغیر دَ اجازت نه دَ وړوکی ډکی په استعمال سره عذابِ قبر ﴾

وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه دَ بنی اسرائیلو یو هلك دَ تمام ګناهونو نه توبه اوویسته ، او بیا په عبادت کښې مشغول شو او تر اویا کالو پورې عبادت کولو او ورځې به ئې کله هم افطار نهٔ کولو او نهٔ به دَ شپې اوده کیدلو او په سوری به کله هم نهٔ کیناستو او نهٔ به ئې څهٔ عمده خوراك کولو . کله چه هغه مړ شو ، نو یو دوست هغه لره په خوب کښې اولیدو او تپوس ئې ترینه اوکړو چه الله تعالیٰ درسره څهٔ معامله اوکړه ؟ هغه ورته اووئیل چه الله تعالیٰ زما سره حساب اوکړو او بیا زما تمام ګناهونه معاف کړې شو ، بغیر دَ یو ډکی

نه چه هغه ما دَ مالك دَ اجازت نه بغير په غابښونو كښې استعم
كړې وو او دَ هغې په وجه سره زهٔ لا تراوسه پورې دَ جنت نه بند كړ
شوې يم .

زهٔ وايم چه ددې واقعې تائيد ددې حديث نه هم كيږي :

" ان اللـه تعالیٰ اخفیٰ ثلثًا فی ثلث اخفیٰ رضاه فی طاع
واخفیٰ سخطه فی معصيته واخفیٰ اولیآء ه فی عباده "

" يعنی اللـه تعالیٰ درې څيزونه په دريو كښې پټ كړې دي
خپله رضا ئې په طاعت كښې او خپله غصه ئې په خپل معصي
كښې او خپل دوستان ئې په بندګانو كښې . "

ډير وختونه الله تعالیٰ دَ بنده نه دَ صغيره ګناه په وجه سره ه
ناراض كيږی ، مثلًا بغير دَ اذن نه دَ غابښونو دپاره خلال اخستل ، يا دَ
ګاونډی په خاورې سره بغير دَ اجازت نه لاس صفا كول .

﴿ په غله كښې په خيانت باندې عذابِ قبر ﴾

حرث محاسبی رحمه الله فرمائی چه يو غله تول كوونكی دَ
خپل كار نه توبه اوويسته او دَ الله تعالیٰ په عبادت كښې مشغول شو
، كله چه هغه وفات شو نو دَ هغه يو دوست هغه لره په خوب كښې
اوليدو نو تپوس ئې ترينه اوكړو چه الله تعالیٰ درسره څهٔ معامله
اوكړه ؟ هغه ورته اوويل چه پنځلس بورئ دَ مختلف قسم غلو
كومې چه ما ناپ كړې وې زما په ذمه اولګيدل . دوست ترينه تپوس
اوكړو چه هغه څنګه ؟ هغه جواب وركړو چه ما به دَ پيمانې په صفا

كولو كښې سُستی كوله چه دَ هغې په وجه سره په هغې كښې
خاورې جمع شوې او هره پيمانه به دَ هغه خاورې په مقدار كمه وه .

﴿ په ناپ تول كښې كمی كولو باندے عذابِ قبر ﴾

هم دغه شان دَ يو بل كس قصه مروی ده ، چه هغه به تله دَ
غبار نه نهٔ صفا كوله ،پس هغه ته به په قبر كښې عذاب كيدلو او
خلقو به دَ هغه دَ چغو سورو آواز اوريدو ، تردې پورې چه دَ صالحينو
رضی الله عنهم نه يو كس دَ هغه شفاعت اوكړو .

ابو ميسره رحمة اللـه عليه به فرمائيل چه يو مړې په قبر
كښې دومره اووهلې شو چه دَ هغه قبر دَ اور نه ډك كړې شو . مړی
تپوس اوكړو چه ما ولې وهئ ؟ نو فرشتو ورته اوويل :

تهٔ په يو مظلوم باندې تير شوې وې او هغه تاته خپل فرياد
اوكړو ليكن تا دَ هغه فرياد رد كړو ، او ددې نه علاوه تا يو مونځ بغير دَ
اودس نه كړې وو ، او حال دادې چه تاته دا معلومه وه چه زهٔ بې اودسه
يم . "

★.....★.....★.....★.....★.....★.....★.....★

★.....★.....★.....★.....★

★.....★.....★

★.....★

★

باب نمبر ۲۱ :

﴿ دَ ملاوټ او خیانت په وجه سره دَ مرګ په وخت کښې دَ کفر کوونکو ربښتونی واقعات ﴾

زما دوستانو ! دین دَ خیر خواهۍ نوم دې ، کۀ لین دَین کولو والا په خپل مابین کښې دَ یو بل همدرد او خیر خواه وی نو دَ دواړو په معامله کښې به خیر او برکت وی . رسول الله ﷺ فرمائیلې دی :

" فان صدقا وبيّنا بورك لهما فى بيعهما وان كتما وكذبا محقت بركة بيعهما "

کۀ چرې اخستلو او خرڅولو والا ربښتیا اووئیل او دَ خپلو څیزونو عیب او نقصان بیان کړی نو دَ دواړو په معامله کښې به برکت وی او کۀ چرې عیب پوشی اوکړی نو دَ هغوی په سودا ګرۍ کښې به برکت نۀ وی .

او رسول الله ﷺ دا هم فرمائیلې دی :

" من باع عيبًا لم ينبه لم يزل فى مقت الله او لم تزل الملائكة تلعنه "

" یعنی چه څوك عیب دار څیز بغیر دَ واضح کولو خرڅ کړی نو هغه دَ الله تعالیٰ په ناراضتیا کښې همیشه وی ، او یا به فرشتې په هغه باندې لعنت لیږی . "

دین دَ خیر خواهۍ نوم دې ، رسول الله ﷺ فرمائیلې دی : " الدین النصیحة " (بخاری) حافظ ابن حجر ددې حدیث په شرح کښې دَ حضرت جریر رضی الله عنه واقعه لیکلې ده چه دَ هغه غلام په دري سوه روپۍ باندې یو اس واخستو ، کله چه حضرت جریرؓ هغه اس ته اوکتل نو بائع ته ئې اووئیل چه ستا دا اس دَ دریو سوو نه بهتر دې ، په قیمت کښې به ئې اضافه کوله تردې پورې چه اتۀ سوه روپۍ ئې ورکړې .

﴿ په پیو کښې دَ اوبو دَ ملاوټ انجام ﴾

په مخکښې زمانه کښې به یو کس په پیو کښې اوبۀ اچولې او خرڅول به ئې ، یو ځل ئې پېۍ خرڅ کړل واپس راتلو چه په لاره کښې په کشتۍ کښې سور شو ، په کومه کشتۍ کښې چه سور شو نو په هغه کشتۍ کښې یو بیزو هم وه . کله چه کشتۍ " بیچ منجد هار " ته اورسیده نو بیزو ددۀ نه دَ روپو هغه تیلۍ واخسته او بره چه کوم لرګې لګیدلې وو هغې ته اوختله ، او دَ روپو هغه تیلۍ ئې پرانیستله دَ هغې نه به ئې یو روپۍ اوبو ته غورځوله او یوه روپۍ به ئې ددې سړی مخې ته راغورځوله ، په دې شان سره نیمې پیسې اوبو ته لاړې او نیمې پیسې دې سړی ته پاتې شوې ، ګویا چه دَ اوبو پیسې ئې اوبو ته اوغورځولې او دَ پیو روپۍ ئې ددۀ مخې ته اوغورځولې . دا حکایت په ترغیب او مسند احمد بن حنبلؒ کښې موجود دې .

﴿ دَ ملاوټ په وجه سره دَ کلمې توفیق ملاؤ نۀ شو ﴾

حضرت سیدنا مالك ابن دینار رحمه الله یو مریض ته تشریف یوړو او هغه مریض مرګ ته نزدې وو، هغوی ورته څو څو ځله دَ کلمهٔ شهادت تلقین ورکړو، لیکن هغه به دا آواز کولو "لس، یوولس، لس یوولس" کله چه دَ هغه نه ددې دَ وجې تپوس اوکړې شو نو هغه اووئیل چه زما په وړاندې دَ اور غر دې. کله چه زهٔ دَ کلمهٔ شهادت وئیلو کوشش کووم نو هغه اور زما دَ سوزولو دپاره راروان شی. بیا دَ هغه نه تپوس اوکړې شو چه ستا په دنیا کښې څهٔ عمل وو؟ نو هغه اووئیل چه ما به کم تول کولو.

آه! په ناپ تول کښې کمی کولو والا دپاره هبربادی ده! اې خلقو! چه تاسو دَ یو څو پیسو په خاطر دَ جهنم اور خپلوئ. په تفسیرِ حسینی کښې دی چه کوم کس په ناپ تول کښې خیانت کوی، دَ قیامت په ورځ به هغه دَ جهنم په بیخ کښې غورځولې شی او دَ دوو غرونو په درمیان کښې به کینولې شی او حکم به ورته کولې شی چه دا غرونه ناپ کړه او تول ئې کړه. کله چه ئې تول کړی نو اور به ئې اوسوزوی.

﴿ دَ مرګ په وخت کښې ورته کلمه نصیب نهٔ شوه ﴾

علامه قرطبی یوه واقعه لیکلې ده. یو دوکاندار دَ صبا په وخت کښې راغې او دَ خپل دوکان تَله ئې ماته کړه. ګاونډی داکاندار ترینه تپوس اوکړو چه دا دې ولې ماته کړه؟ هغه ورته اووئیل چه نن زما یو ګاونډی مړ کیدو، مونږ اووئیل "لا اله الا الله" یعنی تهٔ کلمه

اووایه. هغه اووئیل چه زهٔ نهٔ شم وئیلې. مونږ ورته اووئیل چه ولې نهٔ شې وئیلې؟ هغه اووئیل چه زما دُ دوکان تله زما خُلهٔ بندوی، چه دَ هغې په وجه سره زهٔ کلمه نهٔ شم وئیلې.

یو دوکاندار چه کله غلط تول کوی نو هغه وائی چه ما نن سل روپئ اوګټلې، لس روپئ مې بچ کړې. او دَ مرګ په وخت کښې نې دا حال وی چه کلمهٔ شهادت ورته نهٔ نصیب کیږی، نو څهٔ ورته ملاؤ شو؟

زما رورو! دَ خلقو معامله ډیره سخته ده، په دې وجه سره خپل ځانونه بچ کړئ، چه په خپله لمنه کښې دَ چا حق مهٔ اچوئ. الله تعالیٰ دَ خپلو حقوقو په حق کښې ډیر زیات سخی دې، ډیر زیات سخی دې دَ هغې هیڅ اندازه نشته دې.

مالك بن دینار رحمه الله فرمائی چه ماته زما یو ګاونډی راغې، دَ هغه مرګ قریب شوې وو، او هغه به وئیل چه دَ اور دوه غرونه، دَ اور دوه غرونه، ما ترینه تپوس اوکړو چه تهٔ څهٔ وائې؟ هغه اووئیل اې ابو یحییٰ! زما سره دَ ناپ تول دپاره دوه لوښی (پیمانې) وو، په یو سره به مې اخستل کول او په بل باندې به مې خرڅول کول

﴿ دَ ملاوټ کوونکی صدا! دَ اور غر ﴾

مالك بن دینار رحمه الله فرمائی چه زهٔ پاسیدم او هغه دواړه مې دَ یو بل سره ټکراؤ کړل (اومې جنګول). هغه اووئیل اې ابو یحییٰ! تهٔ چه کله هم په دې یو لوښی باندې بل وهې نو هغه هومره

سوره هم معامله ډیره زیاته سختیږي . او آخر دا چه هغه وفات شو .

" مطفف " هغه کس ته وئیلې شي چه هغه په تول کښې لږه شان کمي کوي . ځکه چه هغه صرف لږ شان څیز کمولې شي او دَ هغه دا کار کول غلا ، خیانت او حرامه ګڼه ده .

﴿ په ناپ تول کښې دَ کمی کولو والا دپاره دَ اور وادی ﴾

الله تعالیٰ دداسې خلقو دپاره دَ " ویل " دهمکی ورکړې ده ، او " ویل " سخت ترین عذاب ته وئیلې شي ، او دَ یو قول مطابق دا دَ جهنم یو داسې وادی ده ، کۀ چرې په هغې کښې دَ دنیا دا غرونه واچولې شي نو دا به هم دَ هغې دَ سخت حرات او ګرمائش په وجه سره ویلې شي .

بعضِ اسلافو به وئیل چه مونږ په هر ناپ او تول کوونکی باندې دَ اور مسلط کیدو ګواهی ورکوو ، ځکه چه هغه به دَ کمی او دهوکې نه نۀ بچ کیږي مګر دَ الله تعالیٰ په فضل وکرم سره .

﴿ څوك چه په ناپ تول کښې کمی کوی په هغوی باندې دَ مرګ په وخت کښې افسوس ناك حال ﴾

دَ یو کس بیان دې چه زۀ یو مریض ته ورغلم چه دَ هغه مرګ رانزدې وو ، ما هغه ته دَ کلمهٔ شهادت تلقین اوکړو لیکن دَ هغه په ژبه به دَ کلمهٔ شهادت وِرد نۀ راتلو . کله چه هغه صحیح شو نو ما ترینه تپوس اوکړو اې زما روره ! دا څۀ وجه وه چه ما تاته دَ کلمهٔ شهادت

تلقین کولو ، لیکن ستا دَ ژبې نه کلمهٔ شهادت نۀ وتله ؟ اې زما روره ! ما به چه کله دَ کلمهٔ شهادت وئیلو اراده اوکړه نو هغه تَله چه ما پرې ناپ تول کولو هغه به زما په ژبه باندې کېښودلې شوه چه دَ هغې په وجه به ما کلمهٔ شهادت نۀ شوه وئیلی . ما ترینه تپوس اوکړو چه په الله قسم ! تا به په تول کښې کمی کوله ؟ هغه راته اووئیل چه نۀ . زما دې په الله قسم وی ما به کمی نۀ کوله لیکن ډیر وخته پورې زۀ په تله کښې دَ خرابئ نه ناواقف وُم ، یعنی تَله خرابه وه او ماته مته نۀ وه چه دا خرابه ده او ما به پرې ناپ تول کولو .

تاسو اندازه اوکړئ چه دا خو دَ هغه شخص حال وو چه هغه دَ خپلې تلې په صحیح کیدلو باندې توجه نۀ ورکوله ، او کوم کس چه قصدًا عمدًا په ناپ تول کښې کمی کوی نو دَ هغه به څۀ حال وی .

﴿ په میدانِ حشر کښې دَ خوَلې عذاب ﴾

نافعؒ وائی چه کله به حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما په چا خرڅوونکی تیریدلو نو هغه ته به وئیل : دَ الله نه یریږه او ناپ تول پوره کوه ، ځکه چه په ناپ تول کښې کمی کولو والا به دَ قیامت په ورځ اودرولې شی ، او دَ هغوی نه به مسلسل خوَله روانه وی او جمع کیږی به او هغوی به لره به دَ غوږونو پورې دَ واګی په شان ګیر کړی ، او دغه شان به دَ هغه تاجر حال هم وی چه هغه دَ خرڅ په وخت سخت ساتی او دَ اخستو په وخت لاس نرم ساتی .

﴿ دَ یو دانې په کمۍ باندې ئې دَ جهنم وادی واخسته ﴾

په سلفو صالحينو کښې دَ يو صاحب قول دې چه دَ هغه
کس دپاره دې هلاکت وی چه هغه يوه دانه کمی کوی او دَ هغې په
وجه سره جنت خرڅوی چه دَ هغې پلن والې دَ زمکې او آسمان نه
زيات دې ، او دَ هغه کس دپاره هم هلاکت او تباهی ده چه هغه يوه
دانه زياته واخلی او دَ جهنم وادی اخلی .

﴿ په ناپ تول کښې کمی ! دَ ځلويت کالو عبادت دَ عذاب نه بچ نهٔ کړو ﴾

دَ مشهور صوفی عبد الواحد بن زيد رحمه الله يو خادم وو ، چه هغه په زهد او تقویٰ کښې مشهور وو . " وکان يعبد ربه اربعين سنة " يعنی هغه به مسلسل ځلويښت کاله په عبادت کښې مشغول وو . هغه کيال وو ، يعنی دَ ناپ تول کار به ئې کولو .

دَ مرګ نه روستو چا هغه لره په خوب کښې اوليدو ، تپوس ئې ترينه اوکړو :

" ما فعل الله بك ؟ قال : خيرا غير انی محبوس عن الجنة وقد خرج علی من غبار القفير اربعون قفيزًا "

يعنی الله تعالیٰ درسره څهٔ معامله اوکړه ؟ هغې ورته اووئيل چه الله تعالیٰ راسره ښهٔ معامله اوکړه ، سوا ددې خبرې نه چه کله کله به په پيمانه کښې مخکينی غبار پاتې شوې وو چه دَ هغې په وجه سره به په ناپ تول کښې (معمولی غوندې) جمې زياتې کيدلو .

صرف په دې دومره بې احتياطئ باندې دَ هرې پيمانې ددې معمولی غبار په سزا کښې ماته دَ ځلويښتو قفيزو دَ ادا کولو حکم راکړې شوې دې .

﴿ دَ زرګونو کاله عبادت سره دَ ډيرو حرامو نه بچ کيدل دی ﴾

په يو روايت کښې دی چه يو کس دَ يو قبر سره دوه رکعته مونځ اوکړو او اوده شو ، په خوب کښې ئې صاحبِ قبر اوليدو ، صاحبِ قبر ورته اووئيل :

" يا هذا انکم تعملون ولا تعلمون ونحن نعلمُ ولا نعمل ولأن نکون رکعتاك فی صحيفتی احب الی من الدنيا وما فيها "

" يعنی تاسو ژوندی خلق عمل کولې شئ ، او تاسو ته دَ هيڅ څيز علم نشته دې ، او مونږ پوهيږو ، مونږ ته علم دې مګر ددې عمل مجاز نهٔ يو . ستا ددې دوو رکعتونو اضافه کهٔ چرې زما په عملنامه کښې اوکړې شی نو دا زما دپاره دَ دنيا او څهٔ چه په دنيا کښې دی دَ هغې ټولو نه بهتر دی . "

﴿ دَ مرګ نه روستو دَ نيك کار خواهش ﴾

يو بزرګ خپل يو رور دَ مرګ نه روستو په خوب کښې اوليدو ، نو ورته ئې اووئيل چه آيا تهٔ دوباره ژوندې شوې ئې ، الحمد لله رب العٰلمين " رور ورته جواب ورکړو : کاش چه ما صرف يو ځل

الحمد لله وئيلي شو نو دا به زما دپاره دَ دنيا وما فيها نه بهتر وو ، بيا ئې ورته اووئيل چه دَ دفن كولو نه پس تا اوليدل چه يو كس زما قبر سره دوه ركعته مونځ كړې وو ، څۀ به ښۀ وه چه زۀ هم دَ دوو ركعتو په مونځ كولو باندې قادر وُم ، نو دا به زما دپاره دَ دنيا ومافيها نه بهتر وو

﴿ په پيو كښې دَ ملاوټ كولو په وجه سره څاروې مړ شو ﴾

بيان كولې شي چه په يو كلي كښې يو كس وو هغه به پئ خرخول او په پيو كښې به ئې اوبۀ اچولې . كله چه سيلاب راغې نو دَ هغه نه ئې تمامې چيلئ لاهو كړې نو هغه ژړل او وئيل ئې چه دا تول څاڅكى راجمع شول او دَ هغې نه سيلاب جوړ شو ، حال دادې چه دَ سزا ژبې هغه ته دا تنبيه وركوله چه :

" ذالك بما قدمت يداك و ان الله ليس بظلام للعبيد "

" دا ستا دَ لاسونو دَ كړو بدله ده او دا خبره ثابته ده چه الله تعالىٰ په بندګانو باندې ظلم كولو والا نۀ دې . "

پوهه شئ ! چه غلا او خيانت كول دواړه دَ هلاكت خيزونه دى ، او دَ ديندارئ دپاره نقصان دِه دى .

﴿ دَ مړ كيدونكى كس آواز چه په ما باندې شراب اوڅكئ ﴾

يهسع بن بزه نومى يو كس عبادت ګذار بنده په بصره كښې .

هغه فرمائى چه يو كس مړ كيدو ، خلقو به هغه ته دَ " لا اله الا الله " تلقين كولو او دَ هغه دَ ژبې نه به دا آواز راتلو چه يو ګلاس شراب تۀ هم اوڅكه او په ما باندې هم اوڅكوه .

دغه شان په " اهواز " نومى علاقه كښې يو كس مړ كيدلو خلقو ورته دَ لا اله الا الله " تلقين كولو او هغه به وئيل : ...... لس روپئ ...... يوولس ، يوولس ، ...... دولس ، دولس .

ددې په مقابله كښې چه كومو خلقو دَ آخرت دپاره تيارې كړې وه نو هغوى به په دنيا كښې مرګ يادولو ، او دَ هغوى دپاره مرګ داسې وو لكه چه حضور ﷺ فرمايلي دى : مرګ دَ مؤمن دپاره تحفه ده . " دَ حضرت بلال رضى الله عنه چه كله دَ مرګ وخت قريب شو نو هغوى ته خپلې بى بى ته وئيل : " وَاحزناه " هائے افسوس ! تۀ ځې . او هغوىؓ به فرمائيل : " واطرباه غدا نلقى الا حبة محمدًا وحزبه " څۀ دَ مزې خبره ده او څۀ دَ خوند خبره ده چه صبا به دَ دوستانو سره ملاويږو او دَ حضور ﷺ سره به ملاويږو او دَ هغوى ﷺ ملګرو (صحابهٔ كرامو) سره به ملاويږو . "

﴿ دَ ملاوټ په وجه سره دَ اور شُعلې ﴾

دَ تدفين نه روستو دَ بدې خاتمې دَ ظاهر كيدلو يوه واقعه داده ، حافظ ابن قيم رحمه الله په " الروح " نومى كتاب كښې ليكلې دى ، چه زمونږ ملګرې ابوعبدالله محمد بن الرزيز الحرانى مونږ ته خبر راكړې دې چه زۀ يو ځل دَ مزيګر په وخت كښې مقبرې طرف ته روان

شوم . کله چه نمر ډوبیدو ته قریب شو نو زهٔ قبرستان ته اورسیدم . هلته کښې ما اولیدل چه دَ هغه قبرونو نه یو قبر داسې دې چه دَ هغې نه دَ اور شُعلې اوچتېدلې . (لکه چه دَ ډیوې نه اور اوځی) او په هغه قبر کښې یو مړې هم وو . ما چه هغه اولیدو نو سترګې مې پټې کړې او دَ ځان سره مې خیال اوکړو چه آیا زهٔ دَ خوب په حالت کښې یم او کهٔ بیدار یم ؟ بیا زهٔ آبادئ طرف ته راغلم او حال دادې چه زهٔ مدهوش وُم ، زما کور والا ماته خوراك راوړو او زما مخې ته ئې کیښودو لیکن په ما کښې دَ خوراك کولو همت نهٔ بالکل نهٔ وو ، چنانچه زهٔ بهر ته لاړم او دَ هغه قبر والا متعلق مې دَ خلقو نه تپوس کولو چه دا کس څوك وو ؟ نو ماته اوښودلې شوه چه دې سړی به دَ جعلی پیسو کاروبار کولو .

﴿ دَ ښهٔ خاتمې علامت ﴾

مونږ دَ بدې خاتمې نه په الله تعالیٰ سره پناه غواړو او دَ الله نه سوال کوو چه هغه زمونږ زړونه دَ هدایت نه بعد ګمراه نهٔ کړی او په مونږ باندې خپل خاص رحمت نازل کړی ، بې شکه هم هغه ورکولو والا دې .

دَ خپلو رشته دارو سره حسنِ سلوك او صلهٔ رحمی دَ ښهٔ خاتمې سبب دې ، نبی کریم ﷺ فرمائی :

" من احب ان يمد له فی عمره ويوسع له فی رزقه ويدفع عنه ميتة السوء فليتق الله و ليصل الرحم "

چه څوك غواړی چه زما دې په عمر او رزق کښې برکت وی او زهٔ دې دَ بد مرګ نه مامون او محفوظ یم نو هغه لره پکار دی چه دَ الله نه اوبریږی او دَ خپلو رشته دارو سره صلهٔ رحمی کوی .

﴿ دَ خولې راتلل دَ ښهٔ خاتمې علامت دې ﴾

څوك چه مرګ ته قریب وی او دَ هغه په تندی باندې خوَله راشی نو دا هم دَ هغه دَ نیکو اعمالو سبب دې ، ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها بیان فرمائی چه ما دَ رسول الله ﷺ دَ وفات په وخت په هغوی کومه دَ مرګ سختی لیدې وه نو دَ هغې نه پس ماته په هیچا باندې رشك نهٔ راځی چه هغه ته مرګ په آسانئ سره راغې ."

حضرت بریده رضی الله عنه خراسان ته دَ خپل رور دَ ملاقات او دَ هغه دَ بیمار پُرسئ دپاره لاړو . کله چه حضرت بریده رضی الله عنه خپل رور ته اورسیدو نو وې لیدل چه دَ هغه رور قریب المرګ وو او دَ مرګ دَ شدت په وجه سره دَ هغه په تندی باندې خوَله راغې وه . حضرت بریده رضی الله عنه چه خپل رور په دې حالت کښې اولیدو نو وې فرمائیل :

" الله اکبر سمعت رسول الله ﷺ يقول يموت المؤمن بعرق جبينه "

" الله ډیر لوی دې ! ما دَ نبی کریم ﷺ نه اوریدلې وو هغوی فرمائیل چه مؤمن بنده دَ خپل تندی په خوَلې سره مری . " (یعنی دَ

مرګ په وخت دَ هغه په تندی باندې خوَله راځی .)

﴿ دَ جُمعې په ورځ مرګ دَ ښهٔ خاتمې نشانی ده ﴾

دَ ښهٔ خاتمې یوه علامه دا هم ده چه دَ جمعة المبارك په ورځ یا دَ جمعة المبارك په شپه ورته مرګ راشی . نبی کریم ﷺ فرمائیلې دی :

" مامن مسلم یموت یوم الجمعة او لیلة الجمعة الا وقاه الله من فتنة القبر "

" چه کوم یو مؤمن بنده ته دَ جمعې په ورځ یا دَ جمعې په شپه مرګ راشی ، نو الله تعالیٰ به هغه لره دَ عذابِ قبر نه محفوظ ساتی . " او دا هم ممکنه ده چه کافر او مشرك ته دَ جمعې په ورځ یا دَ جمعې په شپه مرګ راشی ، لیکن هغه کافر او مشرك به بالکل دَ عذابِ قبر نه محفوظ نهٔ وی ، ځکه چه دَ مذکوره حدیث په رو سره مؤمن کیدل شرط دی .

﴿ دَ قریب المرګ په خوا کښې دَ نیکئ خبرے کوئ ﴾

دَ قریب المرګ په حالت کښې دَ الله تعالیٰ نه ښهٔ امید ساتل او دَ هغه دَ عذاب نه ویره هم دَ ښهٔ خاتمې سبب دې . حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه یو کس قریب المرګ وو ، رسول الله ﷺ ورته تشریف یوړو او تپوس ئې ترینه اوکړو " کیف تجدك " چه ستا په زړهٔ کښې څهٔ دی ؟ نو هغه نوجوان ورته اووئیل : " یا رسول

الله ! والله انی لارجو من الله واخاف " چه په الله قسم ! زهٔ دَ الله تعالیٰ نه دَ رحمت امیدوار هم یم ، او دَ خپلو ګناهونو خوف راسره هم دې . " حضور نبی کریم ﷺ اوفرمائیل :

" لا یجتمعان فی قلب عبد مسلم فی هذا الموت الا اعطاه الله ما یرجو و آمن مما یخاف "

" په قریب المرګ حالت کښې چه دَ کوم مؤمن بنده په زړهٔ کښې دا دوه څیزونه جمع شی ، الله تعالیٰ به هغه ته هغه څیز عطا کوی دَ کوم چه امید ساتی او دَ کوم څیز نه چه یره محسوسه وی نو دَ هغې نه پناه ورکوی . "

دَ قریب المرګ بنده په خوا کښې کیناستل او دَ هغه دپاره ښهٔ دُعا کول هم دَ ښهٔ خاتمې سبب دې . ځکه چه په دغه وخت کښې کومه خبره هم کولې شی نو په هغې باندې فرشتې آمین وائی ، په حدیث شریف کښې دی .

" قولوا خیرًا فان الملائكة یؤمنون علی ما تقولون " (صحیح مسلم عن ام سلمة) چه دَ قریب المرګ سره خوا کښې دَ خیر خبرې کوئ ځکه چه په دغه وخت کښې تاسو څهٔ هم وایئ فرشتې پرې آمین وائی . "

★.....★.....★.....★.....★.....★.....★

★.....★.....★.....★.....★

★.....★.....★.....★

باب نمبر ۲۲ :

﴿ دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې عذابِ قبر ﴾

حضرت عیسیٰ علیه السلام یو کلی ته تشریف یوړو، وې لیدل چه هغه خلق ډیر غمګین دی، نو معلومه شوه چه یو نیک سړے وو هغه وفات شوے دے، حضرت عیسیٰ دَ هغهٔ قبر له لاړو نو وې لیدل چه هغه ته عذاب وو. حضرت عیسیٰ علیه السلام ترینه دَ عذاب دَ سبب په باره کښې تپوس اوکړو نو معلومه شوه چه یو ظالم په چا ظلم کولو نو ما هغه مظلوم دَ ظالم نه خلاص نهٔ کړو نو ځ اوس ځکه په دې عذاب کښې ګیر یم.

اې سعید! دَ عبرت مقام دې چه دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې عتاب دې، ددې نه ظاهره شوه چه په ظالم باندې به خومره عتاب او سزا وی.

﴿ دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې دَ فرشتو وهل ﴾

حضرت ابو سبره رحمه الله فرمائی چه یو مړی ته نکیر منکر راغلل او هغه مړی ته ئې اووئیل چه مونږ به تا سَل درې وهو. هغه مړی خپل نیک اعمال په طور دَ سفارش ذکر کړل، نو آخر دا چه هغه یو کم سَل ګزاره معاف شول او اوس یو دُره پاتې شوه، نو لهذا هغه فرشتو هغه لره یو ګزار اووهلو.

" فالتهب القبر علیه نارًا فقال: لم ضربتمانی؟ فقالا مررت

بمظلوم فاستغاث بك فلم تغثه "

یعنی چه کله ئې هغه یو ګزار اووهلو نو دَ هغه قبر دَ اور نه ډک شو. هغه مړی ترینه تپوس اوکړو چه تاسو ماته دا سزا ولې راکړه؟ هغه فرشتو ورته اووئیل چه ته یوه ورځ په یو مظلوم باندې تیریدلې هغه تاته فریاد اوکړو او تا دَ هغه فریاد رَسی اونهٔ کړه. "

﴿ دَ مړی چغه ﴾

دَ حضرت ابوامامه باهلی رضی الله عنه نه روایت دې، فرمائی چه کله یو بنده مړ شی او په قبر کښې کیخودلې شی نو هغه ته یوه فرشته راشی او دَ هغه سر طرف ته اودریږی او هغه ته عذاب ورکوی، او په یوه کوړه سره داسې ګزار ورکوی چه په هغې سره ددهٔ تمام اندامونه جُدا کیږی او هغه مړې چغې وهی، بیا ورته حکم کوی چه دَ الله تعالیٰ په اذن سره پاسه. پس کله چه هغه سید ها اودریږی نو هغه یو داسې چغه وهی چه هغه دَ زمکې او دَ آسمان تمام مخلوق بغیر دَ انس او جان نه اوری. بیا هغه مړې دې فرشتو ته وائی چه تاسو ما سره داسې ولې اوکړل؟ اوماته مو دا عذاب ولې راکړو؟ حالانکه ما به مونځ کولو، زکوة به مې ادا کولو او دَ رمضان روژې به مې لیدلې.

بس هغه فرشته ورته وائی چه ما تاته دا عذاب ځکه درکړو چه ته یوه ورځ په یو مظلوم تیریدلې او هغه ستا نه مدد اوغوښتو او تا دَ هغه مدد اونهٔ کړو، او یوه ورځ تا مونځ کړې وو مګر دَ متیازو دَ څاڅکو نه دې ځان نهٔ وو بچ کړې. او هم په دې وجه سره وئیلې شوې

دی چه دَ مظلوم مدد کول واجب دی .

لکه څنګه چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه کوم یو کس مظلوم اولیدو او هغه ترینه مدد طلب کړو لیکن دهٔ ورسره مدد اونهٔ کړو نو دې به په قبر کښې سَل کوړې وهلې شی . (مکاشفة القلوب)

﴿ بدبو دار مړې ﴾

حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه کله ظالم کس قبر ته لاړ شی ، نو هغه چه څنګه قبر کښې کیخودلې شی نو هغه ته یو کس راځی ، سخت بدصورته ، سخت بدبودار او قابلِ نفرت لباس والا . دا مړې چه ورته څنګه اوګوری نو اوبه وائی چه ته څومره بدصورته او بدبودار ئې . هغه به ورته په جواب کښې اووائی چه ستا اعمال داسې ګنده وو ، دا مړې به ورته اووائی چه ستا دا لباس څومره متعفن دې . هغه به ورته په جواب کښې اووائی چه هم داسې ستا اعمال هم قابلِ نفرت وو . هغه ورته اووائی چه ښهٔ ده تا خو راته اووایه چه ته څوك ئې ؟ هغه به ورته اووائی چه زهٔ ستا دَ اعمالو مجسمه یم . او اوس به ورسره دې په قبر کښې اوسیږی او ددهٔ دپاره به په عذابونو کښې دا هم یو عذاب وی .

دَ قیامت په ورځ چه کله دا مړې دَ خپل قبر نه پاسی نو دا بد شکله او بدصورته کس به ورته وائی چه اودریږه په دنیا کښې تا په ما سورلی کوله او اوس به زهٔ په تا سورلی کوم . چنانچه هغه به په دهٔ سور شی او هغه به دهٔ لره وهی ، او دَ څاروی په شان په ذلت او رسوایئ

سره به ئې جهنم ته اورسوی .

دَ دنیا ژوندګی بغیر دَ لوبو او تماشو نه نور هیڅ نهٔ دی ، چه سترګې پټې شوې نو خوب وو او ختم شو . البته چه کوم خلق دَ الله تعالیٰ نه یریږی نو دَ هغوی دپاره آخرت لوی څیز دې او ډیر بهتر څیز دې . په تاسو باندې څهٔ شوې دی چه دَ خپل عقل نه کار نهٔ اخلئ ؟

﴿ دَ مړی دَ ګردن نه تاؤ شوې مار ﴾

دَ محمد بن سعید بیان دې چه مسلم بن عقبه کله دَ یزید په حکم سره مدینې ته راغې او خلقو لره ئې دَ یزید په بیعت باندې مجبوره کول نو دا چه یو قریشی واوریدل نو وې وئیل چه مونږ به دَ یزید صرف په جائز کارونو کښې اطاعت کوو . مسلم بن عقبه هغه لره قتل کړو نو دَ هغه قریشی مور اووئیل چه په الله قسم ! کهٔ زما وَس پیدا شو نو زهٔ به مسلم بن عقبه په اور کښې سوزوم کهٔ ژوندې وو او کهٔ مړ . بیا چه کله مسلم بن عقبه دَ مدینې نه اووتلو نو په لاره کښې مړ شو او هغه هم په لاره کښې دفن کړې شو . کله چه دَ هغه قریشی مور خبر شوه نو خپل غلامان ئې دَ ځان سره کړل او دَ هغه ظالم قبر ته لاړه او وې وئیل چه دَ دهٔ قبر کهولاؤ کړئ ، کله چه ئې قبر کهولاؤ کړو نو وې کتل چه یو زهریلا مار دَ هغه دَ مړئ نه تاؤ شوې دې او دَ هغه څُلهٔ ئې په ګرفت کښې اخستې وه ، دا ئې اولیدل او قبر ئې بند کړو . (شرح الصدور ص ۷۵)

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

باب نمبر ۲۳ :

﴿ په تکبر کولو باندې عذاب ﴾

الله تعالیٰ فرمائیلي دی :

" اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ مَنْ کَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا "

" الله تعالیٰ نهٔ خوښوی ، متکبره او فخر کولو والا . "

او دغه شان دداسې خلقو سزا جهنم دې :

" اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ "

" آیا په جهنم کښې دَ تکبر کوونکو خلقو ټيکانه نهٔ ده . "

په کتاب او سنت کښې دَ غرور او تکبر ډير زیات مذمت راغلې دې الله تعالیٰ فرمائی :

" وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ، اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الجِبَالَ طُوْلًا ، كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا "

په زمکه کښې په تکبر سره مهٔ ګرځه ، نهٔ تهٔ زمکه شلولې شې او نهٔ په اوږدوالی کښې آسمان ته رسیدې شې ، ددې ټولو ځيزونو بدی ستا دَ رب په نزد باندې سخت ناخوښه دی . "

﴿ دَ ټولو نه زيات متکبر څوك ؟ ﴾

دَ ټولو نه اول تکبر کولو والا شیطان دې چه هغه دَ حضرت آدم علیه السلام په مقابله کښې خپل ځان بالاتر اوګڼړلو او وې وئیل چه زهٔ دَ آدمؑ نه بهتریم ، هغه دَ خاورې نه جوړ دې او زهٔ دَ اوره نه جوړ

شوې یم . او دَ جنت نه اوویستلې شو او همیشه دپاره دوزخی قرار اوګرځولې شو .

﴿ تکبر کولو والا په زمکه کښې ننویستې شو ﴾

په حدیث کښې راغلې دی چه یو کس ځلور قیمتی جوړې اغوستې وې او په تکبر سره روان وو چه هغه هم هلته کښې په زمکه کښې ننویستلې شو او تر ننه پورې په زمکه کښې روان دې .

په قرآن مجید کښې دَ قارون واقعه مشهوره ده چه هغه سره دَ خپلو محلاتو په زمکه کښې ډوب کړې شو . رسول الله ﷺ فرمائی :

" لَا يَدْخُلِ الْجَنَّةَ اَحَدٌ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ "

(مسلم) چه دَ چا په زړهٔ کښې دَ رائی دَ دانې برابر هم تکبر وی هغه به جنت ته نهٔ داخلیږی . "

﴿ دَ الله دَ رحمت نه محرومی ﴾

رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی :

" لا ینظر الله الی رجل یجر ازاره بطرًا " (بخاری)

" الله تعالیٰ داسې بنده ته نظر دَ رحمت نهٔ کوی څوك چه خپل ازار دَ تکبر په وجه سره ځان پسې راکاږی . "

" بینما رجل یتبختر فی بردیه اذا عجبته نفسه فخسف الله به الارض فهو یتجلجل فیها الیٰ یوم القیامة " (بخاری)

په دې دوران کښې چه يو کس په دوو څادرونو کښې روان وو ، نو دَ هغه نفس متعجبه شو (او تکبر په کښې پيدا شو) نو الله تعالیٰ هغه لره په زمکه کښې ډوب کړو او تر قيامته پورې به سرګردانه روان وی . "

" من جر ثوبه خيلاء لا ينظر الله اليه يوم القيامة " (مسلم)

" کوم بنده چه دَ تکبر نه خپلې کپړې په زمکه راکاږی الله تعالیٰ به دَ قيامت په ورځ دهٔ ته په نظر دَ رحمت سره نهٔ ګوری . "

تکبر دې ته وائی چه خپل ځان په نورو خلقو باندې بالاتر او اوچت ګنړی او ددې سزا رسوائی او ذلت دې . حضرت عمرو بن شعيب رحمه الله دَ خپل نيکهٔ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه دَ تکبر کوونکو حشر به دَ قيامت په ورځ دَ ميږو په شان وی (جسم به ئې دَ ميږو برابر وی او) شکلونه به ئې دَ انسانانو وی ، هر طرف ته به پرې ذلت راخور شوې وی ، او دوی لره به دَ دوزخ کيل خانو طرف ته بوتللې شی چه دَ هغې نوم " بولس " دې او په دوی باندې به سوزوونکې اور خور کړې شوې وی ، او په دوی باندې به دَ دوزخيانو وينې زوې څکولې شی ، چه دَ هغې نوم طينة الخبال دې

﴿ دَ تکبر وينا خوبصورته لره بدصورت کړو ﴾

نوفل ابن ماحق وائی چه دَ نجران په يو جمات کښې ما يو نوجوان اوليدو چه هغه ډير زيات خوبصورته وو او خشته عمده وجود والا وو ، يو ځل هغه خپل ځان ته اوکتل دَ خپل حسن او جمال نه

متاثره شو او تعجب ئې اوکړو ، او غرور او تکبر په کښې پيدا شو ، ما ورته اوکتل ډير زيات تعجب مې اوکړو ، هغه ماته اووئيل چه تهٔ ماته ولې ګورې ماورته اووئيل چه ستا حسن او جمال مې اوليدو نو تعجب واخستم ، هغه راته اووئيل چه خپله الله تعالیٰ هم ماته په تعجب کښې دې . نوفل وائی چه هغه څنګه دا کلمه اووئيله نو دَ هغه خوبصورتی لاړه او قد ئې پست او خکته شو تردې پورې چه دَ يو ليشت هومره پاتې شو ، چه هغه لره دَ هغه يو رشته دار په لستوڼی کښې يوړو . (تفسير ابن کثير ص ۱۲۳ ج ۴)

باب نمبر ۲٤ :

﴿ فیشن پرستی او عذابِ قبر ﴾

په یو قبر کښې پنځوس ماران :

دَ ۱۹۸٦ ء په جنګ اخبار کښې یو مور دا بیان ورکړې وو. زما مشره لور وفات شوې وه، دَ هغې دَ دفن کولو دپاره چه کله قبر تیار کړې شو نو خلقو اولیدل چه دَ هغې په قبر کښې پنځوس، شپیته ماران جمع شول، دویم قبر اوکِنستلې شو په هغې کښې هم هغه شان ماران وو. بیا دریم قبر تیار کړې شو نو په هغې کښې دَ هغه نورو دوو قبرونو نه زیات ماران وو. په ټولو خلقو باندې وحشت طاری وو، او وخت هم ډیر زیات تیر شوې وو. خلقو په خپل مابین کښې مشوره اوکړه نو زما لور ئې دَ مارانو نه په ډک قبر کښې دفن کړه او خلقو پرې دَ لرې نه خاورې واړولې او لاړل.

زما دَ لور اباجان چه کله دَ قبر نه کور ته راغې نو دَ لور دَ حالت په لیدو سره دَ هغه طبیعت ډیر زیات خراب وو او دَ خوف او یرې په وجه سره به هغه بار بار سَر خوزولو. ددې مور نور مزید بیان دې چه زما لور خو دَ مونځ او روژې پابند وه، مګر هغې په ځائ ددې چه په خپل آخرت باندې توجه ورکړې، هغه به اولټه په ما باندې غصه شوه او زۀ بـه ئې ذلیل او خواره کړه. افسوس! چه زما څۀ خبره ددغې ماډرن لور په پوهه کښې نۀ راتله.

کیدې شی چه ستاسو په ذهن کښې دا خبره دَ شیطان په وسوسې سره راځی چه دا خو یو اخباری واقعه ده څۀ معلومه ده چه دا په رښتیا وی او کۀ نۀ؟ . بالفرض کۀ چرې دا غلط هم ثابت شی خو دَ فیشن پرستئ او دَ بې پردګئ فضیلت هم څوك نۀ شی ثابتولې. او ددې دَ جائز کیدو څۀ دلیل نۀ شی پیش کولې. په حدیث پاك کښې دَ ناجائز فیشن عذاب ملاحظه کړئ.

﴿ په ناجائز مقاصدو سره زینت و زینت کولو والا ته عذابِ قبر ﴾

په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه ما څو سړی اولیدل چه دَ هغوی څرمنې دَ اور په قینچو سره کټ کولې شوې، ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی؟ نو جواب راته ملاؤ شو چه دا هغه سړی دی چه دوی به پردو ښځو لره ځان طرف ته دَ متوجه کیدو دپاره زیب وزینت کولو، او وې فرمائیل : چه ما یوه بدبودار کوهې اولیدو چه دَ هغې نه دَ چغو سورو آواز راتلو، ما تپوس اوکړو چه دا څۀ دی؟ نو ماته جواب ملاؤ شو چه په دې کښې هغه ښځې دی چه دوی به دَ داسې سړو دَ مائله کولو دپاره زیب وزینت کولو کوم چه به ددوی دپاره حلال نۀ وو. (شرح الصدور عن الخطیب وابن العساکر ۲۳۱/)

﴿ خوفناك ځناور پرې مسلط شوې وو ﴾

دَ راوی وینا ده چه یو نوجوان داسې حلفیه بیان ورکړو چه زما دَ یو عزیز دَ ځوانې لور انتقال اوشو . کله چه مونږ دَ تدفین نه فارغ شو ، او کله واپس کیدو نو دَ مرحوم پلار ته رایاد شو چه دَ هغه نه یو هینډ بیګ چه په هغې کښې اهم کاغذات وو په غلطئ سره قبر کښې دفن کړې شوې دی ، چنانچه دَ مجبورئ په وجه سره دوباره قبر کهولاؤ کړې شو ، ځنګه چه دَ قبر نه تختې لرې کړې شوې نو دَ خوف اودَ ویرې له وجې نه مونږ چغې کړې .

ځکه چه کومه پیغله جینئ مونږ په صفا سُتره کفن کښې اوس لږ وخت مخکښې دفن کړې وه ، هغې کفن ځیرې کړې وو او ناسته وه ، آه ! دَ هغې دَ ویښتو نه خپې شان جوړې وې وې ، او ځو نامعلومه خطرناك او خوفناك غوندې ځناور ورپورې پیوست شوې وو ، دا دهشت ناك منظر چه مونږ اولیدو نو دَ خوف او دَ ډیرې په وجه سره مونږ اوړپیدو ، او دَ هینډ بیګ دَ راخستو نه بغیر مو پرې زر زر خاوره واړوله او اوتښتیدو .

مونږ چه کله کور ته راغلو نو ما دَ عزیزانو نه دَ هغه جینئ دَ جرم په باره کښې پوښتنه اوکړه ، نو هغوی اووئیل چه په دې کښې په یوه زمانه کښې هم څۀ داسې معیوب جرم نۀ وو ، البته دې به هم دَ نن صبا عام جینکو په شان فیشن کولو او پرده به ئې نۀ کوله . اوس دَ وفات نه لږ مخکښې په رشته دارو کښې وادۀ وو نو دې فیشنې ویښتۀ کټ کړې وو او دَ عامو زنانو په شان ئې په وادۀ کښې بې پردې

شرکت اوکړو .

﴿ درسِ عبرت ﴾

آیا ددې واقعې نه هغه ښځې دَ عبرت درس نۀ حاصلوی چه هغوی دَ شیطان په لمسې سره داسې قسم بهانې او حیلې کوی چه زما خو مجبورې ده ، زمونږ په کور کښې هیڅوك پرده نۀ کوی ، دَ خاندان رواج ته هم کتل دی ، زمونږ تمام خاندان لیکلو لوستلو والا دی ، ساده او پردې والا جینئ ته زمونږ په نزد باندې ځوك دَ رشتې پیغام هم نۀ لیږی ، وغیره وغیره .

آیا خاندانی رسم ورواج او دَ نفس مجبورئ به تاسو ته دَ عذابِ قبر نه نجات درکړی ؟ آیا تاسو چه دَ الله تعالیٰ په دربار کښې دا قسم بې کاره مجبورئ بیان کړئ نو تاسو ته به خلاصې درکړې شی ؟ او تاسو به کامیاب شئ ؟ او کۀ داسې نۀ وی ، او واقعی داسې نۀ ده نو بیا تاسو په هر حال کښې دَ بې پردګئ نه توبه اوکړئ .

یاد ساتئ ! په لوحِ محفوظ کښې چه دَ چا کوم ځائ جوړه لیکلې شوې وی نو هم هلته کښې به وادۀ کیږی . او کۀ داسې نۀ ده نو دَ ورځې ځومره داسې جینکئ مرې چه هغوی ښۀ ماډرن او اعلیٰ تعلیم یافته وی او ښۀ ماډرن او دَ فیشن والا وی او بغیر دَ وادۀ نه مرې شی ، بلکې بعضِ وختونه ناوې دَ رُخصتئ نه لږ شان مخکښې مړه شی او دَ ډول سنګار او دَ خوشبودار کور په ځائ باندې دَ تیرو او دَ چینجو کور ته لاړه شی ، او په تکو تیرو کښې قبر ته اوسپارلې شی .

باب نمبر ۲۵ :

﴿ صحابهٔ کرامو ؓ ته په رد بد وئیلو باندې عذابِ قبر ﴾

په صحیحین کښې دی چه جناب رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : الله تعالیٰ فرمائی چه څوك زما دَ یو ولی سره دشمنی کوی نو زما هغه ته اعلانِ جنګ دې .

او رسولِ اکرم ﷺ فرمائی چه زما صحابهٔ کرامو ؓ ته کنځل مهٔ کوئ ، زما دې په هغه ذات باندې قسم وی دَ چا په قبضه کښې چه زما روح دې ، کهٔ چرې په تاسو کښې څوك دَ احد دَ غر برابر سرهٔ زر خرچ کړی نو هغه ته به دَ صحابهٔ کرامو ؓ دَ یو مُد (دَ نیم کِلو نه لږ شان زیاته پیمانه) بلکې دَ نیم مُد هومره ثواب هم نهٔ شی ملاویدې . (دا دَ بخاری او مسلم روایت دې .)

رسول الله ﷺ فرمائی چه زما دَ صحابهٔ کرامو ؓ په باره کښې دَ الله نه اویریږئ . یاد ساتئ ! زما نه روستو دوی لره (دَ طعن او کنځلو وغیره) نښانه مهٔ جوړه وئ . څوك چه له دوی ؓ سره محبت ساتی نو زما دَ محبت په وجه سره دَ دوی سره محبت ساتی ، او څوك چه له دوی سره بغض ساتی نو هغه زما سره دَ بغض په وجه دَ دوی سره بغض ساتی . او چاچه دوی ته اذیت ورکړو نو هغه ماته اذیت (تکلیف

) راکړو او چا چه ماته تکلیف راکړو نو هغه الله ته تکلیف ورکړو او چاچه الله تعالیٰ ته تکلیف ورکړو نو قریبه ده چه الله تعالیٰ دَ هغه ګرفت اوکړی . (ترمذی)

﴿ مار ئې دَ مړئ نه تاؤ شوې وو ﴾

حضرت ابو اسحاق رحمه الله فرمائی چه زهٔ چا راوبللم چه یو کس مړ شوې دې هغه ته غسل ورکړئ . زهٔ لاړم او دَ مړی دَ مخ نه مې کپړا لرې کړه نو ما اولیدل چه یو مار دَ هغه دَ مړئ نه تاؤ شوې وو . ما دَ خلقو نه پوښتنه اوکړه چه دا څنګه سړې وو ؟ نو ماته اووئیلې شو چه دهٔ به صحابهٔ کرامو ؓ ته رد بد او کنځل کول . (شرح الصدور)

ابن ابی الدنیا په " القبور " کښې مرفوعًا یو حدیث روایت کړې دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : چه څوك زما په صحابهٔ کرامو ؓ کښې چاته کنځل اوکړی او هغه مړ شو نو الله تعالیٰ به په هغه باندې یو ځناور مسلط کوی چه هغه به ددې مړی نه غوښنه خوری او تر قیامته پورې به په دې مصائبو او تکلیفونو کښې مبتلا وی .

﴿ دَ قبر نه دَ سپو په شان آواز راتلل ﴾

ابن عساکر دَ اعمش نه روایت کړې دې چه یو کس دَ حضرت حسن بن علی رضی الله عنهما په قبر باندې نجاست اوکړو نو هغه پاګل شو او دَ سپو په شان به ئې غپل او چیغار به ئې کولو . بیا هغه مړ شو نو دَ هغه دَ قبر نه هم دَ سپو په شان آواز راتلو .

﴿ دَ مرګ په وخت کښې دَ اور ، اور آواز ﴾

مشهور مصنف ابن ابی الدنیا په خپله مشهوره رساله " من عاش بعد الموت " کښې ډير داسې واقعات ليکلې دی چه دَ مرګ په وخت کښې هغوی چغې وهلې دی " اور ، اور " او کله چه ورته خلقو دَ کلمهٔ شهادت تلقين ورکولو نو هغوی به جواب ورکولو چه مونږ نهٔ شو وئيلی ځکه چه مونږ له داسې جماعت او ډلو نه متاثره شوې وو چه هغوی به حضراتِ شيخين سيدنا ابوبکر صديقؓ او عمر فاروقؓ ته کنځل کول . (موسوعة الرسائل ، لابن ابی الدنيا ص ۲۳)

داسې عبرت ناك واقعات دَ تاريخ په کتابونو کښې په کثرت سره موجود دی چه دَ هغې نه دا اندازه لګولې شی چه دَ صحابهٔ کرامو سره بغض او عداوت دَ بد انجامئ او دَ بدې خاتمې سبب دې . بعضِ وختونه داسې هم شوې دی چه کومو خلقو دَ صحابهٔ کرامو سره بغض او عداوت لرلو نو دَ هغوی صورتونه دَ ذليل ځناورو په شان شوې دی . (مجابی الدعوة : ۴/ ۸۵)

﴿ دَ حضرت ابوبکر او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما دَ دشمن خيټه اوپړسيده ﴾

ما دَ پوره ملك دوره اوکړه . نن تاسو ته يوه عجيبه واقعه بيانوم . جلال پور ته نزدې يو ځائ دې چه دَ هغې نوم بهادر پور دې ، هلته کښې يو کس ډير زيات مالدار او امير وو ، دَ سحر چه به پاسيدو .

نو دَ رسول الله ﷺ روضهٔ اقدس طرف ته به ئې مخ کړو او حضرت ابوبکر صديقؓ او حضرت عمر فاروقؓ ته به ئې کنځل کول ، او په هغوی باندې به ئې لعنت ليږلو ، ګويا چه هغه به دَ رسول الله ﷺ په روضهٔ اقدس باندې لعنت وئيلو او کنځل به ئې کول . ډير غټ امير وو ، کله چه هغه مړ کيدلو نو دَ هغه دَ مرګ دَ سختئ آواز تر ډير لرې لرې پورې اوريدې شو ، هغه چه کله پورته کولې شو نو دومره اوپړسيدو چه اووهٔ کسانو به صرف په ډډه اړولې شو ، سترګې ئې هم ختمې شوې ، تمام جسم ئې اوپړسيدو ، ګول مول شکل ناقابلِ غور .

کله چه هغه مړ شو او په قبر کښې کيخودلې شو ، نو دَ کيخودلو سره په قبر کښې يوه دهماکه اوشوه .... دَ هغه وجود اوچودلو .... دَ قبر نه بدبو راغله .... دَ دهماکې آواز تر شپږو ميلو پورې واوريدلې شو .... زهٔ په جمات کښې باوضوء ناست يم ...... خلق اوريدل ، ځناور هم اوريدل ..... چه څهٔ اوشو ؟ اوبښودلې شوه چه دَ قبر نه لوګې شان راوتلو ..... قبر اوچودلو او بدبو خوره شوه .

دَ هغه قبر په جلدئ سره بند کړې شو ، هر شپږ مياشتې پس به دَ هغه قبر داسې سور شو لکه څنګه چه خخته په بټئ کښې سره کيږی ، لا تر اوسه پورې الله تعالی هغه لره نهٔ دې معاف کړې ، تر اوسه پورې دَ هغه قبر دَ جهنم خشاك دې ، دَ قبر عذاب برحق دې . الله تعالیٰ دې مونږ ټولو ته نجات راکړی . آمين .

ډير زيات قبرونه ليدلې شوې دی چه دَ هغې نه دَ اور شُعلې

بلندې شوې دی ، ډیر قبرونه لیدلې شوي دی چه دَ هغې نه آوازونه راغلې دی . دَ قبر عذاب برحق دې ، الله تعالیٰ دې مونږ دَ قبر دَ عذاب نه اوساتی . حضور اکرم ﷺ مونږ ته دُعا ښودلې ده : " اللهم انی اعوذبك من عذاب القبر " اې الله ! مونږ لره دَ عذابِ قبر نه بچ کړې .

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★

★

باب نمبر ٢٦ :

﴿ په نا انصافئ باندې خوفناك عذابِ قبر ﴾

دَ الله تعالیٰ دَ قانون خلاف فیصله کول :

الله تعالی فرمائی :

" وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ "

کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ دَ قانون مطابق فیصله نهٔ کوی نو هم هغه خلق کافران دی . "

" وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ "

" کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ دَ قانون مطابق فیصله نهٔ کوی نو هم هغوی ظالمان دی . "

" وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ "

" کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ په نازل کړې شوې قانون فیصله نهٔ کوی نو هم هغه خلق فاسقان دی . "

﴿ دَ دوو بیبیانو په درمیان کښې عدل نهٔ کولو والا ﴾

دَ حضرت أبو هریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

" من كان عنده امرأتان ، فلم يعدل بينهما ، جاء يوم القيامة

وشقه مائل وفی لفظ شاقط "

" چه دَ چا دوه بيبيانې وی او دَ دواړو په مابين کښې عدل نهٔ کوی نو دې به دَ قيامت په ورځ په داسې حال کښ پيش کولې شی چه دَ هغه به يو طرف مائل وی . او په يو روايت کښې دی چه دَ هغه به يو طرف پريوتې وی . (اخرجه ابن ابی شيبه)

﴿ دَ عادل حکمران حال ﴾

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما دَ جناب رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی هغوی فرمائيل :

" **يوتی بالقاضی العدل يوم القيامة فيلقی من شدة الحساب ما يتمنی انه لم يقض بين اثنين فی تمرة قط** "

" دَ قيامت په ورځ به په عدل سره فيصله کولو والا قاضی پيش کړې شی او دَ هغه نه به په دومره شدت سره حساب اخستې شی چه هغه به تمنا کوی چه کاش ما کله هم دَ دوو کسانو په درميان کښې دَ يوې کجورې هم فيصله نهٔ وه کړې .

﴿ په ورځ دَ قيامت دَ ټولو نه مخکښې دَ ججانو نه حساب ﴾

حضرت محمد بن واسع رحمه الله فرمائی چه ماته دا خبره رارسيدلې ده چه دَ ټولو نه اول به دَ قيامت په ورځ دَ قاضيانو نه حساب اخستې شی . (البدر السافر)

حضور نبی کريم ﷺ فرمائی : چه په پنځه قسمه خلقو باندې الله تعالیٰ غضب ناك دې ، کهٔ اوغواړی نو په هم په دنيا کښې به په هغوی باندې عذاب جاری کړی ورنه په دې وجه به هغوی په جهنم کښې اوغورځولې شی .

۱﴾ دَ قوم هغه حاکم چه دَ رعايا نه خپل حق واخلی او دَ هغوی سره انصاف اونهٔ کړی او نهٔ دَ هغوی نه ظلم لرې کړی .

۲﴾ دَ قوم هغه ليډر چه قوم دَ هغه اطاعت اوکړی او هغه دَ طاقتور او دَ کمزور په درميان کښې مساوات اونهٔ کړی ، او دَ خواهشاتِ نفس خبره اوکړی .

۳﴾ هغه بنده چه هغه خپلې بی بی او بچو ته دَ الله تعالیٰ دَ عبادت کولو حکم نهٔ کوی او امورِ دين ورته اونهٔ ښائی .

۴﴾ هغه بنده چه دَ مزدور نه پوره کار واخلی ، مګر مزدوری ورته پوره ورنهٔ کړی .

۵﴾ هغه سړی چه هغه په خپله ښځه باندې دَ مهر په سلسله کښې ظلم اوکړی .

﴿ دَ چا دَ دنيا دپاره خپل آخرت او عاقبت مهٔ خرابوئ ﴾

دَ رسول الله ﷺ حديث مبارك دې :

" **عن ابی امامة ان رسول الله ﷺ قال من شر الناس منزلةً عند الله يوم القيامة عبد اذهب آخرته بدنيا غيره** "

دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله

ﷺ اوفرمائيل : دَ قيامت په ورځ دَ الله تعالىٰ په نزد باندې دَ ټولو خلقو نه دَ منزل په اعتبار سره هغه سړې زيات بد دې چه هغه دَ بل دَ دنيا دپاره خپل آخرت تباه کړی ."

يعنی دَ نورو په حمايت کښې ئې څۀ ناجائز يا حرام کار اوکړو يا ئې په چا ظلم اوکړو چه په هغې سره نورو خلقو ته فائده اورسيده . مګر دۀ خپل عاقبت خراب کړو نو داسې کس زيات بې وقوف او غټ بدترين دې . بس په کومه ګناه کښې چه شروی هغه کبيره ګناه ده .

﴿ غلط فيصلې کولو والا قاضی ﴾

" قاضيان فی النار وقاض فی الجنة قاض عرف الحق فقضیٰ بہٖ فهو فی الجنة وقاض عرف الحق فجار متعمدًا او قضیٰ بغير علم فهما فی النار "

" دوه قاضيان به جهنم ته ځی ، او يو قاضی به جنت ته ځی . کوم يو قاضی چه حق لره اوپيژندلو او دَ هغې مطابق ئې فيصله اوکړه نو دا قاضی به جنت ته ځی ، او کوم قاضی چه حق اوپيژندلو او قصدًا ئې دَ هغې نه تجاوز اوکړو ، يا ئې بغير دَ علم نه فيصله اوکړه نو دا دوه قاضيان به جهنم ته ځی . "

﴿ دَ غيرِ منصف حاکم انجام ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم کس دَ وړوکی يا غټ جماعت حاکم دې او هغه دَ انصاف په معامله کښې دَ عدل جانب نۀ اختياره وی ، الله تعالىٰ به هغه لره پړمخې په جهنم کښې غورځوی . "

﴿ دَ قبلې نه ئې مخ واوړيدو ! ولې ؟ ﴾

ابن ابی الدنيا دَ فضل بن يونس نه روايت کړې دې ، هغه وائی چه ماته معلومه شوې ده چه عمر بن عبد العزيز ، مسلمه بن عبد الملک نه اووئيل چه اې مسلمه ! ستا پلار چا دفن کړې دې ؟ نو هغه ورته اووئيل : فلانکی غلام دفن کړې دې . بيا ئې ترينه تپوس اوکړو چه وليد چا دفن کړې دې ؟ هغه ورته په جواب کښې اووئيل چه زما فلان غلام . نو هغوی ورته اوفرمائيل چه زۀ اوس تاته هغه خبره کوم کومه خبره چه دې دفن کوونکی ماته کړې ده . دۀ ماته وئيلې دی چه کله دۀ ستا پلار وليد قبر ته ورخکته کړو او دَ هغه دَ کفن غوټې پرانستلې ئې او غوستلې نو وې کتل چه دَ هغه مخ دَ قبلې نه اړولې شوې وو .

فضيل بن عباس فرمائی چه کوم کس قاضی جوړ شی نو هغه لره پکار دی چه يوه ورځ فيصلې کوی او يوه ورځ په خپل ځان باندې ژړا کوی . محمد بن واسع رحمه الله فرمائی چه دَ قيامت په ورځ به دَ ټولو نه اول دَ قاضيانو نه حساب اخستلې شی . مکحول رحمه الله فرمائی کۀ چرې ماته دَ قضاء او دَ مرګ په درميان کښې اختيار راکړې شی چه يا مرګ اختيار کړه يا قضاء ، نو دَ خپل سر کټ کولو ته په قضاء باندې ترجيح ورکوم .

﴿ الله والا به دَ لوی منصب نه تختيدل ﴾

ايوب سختيانی به فرمائيل چه ما علماؤ لره ليدلې دی چه

څومره به غټ عالِم وو هغه هومره به دَ لوی منصب نه پریدلو . سفیان ثوری رحمه الله ته اووئیلې شو چه شُریح قاضی جوړ کړې شو هغوی اوفرمائیل : هائے ! چا هغه لره دهوکه کړو . محمد بن واسع رحمه الله دَ بصرې دَ قاضی په حیثیت سره اوبللې شو نو هغوی انکار اوکړو . بادشاه ورته اووئیل کۀ چرې تا دَدې نه انکار اوکړو نو زۀ به تاته کوړې لګوم . ارشاد ئې اوفرمائیلو کۀ چرې تۀ داسې کوې نو تۀ بادشاه ئې (داسې کولې شې) لیکن زما په نزد باندې دَ دنیا ذلت دَ آخرت دَ ذلت نه بهتر دې .

﴿ دَ نا انصافئ سزا ! په کور کښې بدبو ﴾

حضرت عطاء خراسانی رحمه الله فرمائی چه دَ بنی اسرائیلو نه یو کس وو هغه ترخلوېښت کالو پورې دَ قاضی په منصب باندې فائز وو . کله چه دَ هغه دَ مرګ وخت قریب شو نو خپل کور والو ته ئې اووئیل چه ماته معلومیږی چه زۀ به په خپل مرض کښې مرم ، لهذا کۀ چرې زۀ مړ شوم نو تاسو مالره څلور پنځه ورځې په کور کښې اوساتئ . کۀ چرې څۀ قسم تغیر یا مناسب کار زما نه ظاهر شو نو څوك دې ماته آواز اوکړی .

چنانچه په دې مرض کښې هغه مړ شو ، په یو تابوت کښې په خپل کور کښې په یو کونه کښې کیخودلې شو ، کله چه دریمه ورځ شوه نو دَ هغه بدبو په کور کښې خوره شوه ، دَ هغه دَ بدبو نه کور والا پریشان شول ، نو یو کس ورته آواز ورکړو چه اې فلانکیه ! دا

بدبو دَ څۀ څیز ده ؟ دَ الله تعالیٰ په اذن سره دَ هغه ژبه ګویا شوه او دَ هغه دَ ژبې نه دا الفاظ جاری شول چه :

زۀ تر څلوېښت کالو پورې ستاسو قاضی پاتې شوې یم ، په دې دومره اوږده زمانه کښې زما نه څۀ نا انصافی نۀ ده شوې ، البته دَ دوو کسانو په باره کښې زمانه نا انصافی شوې ده ، دَ هغې ګناه دَ نحوست په وجه سره دا بدبو زما نه څی .

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

★ ★ ★ ★ ★ ★

★ ★ ★ ★

★ ★ ★

★ ★

★

باب نمبر ۲۷

﴿ دَ ناپاکۍ نه په ځان نۀ بچ کولو باندې عذاب قبر ﴾

دَ شریعتِ اسلامیه دَ خوبیانو نه یوه خوبی ده چه په دې کښې دَ انسان دَ هرې معاملې اصلاح ده ، نو دَ نجاست نه ځان بچ کول یوه اهمه مسئله ده نو الله تعالیٰ په شریعتِ اسلامیه کښې ښه دې سلسله کښې دَ استنجاء وغیره حکم ورکړې دې ، او هغه کیفیت ئې ښودلې دې چه په هغې سره طهارت او پاکیزګی حاصله شي . لیکن بعضِ خلق په دې کښې ډیره زیاته سُستی کوی ، چه ددې په وجه سره دَ هغه کپړې ناپاکه وی او په دې وجه سره دَ هغه مونځ صحیح نۀ وی او انسان دَ عذابِ قبر مستحق اوګرځی .

دَ الله تعالیٰ ارشاد مبارک دې :

" وثیابك فطهر " " او خپلې کپړې پاك ساتا "

﴿ په مِتیازو کښې دَ احتیاط نۀ کولو په وجه سره عذابِ قبر ﴾

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ دَ مدینې منورې په باغاتو کښې په یو باغ باندې تیر شو ، هغوی ﷺ دَ دوو کسانو آواز واوریدو ، چه هغوی ته په قبر کښې عذاب ورکولې شو ، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل :

" یعذبان وما یعذبان فی کبیر "

" دې دواړو ته عذاب کیږی ، او دوی ته په څۀ لوی څیز سره عذاب نۀ شی ورکولې . بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ولې نۀ . (او په یو روایت کښې دی یقیناً دا لوی کار دې .) په دوی کښې یو کس به دَ مِتیازو نه ځان نۀ ساتلو ، او دې دویم کس به چُغلی کوله . " بلکې رسول الله ﷺ تردې پورې فرمائیلې دی :

" اکثر عذاب القبر فی البول "

" اکثر عذابِ قبر دَ مِتیازو دَ وجې نه کیږی . "

او دَ پوره مِتیازو کولو نه مخکښې پاسیدل ، یا په داسې ځای کښې مِتیازې کول چه هلته کښې دَ متیازو څاڅکی دۀ ته واپس راځی ، یا استنجاء نۀ کول ، یا استنجاء وغیره په صحیح طور باندې نۀ کول ، دا ټول دَ مِتیازو نه دَ ځان نۀ بچ کولو مختلف اندازونه دی او نن صبا زمونږ په دې دور کښې دَ اهلِ کفر په نقل کښې داسې باتهـ روم او ټوائلټ جوړ شوې دی چه هلته کښې دَ پردې په صحیح طور باندې اهتمام نۀ وی . "

﴿ دَ مِتیازو دَ څاڅکو نه ځان نۀ بچ کول او چُغل خوری ﴾

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ دَ مدینې منورې په باغاتو کښې په یو باغ باندې تیر شو ، هغوی ﷺ دَ دوو کسانو آواز واوریدو ، چه هغوی ته په قبر کښې عذاب

ورکولې شو ، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل :

" یعذبان وما یعذبان فی کبیر "

" دې دواړو ته عذاب کیږي ، او دوی ته په څۀ لوی څیز سره عذاب نۀ شي ورکولې . بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ولې نۀ . (او په یو روایت کښې دی یقینًا دا لوی کار دې .) په دوی کښې یو کس به دَ مِتیازو نه ځان نۀ ساتلو ، او دې دویم کس به چُغلی کوله . "

راوی فرمائی چه بیا رسول الله ﷺ دَ کجورې لخته راوغوښتله او هغه ئې دوه ټکړې کړه ، او په هر یو قبر باندې ئې یوه یوه ټکړا خخه کړه او وې فرمائیل (داسې ما ولې اوکړل) ددې دپاره چه ترڅو پورې دا لختې تروتازه وی نو په دوی باندې به په عذاب کښې تخفیف وی . "

دَ حدیثِ پاك نه معلومه شوه چه دَ مِتیازو دَ څاخکو نه ځان نۀ بچ کول او چُغل خوری کول دَ عذابِ قبر سبب دې ، په یو حدیث شریف کښې ارشاد دې :

" استنزهوا عن البول فان عامة عذاب القبر منه "

اې زما رونړو! عبرت حاصل کړئ او کوشش اوکړئ چه ستاسو په کپړو او بدن باندې مِتیازې اونۀ لګی . کۀ چرې متیازې چرته کښې ستاسو په بدن یا کپړو باندې اولګی هم نو فورًا ئې وینځئ . ددې مصیبت نه دَ خلاصیدو مونږ دَالله تعالیٰ نه سوال کوو او معافی او عافیت غواړو ، بیشکه الله تعالیٰ ډیر مهربانه دې .

﴿ څلور قسمه جهنمیان ﴾

رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څلور قسمه جهنمیان دی دوی به دَ باقی اور والو دپاره هم دَ تکلیف باعث جوړیږی ، او حال دادې چه دوی به دَ وړاندې نه هم په تکلیف کښې وی . په ګرمو اوبو او دَ جهنم په درمیان کښې به اوړی راوړی ، او دَ بربادئ او هلاکت چغې به وهی ، جهنمیان به وائی چه په دوی باندې څۀ شوې دی ؟ چه په مونږ باندې خپل تکلیف هم دې او نور مزید تکلیف دوی راکوی .

﴿ دَ اور تابوت ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه یو کس به هغه وی چه هغه به ئې دَ سکروټو په تابوت کښې بند کړې وی . دویم کس به خپل خصیتین (اګئ) دَ ځان نه راکاږی او ګرځی راګرځی به ، او دَ دریم کس دَ خُلې نه به وینه او پیپ جاری وی ، او څلورم کس به خپله غوښه خوری . صندوق او تابوت والا ته به وائی چه دَ رحمت نه دې لرې کس باندې څۀ شوې دی چه زمونږ دپاسه خپل تکلیف هم دې او دې مونږ ته نور مزید تکلیف راکوی ؟ هغه به وائی چه دا بد بخت کله مړ شو نو ددۀ په غاړه دَ نورو خلقو مال باقی وو ، بیا به هغه دویم کس ته اووائی کوم چه به دَ ځان نه اګئ راکاږی ، چه مونږ ته نور زیات تکلیف ولې راکوې ؟ نو هغه به وائی چه دې بدبخت به کله متیازې کولې نو دا پرواه به ئې نۀ کوله چه دَ متیازو څاخکی کوم ځائ پریوځی .

بیا به هغه کس ته اووائی دَ کوم چه به دَ خُلې نه وینه او پیپ

جاري وي چه په دې بدبخت باندې څۀ شوې دی چه مونږ ته دَ تکليف دپاسه تکليف راکوي ؟ ، نو هغه به وائي چه دې بدبخت به دَ خُلې نه هره بده کلمه ويستله او لذت به ئې پرې حاصلولو ، بيا به هغه کس ته اووائي چه دې بدبخت له څه شوې دی چه مونږ ته تکليف راکوي ؟ نو هغه به په جواب کښې وائي چه دې بدبخت به دَ خلقو غوښه خوړه ، يعنې دَ خپلو په عدمِ موجودګئ کښې به ئې چُغلي کوله . الله تعالىٰ دې مونږ ټول محفوظ کړي . آمين "

(طبراني ، ابن ابى الدنيا ، بحواله كتاب الكبائر : ذهبى)

﴿ يو وخت داسې وو چه په کوم ځائ به مِتيازې اولګيدې نو هغه ځائ به په قينچو کټ کولې شو ﴾

يو ځل نبى کريم ﷺ دَ خلقو نه پرده اوفرمائيله او بول ئې اوکړل . نو يو منافق اووئيل چه اوګورئ دا کس داسې مِتيازې کوي لکه ښځه چه ښځې مِتيازې کوي . ځکه چه دغې خلقو به دَ يو بل په وړاندې مِتيازې کولې . نبى کريم ﷺ چه کله دَ دوى خبرې واوريدلې نو وې فرمائيل :

" ويحك اما علمت ما اصاب صاحب بنى اسرائيل كانوا اذا اصابهم البول قرضوه بالمقاريض فنهاهم فعذب فى قبره "

الله تعالىٰ دې په تا رحم اوکړي آيا تاته معلومه نۀ ده چه دَ بنى اسرائيلو يو کس ته متيازې اورسيدې ، (دَ بنى اسرائيلو دا قانون وو)

چه هغوى ته به کله متيازې اورسيدې) يعنى چه دَ هغوى په بدن يا په کپړو به متيازې اولګيدې) نو هغوى به په قينچو سره هغه ځايونه کټ کول ، يو کس هغوى لره ددې نه منع کړو ، هغه په عذاب قبر کښې مبتلاء شو .

ددې ځائ نه دا فائده حاصله شوه چه لکه څنګه دَ متيازو دَ څڅکو نه ځان نۀ بچ کول دَ عذابِ قبر سبب دې ، نو دغه شان دَ متيازو نه دَ ځان نۀ بچ کولو تبليغ کول هم دَ عذابِ قبر سبب دې .

﴿ دَ جنابت په حالت کښې اوسيدل دَ ذابِ قبر سبب دې ﴾

کله چه دَ بنده جسم ناپاکه وي نو دَ هغې په وجه سره په جسم کښې سُستي ، ګراني ، او کمزوري پيدا کيږي ، په اسلام کښې ددې علاج غسل مقرر شوې دې .

اطباؤ ليکلې دي چه دَ جماع (همبسترئ) نه پس غسل کول دَ بدن تحليل شُده قوتونه او کمزوري واپس کوي ، او دَ بدن او روح دپاره نهايت نافع دې ، او دَ جنابت په حالت کښې پاتې کيدل او غسل نۀ کول دَ بدن او دَ روح دپاره سخت ضررناك دي .

﴿ ناپاکه اوسيدل دَ بې سکونئ ذريعه ده ﴾

حضرت ابو ذر رضى الله عنه فرمائى چه دَ غسلِ جنابت نه روستو ماته دا معلومېږي چه ګويا زما دَ سر نه غر اوچت شو .

ددې نه علاوه دا هم ده چه کوم یو کس غسلِ جنابت نهٔ کوی او دَ ناپاکئ په حالت کښې ګرځی راګرځی دَ هغه عذاب سخت دې .

﴿ په غاړه کښې دَ اور زنځیر ﴾

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما خپله یوه دویمه واقعه بیانوی ، چه زهٔ په یو سفر باندې روان وُم چه دَ دورهٔ جاهلیت دَ قبرونو نه په یو قبر باندې تیر شوم ، اچانك دَ قبر نه یو کس راووتلو چه دَ هغه په غاړه کښې دَ اور زنځیر وو ، او دَ اور په شُعلو کښې ګیر وو زما سره دَ اوبو یوه مشکیزه وه . هغه چه زهٔ اولیدم نو وې وئیل چه : اې عبد الله ! لږ په ما باندې اوبهٔ اوڅکه . په دې کښې یو بل کس دَ قبر نه راووتلو او ماته ئې اووئیل : اې عبد الله ! په دې باندې بالکل اوبهٔ اونهٔ څکې دا یو کافر دې ، بیا هغه دَ هغه زنځیر نه اونیولو او قبر ته واپس دننه کړو .

﴿ دَ انګریز په شان په ولاړه متیازو کوونکو دپاره تنبیه ﴾

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه په لاره کښې مې دا حالت اولیدو نو زهٔ مخکښې لاړم او دَ شپې په وخت کښې دَ یوې بوډئ په مکان کښې پاتې شوم .دَ هغه مکان مخې ته لږ لرې یو قبر وو ما دَ شپې دَ هغه قبر نه آواز واوریدو ، دَ آواز نه دا الفاظ ظاهریدل :

"بول وما بول شن وما شن"

"یعنی مِتیازې کومې مِتیازې . مشك ، کوم یو مشك"

دا آواز چه ما واوریدو نو ما دَ هغه بوډئ نه پوښتنه اوکړه چه دا کوم یو قبر دې او دا څنګه آواز دې ؟

هغې راته جواب راکړو : ددې قبر والا زما خاوند وو ، کله چه به ئې متیازې کولې نو احتیاط به ئې نه کولو ، ما به بار بار پوهه کولو چه تهٔ دَ څناور نه هم بدترئې چه اوښ کله متیازې کوی نو ښې کهولاؤ کړی ددې دپاره چه دَ مِتیازو نه بچ شی او تهٔ ذرا هم احتیاط نه کوې ، لیکن دهٔ به زما په نصیحت عمل نهٔ کولو او اوس ئې دا انجام دې چه دَ کله نه دې مړ شوې دې نو دا آواز کوی . چه متیازې کومې متیازې . هغه متیازې دَ کومو نه چه دَ احتیاط نهٔ کولو په وجه سره نن عذاب کښې مبتلاء یم .

دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما بیان دې چه کله زهٔ دَ سفر نه واپس راتلم نو دا تفصیل مې رسول الله ﷺ ته بیان کړو رسول الله ﷺ په دغه وخت کښې دا نصیحت اوفرمائیلو چه په تاسو کښې دې څوك یواځې سفر نهٔ کوی . (ابن ابی الدنیا وشرح الصدور)

﴿ دَ عذابِ قبر نه دَ نجات دَ وجې حصول ﴾

حکیم ترمذی او بیهقی دَ ابن اسحاق په سند سره یو روایت کړې دې چه ما ته اسید بن عبد الله بیان کړې دې چه دَ حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په اهلِ خانه کښې دَ چا نه تپوس اوکړې شو

چه په دې سلسله کښې تاسو دَ رسول الله ﷺ کوم يو فرمان ياد دې ؟ نو هغه ورته اووئيل چه مونږ ته پته اولګيده چه دَ رول الله ﷺ نه ددې په باره کښې تپوس اوکړې شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه به دَ متيازو دَ څاڅکو نه ځان ساتلو نو په دې وجه سره دَ قبر دَ دباؤ (زور) نه محفوظ شو .

﴿ دَ يو بصري قبر کنِستونکي واقعه ﴾

دَ يو بصري قبر کنِستونکي واقعه ده چه يوه ورځ ئې قبر تيار کړو او هغې ته نزدې اودهٔ شو ، په خوب کښې ماته دوه ښځې راغلې . يو ښځې اووئيل چه دَ الله دپاره اې دَ الله بنده ! دا ښځه زمونږ نه لرې کړه ، دې لره زمونږ سره مهٔ دفن کوه ، زهٔ اويريدم او زما سترګې کهولاؤ شوې ، چه په دې کښې هم دې قبر ته دَ يوې ښځې جنازه راغله ، ما هغه په دې قبر کښې دفن کولو ته پرې نهٔ ښوده ، او دويم قبر مې ورله تيار کړو .

کله چه شپه شوه نو بيا ما هم هغه دوه ښځې په خوب کښې اوليدلې ، په هغوی کښې يوې ښځې اووئيل چه الله تعالىٰ دې درسره ښهٔ اوکړي تا مونږ دَ يو اوږد او طويل شر نه محفوظ کړو ، ما ورته اووئيل چه ستا په شان دا بله ښځه خبرې ولې نهٔ کوی ؟ نو هغې راته په جواب کښې اووئيل چه دا بغير دَ وصيت کولو نه مړه شوې ده . دغه شان په دې باندې واجب دی چه دا به ترقيامته پورې خبرې نهٔ کوی . (کتاب الروح لابن قيم اردو ص ۹۳)

﴿ دَ غسلِ جنابت نهٔ کولو انجام ﴾

حافظ ابن رجب او هيثم بن عدی په خپل سند سره دَ عبد الله بجلی نه روايت کړې دې چه زمونږ يو ګاونډی مړ شو نو مونږ دَ هغه دَ کفن کولو تياری اوکړه ، کله چه مونږ قبر تيار کړو نو په هغې کښې دَ پيشو په شکل يو ځناور وو . مونږ دَ هغه دَ يرولو دپاره په هغې باندې کاڼړي اوويشتل مګر بيا هم هغه دَ قبر نه اخوا نهٔ شوه . دَ قبر کنِستلو والا دَ خاورې يو ډيرې دَ هغې په سر باندې اوويشتلو بيا هم هغه دَ قبر نه اخوا نهٔ شو .

بيا دويم قبر اوکنِستلې شو نو په هغې کښې هم هغه بلا موجود وه ، دَ هغې سره هم هغه شان معامله اوکړې شوه څنګه چه دَ اول قبر سره شوې وه ، ليکن هغه بلا ذره هم اخوا نهٔ شوه ، بيا خلقو مشوره ورکړه چه هم په دې کښې دې دفن کړې شی . کله چه قبر کښې دفن کړې شو نو دَ هغه قبر نه يو زوردار آواز راغې . کله چه مونږ دا واقعه اوليده نو مونږ دَ هغه مړی کور والا ته ورغلو ، او دَ هغه دَ بي بي نه مو تپوس اوکړو چه دهٔ به څهٔ عمل کولو ؟ بي بي ئې اووئيل چه هغه به زياتره غسلِ جنابت نهٔ کولو . (شرح الصدور)

﴿ دَ حضرت سعد رضی الله عنه شان او دَ هغوی دَ قبر تنګيدل ﴾

حضرت سعد رضی الله عنه دَ انصارو دَ قبيلهٔ اوس سردار وو ،

دَ هغوی دَ ایمان راوړلو په وجه سره بنو اشهل هم ایمان راوړي وو ، هغوی دَ جلیل القدر او دَ اکابر صحابهٔ کرامو نه وو . هغوی ته به جناب رسول الله ﷺ سید الانصار فرمائیل .

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه مونږ دَ نبی کریم ﷺ سره دَ حضرت سعد جنازې ته لاړو . کله چه مو په هغه باندې مونځ دَ جنازې اوکړو او هغه لره مو په قبر کښې کیخودلو ، او قبر تیار شو نو :

" سبح رسول الله ﷺ فسبحنا طویلًا ثم کبر فکبرنا ، فقیل یا رسول الله ! لم سبحت ثم کبرت قال لقد تضایق علی هذا العبد الصالح قبره حتیٰ فرجه الله عنه "

رسول الله ﷺ اوږدهٔ اوږدهٔ تسبیحات اووئیل ، نو مونږ هم طویل تسبیحات اولوستل ، بیا رسول الله ﷺ الله اکبر اووئیل نو مونږ هم الله اکبر اووئیل . تپوس اوکړې شو چه یا رسول الله ! تاسو ولې تسبیحات او بیا تکبیر اولوستو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دَ الله تعالیٰ په دې نیک بنده باندې قبر راتنګ شو ، کله چه ما تسبیحات او تکبیر اولوستو ، نو الله تعالیٰ پرې قبر پراخه کړو . په حضرت سعد رضی الله عنه باندې دَ قبر دا راتنګیدل دَ بکرو دَ متیازو نه دَ ځان نهٔ ساتلو په وجه سره وو .

نبی کریم ﷺ دَ حضرت سعد رضی الله عنه شان بیان کړو او په دې شان سره ئې خلق دَ قبر دَ تنګئ نه اوېرول چه حضرت سعد رضی الله عنه دَ معمولی شان والا سړې نهٔ وو ، بلکې ډیر بلند مقام

والا وو لیکن بیا هم دَ قبر په تنګئ کښې مبتلاء شو .

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :-

" هـذا الـذی تحرك له العرش وفتحت له الحجاب السمآء وشهد الفون سبعًا من الملائکة لقد ضم ضمة ثم فرج عنه "

دا هغه شخص دې چه دده دپاره عرش اوخوزیدو ، او ددوی دپاره دَ آسمان دروازې کهولاؤ کړې شوې او اویا زره فرښتو ئې په مونځ دَ جنازې کښې شرکت اوکړو ، په تحقیق سره قبر پرې راتنګ شو او بیا پراخه شو . "

باب نمبر ۲۸:

﴿ په حقوق العباد کښې په کوتاهی کولو باندې عذابِ قبر ﴾

دَ الله تعالیٰ اویا نافرمانۍ او دَ بنده یو روپۍ اخستل برابر دی:

حضرت سفیانِ ثوری رحمه الله فرمائی چه کۀ یو کس دَ الله تعالیٰ اویا نافرمانۍ اوکړی او دَ قیامت په ورځ حاضر شی نو دا ددې نه ډیر زیات سپك او وړوکې جرم دې چه دَ یو بنده یو حق په خپله ذمه واخلی او دَ قیامت په ورځ میدانِ محشر کښې حاضر شی. ځکه چه دَ الله جل شانه ذات بې نیازه دې هغه به خپل حقوق معاف کړی، مګر بندګان چونکه محتاجه دی (او دَ قیامت په ورځ به خو دَ بې کسۍ او محتاجۍ، حالت وی، بنده به ذرا ذرا سهارا او عمل تلاش کوی) په دې وجه سره دَ هغه دَ حق دهیان ساتل او دَ حقوق العباد نه پاك او صفا ددې دنیا نه تلل زیات اهم او ډیر ضروری دی.

﴿ دَ اووۀ زمکو وزن په اوږه باندې ﴾

دَ حضرت ابو مالك اشعری رضی الله عنه نه روایت دې چه جناب رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایلو:

" اعظم الغلول عند الله ذراع من الارض، تجدون الرجلین جارین فی الله، او فی الدار، فیقطع احدهما من حق صاحبه ذراعًا، اذا اقتطعه طوقة من سبع ارضین یوم القیامة"

دَ ټولو نه لوی خیانت دَ الله تعالیٰ په نزد باندې دَ یو لیشت زمکې خیانت دې، یا دا چه دَ کور دوو ګاونډیانو ته ګورئ چه یو دَ بل سره دَ یو لیشت زمکې خیانت اوکړو، کله چه په هغې باندې قبضه اوکړی نو الله تعالیٰ به دَ هغې په بدله کښې دَ اووۀ زمکو طوق په غاړه کښې واچوی."

دَ یو لیشت یا دَ یو لاس دَ خیانت نه مقصود دادې چه کۀ لږ وی او کۀ زیات چه خیانت اوکړی نو هم هغه هومره طوق به ورته په غاړه کښې اچولې شی، دَ یو لاس مثال په حدیث مبارك کښې ځکه دې چه عمومًا یو لاس یا یو لیشت زمکه ګاونډیان قبضه کوی، اوس خو لا ددې جرأت انتهاء نشته دې، بعضِ ګاونډیان یا کرایه دار خو په پوره پوره پلاټ باندې قبضه کوی.

﴿ دَ بل چا په مال باندې قبضه کول ظلم دې ﴾

الله دې نۀ کړی کۀ چرې ستاسو په ذهن کښې دا وی چه میراث دَ سر نه نۀ تقسیمه وو، نو دا دَ ډیر لوی ظلم خبره ده. په یو حدیث شریف کښې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې چه چا یو وارث دَ میراث نه محرومه کړو نو الله تعالیٰ به هغه لره په جنت کښې دَ خپلې حصې نه محرومه کړی."

﴿ یوه عبرتناکه واقعه ﴾

حضرت عیسیٰ علیه السلام په یو قبر باندې تیریدلو نو مړی ته ئې آواز اوکړو " قم باذن الله " دَ الله په حکم سره اودریږه ، هغه مړې ژوندې شو حضرت عیسیٰ علیه السلام ترینه تپوس اوکړو ته څوک ئې ؟ هغه ورته اووئیل چه زهٔ حمال (پنډی ، مزدور) یم یعنی ما به په اجرت سره سامان اوړلو .

" فنقلت یومًا لانسان حطبًا و کسرت منه خلالًا وتخللت به فنا مطالب به منذ مت "

ما یوه ورځ دَ یو کس سره لرګی اوړل ، په لاره کښې دَ غاښونو دَ خلال دپاره ما دَ هغه لرګو نه یو ډکې راجُدا کړو چه دَ هغې په مطالبه او حساب کښې زهٔ تر ننه پورې مبتلا یم .

﴿ دَ یو ستن په نهٔ واپس کولو باندې عذابِ قبر ﴾

مشهور بزرګ عارف بالله حسان بن ابی سنان رحمه الله ز شپیتو کالو پورې دَ حیاء په وجه سره په ډډه نهٔ وو سملاستلې ، نهٔ ئې سمین (نرئ غوښه) خوړلې وه او نهٔ ئې یخې اوبهٔ څکلې وې ، دَ مرګ نه روستو چا په خوب کښې اولیدو تپوس ئې ترینه اوکړو چه حال دې څنګه دې ؟ نو هغوی ورته اووئیل :

" الله تعالیٰ راسره ښهٔ معامله اوکړه مګر یوه ستن ، چه هغه ما دَ چا نه په سوال غوښتې وه او واپس کړې مې نهٔ وه ، دَ هغې په

وجه سره لا تراوسه پورې دَ جنت نه منع کړې شوې یم .





باب نمبر ۲۹

﴿ په درود نهٔ لوستلو باندې عذابِ قبر ﴾

دَ درود شریف په نهٔ لوستلو باندې دَ رسول الله ﷺ خیرې :

یو ځل حضرت جبرئیل علیه السلام بددُعا اوکړه ، چه برباد دې شی هغه بنده چه په هغه باندې دَ رمضان المبارك میاشت راغله او دَ هغه په کښې مغفرت اونهٔ کړې شو نو نبی کریم ﷺ په دې باندې اوفرمائیل " آمین " اوس دا زمونږ دپاره ډیره اهمه خبره شوه ، اوس په خپله سوچ اوکړئ ، چه دَ یوې مور یو نالائق ځوی ته څوك بددُعا (خیرې) اوکړی نو مور دا بده ګنړی چه زما ځوی ته خیرې ولې کوی ، لیکن رسول الله ﷺ دَ مور نه زیات په امت باندې شفیق دې .

حضرت جبرئیلؑ چه کله خیرې اوکړې نو جناب رسول الله ﷺ پرې دَ آمین مُهر اولګولو ، دا څنګه کیدې شی چه دَ یوې مور په وړاندې دَ هغې ځوی ته خیرې اوکړې شی او هغه پرې آمین اووائی . دا خو کله هم نهٔ شی کیدې ، دَ الله محبوب ﷺ آمین ولې اوفرمائیل ؟ معلومه شوه چه په رمضان کښې مغفرت ډیر په آسانه سره کیږی ،

چه څوك معمولي غونډې هم نيت اوکړي او په توبه آماده شي نو دَ الله تعالىٰ رحمت بهانې لټوي او دَ انسان بخشش کوي ، او دَ بخشش نه هغه کس محرومه پاتې کيږي چه هغه په حقيقت کښې محرومه وي . په دې وجه سره نبي کريم ﷺ آمين اووئيل ، اوس لږ شان غور پکار دې چه يو خو دَ خپلو ګناهونو بوجهـ په سر باندې پروت دې او ددې دپاسه دَ نبي کريم ﷺ بددُعا هم اولګيده نو بيا به زمونږ څهٔ کيږي ؟

ددې وجې نه په څو ورځو کښې دننه په خپل رب باندې خپل ګناهونه اوبخښئ ، دا ياد ساتئ ! چه دَ چا بخشش اوکړې شو نو دَ هغهٔ دپاره به دَ رمضان راتلونکې ورځې عيد (اختر) وي او دَ چا چه بخشش اونهٔ کړې شو نو دَ هغه دپاره به راتلونکې ورځې وعيد وي ددهٔ دپاره به بده فيصله کولې شي . په جهنميانو کښې به ددهٔ شموليت وي . ددې وجې نه رمضان المبارك زمونږ دپاره دَ فيصلې ورځ ده ، مونږ له پکار دي چه دَ ګناهونو نه ځان بچ کړو او دَ الله رب العزت دَ راضي کولو کوشش اوکړو .

﴿دَ درود نهٔ وئيلو نحوست (سپيرهٔ والې)﴾

په " سبع سنابل " کښې دي ، دَ حضرت سيدنا ابراهيم نخعي رحمه الله استاذ چه ډېر زيات لوى عالِم وو هغه چه کله وفات شو نو چا په خوب کښې اوليدو چه دَ هغه په سر باندې دَ مجوسيانو غونډې ټوپۍ ده ، دَ هغې په باره کښې ئې ترينه تپوس اوکړو نو هغه

ورته په جواب کښې اووئيل چه کله به هم دَ جناب محمد ﷺ نوم مبارك راتلو نو ما به درود شريف نهٔ لوستلو ددې ګناه دَ نحوست په سبب سره زما نه معرفت او ايمان سلب کړې شو .

﴿تور مار﴾

يو کس مړ شو ، کله چه دَ هغه دپاره قبر تيار کړې شو نو په هغې کښې يو ډېر لوى تك تور مار وو ، خلقو ډېرې نه هغه قبر بند کړو او بل قبر ئې تيار کړو ، هلته کښې هم هغه خوفناك مار وو . آخر په دريم ځل قبر اوکنيستلې شو ، تور مار هلته کښې هم موجود وو ، آخر هغه مار خبرې شروع کړې ، دې خلقو ته ئې آواز اوکړو چه تاسو کوم ځائ هم قبر کنوئ نو هلته به زهٔ موجود يم . خلقو ترينه تپوس اوکړو چه دا قهر او غضب ولې دې ؟ هغه مور ورته په جواب کښې اووئيل چه کله به دَ تاجدارِ مدينه ﷺ نوم دې مړي اوريدو نو دهٔ به درود نهٔ لوستو ، دهٔ به په درود وئيلو کښې بخل کولو ، زهٔ به دې بخيل ته سزا ورکوم .

اوبريږئ ! اولړزيږئ ! الله دې نهٔ کړي کهٔ چرې په تاسو کښې دَ وړاندې نه دا عادت موجود وي نو په رښتونى زړهٔ سره توبه اوکړئ او آئنده دپاره چه کله هم دَ محبوب خُدا ﷺ نوم اورئ نو په شوق او محبت سره ضرور درود شريف وايئ .

﴿په درودِ پاك کښې دَ بُخل کوونکي واقعه﴾

ابو علي عطار رحمه الله فرمائي چه زما دپاره ابو طاهر څو

اجزاء اوليکل نو ما په هغه اجزاؤ کښې اوليدل چه کوم ځائ کښې ئې هم دَ نبی کريم ﷺ نوم مبارك ليکلې وو نو ورسره به ئې دا هم ليکلې وو :

" صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا "

نو ما دَ ابو طاهر نه تپوس اوکړو چه تاسو دا دَ څۀ دپاره ليکلې دی ؟ نو هغه اوفرمائيل چه اول به ما کله دَ حضور ﷺ نوم مبارك ليکلو نو درود به مې ورسره نۀ ليکلو ، يو ځل ما سيد الکونين ﷺ په خوب کښې اوليدو او ما سلام عرض اوکړو .

نو رسول الله ﷺ مخ بل طرف ته واړولو . زۀ دې بل طرف ته راغلم او سلام مې پرې عرض کړو ، نو هغوی زما نه مخ بل طرف ته واړولو ، زۀ مخامخ شوم او عرض مې کړو : اې زما آقا ! تاسو زما نه مخ مبارك ولې اړوئ ؟

هغوی ﷺ اوفرمائيل : چه تۀ کله زما نوم په کتاب کښې ليکې نو تۀ ورسره درود نۀ ليکې . شيخ ابو طاهر رحمه الله فرمائی چه دَ هغه ورځ نه چه کله هم زۀ دَ شاهِ کونين صفی الله ﷺ نوم مبارك ليکم نو ورسره دا هم ليکم :

" صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا " (سعادة الدارين)

﴿ په درود نۀ لوستلو باندې دَ حضور ﷺ ناراضګی ﴾

يو کس ډير نيك او پرهيزګار وو ، او په پابندئ سره به ئې مونځ او روژه ادا کول ، مګر سره ددې هر څۀ باوجود به هغه په درود

شريف لوستو کښې کوتاهی کوله او سُستی به ئې کوله .

يو ځل په خوب کښې دَ سيد دو عالم صلی الله عليه وسلم په ديدار سره مشرف شو ، مګر رسول الله ﷺ هغه طرف ته څۀ توجه اونۀ فرمائيله ، هغه به بار بار دَ رسول الله ﷺ مخې ته راتلو مګر رسول الله ﷺ به بار بار دَ هغه نه اعراض کولو .

آخر هغه اوبريدلو او عرض ئې اوکړو : يا رسول الله ! آيا تاسو زما نه ناراض يئ ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : نۀ . هغه بيا عرض اوکړو چه ناراض نۀ يئ نو تاسو په ما باندې نظر ولې نۀ عنايت کوئ ؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائيل چه زۀ تا نۀ پيژنم . هغه عرض اوکړو چه حضور ! زۀ هم ستاسو دَ امت نه يو فرد يم . او ما دَ علمائې کرامو نه اوريدلې دی چه تاسو ته خپل امت دَ ځامنو نه هم زيات ګران او عزيز دی . حضور ﷺ اوفرمائيل : هم داسې ده مګر تۀ ماته دَ درود پاك تحفه نۀ راليږې . زما نظرِ عنايت او شفقت په هغه امتی باندې وی چه هغه په ما باندې درود وائی .

هغه کس چه بيدار شو نو دَ هغه ورځ نه به ئې هره ورځ په ډير شوق او محبت سره درود لوستلو . يوه ورځ بيا دَ رسول الله ﷺ په زيارت سره مشرف شو او وې ليدل چه رسول الله ﷺ ډير خوشاله دې اودۀ ته ئې اوفرمائيل چه زۀ اوس تا ډير زيات ښۀ پيژنم او دَ قيامت په ورځ زۀ ستا دپاره دَ شفاعت ضامن يم مګر درود پاك مۀ پريږده .

(معارج النبوة ص : ۱/۳۲۸)

﴿ دَ درود په نهٔ لوستلو سره ژبه ګونګۍ شوه ﴾

یو کس چه به کله دَ رسول اللهﷺ ذکر اوریدلو نو هغه به درودِ پاك نهٔ لوستلو نو هغه ګونګې شو او په سترګو باندې روند شو ، آخر هغه دَ حمام په نالۍ کښې پریوتلو او مړ شو .

" اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا " (سعادة الدارین ص ۱۴۴)

﴿ په درود نهٔ لیکلو باندې دَ ذلت مرګ ﴾

یو عالِم دین دَ یو رئیس دپاره موطا شریف اولیکلو ، هغه رئیس دَ موطا سره ډیر زیات محبت کولو او ډیر زیات خائسته ئې اولیکلو لیکن چه کوم ځائ کښې به دَ حضورﷺ نوم مبارك راتلو نو دَ هغه ځائ نه ئې درود شریف حذف کړو او په هغه ځائ کښې ئې صرف " ص " اولیکلو دَ لیکلو نه روستو چه ئې دا نسخه هغه رئیس ته پیش کړه نو هغه چه اولیده نو ډیر زیات خوشاله شو او هغه ته ئې دَ انعام او اکرام ورکولو اراده اوکړه . مګر هغه ته دَ انعام ورکولو نه مخکښې دَ هغه په دې خیانت باندې پوهه شولو او دَ انعام په ځائ ورته دیکې ورکړې او بهر ته ئې اوویستلو ، ددې نه روستو بیا هغه عالِم دین کنګال شو او دَ ذلت په مرګ باندې مړ شو . (سعادة الدارین)

﴿ دَ درود دَ نهٔ لیکلو په وجه سره په لاس کښې زخم راتلل ﴾

حضرت ابو زکریا عابدی رحمه الله فرمائی چه ماته خپل یو دوست اووئیل چه په بصره کښې به یو کس احادیث لیکل او قصدًا به

نو دَ حضورﷺ نوم سره درود نهٔ لیکلو ، دا به هغه صرف دَ کاغذ دَ بچت کولو دپاره کول ، په دې وجه سره دَ هغه په لاس کښې ځهٔ بیماري پیدا شوه او هم دَ هغې دَ درد په وجه سره مړ شو .

﴿ دَ مرګ نه مخکښې لاس کټ کیدل ﴾

په " شفاء الاسقام " کښې دی چه یو کاتب وو ، هغه به احادیث مبارکه لیکل لیکن په کوم ځائ کښې چه به دَ حضورﷺ نوم مبارك لیکلې شوې وو نو هلته کښې به ئې دَ درود په ځائ صرف " صلعم " لیکلو ، نو دَ هغه نه دَ مرګ نه مخکښې لاس کټ کړې شو . (سعادة الدارین : ص ۱۳۱)

﴿ دَ مرګ نه مخکښې ترینه ژبه کټ کړې شوه ﴾

یو کس به دَ رسول اللهﷺ دَ نوم مبارك سره دَ درود په ځائ صرف " صلعم " لیکلو ، دَ هغه نه دَ مرګ نه مخکښې ژبه کټ کړې شوه . (سعادة الدارین ص ۱۳۱)

﴿ دَ درود نهٔ لیکو په وجه سره ئې جسم اوپړسیدو ﴾

یو کس به دَ رسول اللهﷺ دَ نوم مبارك سره دَ درود په ځائ باندې صرف " صلعم " لیکلو نو دَ هغه دَ جسم یوه حصه اووهلې شوه او هغه اندام ئې اوپړسیدو او دَ هغې نه مړ شو . (سعادة الدارین)

﴿ دَ درود نهٔ لیکلو په وجه سره په سترګو ړوند شو ﴾

یو کس به هم داسې داسې کول یعنی دَ رسول اللهﷺ دَ نوم

مبارك سره به ئې قصدًا درود نهٔ ليکلو نو هغه په سترګو باندې روند شو او په بازارونو کښې به ګرځيدو راګرځيدو او دَ خلقو نه به ئې سوال کولو . (سعادة الدارين ص ۱۳۱)

تنبيه : په دې مذکوره واقعاتو باندې غور اوکړئ چه کله صرف دَ درودِ پاك په بې پرواهئ سره داسې سزاګانې دی ، نو چه کوم خلق په شانِ رسالت ونبوت کښې ګستاخی کوی نو چه دَ هغوی به لا څهٔ حشر وی . داسې خلق چه کله مړهٔ شی نو قسم قسم عذابونو کښې مبتلا کيږی ، ژبې ئې بهر ته راوځی ، ژبې ئې کټ کولې شی ، بدبوئی ترينه خوريږی ګويا چه سامانِ عبرت خلقو ته پريږدی . چه څوك داسې کوی نو دَ هغه به دا حشر وی . (العياذ بالله)

باب نمبر ۳۰ :

﴿ دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې خوفناك عذابِ قبر ﴾

دَ مظلوم په مدد نهٔ کولو باندې سَل کوړې :

چا چه يو مظلوم اوليدو او هغه ددهٔ نه مدد طلب کړو او باوجود دَ طاقت نه ددهٔ دَ هغه مظلوم مدد اونهٔ کړو ، نو داسې کس به په قبر کښې سَل کوړې وهلې شی .

﴿ نهٔ (۹) بدبخته خلق او دَ هغوی پيروکار ﴾

په احاديثِ مبارکه کښې راځی چه نهٔ بدبخت خلق به سره دَ خپلو پيروکارو او متبعينو دَ قيامت په ورځ رابللې شی . او هغه

بدبخته خلق دادی :

﴿۱﴾ فرعون ﴿۲﴾ قابيل ﴿۳﴾ کعب بن اشرف يهودی ﴿۴﴾ ابوجهل ﴿۵﴾ وليد بن مغيره ﴿۶﴾ دَ قومِ لوط نه اجرع نومې سړې . ﴿۷﴾ امرء القيس ﴿۸﴾ مسيلمه كذاب ﴿۹﴾ ابليس ، (شيطان)

په هم دې ترتيب سره به هغوی ميدانِ محشر ته رابللې شی .

﴿۱﴾ ...... دَ قيامت په ورځ به آواز اوکړې شی چه کوم ځائ دې فرعون ، هغه به په داسې حال کښې راوستلې شی چه دَ هغه په سر باندې به دَ اور توپئ وی ، دَ قطران قميص به اغوستې وی ، په خنزير به سور وی . بيا به ندا اوکړې شی چه سرکش او تکبر کولو والا کوم ځائ دی ؟ چنانچه هغوی به راوستلې شی او جهنم طرف ته به دوی شړلې شی او دا تمامه قافله به دَ فرعون په قيادت کښې جهنم ته اورسی .

﴿۲﴾ ... بيا به آواز اوشی کوم ځائ دې قابيل ، او دَ هغه نه بعد به بيا حسد کونکو ته ندا اوکړې شی . دا حاسدين به دَ قابيل سره يو ځائ کړې شی او هغه به جهنم طرف ته په تللو کښې دَ دوی امام وی.

﴿۳﴾ بيا به آواز اوکړې شی چه دَ يهوديانو رئيس "کعب بن اشرف" کوم ځائ دې ؟ لکه څنګه چه په حديث مبارك کښې دی : "لو آمن لآمن جميع اليهود" کهٔ چرې کعب بن اشرف ايمان راوړې وې نو تمامو يهوديانو به ايمان راوړې وو . هغه به هم دغه شان حاضر

کړې شي بيا به حکم اوشي چه کوم ځائ دَ علم او حق پټولو والا ، چنانچه دا ټول به راجمع کړې شي او جهنم طرف ته به شړلې شي او کعب بن اشرف به ددې ټولو مشر او رئيس وي .

۴ دغه شان به بيا آواز اوکړې شي چه ابو جهل کوم ځائ دې ؟ نو بيا به آواز اوکړې شي چه کوم ځائ دی هغه خلق چه هغوی به دَ الله او دَ هغه دَ رسول تکذيب کولو ، نو دا ټول به دَ ابوجهل په قيادت او مشرئ کښې جهنم ته داخل شي .

۵ بيا به آواز اوکړې شي چه وليد بن مغيره کوم ځائ دې ؟ هغه به حاضر کړې شي ، او بيا به آواز اوکړې شي چه هغه خلق کوم ځائ دی چه هغوی به فقرآء مسلمانانو پورې خندا کوله ، نو داسې خلق به دَ وليد بن مغيره په مشرئ کښې جهنم ته داخل شي.

۶ ددې نه بعد به بيا آواز اوکړې شي چه دَ قومِ لوط اجرع کوم ځائ دې ؟ چه هغه دَ لواطت رسم جاری کړې وو چه کله هغه حاضر کړې شي نو بيا به آواز اوکړې شي چه کوم ځائ دی هغه خلق کوم چه دَ لواطت په جرم کښې مبتلا شوې وو ؟ کله چه هغوی پيش کړې شي نو دَ اجرع په مشرئ کښې به دا خلق جهنم ته اورسی .

۷ بيا به آواز اوشي چه امرء القيس کوم ځائ دې ، کله چه هغه راشي نو تمام شاعران به دَ هغه نه ګير چاپيره راجمع کړې شي يعنی هغه شاعران کومو چه به دروغ وئيلې وې نو دوی به دَ امرء القيس په مشرئ کښې جهنم ته داخل کړې شي .

۸ بيا به آواز اوشي چه مسيلمه کذاب کوم ځائ دې ؟ نو هغه به حاضر کړې شي ، بيا به آواز اوشي چه هغه خلق کوم ځائ دی چاچه به دَ کتاب تکذيب کولو ؟ نو هغه خلق به هم حاضر کړې شي بيا به دا خلق دَ مسيلمه کذات په قيادت کښې جهنم ته داخل شي .

۹ بيا به ندا اوشي چه شيطان کوم ځائ دې ؟ نو هغه به هم دغه شان راوستلې شي شيطان به دَ الله رب العزت په دربار کښې عرض کوی چه اې انصاف کوونکې حاکمه ! ماته زما لښکر ، زما موذن ، زما قاری ، زما کاتب ، زما وزيران ، زما فقهاء ، زما خزانو والا ، زما تاجر ، ډول غږولو والا ، ګانو بجانو والا او زما حاشيه برداز ماته عطا کړې .

الله تعالیٰ به ارشاد فرمائی اې ملعونه ! ستا لښکر کوم يو دې ؟ شيطان به وائی زما لښکر حريص خلق دی ، زما موذن ګانو وئيلو والا دی ، زما مصاحف وينښتو لګولو او بل چاله کيخودلو والا دی ، زما فقهاء هغه دی چه کومو خلقو باندې مصيبت وی نو هغوی پورې ټوقې او مذاق کوی ، او ښځ خوراکونه به ئې کول ، زما خزانو والا هغه دی چه هغوی به دَ نشې والا درستخوان باندې جمع کيدل او زکوة به ئې نۀ ورکولو . زما تاجر هغه خلق دی چه هغه به ډول او طبلونه خرڅول او دَ ګانو بجانو ساز وسامان به ئې خرڅولو ، بيا به خلقو دا ځيزونه واخستل او ډول ، او باجې به ئې غږول او زما حاشيه

برداز هغه خلق دی چه هغوی به دَ نشې کولو په وجه سره منشیات کړل .

چنانچه یو غټ اوږد مار به ظاهر شی چه دَ هغه دَ غاړې اوږدوالې به دَ اویا کالو په مسافت باندې وی ، بیا به دغه خلق جمع کړې شی او جهنم ته به ئې اورسوی .

﴿ دَ مظلوم په مدد نه کولو باندې دَ عذاب سَل کوړې ﴾

دَ حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو کس متقی او پرهیزګار وو ، هغه چه کله مړ شو خلقو دفن کړو او بیا دَ دفن کولو نه بعد خلق واپس کیدل نو الله تعالیٰ دَ عذاب فرشتو ته حکم اوکړو چه دهٔ لره په دُره باندې سَل دُرې اووهه ، فرشتې دَ هغه دَ وهلو اراده اوکړه نو هغه عرض اوکړو چه زهٔ خو دَ الله تعالیٰ نیک او عبادت ګذار بنده یم ، بیا ئې دَ الله تعالیٰ نه سوال اوکړو ، حکم اوشو چه پنځوس دُرې ئې اووهه ، بیا ئې دُعا اوکړه تردې پورې چه حکم اوشو چه یوه دُره ئې اووهئ ،نو فرشتو هغه لره صرف یو ګذار اووهلو په دې سره دَ هغه قبر دَ اورنه ډك شو او په عذابِ قبر کښې مبتلا شو ، کله چه دَ عذاب نه خلاص شو نو فرشتو ته ئې عرض اوکړو چه تاسو زهٔ ولې دا یو ګذار اووهلم ، ما کومه ګناه کړې وه ؟ فرشتې ورته جواب ورکړو چه یو ورځ تا بغیر دَ اودس نه مونځ کړې وو ، او تهٔ یوه ورځ په یو مظلوم باندې تیریدلې او هغه تاته

فریاد کړې وو او تا دَ هغه مدد اونهٔ کړو .

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

★ ★ ★ ★

باب نمبر ۳۱ :

﴿ دَ مسلمان بنده قتل ، او عذابِ قبر ﴾

دَ رسول الله ﷺ فرمان دې چه الله تعالیٰ ته دَ تولو نه زیات ناخوښه څیز دَ یو مسلمان بنده په ناحقه قتلول دی .“ (باب الاعتصام بالسنة)

﴿ دَ مړی په جسم کښې دَ اوسپنې میښونه ﴾

حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی چه یو کس لوهاری منډۍ ته په بغداد کښې راغې او لږ شان زاړهٔ دَ اوسپنې میښونه ئې خرڅ کړل . دَ هغه میښونو دوه سرونه وو ، هغه لوهار کوم یو چه دا میښونه اخستې وو ، کله چه ئې په اور کښې دَ نرمو کولو دپاره ګرمول اوغوستل ، نو باوجود دَ غټو غټو فلکونو او ټکو ئې هغه میښونه سیدها نهٔ کړې شو . هغه عاجز راغې او چاچه پرې دا میښونه خرڅ کړې وو دَ هغه تلاش ئې شروع کړو چه آخر دا دومره سخت میښونه هغه ته دَ کوم ځائ نه ملاؤ شول .

لږ ساعت روستو هغه کس یو دوکاندار سره ناست وو . دې ورغې او تپوس ئې ترینه اوکړو ، نو هغه دَ حقیقت بیانولو نه اعراض

اوکړو ، په دې کښې نور خلق هم اودریدل او دې ئې په ګیره کښې واخستو . دهٔ چه هرکله دَ ځان خلاصولو څهٔ صورت اونهٔ لیدو نو بیا ئې اووئیل چه ما دا میښونه دَ یو قبرستان نه حاصل کړې دی ، دا په یو قبر کښې دَ مړی په هډوکو باندې وهلې شوې وو ، ددې سره هغه دا هم اووئیل چه هغه خپله هم ددې په راویستلو کښې عاجزه شوې وو آخر ئې دَ یو کاڼړی په ذریعې سره هغه هډوکی چوره چوره کړل او بیا ئې ترینه میښونه راوویستل . (کتاب الروح)

﴿ په ناحقه باندې دَ مسلمان بنده قتلول دَ عذابِ قبر سبب دې ﴾

صدقه بن خالد رضی الله عنه دَ دمشق دَ بعضِ مشائخو نه نقل کړې دی ، مشائخ حضرات فرمائی چه مونږ حج ته روان شو ، زمونږ نه یو ملګرې په لاره کښې مړ شو . مونږ دَ هغه ځائ دَ آبادئ نه یوه کُداله په سوال باندې اوغوسته ، او په هغې سره مو قبر اوکِنستلو او هغه مرده مو په هغه قبر کښې دفن کړو . دَ دفن کولو نه بعد مونږ ته رایاد شول چه په قبر کښې کُداله پاتې شوې ده ، مونږ هغه قبر بیا کهولاؤ کړو ، نو مونږ څهٔ ګورو چه دَ هغه مړی ګردن او دواړه لاسونه په هغه کُداله کښې تړلې شې دی .

مونږ چه هر کله دا منظر اولیدو نو په قبر مو خاوره دوباره واړوله او کُداله مو راونهٔ ویستلې شوه . دَ کدالې مالك ته مو دَ هغې قینت ورکړو او راضی مو کړو ، کله چه مونږ دَ سفر نه واپس راغلو نو

دَ هغه مرده دَ بی بی نه مو دَ هغه دَ حال تپوس اوکړو چه هغه به څهٔ عمل کولو . هغې مونږ ته اووئیل چه زما خاوند دَ یو کس سره یو ځائ تللو ، دَ هغه بل کس سره مال وو زما خاوند هغه کس قتل کړو او مال ئې ترینه واخستو او هم په دغه مال سره حج ته تللو .

﴿ په ظلم کولو باندې دَ مرګ په وخت کښې سترګې بهر ته راوتل ﴾

زما یو دوست دَ شوګر مریض وو او دَ خپلې علاقې لوی زمیندار وو . ماته راغې او دَ هغه حالت خراب شو او دَ مرګ دَ سختئ حالت پرې شروع شو . دَ نزع په وخت کښې چه ما کوم یو عجیب څیز اولیدو نو هغه داوو چه هغه به وقفه په وقفه خپې لاسونه یو ځائ کول ، داسې لکه چه څوك ئې وهی او دې دَ خپل ځان دَ بچ کولو کوشش کوی . څنګه چه دَ مرګ وخت قریب شو نو دَ هغه دواړه سترګې بهر ته راوتل شروع شول او سترګې ئې بهر ته راووتلې او ډېر بد صورته شکل ئې جوړ شو . او په دې حالت کښې مړ شو .

څو ورځې روستو ما ددې خبرې تحقیق اوکړو نو معلومه شوه چه کله هغه تندرست وو نو یو کس دَ هغه په زمکه باندې تیریدلو ، هغه کس دهٔ دَ اجازت نه بغیر په زمکه تیریدلو نو دهٔ اووهلو زخمی ئې کړو او هغه ددغه زخم په وجه سره مړ شو او دَ مرګ په وخت ئې دَ هغه سترګې بهر ته راوویستلې . غالبًا دا سزا دهٔ ته په دې وجه سره وه چه دهٔ بې ګناه قتل کړې وو .

﴿ دَ مړی خوفناکه چغه ﴾

محمد بن یوسف فارابی رحمه الله دَ حضرت ابو سنان رحمه الله په حوالې سره بیان کوی چه زما دَ یو دوست رور مړ شوې وو . زهٔ چه کله دَ هغوی دَ تعزیت دپاره لاړم نو ما اولیدل چه هغه ډیر زیات پریشانه وو . ما ترینه تپوس اوکړو چه دا حالت ولې دې ؟ نو هغه راته اووئیل چه کله ما خپل رور دفن کړو او فارغ شوم نو ما دَ هغه قبر نه دَ رور آواز واوریدو ، نو ما په تیزئ سره قبر کهولاؤ کړو نو ما ته چا آواز راکړو :

" اې دَ الله بنده قبر کهولاؤ نه کړې . "

بیا چه کله واپس راغلم نو هم هغه شان آواز راغې چه " اې دَ الله بنده ! قبر کهولاؤ نهٔ کړې . دا آواز چه ما واوریدو نو ما دَ اول ځل په شان په هغه قبر باندې خاوره واړوله . کله چه فارغ شوم نو لږ شان لرې تلې وُم چه ما بیا آواز واوریدو . ما اووئیل : په الله قسم ! اوس به ضرور قبر کهولاؤوم . کله چه ما هغه قبر کهولاؤ کړو نو ما اولیدل چه دَ هغه په غاړه کښې دَ اور امیل وو او تمام قبر په اور سره روښانه وو ما اوغوښتل چه هغه امیل دَ هغه دَ غاړې نه لرې کړم . ما دَ هغه په غاړه خپل لاس اووهلو نو زما ګوتې اوسوزیدې او ایره شوې . ما ته هغه خپل لاس اوښودلو نو دَ هغه څلور ګوتې نهٔ وې . (عیون الحکایات)

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★

باب نمبر ۳۲ :

﴿ دَ خاوند په نافرمانئ باندې عذابِ قبر ﴾

دَ خپل خاوند ناشکری کول :

دَ ښځو اکثر جهنم تـه دَ تللو سبب دادې چه لږه شان هم دَ هغوی دَ مزاج نـه خلاف کار اوکړې شی یا یو کار دَ هغې دَ مرضئ مطابق پوره اونهٔ کړې شی ، نو په مخکینو تمامو احساناتو باندې هغه په یو جملې سره اوبهٔ واړه وی چه " ما رأیت خیرًا منك قط " چه . ما په دهٔ کښې کله هم خیر نهٔ دې لیدلې ،" دې سړی خو همیشه دپاره زهٔ ذلیله کړې یم ، ما کله هم په دهٔ کښې څهٔ نیکی نهٔ ده لیدلې . بس دا خو زهٔ یم چه لـه دهٔ سره دَ وینزې او خادمې په شان وخت تیروم . وغیره وغیره .

دا ټولې جملې داسې دی چه دَ خاوند دَ ټول عمر احسانات فراموش کوی او دَ خپو لاندې کوی ئې . دا الله تعالیٰ ته په هیڅ شان سره خوښه نهٔ ده .

﴿ دَ ښځې جان فراموشی ﴾

په حدیث پاك کښې دی :

" عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اریت النار فاذا اکثر اهلها النسآء یکفرن العشیر ویکفرن الاحسان ولو احسنت الیٰ احداهن الدهر ثم رأت منك شیئًا قالت ما

رأيت منك خيرا قط "

" دَ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو :

ماته جهنم اوښودلې شو نو ما په هغې کښې اکثر ښځې اولیدې . چه هغوی دَ خپلو خاوندانو ناشُکری کړې وه او دَ هغوی احسانات ئې هیر کړې وو ، او کهٔ چرې تاسو په هغوی کښې دَ یوې ښځې سره همیشه احسانات او نیکی اوکړئ او بیا ستا نه څهٔ څیز دَ خپل مزاج نه خلاف اووینی نو وائی چه ما کله هم ستا نه څهٔ خیر نهٔ دې لیدې . "

رسول الله ﷺ فرمائی :

" لا ینظر الله الیٰ امرء ة لا تشکر لزوجها "

" الله تعالیٰ هغه ښځې ته په نظر دَ رحمت سره نهٔ گوری کومه چه دَ خپل خاوند ناشکری او نافرمانی کوی . "

﴿ دَ خاوند په ناراضګئ کښې دَ الله تعالیٰ ناراضګی ﴾

دَ حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو :

" اذا دعا الرجل امرأته الی فراشه فابت فبات غضبان لعنتها الملائکة حتیٰ تصبح " (بخاری ومسلم)

کله چه سړې خپله ښځه بسترې ته راوبلی او هغه بغیر دَ شرعی عذر نه انکار اوکړی خاوند شپه په ناراضګئ کښې تیره کړی ، نو فرشتے په دِ ښځه باندے تر صبا پوری لعنت وائی. ځکه چه په ښځه باندے دَ خاوند اطاعت لازم وو، او دِ نافرمانی وکړه نو دَ فرشتو دَ لعنت مستحقه شوه.

﴿ دَ زبان درازې ښځې سزا ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه ما په معراج کښې اولیدل چه په جهنم کښې یوه ښځه دَ خپلې ژبې نه رازوړنده ده ، هغې به په خپلې ژبې سره خاوند ته تکلیف رسولو . "

بیا رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کومه ښځه په خپلې ژبې سره خاوند ته تکلیف رسوی نو الله تعالیٰ به دَ هغه ښځې ژبه دَ قیامت په ورځ اویا ګزه اوږده وی او بیا به پرې دَ هغې ګردن دَ شا نه تړلې شی . "

﴿ په زبان دراز ښځه باندې دَ الله تعالیٰ لعنت ﴾

او دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه روایت دې چه ما دَ رسول الله ﷺ نه واوریدل هغوی فرمائیل : چه کومه یوه ښځه خپل خاوند ته په ژبې سره تکلیف او اذیت رسوی نو په هغې باندې دَ الله تعالیٰ ناراضګی او لعنت دې او په هغې باندې دَ فرشتو او دَ تمامو خلقو لعنت دې .

﴿ دَ اويا كالو عبادت ورله په مخ اوويشتلې شو ﴾

دَ حضرت عثمان غنى رضى الله عنه نه روايت دې چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلې دى هغوى فرمائيل : چه كومه ښځه خپل خاوند ته اووائى چه ما په تا كښى څۀ خير نۀ دې ليدلې نو الله تعالىٰ په دې سره دَ هغه ښځې اويا كاله عبادت برباد كوى ، اګر چه هغه ښځه دَ ورځې روژه او دَ شپې قيام كوى . (قرة الراغطين)

﴿ خاوند ته دَ بد رد وئيلو انجام ﴾

تقريبًا دَ پنځويشت كالو مخكښې خبره ده چه دَ يوې ښځې په پاكستان كښى انتقال اوشو . دَ هغې جنازه قبر ته راوړلې شوه ، كله چه ئې په قبر كښى كيخوده نو خلقو اوليدل چه په قبر كښى يو مار دې ، خلق اوېريدل . دويم قبر ئې تيار كړو نو خلقو اوكتل چه قبر صفا دې ، كله چه مړې راوړلې شو نو بيا اچانك هغه مار ظاهر شو ، كوم چه په اولنى قبر كښى وو . په دريم ځل بيا قبر تيار كړې شو نو خلقو بيا اوليدل چه هم هغه مار موجود دې .

خلقو اووئيل چه دا خو نۀ پرېږدى ، نو په دې وجه سره هغه مار دَ مړى دَ كيخودو دپاره يو طرف ته شو . كله چه مړې په قبر كښى كيخودلې شو نو فورًا هغه مار راغې او ددې مړى ژبه ئې اونيوله . ټولو خلقو اوليدل ، ټول پريشان شول چه دا څۀ اوشو ؟ څۀ خبره ده ؟ دَ هغه ښځې خاوند هم موجود وو ، دَ هغه نه ئې تپوس اوكړو چه دا څه خبره ده ؟ هغه ورته اووئيل چه دې به ماته بد رَد وئيل ، ما به صبر

كولو ، كله مې ترينه هم بدله نۀ ده اخستې ، او نۀ مې جواب وركړې

بې .

ټولو خلقو ورته اووئيل چه روره ددې ښځې خطا معاف كړه ، او ددې دپاره دَ مغفرت سوال اوكړه ، هغه ورته دعاءِ مغفرت اوكړه او خطائې ورته معاف كړه ، اوس چه خلقو اوكتل نو هغه مار بالكل نۀ

وو .

ددې نه بعد ئې اوفرمائيل : كله كله الله تعالىٰ دَ عالَمِ قبر منظر خلقو ته ښائى ددې دپاره چه خلق اوېرېږى او دَ ګناهونو نه بچ

شى .

﴿ دَ نافرمان ښځې مونځ يو ليشت هم بره نۀ خيژى ﴾

دَ حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ؛

" ثلاثة لا ترفع صلاتهم فوق رؤوسهم شبرًا ، رجل ام قومًا وهم له كارهون ، وامرأة باتت وزوجها عليها ساخط ، واخوان متصارمان "

" درې كسان دى چه دَ هغوى مونځونه دَ هغوى دَ سَر نه يو ليشت هم بره نۀ ځى ، يو هغه كس چه دَ يو قوم امامتى كوى او قوم دَ هغه نه نفرت كوى ، يوه هغه ښځه چه شپه تيره كړى او خاوند ترينه ناراضه وى ، او دوه هغه رونړه چه هغوى په خپل مابين كښى په جګړا وى . " (ابن ماجه ، ترمذى)

باب نمبر ۳۳ :

﴿ په حرامه ګټه باندې عذابِ قبر ﴾

په حرامه ګټه باندې عبادت نهٔ قبليږي :

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دَ جناب رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی :

" من اشتریٰ ثوبًا بعشرة دراهم وفيه درهم من حرام لم يقبل الله عز وجل له صلوة ما دام عليه "

چا چه يو کپړا په لس درهمه باندې واخسته او صرف يو درهم په هغې کښې حرام وی نو ترڅوپورې چه دا کپړا دَ هغه په بدن وی الله تعالیٰ به دَ هغه مونځ نهٔ قبلوی . "

﴿ دَ رشوت په اخستو باندې دَ قبر کيناستل ﴾

دَ راولپنډۍ په قبرستان " رتـه امرال " کښې دَ يو سرکاری افسر واقعه پيښه شوې ده ، دا يو دردناکه واقعه ده ددې نه دې رشوت اخستونکی خلق عبرت حاصل کړی . په ۲۷ جمادی الاول ۱۴۱۱ هجری کښې دَ يو پوليس افسر جنازه دَ قبرستان په لوری اوچته کړې شوه ،کله چه هغه په قبر کښې وړکوزکړې شو نو فورًا دَ هغه قبر کيناستو ، اول اول کښې خو خلقو دا دَ قبر کښتلو والا قصور اوګڼړلو ، مګر په دويم ځائ کښې چه کله قبر تيار کړې شو نو هغه يو ځل بيا

کيناستو ، اوس په خلقو کښې خوف او هراس پيدا شو ، په دريم ځل هم قبر کيناستو ، او دومره حيرت انګيز حده پورې به کيناستو چه دفن کول به په کښې ممکن نهٔ وو .

آخر په جنازه کښې چه څومره خلق شريك وو نو هغوی په جمع باندې دَ مړی دَ پاره دَ مغفرت دُعاګانې اوکړې او په پنځم قبر کښې په هر حال کښې دَ هغه دَ تدفين فيصله ئې اوکړه . چنانچه پنځم قبر هم کيناستو نو خلقو په دې ځل په سختئ سره مړې په هم دې حال کښې قبر ته اوسپارلو .

﴿ څوك چه حرام خوی په هغوی دَ فرشتو لعنت ﴾

دَ حضور نبی کريم ﷺ ارشاد دې :

" اذا وقعت لقمة من الحرام فی بطن ابن آدم لعنه كل ملك فی الارض والسمآء ما دامت تلك اللقمة فی بطنه وان مات علیٰ تلك الحالة فمأواه جهنم "

کله چه دَ بنی آدم په خيټه کښې دَ حرامو يوه نمرئ پريوځی ، نو دَ زمکې او آسمان هره فرشته په هغه لعنت وائی ترڅو چه دا نمرئ دَ هغه په خيټه کښې وی او کهٔ چرې په دې حالت کښې مړ شو نو دَ هغه ځائ جهنم دې . "

﴿ دَ حرامو نه ځان بچ کول فرض دی ﴾

لکه څنګه چه مونځ فرض دې ،روژه نيول فرض دی ، زکوة

ورکول فرض دي ، بالکل هم دغه شان دَ حرامو نه ځان بچ کول فرض دي . نن صبا په مونږ کښې دا کوتاهي ډيره زياته موندلې شي ، چه په مونږ کښې بعضِ خلق سرکاري ملازمين دي ، ليکن هغوی په مختلف بهانو او مختلف طريقو سره رشوت اخلي ، يا په خپله ډيوټئ کښې کوتاهي کوي ، اوور ټائم نهٔ کوي او معاوضه ئې اخلي .

دا خرابي هم ډيره عامه شوې ده چه څومره مسلمانان داسې دي چه هغوی حاجيان هم دي ، مونځ کوونکي هم دي ، ګيرې ئې هم پريخودې وي ، مګر په بينکونو کښې ملازم دي او دَ انشورنس په کپنو کښې ملازمين دي ، ددې نه علاوه دَ بجلئ غلا هم کوي ، په ريل ګاډي کښې بغير دَ ټکټ نه سفر هم کوي او ددې سره سره مونځونه هم کوي او دَ رمضان المبارك روژې هم نيسي . "

﴿ دَ حرام مال دَ نحوست په وجه سره اعمال ضائع کيدل ﴾

مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : چه دَ قيامت په ورځ به څهٔ خلق راوستلې شي ، دَ هغوی سره به دَ تهامه علاقې دَ غرونو برابر نيکئ وي ، کله چه هغوی حاضر کړې شي نو دَ هغوی دا نيکئ به دَ ګرد وغبار په شان والوزي ، او بيا به دوی لره اورته اوغورځولې شي . خلقو دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه اې دَ الله رسوله ! دا به څنګه وي ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دوی به مونځونه هم کول ، روژې به ئې هم نيولې ، زکوة به ئې هم ادا کولو ،

حج به ئې هم کولو وغيره وغيره ليکن کله چه به په دوی باندې حرام څيز پيش کړې شو نو هغه به ئې اخستو . اوس الله تعالیٰ دَ هغوی تمام اعمال ضائع کړل . " (کبائر او طبراني)

﴿ بد نصيب انسان ﴾

حرام خوړلو والا داسې بدبخت او بد نصيب دې چه دَ هغه مونځ قبول دې او نهٔ اعمال او صدقه او خيرات ، او نهٔ دَ هغه دُعاګانې قبولې دي ، چرته کښې دا اونهٔ ګڼړئ چه مولوي صاحب خو دَ ځانه فتویٰ ورکوي او مبالغه کوي او خامخا مونږ يروي ، دا ټول هر څهٔ دَ ځانه نهٔ وائي بلکې دا ټول وعيدونه جناب روسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي :

" چا چه يوه نمرئ دَ حرامو اوخوړه نو دَ هغه به تر څلويښتو شپو پورې مونځ نه قبليږي . (مسند الفردوس)

په مسلم شريف کښې دي چه رسول الله ﷺ دَ حرام مال بې برکتي او نحوست بيان فرمائيلو نو وې فرمائيل : يو کس اوږد سفر اوکړي او دَ حج او عمرې دپاسره راځي ، بيروبښتو والا او غبار آلود حالت کښې ئې لاسونه آسمان طرف ته اوچت کړې وي او دُعاګانې غواړي او وائي " يا رب ، يا رب "

اې زما ربه ، اې زما ربه مګر دَ هغه خوراك حرام ، لباس حرام او دَ هغه ګټه حرامه ده او دَ هغه جسم په حرامو سره پرورش موندلې دې نو دَ هغه دُعا څنګه قبليدې شي ؟ (مسلم وترمذی)

او په یو حدیث کښې دی چه داسې کس کله "لبیك لبیك اللهم لبیك" وائی نو الله تعالیٰ فرمائی ما ته ستا دا آواز خوښ نهٔ دې او نهٔ ستا حج قبول دې "

﴿ دَ حرام خور دُعا نهٔ قبلیږی ﴾

ګویا چه رسول الله ﷺ فرمائی ډیر خلق ځغې اغوندی، عجیبه عجیبه کپړې اغوندی، او ډیر خلق دی چه دَ هغوی خوراك به دَ حرام مال وی.

رشوت حرام، سود حرام، جواری حرامه، کم ناپ تول حرام، دَ یتیم مال خوړل حرام، ډاکه حرام، دهوکه حرام، په دروغو نفع کول حرام، دداسې خور دُعا هغه ته په مخ ورغورځولې شی. دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دې:

" فان الرجل لیرفع اللقمة من الحرام الیٰ فیه فلا یستجاب له دعوة اربعین یومًا " (ترمذی عن انس رضی الله عنه)

" کوم کس چه دَ حرامو لقمه خپله خُلهٔ کښې اچوی نو دَ هغه به تر څلویښت ورځو پورې دُعا نهٔ قبلیږی. "

﴿ دَ فرشتې اعلان ﴾

په یو حدیث کښې راغلې دی چه الله تعالیٰ یوه فرشته په بیت المقدس باندې مقرر کړې ده، او هغه فرشته هره ورځ او شپه دا آواز کوی چه کوم یو کس حرام خوری، الله تعالیٰ به دَ هغه نهٔ فرض

قبلوی او نهٔ نفل. " (کتاب الکبائر)

ددې دواړو احادیثو نه معلومه شوه چه دَ حرام خور نهٔ دُعاقبلیږی او نهٔ عبادت. "

﴿ حرام خور کهٔ دَ وینو په اوښکو سره اوژاړی نو هم ئې دُعا نهٔ قبلیږی ﴾

طهارت القلوب سید عبد العزیز دهلوی رحمه الله:

" قال وهب منبه رحمه الله بلغنی ان موسیٰ علیه السلام مر برجل قائم یدعو ویتضرع طویلًا وهو ینتظر الیه قال موسیٰ یا رب اما تستجیب بعبدك فاوحی الله تعالیٰ الیه یا موسیٰ لو انه بکیٰ حتی الف نفسه ورفع یده حتیٰ تبلغ عنان السمآء ما استجیب له فقال یا رب فقال یا رب لما ذالك قال لان فی بطنه الحرام وعلیٰ جسده الحرام وفی بیته الحرام "

" حضرت وهب بن منبه رحمه الله روایت کوی چه جناب حضرت موسیٰ علیه السلام په یو ځائ تیریدلو، هلته ئې اولیدل چه یو کس ولاړ دې او دُعا غواړی، او ډیر زیات آه وزاری او عاجزی او انکساری کوی، مګر دَ هغه دُعا نهٔ قبلیدهٔ. دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په هغه باندې ترس راغې او دَ الله تعالیٰ په دربارِ عالیه کښې ئې عرض اوکړو: یا الله! تهٔ ددهٔ دُعا ولې نهٔ قبلوې؟ ارشاد اوشو اې موسیٰ! کهٔ چرې دې په ژړا ژړا مړ شی او آسمان طرف ته ئې لاسونه

پورته کړې وی نو بیا هم به ددهٔ دُعا قابلِ قبول نهٔ وی . حضرت موسیٰ علیه السلام عرض اوکړو یا الله ! ددهٔ څهٔ قصور دې ؟ ارشاد اوشو چه ددهٔ په خیټه کښې حرامه لقمه ده ، دَ حرامو لباس ددهٔ په غاړه دې او دَ حرامو په کور کښې موجود دې . پس ترڅو پورې چه دا بنده دَ دې محرماتو څیزونو نه پرهیز نهٔ کوی نو کله به هم ددهٔ دُعا قبوله نهٔ وی .

﴿ په حرام مال سره حج نهٔ کیږی ﴾

ترهیب للترمذی والطبرانی فی الاوسط :

" عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا اخرج الحاج بالنفقة الخبیثة وضع رجله فی الغز فنادی لبیك نادی مناد من السمآء لا لبیك ولا سعدیك زادك حرام ونفقتك حرام حجك مازر وغیر مبرور " .

حضرت ابو هریره رضی الله عنه دَ سید المرسلین ﷺ نه روایت نقل کوی چه کله حاجی په حرام مال سره حج له ځی او دَ لبیك آواز کوی نو یو ندا کوونکی دَ آسمان نه آواز کوی چه ستا لبیك قبول نهٔ دې ، او نهٔ به تاته څهٔ اجر ملاویږی . ځکه چه دَ لارې دَ سفر خرچ ستا حرام دې ، ستا دا حج په عبادت کښې داخل نهٔ دې ، بلکې په ګناه کښې شامل دې .

﴿ په حرام لباس سره مونځ نهٔ کیږی ﴾

په مسند احمد کښې دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه

روایت دې فرمائی : چه یو کس دَ لسو درهمو کپړا واخلی او په هغې کښې یو درهم دَ حرامو وی ، الله تعالیٰ دَ هغه مونځ نهٔ قبلوی ، په داسې حال کښې چه دا کپړا دَ هغه په بدن وی . بیا ئې په خپلو غوږونو کښې ګوتې داخلې کړې اووې فرمائیل کهٔ چرې ما دَ نبی کریم ﷺ نه نهٔ وو اوریدلې نو دا دې کاڼهٔ شی .

﴿ دَ غلام مال چه څوك اخلی هغه هم غل دې ﴾

په بیهقی کښې دی ، چه څوك دَ غلا مال واخلی او هغه ته پته وی چه دا دَ غلا مال دې ، هغه هم ددې په عار او ګناه کښې شریك شو . حافظ منذری رحمه الله فرمائی چه ددې په اسناد کښې احتمال دې چه دا دې حسن وی . او مشابه هم وی .

﴿ دَ حرام مال صدقه قبول نهٔ ده ﴾

په ابن خزیمه ، صحیح ابن حبان او په حاکم کښې دی . چاچه حرام مال جمع کړو ، بیا ئې دَ هغې نه صدقه اوکړه ، نو په هغې کښې څهٔ ثواب نشته دې او دَ هغې بوجه ، یعنی ګناه په دهٔ باندې ده . په طبرانی کښې دی چه چا حرام مال اوګټلو او بیا ئې په هغې باندې یو مسلمان قیدی (یا غلام) آزاد کړو او په دې سره ئې صلهٔ رحمی اوکړه ، نو ټول په دهٔ باندې بوجه یعنی ګناه ده .

﴿ ناپاکې کپړې په مِتیازو مهٔ وینځئ ﴾

په مالِ حرام سره دَ صدقه کولو مثال حضرت سفیان ثوری

رحمه الله په يو حديث کښې داسې ښودلې دي :

" من انفق من الحرام فى طاعة الله كان كمن طهر النجس بالبول "

" يعنې دَ الله تعالىٰ په اطاعت کښې دَ مالِ حرام خرچ کولو مثال داسې دې لکه چه يو کس ناپاکه کپړا په بولو وينځي . "

په قرآن مجيد کښې زورنه وارد شوې ده چه دَ الله تعالىٰ په لاره دَ حرام مال خرچ کول خو لرې خبره ده ، بلکې ددې اراده هم مهٔ کوئ چناچه دَ الله تعالىٰ ارشاد دې :

' ولا تيمموا الخبيث منه تنفقون ولستم باٰخذيه ان لا تغمضوا فيه "

يعنې دَ مالِ حرام دَ خرچ اراده دَ الله تعالىٰ په لاره کښې مهٔ کوئ ځکه چه تاسو خپله دا حرام مال نهٔ اخلئ مګر کهٔ تاس چشم پوشي اوکړئ نو دا بيله خبره ده .

﴿ ژبه په قينچو سره کټ شوه ولې ؟﴾

خطيب او ابن عساکر دَ حضرت ابوموسىٰ اشعرى رضى الله عنه نه روايت کړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه ما خو داسې افراد اوليدل چه دَ هغوى ژبې دَ اور په قينچو سره کټ کولې شوې . کله چه ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دى نو ماته اوويئيلې شو چه دا هغه خلق دى چه دوى به په داسې څيزونو سره زينت حاصلولو کوم چه له دوى دپاره ناجائز او حرام وو .

﴿ څوک چه حرام مال ګټي دَ هغه غوښه به کټ کولې شي ﴾

حضرت فقيه ابو الليث ثمرقندى رحمه الله يو حديث نقل کوى فرمائى چه دَ قيامت په ورځ به يو بنده دَ الله تعالى په درباره کښې حاضر کړې شي په دې کښې به ددهٔ بال بچ او اهل وعيال هم راشي . او دوى به دَ الله تعالىٰ په دربار کښې شکايت عرض کوى چه اې الله دا کس په دنيا کښې زمونږ سرپرست وو ، دهٔ مونږ ته په دنيا کښې دَ دين احکام نهٔ وو ښودلى او نهٔ ئې مونږ ته دَ حلالو روزى راوړې ده .

دا بد نصيب به ددې په سبب سره ښهٔ اووهلې شى ، تردې پورې چه ددهٔ دَ بدن غوښې به اوغورځيږى او صرف دَ هډوکو ډانچه به باقى پاتې شى . اوس به دا دَ هډوکو ډانچه اونيولې شى او ميزان ته به راوستلې شى . او فرشتې به دَ غرونو برابر ددهٔ نيکئ راوکاږى ، نو ددهٔ دَ اهل وعيال نه به يو کس ورمخکښې شى او وائى به چه زما وزن کم دې ، او هغه به ددې نيکو نه اخلى ، بيا به بل کس راشى او هغه به هم خپل وزن ددهٔ په نيکو سره پوره کړى تردې پورې چه تمام اهلِ خانه به دَ هغه نيکئ واخلى او دې به دَ نيکو نه بالکل خالى شى .

بيا به هغه خپل اولاد طرف ته مخ کړى او ورته به اووائى . آه ! اوس زما په غاړه باندې هغه ګناهونه پاتې شو کوم چه ما ستاسو دپاره کړې وو . بيا به ورته فرشتې اووائى دا هغه بد نصيب سړې دې

چه ددهٔ خاندان والو ددهٔ ټولې نیکئ یوړې او دې د هغوی په وجه سره جهنم ته روان دې . (قرة العیون)

﴿ دَ حرام مال نقصانونه ﴾

حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله دَ حرام مال خوړلو لاندینی نقصانات ذکر کړې دی .

۱﴾ اولنې نقصان دادې چه دَ حرام مال په خوړلو سره دَ انسان دَ زړهٔ نه نور اوځی .

۲﴾ دویم نقصان دادې چه حرام مال خوړلو سره په طبیعت کښی سُستی پیدا کیږی .

۳﴾ دریم نقصان دادې چه دَ انسان په زړهٔ کښی بد او خراب جذبات او خیالات په کثرت سره پیدا کوی ، او هر وخت دَ انسان په زړهٔ کښی دَ خراب او بد کار جذبه راپورته کوی .

۴﴾ څلورم نقصان ئې دادې چه دَ حرام مال په خوړلو سره دَ انسان طبیعت دَ نیك كار نه اوړی .

خلاصه دا شوه چه په حرام مال سره انسان د دین نه اوړی او آخرت ئې بربادیږی .

★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★......★

★......★......★

★......☆

باب نمبر ۳٤ :

﴿ په وعده خلافئ باندې عذابِ قبر ﴾

وعده خلافی او عهد شکنی هم یو حرام کار او غټه گناه ده ځکه چه دَ خپلې وعدې او عهد پوره کول په مسلمان باندې شرعًا واجب او لازم دی الله تعالیٰ په قرآن مجید کښی فرمای :

" یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ "

" اې ایمان والو خپل عهد پوره کړئ . "

الله تعالیٰ دَ وعدې په نهٔ پوره کولو او په دروغ وئیلو باندې ترقیامته پورې دَ دوی زړونه دَ نفقا نه ډك كړې دی . په هم دې وجه سره وعده خلافی دَ منافق علامه ده لکه څنگه چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلې دی :

" آیة المنافق ثلاث اذا حدث کذب واذا وعده اخلف واذا ائتمن خان "

" دَ منافق درې نښانات دی کله چه هغه خبره کوی نو دروغ وائی او کله چه وعده کوی نو خلاف کوی او کله چه دَ هغه سره امانت کینښودلې شی نو هغه خیانت کوی . (بخاری کتاب الایمان)

﴿ وعده خلافی کولو والا بې دینه دې ﴾

او حضور ﷺ فرمائیلې شی : څوك چه وعده نهٔ پوره کوی دَ هغه هیڅ دین نشته دې . لکه څنگه چه په حدیث مبارك كښی وارد

دی : " لا ایمان لمن لا امانة له ، ولا دین لمن لا عهد له "

" دَ هغه هیڅ ایمان نشته دې څوك چه امانت دار نهٔ دې او دَ هغه چا هیڅ دین نشته دې څوك چه په وعده کښې کلك نهٔ دې . "

دَ کفن چور وعده خلافي

حافظ شرف الدین وساطي دَ ابو اسحاق ابراهیم نه روایت کړې دې چه هغوی اووئیل چه زمونږ سره یو ړوند کفن چور وو چه هغه به دَ خلقو نه سوال کوو او وئیل به ئې چه څوك ماته راکوی زهٔ به هغه ته یو عجیبه خبره کووم او څوك چه ماته زیات مال راکوی نو زهٔ به هغه ته ډیره عجیبه خبره کووم . دَ راوی بیان دې چه چا هغه ته څهٔ ورکړل ، نو زهٔ په هغه وخت کښې هغه نزدې ولاړ وُم ، هغه ړوند ورته خښلې سترګې اوښودلې ، ما اولیدل چه دَ هغه سترګې دننه ننوتې وې .

بیا هغه اووئیل چه زهٔ دَ خپلې علاقې کفن چَور وُم او خلق زما نه یریدل او ما ه دَ هیچا پرواه نهٔ کوله ، اتفاقاً دَ ښار قاضی بیمار شو ، هغه ته دَ بچ کیدو هیڅ امید باقی پاتې نهٔ شو هغه سَل دیناره ماته راولیږل چه زهٔ خپله پرده لـه تانه دَ سلو دینارو په بدله کښې اخلم . ما هغه دینارونه واخستل .

اتفاقاً هغه جوړ شو ، او بیا بیمار شو او مړ شو ، ما دَ ځان سره اووئیل چه دا عطیه خو دَ مخکښې مرض وه ، لهذا زهٔ به دَ هغه قبر کهولاووم . ما دَ هغه قبر کهولاؤ کړو نو په دَ هغه په قبر کښې دَ عذاب

آثار اولیدل ، او دَ قاضی سترګې سرې شوې وې او ویښتهٔ ئې خوارهٔ وارهٔ وو او په قبر کښې ناست وو ، اچانك ما په خپلو پښو کښې درد محسوس کړو او چا زما په سترګو کښې ګوتې اومنډلې او زهٔ ئې نابینا کړم او راته ئې اووئیل اې دَ الله دشمنه ! تهٔ دَ الله تعالیٰ دَ رازونو انکشاف ولې کوې ؟

څهٔ چه اووائی دَ هغې دَ نهٔ کولو انجام

ابن خزیمه ، ابن حبان ، طبرانی او ابن مردویه په خپل تفسیر کښې او بیهقی دَ ابو امامه نه نقل کړې دی چه رسول الله ﷺ یو ځل دَ سحر دَ مونځ نه بعد اوفرمائیل چه : ما نن یو خوب لیدلې دې او هغه په حقیقت باندې مبنی دې تاسو دې لره ښهٔ اوګنړئ . نن شپه یو یو کس ماته راغې ، هغه زما لاس اونیولو او زهٔ ئې یو غر ته راوستم ، او ماته ئې اووئیل چه دې غر ته اوخیژه . ما ورته اووئیل چه دا خو زما دَ طاقت نه بهر دی بیا هغه هم داسې اووئیل چه زهٔ به ئې درته آسان کړم . بیا زهٔ په هغهٔ غر اوختلم . تردے پورې چه مونږ دَ هغه غر درمیانی حصې ته اورسیدو نو ما څو داسې ښځې او سړی اولیدل چه دَ هغوی مخونه څیرې کړې شوې وو . ما تپوس اوکړو نو راته معلومه شوه چه دا هغه خلق دی چه دوی به وئیل او کول به ئې نهٔ .

دَ شپږو څیزونو په ضمانت سره دَ جنت ضمانت

رسول الله ﷺ فرمائی کهٔ چرې په تاسو کښې څوك ماته دَ شپږو څیزونو ضمانت راکوی نو زهٔ هغه ته دَ جنت ضمانت ورکوم ،

په دې شپږو څيزونو کښې يو څيز دَ وعده پوره کولو ضمانت دې او ددې په باره کښې احاديث لاندې مذکور دی :

" دَ حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه نه روات دې چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل ؛ ما ته دَ خپل نفس نه دَ شپږو څيزونو ضمانت راکړئ زهٔ تاسو ته دَ جنت ضمانت درکوم ، کله چه خبرې کوئ نو رښتيا وايئ ، کله چه وعده کوئ نو پوره کوئ يئ ، کله چه تاسو سره امانت کيخودلې شی نو هغه ادا کوئ ، دَ خپلو شرمګاهونو حفاظت کوئ ، خپل نظرونه خکته ساتئ . خپل لاس بلند ساتئ .

﴿ پنځه عادتونه او پنځهٔ مصيبتونه ﴾

مفسرينو ليکلې دی چه دَ الله رسول ﷺ فرمائيلې دی : چه پنځهٔ عادتونه دومره بد او خراب دی چه پنځهٔ مصيبتونه هم له دې سره دی . کومه ډله او جماعت چه وعده خلافی کوی نو الله تعالیٰ دشمن په هغوی باندې غالب کوی ، او کومه ډله چه دَ الله تعالیٰ دَ حکم نه بغير حکم کوی نو په هغوی کښی مفلسی او غربتی داخليږی ، او په کومو خلقو کښی چه بدبخت فاحشه پيدا شی نو په هغوی کښی مرګ پيدا کيږی او کومه فرقه او ډله چه کم ناپ او کم تول خپله پيشه ګرځوی نو هغوی دَ اجناس او خوراك نه محروميږی او هغوی ته دَ ګرانئ او دَ قحط سزا رسيږی ، او کومه فرقه چه حقدارو ته زکوة نهٔ رسوی نو هغوی دَ بارانِ رحمت نه محروم کولې شی .

باب نمبر ۳۵ :

﴿ دَ مونځ په نهٔ کولو باندې عذابِ قبر ﴾

زما رونړو ! په ورځ کښی پنځهٔ ځله دَ مالك په رابللو سره هم دَ هغه دربار ته نهٔ راتلل څومره غټه بد نصيبی ده . آه ! آخر دداسې بد نصيب انسان په دين کښی څهٔ حصه باقی ده ؟

چه دَ ورځې او دَ شپې دَ نعمتونو خوړلو باوجود دَ هغه په رابللو سره نهٔ راځی . ستا دَ څلورو زرو روپو نوکر چه هغه شپه ورځ ستا په ټکړو باندې ځان پالی تهٔ چه هغه يو ځل راوبلې او هغه تاته حاضر نهٔ شی تا ته څومره غصه درځی ؟ چه تهٔ ئې صرف يو ځل راوغواړې او هغه هلته کښی ناست وی ...... تهٔ ورته دوباره آواز اوکړې ...... هغه بيا رانهٔ شی ...... بيا ورته آواز اوکړې ...... يا رانهٔ شی ...... بيا ورته آواز اوکړې ...... بيا رانهٔ شی ...... خاندی او تاته رانهٔ شی ......

هغه ذات کوم چه زمونږ پالنا کوی مونږ ته رزق راکوی هغه مونږ لره رابلی او مونږ دَ ځائ نه خوزو قدرې هم نه ...... بلکې اُولټه په هغه وخت کښی حرام کار کوو نو الله تعالیٰ ته به څومره غصه ورځی ؟ مګر قربان شم دداسې ذاتِ مهربان نه چه هغه معافی کوی ، او دَ خپلو بندګانو دَ توبې منتظر وی ، او کهٔ داسې نهٔ وه نو شايد چه مونږ به اوس دَ زمکې لاندې وو .

په دهٔ کښی او په يو بې دين ، مشرك ، هندو ، عيسائی او يهودی کښی عملًا څهٔ فرق دې ؟ يقنًا کافر سړې دَ اسلام نه خارج دې .

رسول الله ﷺ په ګنړ شمیر ځایونو کښې په واضح الفاظو سره فرمائیلي دی ، حضور ﷺ فرمائی :

" بینَ الرجل وبینَ الشرك ترك الصلوة " (مسلم کتاب الصلوة)

" دَ بنده او دَ شرك په درمیان کښې دَ مونځ پریښودل حائل دی .

" بین الکفر والایمان ترك الصلوة " (سنن ترمذی کتاب الایمان)

" دَ کفر او دَ ایمان په درمیان کښې حدِ فاصل مونځ پریښودل دی . " العهد الذی بیننا وبینهم الصلاة فمن ترکها فقد کفر " مسند احمد " زمونږ او دَ کفارو په درمیان کښې اصل فرق دَ مونځ دې ، پس چا چه مونځ پریښودو هغه کفر اوکړو . "

ددې واضح او غیر مبهم احادیثو په وجه سره دَ صحابهٔ کرامو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین اجرماعی فتویٰ ده چه دَ مونځ قصدًا تارك (پریښودونکې) کافر دې او دَ ملتِ اسلامیه نه خارج دې .

﴿ صحابهٔ کرامو به دَ مونځ پریښودو والا کافر ګنړلو ﴾

چنانچه حضرت عبد الله بن شقیق رحمه الله بیان کوی :

" کان اصحاب رسول الله ﷺ لا یرون شیئًا من الاعمال ترکه کفرًا غیر الصلاة "

" دَ رسول الله ﷺ اصحابو کرامو به دَ یو نیك کار پریښودل کفر نهٔ ګنړلو سوا دَمونځ نه . "

دا فتویٰ صرف دَ صحابهٔ کرامو نهٔ وه بلکې په دور دَ تابعینو

او تبع تابعینو کښې هم متعدد امامان او اهلِ علم ددې فتوې قائل پاتې شوې دی .

﴿ دَ مونځ کوونکی په تندی باندې درې کرخې ﴾

په یو روایت کښې دی چه دَ مونځ نهٔ کوونکی په تندی باندې به درې کرخې دَ قیامت په ورځ لیکلې شوې وی :

اولنۍ کرخه : اې دَ الله تعالیٰ حق ضائع کوونکیه !

دویمه کرخه : اې دَ الله تعالیٰ دَ غصې مستحقه !

دریمه کرخه : څنګه چه تا په دنیا کښې دَ الله تعالیٰ حق ضائع کړې وو ، نو نن دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه مایوس شه . (کتاب الکبائر)

﴿ دَ مونځ نهٔ کولو په وجه سره دَ دوزخ فیصله ﴾

دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه یو کس به دَ قیامت په ورځ باندې حاضر کړې شی ، الله تعالیٰ به اوفرمائی چه دهٔ لره په دوزخ کښې واچوئ ، هغه به تپوس اوکړی چه اې الله ! داسې ولې ؟ ارشاد به اوشی چه دَ مونځ دَ قضا کولو په وجه سره .

﴿ دَ سر درنیدو انجام ﴾

ابن عدی او بیهقی دَ حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه حضور نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په معراج

کښې ما څۀ خلق اولیدل چه دَ هغوی سرونه په کانړو سره چخړې کولې شو . ما تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟ نو ماته معلومه شوه چه دا هغه خلق دی چه دَ مونځ په کولو سره به دَ دوی په سرونو بوجھ راتلو ."

﴿ دَ مونځ نۀ کولو په وجه سره په قبر کښې عذاب ﴾

ابن جوزی رحمه الله دَ عبد الله بن محمد مدینی نه روایت کړې دې او هغوی دَ خپل یو دوست نه روایت کړې دې چه یو ځل زۀ خپلې زمکې ته اووتلم نو یو قبرستان ته اورسیدم دَ ماښام وخت وو . ما هلته کښې دَ ماښام مونځ ادا کړو . څۀ وخت بعد ما دَ یو قبر نه دَ ژړا آواز واوریدو ، نو زۀ دَ هغه قبر خوا ته ورغلم ، دَ هغه قبر نه آواز راتلو وائی چه افسوس ! کاش چه ما مونځ کولې او روژه مې نیولې ، زۀ خپل یو رفیق ته ورنزدې شوم نو هغه هم هغه شان آواز اوریدو ، بیا زۀ خپلې زمکې ته واپس راغلم او په بله ورځ بیا لاړم او هم په هغه ځائ مې مونځ اوکړو په کوم ځائ چه مې په اوله ورځ کړې وو ، دَ مونځ دَ ادا کولو نه بعد مې دَ ماسخوتن انتظارکولو بیا په هغه مقرره وخت آواز راغې چه هائے افسوس ! کاش چه ما مونځ کولې او روژه مې نیولې ، اوس په دې آواز کښې داسې درد وو دَ عذاب په وجه سره چه کله زۀ بیا کور ته راغلم نو زۀ دوو میاشتو پورې بیمار پروت وُم

﴿ دَ مونځ په پریښودلو باندے قبر دَ اور نه ډَک شو ﴾

عمرو بن دینار وائی چه په مدینه کښې دَ یو کس خور مړه

شوه ، رور ورله دَ کفن دفن انتظام اوکړو ، بیا هغه ته رایاد شو چه دَ دفن کولو په وخت کښې یوه تیلۍ په قبر کښې پاتې شوې ده . چنانچه هغه یو ملګرې ځان سره کړو او قبرستان ته لاړو او قبر ئې کھولاؤ کړو او خپله تیلۍ ئې ترینه راوښکله . بیا ئې خپل ملګری ته اووئیل چه ئۀ لږ شان اخوا شه زۀ دَ لحد نه تختې لرې کوم چه لږه خپله خور اووینم .

هغه چه څنګه تختې لرې کړې نو هغه اولیدل چه ټول قبر دَ اور نه ډَک دې ، هغه په تیزۍ سره په قبر خاورې واوړولې او خپلې مور ته راغې او دَ هغې نه ئې دَ خپلې خور حال معلوم کړو ، نو مور ورته اووئیل چه هغې به په وخت نۀ کولو بلکې بې وخته به ئې کولو ، او کله چه به ګیر چاپیره ګاونډیان اوده شول نو دې به دَ کمرو په دروازه باندې غوږ کیخودلو او دَ هغوی پټ رازونه به ئې حاصلول ."

(شرح الصدور ۲۴۴ ، والزواجر)

﴿ دَ مونځ په پریښودونکی باندې ګنجې مار مسلط ﴾

دا حدیث ډیر زیات مشهور دې : څوک چه په مونځ کښې سُستی کوی هغه ته به قبر داسې زور ورکوی چه دَ هغه پُخښتۍ به یو بل کښې ننوځی ، او ددې نه علاوه به دَ هغه په قبر کښې اور بل کړې شی او شپه ورځ به دې په هغې کښې اوړی راوړی . الله تعالیٰ به په هغه باندې په قبر کښې یوه اژدها مسلط کړې چه دَ هغه مار نوم به الشجاع الاقرع وی یعنی ګنجې مار ، دَ هغه سترګې به دَ اور وی او

نوکان به ئې دَ اوسپنې وی ، دَ هر نوك اوږدوالې به ئې دَ يوې ورځې په مسافت باندې وی او دَ هغه آواز به دَ بجلئ دَ ګرز په شان وی .

هغه به دهٔ ته وائی چه ماته زما رب حکم کړې دې چه زهٔ به تا دَ سحر دَ مونځ په پرېښودو باندې تر ماسپخينه پورې چيچم او دَ ماسپخين دَ مونځ په پرېښودو باندې به دې تر مازيګره پورې چيچم، او دَ مازيګر دَ مونځ په پرېښودو به دې تر ماښامه پورې چيچم او دَ ماښام دَ مونځ په ترك کولو باندې به دې تر ماسخوتنه پورې چيچم او د ماسخوتن دَ مونځ په پرېښودو به دې تر سحره پورې چيچم . او کله چه هم مرسه يو ځل اوچيچی نو اويا ګزه به په زمکه کښې ننوځی . بيا به هغه اژدها خپلې نوکې په زمکه کښې وردننه کړی او دا مړده به راوباسی او دَ مونځ نهٔ کولو دا سزا به تر قيامته پورې جاری وی .

﴿ مونځ پرېښودو والا به داسې مار چيچی چه هغه به دَ اوښ دَ ګردن برابر وی ﴾

په يو حديث پاك کښې راغلې دی چه په جهنم کښې يوه وادی چه دَ هغې نوم دې "لم لم" چه په هغې کښې به ماران وی ، هغه به دَ اوښ دَ ګردن هومره پيړ وی ، دَ هغې اوږد والې به دَ يو مياشت دَ مسافت برابر وی . په دغه وادئ کښې به مونځ پرېښودونکی ته عذاب ورکولې شی .

﴿ مونځ پرېښودونکی دَ لړمانانو نه په ډکه وادئ

کښې ﴾

په يو حديث کښې دی چه په جهنم کښې يوه وادی ده چه دَ هغې نوم دې "جب الحزن" چه هغې ته دَ لړمانانو کور وئيلې شی ، په هغې کښې به هر يو لړم دَ قچر برابر وی . په دې وادئ کښې به مونځ ترك کوونکی ته عذاب ورکولې شی ."

﴿ خبرو کولو والا مار ﴾

يو کس مړ شو او کله چه خلق دَ هغې دَ جنازې دپاره اودريدل نو خلقو اوليدل چه دَ هغه مرده دَ کفن لاندې څهٔ څيز حرکت کوی ، کله چه کفن کهولاؤ کړو او وې کتل نو هغه يو زهريلا مار وو چه هغه مړی ته ئې ټکونه ورکول ، خلق دَ مار دَ وژلو دپاره رامنډې کړې نو هغه مار کلمه اووئيله او اوې وئيل ما ولې وهئ ، زهٔ خو په خپله نهٔ يم راغلې ، بلکې زهٔ خو الله تعالىٰ په دهٔ باندې مسلط کړې يم او دهٔ ته به ترقيامته پورې عذاب ورکوم . خلقو دَ مار نه تپوس اوکړو چه مونږ ته اووايه چه ددهٔ جرم څهٔ دې ؟ مار اووئيل ددهٔ درې جرمونه دی .

۱﴿...... دهٔ به آذان اوريدو او جمات نه به نهٔ راتلو .

۲﴿...... دهٔ به دَ خپل مال زکوة نهٔ ورکولو .

۳﴿...... دهٔ به دَ علماؤ خبره نهٔ اوريدله .

﴿ دَ مونځ پرېښودونکی په غاړه کښې دَ اور زنځير ﴾

دَ حضرت سيدنا حسنِ بصری رحمه الله په لاس باندې يو

داسې کفن چور توبه اوويسته چه هغه تقريباً دويشت سوه (۲۲۰۰) کفنونه غلا کړې وو ، دَ حضرت حسن بصری رحمه الله په تپوس باندې هغه صرف دَ دريو قبرونو حال بيان کړې وو په هغې کښې يوه واقعه داده چه يو ځل کله ما دَ کفن غلام کولو په غرض سره قبر کهولاؤ کړو نو يو تك تور مړې بربنډ اودريدو ، دَ هغه نه ګير چاپيره اور وو فرشتو دَ هغه په غاړه کښې دَ اور زنځيرونه اچولې وو . هغه مړی چه ماته ځنګه اوکتل نو آواز ئې راکړو چه اې دَ الله بنده زۀ ډير زيات تږې يم په ما باندې اوبۀ اوڅکه . فرشتو ماته اووئيل خبردار ! دې بې نمازه ته اوبۀ مۀ ورکوه بيا ما همت اوکړو او دَ هغه مُرده نه مې تپوس اوکړو تۀ څوك ئې او ستا جرم څۀ دې ؟ هغه جواب راکړو چه زۀ مسلمان وُم مګر افسوس ما دَ الله تعالیٰ ډيرې زياتې نافرمانۍ کړې دی او زما په شان ډير خلق په عذاب کښې مبتلا دی .

﴿ مونځ لره دَ سپك ګڼړلو سزا ﴾

عبد الملك بن مروان چه دا دَ خلفاءِ بنو اميه نه دې ، بيان کوی ، چه ماته يو کس پريشان حاله او په ژړا راغې او وې وئيل اې امير المؤمنين ! ما دَ ډيرې غټې ګناه ارتکاب کړې دې آيا زما توبه قبلدې شی ؟

امير المؤمنين ترينه تپوس اوکړو چه ستا څۀ ګناه ده ؟ نو هغه ورته اووئيل چه زما ګناه ډيره غټه ده . نو هغوی ورته اووئيل الله تعالیٰ ته توبه اوباسه ، الله تعالیٰ دَ هر چا توبه قبلوی او ګناهونه

معاف کوی . نو هغه اووئيل : اې امير المؤمنين ما به دَ قبرونو نه کفنونه غلا کول ، نو ما به په قبرونو کښې عجيب عجيب حالات ليدل . عبد الملك ترينه تپوس اوکړو چه تا څۀ حالات ليدلې دی ؟

نو هغه کس ورته اووئيل : اې امير امؤمنين ! ما يوه شپه يو قبر اوکِنستلو ما اوليدل چه دَ هغه مړی مخ دَ قبلې نه اوړيدلې دې ، ما چه دَ هغه دا کيفيت اوليدو نو زۀ اوويريدم او په تيزئ سره دَ قبر نه راووتلم نو يو غيبی آواز راغې چه تۀ دَ مړی دَ حال تپوس نۀ کوې چه دَ کومې ګناه په سبب سره دَ هغه مخ دَ قبلې نه اوړيدلې دې ؟ نو ما تپوس اوکړو نو راته ئې اووئيل چه دۀ به دَ مونځ حکم سپك ګڼړلو ، دا دَ هغې بدله ده .

﴿ دَ مونځ پريښودلو سزا ﴾

بيا هغه کفن چور اووئيل : اې امير المؤمنين ! ما دريم قبر کهولاؤ کړو نو ما هغه صاحبِ قبر اوليدو چه په اور کښې پروت دې ، زۀ دَ هغه نه اوويريدم او دَ هغه ځائ نه مې دَ راوتلو اراده اوکړه چه يو آواز راغې چه تۀ ددۀ دَ حالت تپوس نۀ کوې چه په دۀ باندې دا عذاب ولې دې ؟ ما تپوس اوکړو چه ددۀ اعمال څۀ وو ؟ نو وې وئيل چه دې کس به مونځ نۀ کولو .

﴿ مونځ پريښودلو والا ښځه او عذابِ قبر ﴾

ډاکټر نور محمد صاحب ليکی : چه دَ احمد پور شرقيه يوه نيکه ښځه دَ يو دينی مدرسې مهتممه وه . هغې ته يو لاعلاج مرض

لاحق شو ، ما سره په بهاولپور کټوریه هسپتال کښې داخله شوه او هم هلته کښې وفات شوه . دَ هغې په علاج به چه څومره خرچه راتله نو هغه به دَ کراچۍ یو حاجی صاحب رالیږله . کله چه هغه حاجی صاحب ته دَ هغه ښځې دَ وفات کیدو خبر راورسیدو نو هغه راغې او ددې نیکې ښځې قبر ته لاړو . واپس چه راغې نو ماته ئې خوشخبری راکړه چه الله تعالیٰ ددې بی بی په قبر باندې خاص رحمتونه نازل فرمائیلې دی .

په بله ورځ بیا حاجی صاحب موصوف قبرستان ته تشریف یوړو (دوی ته کشف القبور حاصل وو) او کله چه واپس راغې نو ډیر زیات غمګین وو ، څنګه چه راغې نو ژړا ئې شروع کړه ، خوراك څښاك ئې بند کړو او لاړو . یوه ورځ دَ هغه څوم زهٔ هغوی ته بوتلم ، کله چه زهٔ هلته کښې لاړم نو ما اولیدل چه حاجی صاحب په سجده کښې پروت دې او آه وزاری او استغفار کښې مشغول وو ، کله چه ما په حاجی صاحب اسرار اوکړو او دَ ژړا سبب مې ترینه معلوم کړو نو هغوی راته اووئیل چه پرون مې دَ بی بی صاحبه مرحوم دَ قبر حال اولیدو چه هغه ډیر ښهٔ وو او نن مې دَ بل یو قبر حال اولیدو نو راته معلومه شوه چه هغه دَ اور نه ډك وو .

بلکې نور ډیر مردګان په اورکښې پراتهٔ وو ، په بعضو قبرونو کښې اور کم وو او پـه بعضو کښې ډیر ، او ما اولیدل چه په ټول قبرستان کښې صرف درې قبرونه دَ اور نه محفوظ وو . په دې وجه

سره ژړا کوم او استغفار غواړم . ډاکټر صاحب لیکلې دی چه ما دَ حاجی صاحب نه تپوس اوکړو چه په قبرونو کښې دا اور ولې وو ؟ نو حاجی صاحب راته اووئیل چه دَ مونځ دَ پریښودو په وجه سره او دَ مِتیازو نه دَ نهٔ بچ کیدو په وجه سره قبر دَ اور نه ډکیږی .

﴿ اې زما امته ! دَ مونځ دَ پریښودو نه ځان اوساتئ ﴾

زما رونړو ! حضرت محمد ﷺ چه په دې امت باندې کوم احسانات کړې دی ، هغه شان بل نبی نهٔ شی کولې . دَ مرګ په وخت کښې هر څوك خپل اولاد رابلی ، رسول الله ﷺ دَ مرګ په وخت کښې هم امت ته اوکتل او په آخری وخت کښې ئې هم امت ته آواز اوکړو :

" الصلوة وما منك ايمانكم " اې زما امته ! مونځ مهٔ پریږدئ ، مونځ کوئ ، دَ غلامانو سره ښهٔ سلوك کوئ ، په آخری وخت کښې ئې څهٔ خپلو بیبیانو ته وئیل او حسن او حسین رضی الله عنهما ته وئیل لیکن هغوی سره دَ ټول امت فکر وو . بیا ئې آواز نور هم کمزورې شو . " الصلوة ...... الصلوة ...... الصلوة ......

هم دا به ئې بار بار فرمائیل او دَ دنیا نه رخصت شو .

﴿ مونځ کول او دَ الله تعالیٰ خبرې کول ﴾

مونځ دَ الله تعالیٰ سره دَ خبرو اترو ذریعه ده . الله تعالیٰ په حدیثِ قدسی کښې فرمائی ، الله تعالیٰ فرمائی چه : مونځ زما او زما دَ بنده ترمنځه خبرې اترې دی :

زما بنده وائی .... الحمد لله رب العٰلمین ......

زهٔ جواب ورکوم ...... حمدنی عبدی ...... زما بنده زما حمد بیان کړو .

زما بنده وائی .... الرحمٰن الرحیم ....

زهٔ په جواب کښی وایم ...... اثنی عبدی ...... زما بنده زما ثنا بیان کړه .

زما بنده وائی .... مٰلك یوم الدین ....

زهٔ ورته په جواب کښی وایم ...... مجدنی عبدی ...... زما بنده زما لوئی بیانوی ......

بنده وائی .... ایاك نعبد وایاك نستعین ....

زهٔ وایم ...... هذا بینی وبین عبادی ...... دا زما او زما بنده په درمیان کښی دی .

عبادت زما دپاره دې او غوښتل دَ بنده دپاره دی . اې بنده ! غواړه زهٔ اوس ستا طرف ته متوجه یم ، اوس چه تهٔ څهٔ هم غواړې زهٔ به ئې درکوم .



باب نمبر ۳۶ :

﴿ دَ روژو په نهٔ نیولو باندې عذابِ قبر ﴾

په فرض روژه کښی په کوتاهئ باندې دَ جهنم وعید:

روژه چه لکه څنګه په نورو امتونو باندې فرض وه نو دغه شان دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په امت باندې هم فرض ده . دَ روژې په ذریعې سره دَ خوراك څښاك او دَ جنسی خواهشاتو نه دَ منع کیدو مقصد دادې چه په انسان کښې تقویٰ او خوف الٰهی پیدا شی او دهٔ ته دَ نورو خلقو دَ مشکلاتو او دَ پریشانو احساس اوشی . په دې وجه سره نهٔ دا چه صرف دَ رمضان المبارك روژه فرض ده بلکې په ګنړ شمیر مقاماتو کښی په طور دَ نفل روژو نیولو ترغیب ورکړې شوې دې .

دَ حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې چه :

" ان النبی ﷺ صعد المنبر فقال امین ، امین ، امین . قیل یا رسول الله انك صعدت المنبر فقلت امین ، امین ، امین . فقال ان جبرئیل اتانی فقال من ادرك شهر رمضان فلم یغفرله ، فدخل النار فابعده الله قل امین فقلت امین . "

نبی کریم ﷺ منبر ته تشریف راړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل :
آمین ، آمین ، آمین . چا عرض اوکړو چه اې دَ الله رسوله ! تاسو چه
کله منبر ته تشریف راوړو نو تاسو اوفرمائیل : آمین ، آمین ، آمین ؟
حضور ﷺ ورته جواب ورکړو چه حضرت جبرئیل ؑ ماته راغې او وې
وئیل چه چا دَ رمضان میاشت بیا مونده او هغه دَ خپل مغفرت سامان
اونهٔ کړی نو هغه سړې دې جهنم ته لاړ شی او الله تعالیٰ دې هغه لره
لرې کړی (دَ خپل رحمت نه) اووایه آمین . نو ما اووئیل آمین .

دا روایت ابن خزیمه او ابن حبان ه خپل صحیح کښې نقل
کړې دې . دا الفاظ دَ ابن حبان دی . ددې روایت نه به لوستونکو ښهٔ
اندازه لګولې وی چه دَ شرعی عذر نه بغیر دَ رمضان روژه ترک کول
څومره کبیره ګناه ده .

﴿ دَ قبر خوفناك منظر ﴾

یو ځل حضرت علی کرم الله وجهه دَ زیارتِ قبور دپاره
قبرستان ته تشریف یوړو . هلته کښې ئې په یو تازه قبر باندې نظر
اولیګیدو ، هغوی ته دَ ملاقات خواهش راوچت شو . چنانچه هغوی
دَ الله تعالیٰ په دربار کښې عرض اوکړو یا الله ! ددې مړی حالت په ما
باندې ظاهر کړه ، فورًا دَ الله تعالیٰ په دربار کښې دَ هغه التجاء
مسموع شوه او دَ سترګو په رف کښې چه دَ دوی ؓ او دَ هغه مرده
ترمنځه څومره پردې حائل وې ټولې پورته کړې شوې ، اوس یو
هیبتناك منظر دَ هغوی په وړاندې وو ، ګوری چه هغه مړې دَ اور په

ګیره کښې وو او په ژړا ژړا کښې هغه فریاد کوی .
اې دَ رسول الله ﷺ څومګیه ! زهٔ په اور کښې ډوب یم ، اور ما
لره سوزوی ، زما په حال باندې رحم اوکړه او الله تعالیٰ زما بیکسه او
عاجزه سفارش اوکړه ، چه ماته ددې دردناك او هیبتناك عذاب نه
نجات راکړی .

دَ قبر ددې دهشتناك منظر او دَ مړی ددې چغو سورو حضرت
علی رضی الله عنه لره پریشانه او بې قراره کړو . او خپل دَ رحمت والا
لاسونه ئې دَ الله تعالی په دربار کښې پورته کړل ، او نهایت په عاجزئ
سره ئې ددې مړی دَ بخشش دپاره دُعاګانې اوکړې . دَ غیبو نه آواز
راغې اې علی ! ددهٔ سفارش مهٔ کوه ځکه چه دهٔ به دَ روژو نیولو
باوجود دَ رمضان المبارك بې حرمتی کوله . په رمضان المبارك کښې
به هم دَ ګناهونو نه نهٔ منع کیدو ، دَ ورځې به ئې روژې نیولې او دَ
شپې به په ګناهونو کښې کښې مبتلا کیدو .

حضرت علی کرم الله وجهه چه دا واوریدل نو نور هم ډیر
غمژن شو او په سجده کښې پریوتلو او په ژړا ژړا کښې ئې عرض
اوکړو یا الله ! زما لاج ستا په لاس کښې دې ، دې بنده په ډیر امید سره
ماته آواز کړې دې اې زما مالکه ! ما ددهٔ په وړاندې رسوا نهٔ کړې ، ددهٔ
په بې کسئ باندې رحم اوکړې او تهٔ ئې بخشش اوکړې ، آخر الله
تعالیٰ په خپل رحم کښې راغې او نِدا راغله : اې علی ! مونږ ستا دَ
شکسته دِلئ په وجه سره ددهٔ بخشش اوکړو . چنانچه دَ هغه مُرده نه

عذاب پورته شو . (انیس الواعظین)

او خوږو رونړو ! ددې واقعې نه عبرت حاصل کړئ . آه! په څو څو ځایونو کښې لیدې شی چه خلق دَ رمضان المبارک په مبارک شپو کښې هم ناجائز او حرام کارونه کوی او ښهٔ شور او غوغا کوی. په دې شان سره دا بدنصیب خلق دَ عبادت نه خو خپله محروم وی مګر دَ نورو خلقو دپاره هم دَ پریشانئ سبب جوړیږی . نهٔ خپله عبادت کوی او نهٔ نور خلق عبادت ته پریږدی .

﴿ دَ نهو لاکو کالو عذاب ﴾

څوک چه دَ رمضان المبارک یوه روژه بغیر دَ څهٔ شرعی عذر نه پریږدی نو دَ یو حدیث مطابق به هغه نهٔ لاکهه کاله دَ جهنم په اور کښې سوزی . ددې نه علاوه چه چا یوه روژه دَ رمضان المبارک ضائع کړه او هغه ټول عمر روژې اونیسی نو بیا به هم ددې یوې روژې فضیلت نهٔ شی موندلې .






باب نمبر ۳۷ :

﴿ دَ زکوة په نهٔ ورکولو باندې عذابِ قبر ﴾

زکوة نهٔ ورکول ګویا چه اور ډکول دی :

دَ الله تعالیٰ ارشاد دې :

" وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ () يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ () "

او کوم خلق چه سرهٔ او سپین زر جمع کوی او دَ هغې زکوة نهٔ ادا کوی نو هغوی ته دَ دردناک عذاب خبر ورکړه . په کومه ورځ چه به هغه دَ دوزخ په اور کښې ګرم کړې شی او دَ هغوی مخونه ، اړخونه او شاګانې داغلې شی . (او ورته به وئیلې شی) چه دا هغه څهٔ دی چه تاسو دَ خپلو ځانونو دپاره جمع کړې وو . پس اوس دَ هغه څهٔ مزه اوڅکئ کوم چه تاسو جمع کړې وو ."

﴿ دَ الله تعالیٰ لعنت او دوزخ ﴾

جناب رسولِ کریم ﷺ ارشاد فرمائی : زما دَ امت نه لس قسمه

خلق داسې دی چه په هغوی باندې الله تعالیٰ ناراض دې او لعنت پرې کوی ، دَ هغوی دپاره دردناك عذاب تیار کړې شوې دې . دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دَ هغوی په باره کښې جهنم ته دَ تللو حکم کوی . "

عرض اوکړې شو اې دَ الله رسوله ! دا کوم خلق دی ؟

ارشاد ئې اوفرمائیلو : اول دَ هغوی نه زناکار بوډا دې ، دویم ظالم حکمران دې ، دریم دَ شرابو عادی دې ، څلورم دَ زکوة نهٔ ادا کولو والا دې ، پنځم دروغژن ګواه دې ، شپږم چُغل خور دې ، اووم هغه کس دې چه مور او پلار ته دَ غصې په نظر سره ګوری ، اتم هغه کس دې چه هغه خپله ښځه طلاقه کړی او بیا ئې په حرام طور سره دَ ځان سره ساتی ، نهم کس هغه دې چه په ظلم سره فیصله کوی ، او لسم کس هغه دې چه سره دَ تندرستئ مونځ پرېږدی . "

﴿ په زکوة کښې دَ خیانت کولو عذاب ﴾

احمد ، نسائی ، ابن خزیمه او بیهقی دَ حضرت ابو رافع رضی الله عنه نه روایت کړې دې . هغوی وائی چه زهٔ دَ رسول الله ﷺ سره دَ بقیع په مقبره تیردم . حضور ﷺ اوفرمائیل : افسوس ، افسوس ! نو ما خیال اوکړو چه جوړ حضور ﷺ ماته فرمائی .

ما دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو : اې دَ الله رسوله ! آیا زما نه څهٔ غلطی اوشوه ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل : نهٔ ، بلکې ما دا صاحبِ قبر بنو فلان ته دَ زکوة وصلولو دپاره لیږلې وو نو دهٔ په کښې یوه زغره خیانت کړې وه ، اوس هغه زغره اور جوړ شوې

دې او ورتره اچولې شوې ده .



﴿ دَ زکوة په نهٔ ورکولو باندې عذابِ قبر ﴾

مسعود صاحب مونږ ته خبر راکړې دې چه زمونږ په علاقه کښې دَ یو مالدار خاندان ښځه وه او دَ هغې به دَ زیوراتو سره ډیر زیات شوق وو . په غوږونو کښې ، غاړه کښې او لاسونو او خپونو کښې به ئې هر وخت زیورات وو ، او دَ هغې زکوة به ئې نهٔ ورکولو ، څو څو ځله ورته خلقو ددې تاکید اوکړو مګر بی بی انکار اوکړو . کله چه هغه مړه کیده نو دَ مرګ په وخت خلقو اولیدل چه زیورات دَ هغې دَ بدن جزء جوړیدو ، دَ مرګ نه پس رشته دارو دَ هغې زیوراتو اوښکل اغوستل خو دَ هغوی دپاره داسې کول ناممکن وو ځکه چه زیورات به ئې کټ کول نو دَ هغې جسم به ورسره کټ کیدو ، یو عالِم دین ئې راوستو او هغوی ته ئې دا حالت اوښودلو هغوی ورته اووئیل چه دا زیورات ددې نه جُدا کیدې نهٔ شی ، بلکې بی بی به دَ هم دې زیوراتو سره دفن کولې شی .

چنانچه مجبورًا داسې اوکړې شو ، دَ بی بی یو ځوې وو هغه به روزانه دَ خپلې مور قبر ته تللو او دَ ایصالِ ثواب دپاره به ئې څهٔ لوستل او بیا به واپس راتلو . یوه ورځ هغه دَ دننه نه دَ چغو آواز واوریدو او دا آواز ددهٔ دَ مور وو . هغه ته پته اولګیده چه مور ئې په تکلیف کښې ده . قبر ئې کهولاؤ کړو نو یو هېتناك منظر ئې اولیدو

چه هغه زیورات (سپین زر ، سرۂ زر) په سور رنگ دی او د اور په شان د هغه مور ته عذاب ورکوی . قبر ئې بند کړو او په ژړا ژړا ئې د مور دپاره استغفار وئیلو ، او د هغه ځائ نه راواپس شو .

﴿ یو عجیبه حکایت ﴾

د تابعینو رحمهم الله یو جماعت د حضرت ابی سنان رضی الله عنه د زیارت دپاره راغلل ، کله چه دا حضرات هلته کښې کیناستل او لږ وخت تیر شو نو حضرت ابی سنانؓ اوفرمائیل چه زمونږ یو گاونډی مړ شوې دې ، راځی چه د هغه رور له د تعزیت دپاره لاړ شو . محمد بن یوسف الفریابی وائی چه مونږ د هغه سره روان شو او د هغه رور ته اورسیدو نو مونږ اولیدل چه هغه په زوره زوره سره ژړا کوی ، مونږ هغه ته کافی تسلی ورکړه ، د صبر تلقین مو ورته اوکړو مگر د هغه دا ژړا او فریاد بیا هم جاری وو .

مونږ ورته اووئیل چه آیا تاته پته نشته دې چه آخر به هر یو انسان مری ؟ هغه اووئیل چه دا خبره خو صحیح ده لیکن زۀ د خپل رور په عذاب بانديې ژاړم . مونږ ورته اووئیل چه آیا الله تعالیٰ تاته د غیبو نه د خپل رور د عذاب خبر درکړې دې څۀ ؟ هغه اووئیل نۀ . اوشوه داسې چه کله خلقو زما رور دفن کړو او واپس شول نو زۀ لا هلته کښې ناست ووم ، ما د هغه د قبر نه آواز واوریدو ، هغه وئیل . آه ! آه ! تاسو زۀ یواځې پرېښودم او زۀ په عذاب کښې مبتلا یم ، زما مونځونه او روژې کوم خوا لاړې ؟

زما نه برداشت اونۀ کړې شو ، ما د هغه قبر کنستل شروع کړل ، ددې دپاره چه زۀ اووینم چه زما رور په کوم حال کښې دې ، څنگه چه مې قبر کھولاؤ کړو نو ما اولیدل چه قبر د اور نه ډك دې ، او د هغه په غاړه کښې د اور طوق پروت دې ، مگر زۀ د رور په محبت کښې دیوانه وُم زۀ ورمخکښې شوم او د هغه د غاړې نه مې د هغه طوق ویستل اوغوښتل ، زما لاس چه څنگه د هغې سره اولگیدو نو زما لاس سره د گوتو اوسوزیدو .

مونږ اولیدل واقعی چه د هغه لاس بالکل تور شوې وو ، هغه خبرې جارې ساتلې وې ، وئیل ئې چه ما د هغه په قبر بانديې خاورې واړولې او واپس راغلم ، اوس کۀ چرې زۀ نۀ ژاړم نو څوك به ژاړی ؟ مونږ ترینه تپوس اوکړو چه آیا ستا د رور څۀ داسې عمل هم وو چه د هغې په وجه ورته دا عذاب ورکولې شی ؟ هغه اووئیل چه زما رور به زکوة نۀ ادا کولو ، مونږ بې اختیاره اووئیل چه دا ددې فرمانِ الٰهی تصدیق دې :

" وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ "

" او څوك چه بخل کوی په هغه څیزونو کښې کوم چه الله تعالیٰ دوی ته ورکړې دی په خپل فضل سره هرگز دې هغه د خپلو ځانونو دپاره ښۀ نۀ گنړی بلکې هغه به د دوی دپاره شر وی ، زر ده چه چا په دې کښې بخل کړې وی هغه به د قیامت په ورځ د دوی دپاره د

غاړې طوق وی .“

ستا رور ته خو د قیامت نه مخکښې عذاب ورکړې شو .

حضرت محمد بن یوسف الفریابی رحمه الله فرمائی چه مونږ د هغه ځائ نه د رسول الله ﷺ د صحابی حضرت ابو ذر رضی الله عنه د ملاقات دپاره راغلو او هغوی ته مونږ دا ټوله واقعه بیان کړه او تپوس مو ترینه اوکړو چه یهود او نصارئ مری لیکن مونږ د هغوی سره څۀ داسې معامله نۀ ده لیدې او دا یو مسلمان بنده وو او داسې واقعه مو د هغه په باره کښې مشاهده کړه دا څۀ وجه ده ؟ هغوی اوفرمائیل چه په دې کښې هیڅ شك نشته دې چه یهود او نصارئ په دائمی عذاب کښې دی مګر الله تعالیٰ تاسو ته د عبرت حاصلولو دپاره د مسلمانانو دا حالت ښائی ، د الله تعالیٰ فرمان دې :

” فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ عَمِیَ فَعَلَیْهَا وَمَآ اَنَا عَلَیْکُمْ بِحَفِیْظٍ “

” بس چا چه نظر اوکړو نو د خپل ځان د فائدې دپاره او څوك چه ړوند شو نو ددې وبال به په هغه باندې وی ، او زۀ په تاسو باندې نګهبان نۀ یم .“

﴿ څوك چه زکوة نۀ ورکوی هغه یهودی دې ﴾

د رسول الله ﷺ ارشاد دې ، د زکوة نۀ ورکولو والا د الله تعالیٰ په نزد باندې د یهودو او نصارٰی ؤ په شان دې . عُشر نۀ ورکولو والا د مجوسو په شان دی . او څوك چه عُشر او زکوة نۀ ورکوی هغوی د رسول الله ﷺ او د فرشتو په ژبې سره ملعون قرار ګرځولې شوې دی

او د دوی ګواهی به ناقبوله وی ، او فرمائی چه د هغه کس دپاره خوشخبری ده چا چه زکوة او عُشر ادا کړو ، او د هغه چا دپاره هم خوشخبری ده په چا چه د قیامت په ورځ د زکوة او د عُشر عذاب نشته دې ، کوم کس چه د خپل مال نه زکوة ادا کړو الله تعالیٰ د هغه نه عذاب قبر پورته کړو ، او په هغه باندې ئې جهنم حرام کړو ، او د هغه دپاره ئې بغیر د حساب کتاب نه جنت واجب کړو ، او دۀ ته به د قیامت په ورځ تنده نۀ لګی .“ (مکاشفة القلوب از امام غزالی)

﴿ د زکوة په نۀ ورکولو باندې اژدها مسلط کیدل ﴾

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په زمانه کښې یو کس ډیر زیات مالدار وو ، کله چه هغه مړ شو نو خلقو د هغه دپاره قبر تیار کړو ، نو په هغې کښې یو ډیره غټه اژدها وه ، هغه خلقو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته خبر ورکړو ، هغوی اوفرمائیل : چه بنۀ ده بل قبر تیار کړئ ، خلقو دویم قبر تیار کړو نو په هغې کښې هم هغه شان اژدها وه ، تردې پورې چه دغه شان اووۀ قبرونه تیار کړې شو او په ټولو کښې دغه اژدها موجود وه ، بیا حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د هغه مړی د کور والا نه د هغه د حال په باره کښې تپوس اوکړو ، هغوی وفرته اووئیل چه هغه به زکوة نۀ ورکولو . د هغې نه بعد بیا حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حکم اوکړو چه هم دې اژدها سره ئې دفن کړئ .“

★......★......★......★......★......★......★

باب نمبر ۳۸ :

﴿ دَ قرآن مجید په هیره وَلو او مذاق کولو باندې عذابِ قبر ﴾

خوږو دوستانو ! دَ قرآن مجید لوستل او یادول او بیا په غفلت سره هغه هیرول ډیره سخته گناه ده ، ددې په باره کښې څو احادیث ډیر لرزه خیز دی .

۱﴾...... دَ حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه زما دَ امت ټول ثوابونه ماته پیش کړې شو ، تردې پورې چه دَ جمات نه دَ گنده څیز دَ لرې کولو ثواب هم پیش کړې شو ، او زما دَ امت ټول گناهونه هم په ما باندې پیش کړې شو . نو ما ددې نه غټه گناه نۀ ده لیدلې چه یو کس ته دَ قرآن مجید یو آیت یا سورت یاد وی او بیا ئې هیر کړی . (الترغیب والترهیب ، ابوداود)

۲﴾...... دَ حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کو یو بنده قرآن مجید اولولی او بیا ئې هیر کړی نو هغه به دَ الله تعالیٰ سره په داسې حال کښې ملاقات کوی چه هغه به جذامی وی . (الترغیب والترهیب ص ۳۵۹ ج۲) .

(یعنی په جذام بیمارئ کښې به مبتلا وی)

۳﴾...... حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه دَ چا

په سینه کښې دَ قرآن مجید هیڅ حصه نۀ وی نو هغه دَ وران کور په شان دې . (الترغیب والترهیب ص ۳۵۹ ج ۲ بحواله ترمذی)

﴿ دَ قرآن مجید په بې حرمتئ باندې خطرناکه چرمخکئ مسلط ﴾

په یو کور کښې ټول خلق راجمع شوې وو او په ټی وی باندې ئې فِلم کتلو . یو جینئ دَ قرآن مجید تلاوت کولو . وړوکی خور ورته اووئیل چه " باجی ډیر خائسته فلم شروع کیدلو والا دې ، تۀ هم راشه " چنانچه باجی دَ فِلم له خاطره قرآن مجید بند کړو او په ځائ ئې پرېښودلو او دَ فِلم کتلو دپاره بلې کمرې ته لاړه . کله چه فلم ختم شو بیا په هم هغه حالت کښې بغیر دَ اودس نه راغله او تلاوت ئې دوباره شروع کړو . نو هغه څۀ گوری چه یوه دَ زیړ رنگ خطرناکه چرمخکئ دَ چرته نه راغلې ده او دَ قرآن مجید سره خوا کښې ناسته ده ، هغه چرمخکئ په خونخوارو سترگو سره هغه جینئ طرف ته اوکتل او بیا ئې ټوپ اووهلو او دَ هغه جینئ په تندی باندې کیناسته.

دَ یرې او خوف په وجه سره هغه جینئ چغې وهلې ، ددې دا چغې چه خلقو واوریدلې نو خلق اوبریدل او دې طرف ته ئې رامنډې کړې ، خلقو دَ لختې په ذریعې سره دَ هغه چرمخکئ لرې کول اوغوښتل لیکن په دې کښې بله چرمخکئ راغله ، او بیا دَ سترگو په رَف کښې دَ څلورو وارو طرفو نه چرمخکئ راشروع شوې او دا ټولې چرمخکئ دَ هغه جینئ پورې اونختلې ، جینئ به دَ ویرې او خوف نه

چغې سورې وهلې . دَ کور خلق حیران او سرګردان ولاړ وو او کتل ئې لیکن هیڅ ئې نهٔ شو کولې ، دې ټولو ورته کتل او هغې به دَ دوی په وړاندې چغې سورې وهلې او دَ دوی دَ دترګو په وړاندې مړه شوه .

په ټول کور کښې خګفان او ماتم خور شو ، دا خطرناکې چرمخکئ په جینئ پورې پیوست شوې . دَ غسل او کفن ورکولو مسئله هم ډیره زیاته مشکله شوه . آخر ئې یو بزرګ راوبللو . هغه دا معامله اولیده نو وې فرمائیل چه دا سزا دَ قرآن مجید دَ بې حرمتئ په وجه سره دې ته ملاویږی چه دې ظالمې دَ تی وی او دَ فِلم دَ خاطره قرآن په ځائ پریښودو او دې فِلم ته په قرآن مجید باندې ترجیح ورکړه

بزرګانو ورته مشوره ورکړه چه ددې لاش تی وی ته نزدې کیږدئ ، ځکه چه دَ تی وی نه هریو څیز پناه غواړی ، او یقیناً چه دا چرمخکئ تی وی اووینی نو دوی به هم اوتختی ، چنانچه هم داسې اوکړې شوه . چه څنګه دَ هغې لاش تی وی سره کیخودې شو نو دا ټولې چرمخکئ غائب شوې .

سبحان الله ! اې الله ! ستا شان ډیر لوې دې . چه چرمخکئ هم دَ تی وی دَ لعنت نه تختی . نن صرف انسان دې چه دومره بې حسه شوې دې چه دَ تی وی نه نهٔ تخښتی . دَ غسل او دَ کفن نه روستو بیا هغه چرمخکئ راغلې او ددې تی وی کتونکی پورې پیوسته شوې . ددې بزرګ په حکم سره بیا هغه مړې دَ تی وی سره نزدې کیخودلې شو نو هغه چرمخکئ بیا اوتښتیدلې .په دې شان

سره ئې هغه تی وی هم دَ جنازې سره مقبرې ته یوړو او هغه تی وی ئې هم دَ مُرده سره په قبر کښې دفن کړو .

﴿ قرآن مجید ته په مخلوق وئیلو باندې عذاب ﴾

یوه ورځ خلیفهٔ متوکل یو داسې کور ته داخل شو چه هغه دَ شیشې نه جوړ شوې وو او دَ یو وزیر دَ کور نه بلند او اوچت وو . دَ هغه وینزې او مصاحب هم دننه ورغلل چه څنګه چه هغه په خپل ځائ باندې کیناستو نو وې خندل . بیا ئې اووئیل چه تاسو زما نه ولې تپوس نهٔ کوئ چه ما ولې اوخندل ؟ حاضرینو اووئیل : اې امیر المؤمنین ! الله تعالیٰ دې تاسو لره متبسم (خندیدونکی) اولری . آخر دَ خندلو وجه څهٔ ده ؟

خلیفه اووئیل : واثق بالله په هم دې ځائ کښې دَ خپلو مصاحبو او خواصو سره ناست وو ، او زهٔ ئې سَر ته ولاړ وُم . واثق خپلو مصاحِبو ته اووئیل : ما په دې امر کښ ډیر زیات غور او فِکر کړې دې چه قرآن کریم مخلوق دې او ډیر خلقو ته ئې تر اوسه پورې ددې عقیدې تبلیغ کړې دې چه په هغې کښې بعضِ خلقو دَ مال او متاع دَ حصول دپاره دَ خلقِ قرآن عقیده خپله کړه .

بعضِ خلقو دَ ویرې او خوف په وجه سره دا عقیده اختیار کړه او بعضِ خلقو دَ قید او سزاءِ بدنی په وجه سره دا عقیده اختیار کړه لیکن څو کسان داسې دی چه هغوی دَ خپلې تقویٰ او پرهیزګارئ په وجه سره دا عقیده اختیار نهٔ کړه . اوس زما په زړهٔ کښې شك پیدا شو

او اوس زهٔ غوارم چه په داسې مسئله کښې زهٔ کله هم غور او فِکر نهٔ کوم او دې لره په حتمی طور سره ختم کړم .

په دغه وخت کښې قاضی احمد بن ابی داود مجلس کښې موجود وو چه هغه به دا مسئله په نهایت غلو سره بیانوله . هغه اووئیل یامیر المؤمنین ! تاسو خپله دا سنت ژوندی کړل او ستاسو په کوشش سره دا مسئله داسې مقام ته اورسیده چه ستاسو پیش رو به هم ددې نه قاصر وی چه دې لره داسې مقام ته راولی . الله تعالی دې تاسو ته جزائے خیر درکړی تاسو چه څهٔ کړې دی ، صرف دَ اسلام له خاطره مو کړې دی .

غرض دا چه هغه په مسئله کښې نهایت دَ مبالغې نه کار واخستو ځکه چه هغه خائف وو چه چرته کښې داسې نهٔ وی او هغه ددې مذهب نه برګشته نهٔ شی ، واثق بالله اووئیل : راځئ چه په دې مسئله کښې مباهله اوکړو .

بن ابی داود اووئیل : الله رب العزت دې ما هم په دې دُنیا کښې مفلوج کړی کهٔ چرې مسئله دَ خلقِ قرآن درسته نهٔ وی .

دویم کس اووئیل : زما په جسم کښې دې دَ اوسپنې میخونه اووهلې شی کهٔ چرې قرآن مجید مخلوق نهٔ وی .

دریم کس اووئیل : الله تعالیٰ دې زما بدن داسې بدبوداره کړئ چه خپل خپلوان هم زمانه تخښتی کهٔ چرې مسئله دَ خلقِ قرآن درسته نهٔ وی .

څلورم کس اووئیل : الله تعالیٰ دې ماته په تنګ ځایٔ کښې مرګ راولی کهٔ چرې مسئله دَ خلقِ قرآن درسته نهٔ وی .

پنځم کس اووئیل : کهٔ چرې مسئله دَ خلقِ قرآن غلطه وی نو الله تعالیٰ دې مالره په دریاب کښې ډوب کړی .

واثق بالله اووئیل : الله تعالیٰ دې مالره دَ آخرت نه مخکښې په دنیا کښې په اور اوسوزوی کهٔ چرې قرآن کریم مخلوق نهٔ وی .

بیا متوکل اووئیل : زما دَ خندا سبب دا وو چه دا تمامه واقعه زما په ذهن کښې راغلې وه . په دې اشخاصو کښې یو کس هم ژوندې نهٔ وو پاتې شوې او دَ هغوی دُعاګانې دَ هغوی په حق کښې قبولې شوې او چا چه څهٔ وئیلې وو هم په هغې کښې مبتلا شول .

ابن ابی داود مفلوج شو . دَ دویم کس په بدن کښې دَ اوسپنې میخونه اووهلې شو او دَ هغې نه مړ شو . دَ دریم کس په بدن کښې بدبو خوره شوه چه دَ هغې دَ بوئی په وجه سره به دَ هغوی سره څوک هم نهٔ ایساریدل ، هر څومره چه به هغه عطر او مشک استعمالول مګر بې سوده به ثابت کیدلو . څلورم کس دَ کور بنیاد کیخودلو لیکن هغه دَ دوو ګزو بلند ځایٔ نه راپریوتلو او مړ شو ، پنځم کس په دریاءِ دجله کښې غرق (ډوب) شو .

واثق بالله ته یو داسې مرض لاحق شو چه دَ هغې دَ علاج دپاره طبیبانو بالاتفاق دا نسخه تجویز کړه چه دَ زیتون لخته دې په اور

کبنی ګرمه کړې شي او کله چه په هغې کبنې سکروټې پیدا شي نو هغه دې خالي کړې شي ، بیا دې هغه دَ سوئے دَ ساګ نه ډکه کړې.
چنانچه په دې باندې عمل اوکړې شو او ملازمینو دَ ډاکټرانو په مشورې سره دَ واثق باللّه سره هم داسې معامله اوکړه ، چه دَ هغه خیټې ته په ژوندونې باندې دَ اور سکروټې لاړې او په هغې سره اوسوزیدو او ددې نه مړ شو .

تَمَّ بِعَوْنِ اللهِ وَنُصْرَتِهٖ

